
Ketabton.com

(c) kitabtoon.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

# د ګوانتنامو ماتې زولنې

14225

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ګوانتنامو

# ماتې زولنې

د ۱/۹ / ۱۴۲۲ هـ سپوږميز نه تر ۹/ ۳/ ۱۴۲۶ هـ سپوږميز کال پورې د پېښور د آی ایس آی ، دباګرام ، قندهار او ګوانتنامو د امریکايي زندانونو وحشتناکې کیسې کوي اود ډېرو پلمو، ظلمونو او دردونکیو فجایعو نه پرده پورته کوي .

عبدالرحیم مسلم دوست
استاذ بدر الزمان بدر

بیه
افغانستان ۱۷۰/ افغاني
پاکستان ۲۰۰/ کلدارې
د هیوادنه د باندې ۳۵/ امریکایي ډالر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دکتاب پېژندنه:

د کتاب نوم : دګوانتهنامو ماتي زولنې.

لیکوالان : عبدالرحیم مسلم دوست استاذ بدرالزمان بدر.

شمېر : (۲۰۰۰) ټوکه .

دخپرېدونېټه : جمادی الثانیه ۱۴۲۷ هـ ،سپوږمیز. سرطان ۱۳۸۵ هـلمریز.

کمپوزر : عبدالشافي.

خپروونکې : " خلافت " خپروندویه ټولنه.

دکتاب ټول حقوق لیکوالانو سره خوندي دي .

پته : G.P.O.Box:532

پشاور.

ګرځنده : ۰۳۳۳ _ ۹۳۲۴۱۹۸

Email: alkhilafa_alkubra@yahoo.com **0321- 9087180**

الحمد لله وحده والصلاة والسلام على من لانبي بعده وبعد :

لوستونکیوته به څرګنده وي چه په ۲۰۰۱/۹/۱۱ م دامریکا دنیویارک په تجارتي برجونو او پنتاګون داستشهادي برید نه وروسته امریکا دخپلو متحدینو سره دسمندر اوهوارله لارې په افغانستان وسله وال برید وکړ . کروز میزایل ،محدودې اتومي ، بیالوجیکي او کیمیاوي وسلې اوپه زرګونه کیلوګرامه درانده بمونه یې دافغانستان په مظلوم او بې وزله ولس وازمېیل اوهغه وسلې یې استعمال کړې چې تردغه وخته دنړۍ په هیڅ ګوټ کې نه وې استعمال شوې . پاکستاني چارواکو د خپل منافقانه سیاست له مخې دډالرو په بدل کې امریکاته هوایي ډګرونه وسپارل،په افغانستان باندې بزدلانه او دشرم نه ډک یرغل کې یې ونډه واخیسته او بې ګناه وګړي یې دډالرو په بدل کې په امریکاوپلورل ....

په دې ترخ کې مونږ هریو. عبدالرحیم " مسلم دوست " او بدرالزمان " بدر" هم دپاکستان او امریکا دپلمو او ظلمونو ښکار شوو . په شامي سړک دآرمي سټېډیم سره نږدې دآی ایس آی په دفتر ونوکې دننه دځانګړې پټ زندان نه واخله دباګرام ، قندهار او دکیوبا دګوانتنامو په زندانونو او پنجرو کې مو ۱۴۲۲\۹\۱۱ هـ ق نه د۱۴۲۶\۳\۱۹ هـ ق پورې درې نیم کاله تېر کړل او بیا آزاد شوو .

دتاریخ دغه پړاوونه ، شپې او ورځې داسلام او انسانیت په ضد دداسې دردوونکیو پېښواو بوګنونکیو کیسو څخه ډک دي چې تاریخ کې ساری نه لري . بشپړ تفصیل به یې په راتلونکیو بحثونو کې ولولئ .

داچې مونږ ولې ونیول شوو ؟ ، څهٔ مو ولیدل ؟، څه مو واورېدل ؟ او څه نه خبر شوو؟ داټول هغه حقائق دي چې په راتلونکیو څپرکو کې به ترې پرده پورته کړو خو دڅپرو دموضوعاتو سره داړیکیوله امله داضروري ده چې دسریزې په توګه دافغانستان او سیمې په سیاسي اوضاع ، جهادي او سیاسي تنظیمونو او دځینو ګوانډیو هیوادونو په سیاسي کړنلاره . تګلاره او دهغوی داستخباراتو په پلمو لنډ او ځغلنده نظر واچوو..........

دېر وروسته نه ځو دظاهر شاه دڅه دپاسه څلوېښت کلنې شاهي دورې دپای ته رسېدونه او د داود دنظامي کودتا په ترڅ کې دجمهوریت داعلان نه وروسته دافغانستان سیاسي حالاتو ته یوه لنډه کتنه کوو او له همغه ځایه یې رانیسو.

## دداودکودتا

په ۱۱۷\۴\۱۹۷۳م ۲۶\۴\۱۳۵۲ هـ ش کال داود دیوې کودتا په ترڅ کې دقدرت په مسند قابض شواو دظاهر شاه ۴۰ کلنۍ شاهي دورې ته یې دپای ټکی کېښود . ظاهر شاه په دغه وخت کې ایټالیا ته تللی وٌ داود پهٔ یوه وخت کې جمهور رئیس ، صدر اعظم ، ددفاع او دبهر نیو چارو وزیر شو . کمونستانو ـ چې ترمخه یې په پوځ کې نفوذ کړی وٌ اوداود سره یې په کودتاکې ونډه اخیستې وه ـ داود دسیاسي محاصرې لاندې راوست اودهغه په حکومت اوپوځ کې یې لا زیات نفوذ وکړ، نو له همدې امله یې داسلامي نهضت دمخنیوي هڅه وکړه ؛ داود دافغاسنتان دپرمختګ له پاره لس کلن

پلان طرحه کړ ، دپښتونستان مسأله مطرح شوه ..... او دپاکستان سره يې حالات ترينګلي شول . کله چې دډيورنډ دکرښې دتړون دپای ته رسېدلو دتاريخ درانږدې کېدو له امله ددغه تړون دځنګدن په ورځو کې پاکستان يو قوي او پرمختللي افغانستان نه شو زغملای او باوري درلودچې دداودد ماسټر پلان عملي کېدل دپاکستان له پاره ستر ګواښ او خطر دی او کله چې د اسلامي نهضت منسوبينو دکمونستانو نفوذ اوپه مسلمانانو تېری محسوس کړ نو دداود دحکومت سره دمبارزې له پاره دپناپه لټه کې شول. په دې وخت کې جنرال نصيرالله بابر دذو الفقار علي بوټو دحکومت دسرحد دصوبې ګورنر وٌ چې په عين وخت کې داستخباراتويو فعال غړی هم و . دپاکستان له پاره دداود دحکومت سره داسلامي نهضت مخالفت يو ارزښتناک ذهبي فرصت وٌ نوله همدې امله يې دافرصت له لاسه ورنه کړ او داسلامي نهضت منسوبينو ته يې پناورکړه ، اګر چې دپاکستان ار داسلامي پاڅون په اهدافو کې څرګند توپيروٌ خودمشترک دښمن دوهلو له پاره دواړو يودبل دمجبوريت نه ګټه پورته کړه . دفوج ، حکومت ، استخباراتو او داسلامي نهضت ترمنځ نصير الله بابر دمنځګړي !و رابط په حيث ولوبېدهٔ ؛ دنهضت غړي دپټهولارو نه پېښور ته تلل ، هلته پهٔ بالاحصارکې دمېجررنګ بادشاه له لارې اړوندو مقاماتو ته حواله کېدل او دټريننګ ( تمرين او تدريب ) پټو ځايونو ته چې په چراټ او اسلام آباد کې وو . په بندګاډوکې لېږل کېدل .... دپېښور په ګنج ، بېرسکو او فقير آباد کې ورته دفترونه پرانيستل شوي وو، دتمرين نه وروسته دوسلو او

وسائلو سره دغرونو دستونزمنو او پېچلیو لارونه افغانستان ته ننوتل اوپه همدې ترتیب په ۱۳۵۴ هـ ش کال دافغانستان په مختلفو ولایاتوکې په ولسوالیو او دولتي تاسیساتو مسلح عملیات پیل شول په لومړیو کې عام وګړي نه پوهېدل چې دا عملیات څوک کوي ؟! او داټکلونو له مخې به چاڅه او چاڅه ویل. وروسته ورو ورو خلک پوه شول او اوازه خپره شوه چې دا عملیات اخوانیان کوي. په دې وخت کې داسلامي پاڅون منسوبینو له پېښورنه ځینې چاپ شوي منشورات او شبنامې هم په پټه دافغانستان په ځینو ښارونو کې خپرې کړې لکه : " دداود بله خندوونکې ډرامه " مضحکه دیګري داود خان " ، " فاجعه ۲۶ سرطان " او ......

دنوموړیو عملیاتو په ترڅ کې دپاڅون ځینې مهم غړي لکه : مولوي حبیب الرحمن ، ډاکټر عمر ........... ونیول شول، وروسته ځینې دداود او ځینې یې دکمونستانوپه مختلفو دورونو کې اعدام شول او ځینې لاتراوسه ورک دي ......

لنډه داچې په دې اوږدو کې دپاڅون دمشرانو ترمنځ دځینو لاملونوپه ترڅ کې اختلاف پیداشو او پاڅون په دوه برخو ووېشل شو. یوه برخه یې دحزب اسلامي په نامه یاده شوه ، انجنیر ګلبدین حکمتیار یې امیروټاکل شو او بله ډله داستاذ برهان الدین رباني په مشرۍ دجمیعت اسلامي په نامه یاده شوه. دلومړۍ ډلې دریځ داؤ چې په نظامي او وسلوال پاڅون یې ټینګار کاوه ، او د دویمې ډلې دریځ دسیاسي هڅو پلوي ؤ او لساني او نژادي تعصب یې هم درلود.

داسلامي نهضت ځوانان پاکستان ته پټ په پټه تلل ، هلته يې تدريب کاوه او بيرته دوسلو سره افغانستان ته ننوتل ......

داسلسله روانه وه چې دداود ددورې په آخر کې دهغه اوروسانو ترمنځ اختلاف پيداشو او داځکه چې روسانو افغانستان خپله مستعمره ګڼله او داود يې خپل لاسپوڅی او ګوډاګی ګاڼه خوداودخپل ځان دناپېيلي افغانستان مستقل ټولواک ګاڼه ، نو دروسانو داوامرو په وړاندې يې بې اعتنايي وښوده. دداود او خلقيانو ترمنځ اړيکې خړې پړې شوې او هغوي دشوروي اتحاد جمهور رئيس برژنيف ته وويل چې داود له امريکا نه مشاورين غوښتي دي. په ۱۸\۱۷ اپريل ( ۱۹۷۸م) داود مسکوته وغوښتل شو، هلته برژنيف داود نه پوښتنه وکړه چې : ايا داسمه ده چې تاسو له امريکا نه مشاورين غوښتي دي ؟ داود په ځواب کې ورته وويل چې : زه ديوه آزاد مملکت جمهور رئيس يم هېڅوک حق نه لري چې له ماڅخه داسې پوښتنه وکړي .

داود هند ، مصر ، سعودي عربستان ، کويت ....... ته سفرونه وکړل او داسلامي نړۍ سره يې داړيکو دغښتلي کولو کوښښ پيل کړ . په دې وخت ۱۹۷۸\۱۴\۱۷ م کې دپرچم کمونستي ګوند يو رهبر : ميراکبر خيبر ووژل شو ، و يل کېږي چې ميراکبر خيبر روسانو وواژه او هغه له دې امله چې له يوې خوا هغه دببرک کارمل رقيب و او هغه KGB ته نږدې و او له بله پلوه يې دهغه وژنه په داود ورواړو له اوهمدا دکمونستانو دپاړېدنې پېلامه شوه . کمونستانو دهغه جنازه ديوې لويې مظاهرې په ترڅ کې په کابل کې وګرځوله او دخلق

ګوند او د داود ترمنځ اړیکي ورځ تر ورځ خرابېدلې ترڅو د روسانو په امر او مشوره په ۱۳۵۷\۲\۷ هـ ش. ۱۹۷۸\۴\۲۷ م خلقیانو دجنرال عبدالقادراو نورو خلقي پوځیانو په مرسته په داود خونړۍ کودتا وکړه هغه یې په ارګ کې محاصره کړ ، هغه دژوندتراخرې سلګۍ پورې پخپله وجنګېده او اخر ووژل شو دخلق ګوند دقدرت مسندته ورسېد. نور محمدترکی چې دخلق ګوند مشر وُ دافغانستان دديموکراتيک جمهوريت دصدر اعظم او دانقلابي شوری درئيس په توګه اعلان شو. ببرک کارمل چې دپرچم ګوند مشر و دصدر اعظم دمرستيال او دانقلابي شوری دمرستيال په توګه اعلان شو. په همدې ترتيب اوپه همدې توګه دکمونستانو دواړو څانګو، " خلق " او" پرچم " دحکومت چوکۍ په مساويانه توګه سره ووېشلې . په پاکستان کې میشت اسلامي نهضت خپل کوښښونه او مبارزې چټکې کړې او دخلقي نظام درانسکورولو او ړنګولوله پاره يې وسلوال جهاد ګړندی کړ ..... پاکستان امريکايي مارفور ، هندي شل ډزي ، او ځينې نورې انګرېزي او شلخۍ ( دره والې ) وسلې ورکړې او په دې ترتيب داسلامي نهضت او پاکستاني استخباراتو اړيکي سره غښتلي شول ......

هلته په پاکستان کې په ۱۹۷۷\۷\۶ م جنرال ضياء الحق دذوالفقار علي بوټو په حکومت کودتا وکړه او پوځي حکومت يې اعلان کړ . دضياء الحق په دورکې دپاکستان پوځي استخبارات زيات غښتلي شول او د( آی ايس آی ) ځواکمن بنسټ يې کېښودو دافغانستان مسائلو ته يې توجه زياته شوه او دترکي ، امين ،

ببرک او نجیب لاسپوڅي او ګوډاګي حکومتونه دهمغه په دور کې پرله پسې راغلل .

په ۱۳۵۸\۶\۲۵ هـ ش ۱۹۷۹\۹\۱۷ م دنور محمد ترکي وفادار شاګرد حفیظ الله امین ترکی دکابل په ارګ کې بندي کړ بیا يې په خوله ورته بالښت کېښود او ويې واژه ؟ امین دخلقي حکومت واګې په خپل لاس کې واخیستې او دهمدغه میاشتې په " ۱۹" مه دانقلابي شورى درئیس او صدر اعظم په توګه اعلان شو .

د۱۹۷۹ م ددسمبر په (۲) مه شوروي الوتکو يو شمېر پوځونه په دې بانه دباګرام هوايي ډګرکې ښکته کړل چې په افغانستادناڅاپي خارجي يرغل مخه نیسي . ددسمبر په (۲۷) مه روسانو امین وواژه په همدغه وخت کې روسانو په افغانستان يرغل وکړاو دپرچم دکمونستي ګوند مشر ببرک کارمل يې دګوډاګي رئیس جمهور په توګه اعلان کړ . ببرک کارمل دتاشکند دراډيونه دکابل په فریکونسي خبرې وکړې او دروسي ټینکونو ، الوتکو او پوځونو سره کابل ته راغی ، دروسي سور لښکر سل جزوتامونه چې لومړنی شمېر يې ( ۸۰۰۰۰) اتیازره و بیاتر ( ۱۱۵۰۰۰) يوسل او پنځلس زروپورې لوړشو . په ۱۹۸۶\۵\۱۴ م ببرک کارمل استعفاته اړايستل شو او نجیب دګوند دعمومي منشي او دانقلابي شورى درئیس په توګه اعلان شو .

د۱۹۸۹ م په فرورۍ کې روسي ځواکونه دافغانستان څخه ناکام ووتل . ببرک کارمل لامخکې يو نژادي ګروپ جوړکړی و او مسعود ته يې سپارلی و چې آخره کې دشمالي اتحاد ترعنوان لاندې راڅرګند

شو او دنجيب دحکومت دسقوط نه وروسته کابل ته ديوې طرحه شوې پلمې په ترڅ کې ننوتل . دنجيب دوره پای ته ورسېده ، دپېنځه او پېښور دتورو تړونونو نه وروسته دصبغت الله مجددي دوه مياشتې بې واکه دوره دستمي څواکونو ترسيوري لاندې پای ته ورسېده او بيا درباني او مسعود فوضوي او کرغېړنه دوره پيل شوه . دشمالي اتحاد ستمي ، پرچمي او اخوان نما غړي مسعود ، محمود بريالی ، نجم الدين کاوياني ، فريد مزدک ، عبدالرشيد دوستم، جنرال مومن ، نبي عظيمي ، پيګير ، آصف دلاور ، بابه جان سياف او نور ..... وو . کابل دګډوډۍ ، بې نظمۍ ، ظلم اولوټ سره مخ شو ، دامنيت مصئونيت کډه وکړه ، هر لوري ته پاټک سالاري شوه دهرپاټک شاته بېل دکتاتورحکومت و . کابل دبريدونو ، ټکرونو ، انحصار طلبۍ ، غلا ، خيانت ، نهب قتل او ...... په تورو تيارو کې ډوب شو ..... رباني دقيادي شورى ، اهل حل وعقد شورى اونورو لوبواو موأمرو له لارې دخپلې دورې نه وړاندې پښې وغځولې او ان دطالبانو په دوره کې يې هم خپل ځان قانوني رئيس جمهور باله اودګرځنده رئيس جمهور په حېث دشمال په څو ولسو اليو کې لالهانده او سرګردانه ګرځېده ... دخپل حکومت مهرونه به يې په جېب کې ګرځول تردې چې دشاه شجاع ، امير عبدالرحمن او ببرک کارمل يادونه يې تازه کړل او اخر دامريکايي پوځ دسيوري لاندې کابل ته رانته واته ..... امريکايانو داستعمال نه وروسته دبدن په ځينو خاصو منطقوټې ورکړ او سپکه وړه شو ...... ددې له پاره چې په دې ټولو دورونو کې دمسلح مقاومت په تحريکو نو رڼاواچوو

او بیا اصلي موضوع تـه ننوځو ، لږ شاته ځو اودافغاني جهادي او اسلامي تحریکونوپه هکله لنډه څېړنه کوو.

## دافغاني اسلامي ګوندونومسیر

په پاکستان کې دافغاني اسلامي ګوندونو دمسیر دپړاوونولنډېز دادی چې دحزب او جمعیت نه وروسته نورډېر واړه واړه تنظیمونه هم جوړشول لکه دملي نجات جبهه ، ملي محاذ ،........

یوځـل داتحـادکوښښ وشـو دحرکـت انقـلاب اسـلامي پـه نامـه دمولـوي محمـد نبي محمـدي پـه قـیادت کې سره متحد شول چې په دې وخت کې مولوي محمدیونس خالص دهغه دحواریونو سره په دې اتحـاد کې یـو ځـای نـه شـو او څرنګه چې هغـوی داتحادنـه مخکې دحکمتیار په مشرۍ دحزب اسلامي په ګوندکې وونو دحزب اسلامي پـه نامـه یـې خـپل ګونـد اعـلان کـړ دحرکـت اتحادبېرته ړنـګ شـو نورتنظیمونه ورڅخـه ووتـل او محمد نبي محمدي ته دحرکت په نامه نـوی تنظیم پاتې شو. هر ځل چې اتحادشوی نوی بچی یې زیږیولی دی ، کلـه چې دحکمتـیار حزب اسلامي داتحاد  دړنګېدونه وروسته بېرته په پښو او درېدنـو خـالص صاحب دتوپیرلـه پـاره دخپـل حزب لفظي ترکیب پـه پښتو واړاوه او حزب اسلامي یې داسلامي حزب په نامـه یـادکړ . سیاف چې بندي ودحفیظ الله امین په وخت کې لـه بنده ازاد شو او لـه ازادېدووروستـه پېښور تـه راغی. پـه دې وخت کې دهغه پـه شمـول ځینو بـیاد اتحـاد لـه پـاره هڅې پیل.کړې چې په نتیجه کې (شپږ ) تنظیمونه : حزب اسلامي ، اسلامي حزب ، حرکت انقلاب ، جمعیـت اسـلامي ، دنجـات ملـي جـبهه او ملـي محـاذ دمجاهدیـنو

داسلامي اتحـاد پـه نامـه سره يوځـای شـول او سياف يـې اميرشـو. افغانسـتـان تـه دروسـانو دراتـګ نـه وروسـتـه نړۍ راويښه شوه ، جهاد ګړنـدی شـو ، دهجـرتونو سلسـله زياتـه شـوه دکوزې پښـتو نخـوا او بلوچسـتـان پـه سيموکې دمليو نونومهاجرو کمپنونه جوړشول او ايران ته هم ځينې مهاجرلاړل .

امـريکا او نـورې نـړۍ سـره وېـره پيداشـوه ، تـودو اوبوتـه دسـرو لښکرودرسېدلو ، دخليج پـه تېلـود روسانودقبضـې او ........ وېرې پېداشـوې ، همـدا لاملونـه وو چـې ټو لـه نړۍ يـې افغانسـتـان تـه متوجه کړه پاکسـتـان هـم دذهبي فرصـت نـه ګټـه واخيسـتـه .د " تيمم نبودګنج خدابود که اموختـه شدم اسوده شدم" . معامله وه دافغانسـتـان جهاد او هجـرت نـه و . ګـنج خـدا و . پـه پاکسـتـان دټولـې نـړۍ دمرسـتو نـاوې راسپرې شـوې ، پاکسـتـاني واکدارانـو کچکولونـه غـاړې تـه واچول او دجهـاد او هجـرت پـه نامـه يـې خيراتونـه راټولول پيل کړل. پاکستـانيانو افغـــان کمشـــنرۍ کــې دکـــار پېداکولولـــه پـــاره پـــه لکونـــو او ميليونونورشـوتونـه ورکـول پـيل کـړل چـې دافغـانـانو دمالونوخوړلولـه پـاره لار پېداکـړي ، آی ايـس آی دافغـانـانو پـه مـنځ کـې داخـتلاف پېداکولـو او ګټـو تنظـيمونو پـه جوړولـو کـې مهـم رول ولوبـاوه . دپاکسـتـان پـوځ دافغـان جهـاد پـه نامـه دسـتـګنګروپورې وسلـې راجلب کـړې پـه سـلو کـې يـو يـې افغانانوتـه ورکـړې او نورونـه يـې خـپل ګـودامونـه ډک کـړل . دپاکسـتـان بيـنـکونـه دافغـانـانو دمرسـتونـه ډک شـول ، نـري نـري سـرکونه يـې پلـن شـول ، پـه خـټـه مـاړه شـول ، دکارخانوخـاوندان شـول او داتـوم پـورې وسـلـې يـې جـوړې کـړې

دامریکاپه اشاره یواځې سعودي عربستان پاکستان ته دمهاجرینو دکرایې په نامه په کال کې (۳۷۰۰۰۰۰۰) درې سوه او یامیلیونه اودنظامي او ځینو نورو په نامه (۶۰۰۰۰۰۰۰) شپږ سوه میلیونه ډالرورکول او تېل اونورې مرستې یې هم ورته مفتې رالېږلې. پوځ ته وسلې او مهاجرینو او مجاهدینوته یې مرستې او بسپنې ورکولې لنډه داچې دافغانانو په قربانیو کې دپاکستان غوالنګه شوه ؛ په زرونو خیر یه موسسو کار پیل کړ ، دکورونو کرایې لوړې شوې او دمرستویوبې ساری بهیر په پاکستان رامات شو . دنړۍ په سترګو کې دخاورو اچولو لپاره به پاکستاني چارواکو لاداهم ویل چې زمونږ وسائل لږ دي او مهاجرین دپاکستان په معیشت یولوی بوج دی . خو په زړه کې به یې دخوښۍ نه ګوړې ماتولې او ډېره دافسوس او اندېښنې خبره خولاداوه چې افغانانوخپل غږنه درلود او پاکستان دافغانانو وکالت کاوه .... عربي دولتونو او یواځې داسلامي نړۍ نه بلکه دنړۍ دګوټ ګوټ نه مسلمان ځوانان دجهاد دملاتړلپاره رامات شول تر دې چې دپاکستان په شمول ځینو دولتونو دځانګړیو مقاصدولپاره دپاسپورټ او وېزې پوښتنه هم نه کوله . دالجزائر نه یوه کورنۍ بې پاسپورټه پاکستان ته راورسېده مختلفو تنظیمونو ، مؤسسواو شخصیتونو دارالضیافې (مېلمستونونه) جوړ کړل . هرچا کوښښ کاوه چې مرسته کونکي اشخاص او عربي ځوانان دغه مېلمستونونو ته راجلب کړي ، دهغوی دمرستونه ګټه واخلي اوځوانان یې دجهاد ګرمو سنګرونوته ولېږي . اسامه بن لادن ، عبدالله عزام اونورو ګڼو اشخاصو او مؤسسوپه دې هکله مهم رول

ولوباوه . عبدالله عزام په پېښور کې دمکتب الخدمات په نامه يو دفتر پرانيست ، د" الجهاد" په نامه يې مياشتنۍ عربي مجله خپره کړه اودعربي هېوادونو نه يې ترټولو زياتې مرستې راجلب کړې .......

پېښور کې دعربي مجاهدينو ځوانان دومره ډېرشول چې دهرهېواد په نامه ځانګړي مېلمستونونه جوړ شول .

دمشهورو لويو تنظيمونو نه پرته ورې ورې ډلګۍ هم جوړې شوې لکه : دحرکت دوه بچې : (۱) دنصر الله منصور ډلګۍ او(۲) درفيع الله مؤذن ډلګۍ ، دمولوي محمد افضل په مشرۍ ددولت انقلابي اسلامي نورستان په نامه ....... دنظار دشورى په نامه ډلګۍ.

پاکستاني واکدارانو پوځ اود استخباراتو مشرانو : جنرال ضياء الحق ، جنرال اختر عبدالرحمن ، جنرال حميد ګل ، کرنل سلطان امير تارړچې په مجاهدينو کې په کرنل امام مشهور و ..... دافغانستان مسئله په خپل لاس کې ونيوه او بشپړتشبث او لاسوهنې يې په کې پيل کړې . آی ايس آی ورو ، ورو په تنظيمونو کې خپل نفوذ زيات کړ او دقوماندانانو سره يې په خپله اړيکې ټينګې کړې تردې چې ډېرقوماندانان تنظيمونو څخه بې پرواشول ، دتنظيمونو په ځای دآی ايس آی دقوماندې لاندې شول اوډېر يې ددغې شبکې بې قيده او بې شرطه غلامان شول. تردې چې دپنجابيانودګټو له پاره يې دافغانستان دړنګولو ، سياسي قتلونواو نورو فجائعو څخه هم دريغ ونه کړ.....

لنډه داچې دتاريخ په دې سلسلو، پړاوونو اؤ لوړوژوروکې په ۱۴۰۵ هـ ق يوه ډلګۍ د الجماعة السلفية . په نامه جوړه شوه اويوه

مدرسه د" جامعة الدعوة الى القران والسنة " په نامه تاسيس شوه چې لږ وروسته د" الجماعـــة السلفيه " نوم د " جماعة الدعوة الى القران والســـنة " په نامه بدل شو اود ۱۴۰۵ هـ ق په ځای يې ظلماً عدواناً اوكذباً په سمبول كې ۱۳۸۴ هـ ق وليكل چې ماېې مخالفت وكړ خوځه ګټه يې ونه كړه . دكونړ مولوي حسين اخونزاده چې په مولوي جميل الرحمن مشهور شو ، اودحزب اسلامي يو غړی و هغه ددغه ډلګۍ امير شو ددې ډلګۍ اكثره غړي دحكمتيار دحزب اسلامي نه راجلاشوي وو اوځېنې يې له نورو تنظيمونو نه هم وو لكه مرحوم شارقي او دهغه ملګري ..........

مونږ په دغه ملمع نوم ذخرف القول غروراً باندې وغولېدواو ګومان مو كاوه چې داډلګۍ به دقرآن اوسنت دسوچه او نګه عقيدې او دافغانستان او اسلام دښېګڼې له پاره كار وكړي ....... كه دانه وای نودنوي تنظيم دجوړولو هېڅ جواز نه و تنظيمونه بايد لږ شوي وای دتنظيمونو زياتوالی داختلاف لامل دی او اختلاف دافغانستان ، اسلام او اسلامي امت په تاوان تماميږي .

ماپه دغه ډلګۍ كې فرهنګي كارونه پيل كړل او ددغه ډلګۍ امير او داډلګۍ مو نړۍ ته ورو پېژنده . دكوېت هلال احمر اودسعودي هلال احمر او ځينو عربي تاجرانو ، شيخانو او دسعودي دملكي كورنۍ اميرانو دغه ډلګۍ ته لاسونه را اوږده كړل بې خرته مرستې يې ورسره وكړې تردې چې دسعودي هلال احمر ځينو مسؤ لينو به دنورو تنظيمونو ، اشخاصواو قوماندانانوپه نامه ددغه مؤ

سسې مالونه را ایستل او ددغه ډلګۍ محدودو اشخاصو ته به یې
ورکول داډلګۍ داجتماعیت په ځای شخصي شوه ، امیر یې
دسعودي دورې وکړې اودسلفي تنظیم په نامه یې بې خرته مالونه
راجلب کړل .......

دابو صهیب په نامه یو مصري عربي دیو معهدبنسټ کېښود چې
وروسته یې دامام بخاري دپوهنتون په نامه یادکړ د"المجاهد"په نامه
یې یوه عربي مجله خپره کړه چې دسعودي ملکي کورنۍ دامیر
سلمان اودهغه دیوه ځانګړي نماینده په مشوره خپرېده اودسعودي
امیرانودمصالحو له پاره یې کارکاوه. یوځل ابو صهیب دسعودي
پلاوي دکتنې نه پرته مجله چاپ کړه اوپه هغې کې دعربي
هېوادونودکوم چارواکي له پاره " طاغوت " کلمه استعمال شوې وه
هغه مجله یې خپرېدوته پرې نه ښوده اوکله چې له چاپه رااووته ټولې
یې وسېزلې . داددې له پاره: هسې نه چې څوک ترې مطلب دسعودي
چارواکي طواغیت وانه خلي . دامیر سلمان خصوصي نماینده ته ابو
صهیب وویل چې له دې نه زمونږ مراد یو کمونست چارواکی دی .
هغه ورته وویل چې فرعون دې ورڅخه مراد وي نو هم د" طاغوت"
کلمه به په مجله کې نه ، استعمالوې . جماعة الدعوة دشیخ جمیل
الرحمن شخصي ملکیت شو اودشوری غړي یې یواځې ددې له پاره
ساتلي وو چې کله عربي تاجران او شیخان راشي نو هغوی د ږومنځو
شو یو ږ یرو او ببرو پګړیو او لویوالقابوسره وروپېژني اوپه دې ترتیب
دهغوی جېبونه قیچي کړي ....... دعربانوله پاره په اسلام اباد او

پېښور کې " دارالضيافې " ( مېلمستونونه ) جوړشول او دسعودي داستخباراتو يو غړى يې مسئول شو.......

دشيخ جميل الرحمن يو پرکتى : ولي الله په يو اروپايي هېوادکې په يوهوټل کې مزدوري کوله او داشپزخانې لوښي يې مينځل .کله چې مولوي جميل الرحمن سره مال ډېرشو هغه يې راوغوښت او يوه خيريه مؤسسه يې ورته جوړه کړه چې وروسته يې دبشري حقوقود اداري په نامه ياده کړه ، نو موړي دغربي هېوادونو دکنيسو او استخباراتو سره اړيکي پېداکړل او په دې ترتيب له يوې خوادعربونه داسلام په نامه اوله بله پلوه دغربيانونه دبشري حقوقو او هغوى ته دکارکولو په نامه دپيسو راټولولو دنده پيل شوه .........

دپاکستان استخباراتوآى ايس آى سره يې دبل پرکتي حيات الله له لارې اړيکي ټينګې کړې. نوموړي دآى ايس آى جنرالانواو کرنېلانو ته دشرابو جينکواو نقدو پيسو لوى لوى رشوتونه ورکول اوپه همدې ترتيب يې دآى ايس آى د اداري غړيتوب لاس ته راوړ. تردې لامخکې لاړ چې دپېښور دشامي روډ دآى ايس آى ددفتر هغه مامورين به يې بدلول چې دده له خوښې يې سرغړونه کوله . جماعة الدعوة په دې ترتيب دسعودي ، غربي او پاکستاني استخباراتويوه ګوډاګى ډلګى شوه، اصلي کارې آى ايس آى له پاره کاوه خودهغوى له لارې ددې لپاره په نوروا ستخباراتوکې ننوتل چې دآى ايس آى دمصالحو له پاره په کې کاروکړي. دډلګى داميرشيخ جميل وراره : روح الله دعربي مؤسسوسره معرفي شو او دهغوى نه دمرستو لاس ته راوړل اودجماعت ځينې کارونه هم دهغه دورارهٔ

اوپرکتـهیوپه محورخـرخېږ ه ..... حـیات الله ، ولـي الله او روح الله پـه آخر کې دآی ایس آی سره دومره پاخه ګوډاګیان شول چې شیخ جمیل هم ددوی له رایې پرته کوم کارنه شو کولای .

آی ایـس آی لـه پـاره دقاچـاقو ، سیاسي قتلونواو جاسوسۍ دندې دهمدې درې ګوني فاسد مثلث په غاړه شوې .....

پېښور ، اسـلام آبـاداو بـاجوړکې یې ډېرې زمکې واخستې ،لویې لویې ماڼۍ او عمارتونـه یـې جوړکړل ، دهـر کـال نوي مـاډل قیمتـي ګـاډي یـې پښـو لانـدې شـول. دشـوکرانو اخونـزادګانوته شـرابونه او زناګـانې یـوه عـادي مسأ له شوه، په دروغ اوتزویرکې ډېر مخکې لاړل . دپاکسـتاني ملېشـې څو کیـداران ورسـره ګـرځېدل او داسـتخباراتو داسې خصوصي کارتونـه ورسره وو چې دپاکستان په هرګوټ کې یې پولیسو خبره منله او هېچا یې مخه نه نیوله ........

مونږ ډېـر کوښـښ وړکـړ او شـیخ جمـیل الرحمـن سره مـو بـیا بـیا خبرې وکړې چې خپل پرکتهې او وراره اصلاح کړي اودجماعت مسیر دانحراف نـه راواړوي خو هېڅ ګټه یې ونـه کـړه ، اخر خبره دې حدته ورسېده چې ددغې ډلګۍ امیر دپاکستان چارواکو تـه یـوه عریضه لـیکلې وه او ماته یې راولیږلـه چې په اردو یې ورته واړوم. په عریضه کې یې دپاکسـتان لـه چـاروا کو نـه غوښتـنه کـړې وه چـې افغانسـتان دپاکسـتان سره یـو ځـای او پـه پاکسـتان کـې مدغـم کـړئ، دافغانـي جهـادي تنظیـمونو پـه شـمېر افغانسـتان پـه اتو صوبو ووېشئ او هریو تنظیم تـه یـوه صـوبه ورکړئ مونږ تـه دکونړ ، لغمان او ننګرهار نـه یوه صوبه جوړه کړ ئ او مونږ تـه یې راحواله کړئ . داعریضه دتنظیم امیر

اوشوری امضـا کـړه اودآی ایـس آی لـه لارې يـې جنرال ضياء الحق ته ولېـږ. لــه زه دتنظـيـم امـير تــه ورغلـم او ورتــه ومــې ويــل چـې داخــو داسلامي امـت او افغانستان سره يولوی خيانت دی .لومړۍ خبره خو داده چې افغانستان يوائې ستا ملکيت نه دی چې چاته يې ورکړې، افغانستان ډېر لوی دی اوداټولو افغانانو شريک دی ، ټول اسلامي امـت تـرې دفـاع کـړې ده او دجهـاد ملاتړيـې کـړی.دی . يونـيم ملـيون شـهيدان شـول ، ښځـې کونـډې شـوې ، ماشـومان يتـيمان شـول ، کورونـه او جوماتـه رنګ شول افغانسـتان لوټې لوټې او بنجر شو اوس چـې دفـتحې ورځـې رانـږدې شـوې نـو تـه اوس داټولـې ښـندنې پـه غلـيمانو پلورې ؟! افغانسـتان خـو زمونـږ کوردی ددې خوداسې مثال دی لکـه غلـو او ډاکوانوته ووايې چې راځئ دازما کـور ستاسو شو خو يـوه کوټـه بـه پـه کـې ماتـه راکوئ ! افغانسـتان خوټول زمونږ دافغانانو شـريک کـور دی آزاد او آبـاد بـه يـې سـاتو. تـه څـرنګه پنجابـيانوته عريضـه کـوې چـې دازمونـږ کوردې ستاسـو وي اولږه څنډه يې مونږ ته راکـړه ؟!! دهغـه ځـواب داو چـې زمـا حيثيت پـه کـې معلوم نه وي زه پـه کـې ..... وهـم !!! مـا ورتـه وويـل : تـه نورڅـه حيثـيت غـواړې دجهـاد او هجـرت پـه برکت ديو تنظـيم مشر شوې ، نو يو نويوګاډو کې ګرځې ، دعـربو او عجـمو اموال دې پـه لاس کـې شو ل، تردې چـې ټول تنظيم پـه يـوه لاسـي بکـس کـې لــه ځانه سره ګرځوې او يو مطلق العنان ټولواک دې لــه ځانــه جـوړ کـړی دی ...... مونــږ درنــه لاړو اوس ګـورو چــې ستاشـاهي نظـام تـرکوم بـريد رسـېږي ؟!. زه اوزمونـږ.ګڼ ملګـري دهمدغـو بـې لاريـو ، درغلـيو اونادودولـه امله دغـه غـلام تنظـيم تـه

طلاق ورکړ پرې موښوده ، او کلک مخالفت او مقابله مو ورسره پيل کړه .......

په لومړيو ورځو کې چې کله جماعة الدعوة دعربو نه دکتابونو، اسلامي دعوت، مدرسو ، جوماتونو ، کونډو، يتيمانو او نورو دخير کارونو په نامه بې خرته مالونه راټول کړل نو دغه فاسد مثلث هر يواته اولس مليونه دقرض ، تجارت ، مضاربت اودموٴسسو په نامه دتنظيم نه واخيستل ....... ما او زمونږ نوروګڼو ملګرو چې کله په ۱۴۱۰ هـ ق کې جماعت پرېښود نودغه درې ګوني مثلث ته نوره هم لاره اواره شوه، ځکه چې نورو دخپلو شخصي ګټو لـه امله دمنکراتو هيڅ پروانه کوله ، څه موده وروسته دکونړ په ولايت کې دآی ايس آی اودسعودي چارواکو په لمسون دجماعت او حزب اسلامي ترمنځ سخت جنګ ونښت په دې وخت کې سعودي چارواکو دسعودي هلال احمر لـه لارې جماعة الدعــوة ته بې خرته پيسې راولېږلې چې دمليا ردونو په شمېر وې ، شيخ جميل الرحمن ددغه پنډ مبلغ دتسليمولو لـه پاره حاجي روح الله وګماره هغـه څه په خپلو اکاونټونو کې جمع کړې ، څه يې په ټرکونو کې باجوړ ته نقل کړې او شيخ جميل الرحمن ته يې وويل چې ته امر کوه او زه به يې وېشم په همدغه وخت ۱۴۱۲ هـ ق کې چې کونړ کې دحزب او جماعت ترمنځ جنګ ګرم و او جماعت يې پسې راخيستی ؤ حاجي روح الله دايو ذهبي فرصت و ګاڼه ددې لـه پاره چې لـه يوې خوامخکني قرضونه او دا اوسني لوی مبالغ خپل کړي اولـه بلې خوا جماعت ددرې ګوني مثلث تصرف لاندې راشي دشيخ جميل الرحمن وژلوته يې پلمه جوړه کړه . په

داسې وخت کې چې خلک ټول لمانځه ته تللي وو اوشيخ جميل الرحمن دعبدالله رومي په نامه يوه عرب سره خبرې کولې، حاجي روح الله راغی لومړی يې شيخ جميل الرحمن باندې ډزې وکړې ، ويې واژه ، بيايي په لږه فاصله کې عبدالله رومي عرب ناحقه وواژه ، او آوازه يې داخپره کړه چې شيخ جميل الرحمن دغه عرب وواژه نوموړ ځکه دي وواژه . دمولوي سميع الله نجيبي دخولې خبره ده چې دشيخ جميل الرحمن په ژوندکې دغې درې ګوني مثلث دقوماندانانوپه نامه دوسلې داخيستلو اوامر واخيستل اوبيايي ما (سميع الله) ته چې مالي مسئول وم وويل چې په کاغذونو کې وليکه چې داوسله واخيستل شوه او بياد تسليمۍ امضاء هم پرې وکړه اوپه همدې ترتيب يې اموال څه په قرضونو کې معاوضه کړل او څه جيبونوته لاړل ، دايوه بېلګه ده ددې درې ګوني فاسد مثلث اودسميع الله نجيبي اودهغه دزامنو اودجماعت مفاسد ، خيانتونه ، موئسسونه په څه ډول اموال را ايستل ، دسعودي سفارت ، استخباراتواو ...... سره روابط اونور فجائع به ان شاء الله په جلا کتاب کې دژونديو اسنادو سره خپاره شي .

کله چې شيخ جميل الرحمن ووژل شو نو درې ګوني مثلث وليدل چې مولوي سميع الله نجيبي چې ډېر ضعيف شخصيت خاونداودوی غوندې غل ونو هغه يې دجماعت امير وټاکه ،په همدې ترتيب جماعت دنګه غلوپه تصرف کې راغی او درې ګونی مثلث څلورګونی مربع شو: سميع الله نجيبي ، روح الله، حيات الله او ولي الله .

دوی اوس په فساد کې په مخکني مثلث هم پښه واړوله. دپوهنتون ، مدرسو ، يتميانو ، کونډو ، جوماتونو ، اسلامي دعوت ، کوهيانو ، کتابونو او نورو ...... نو مونو باندې يې دسعودي هلال احمر اونورو عربانو نه مالونه وهل. تردې چې په غلا او خيانت کې ورسره دهلال احمر ځينې افغاني او عربي مسئولين هم شريک شول . دغه اموال ددوی په شخصي تصرف کې راغلل .

کورونه ، پلازې ، بارګينونه او ...... يې جوړ کړل تردې چې دپېښور اشنغرۍ ته نږدې يې يو کلب پرانيست ،دخان کلب په نامه يې ونوماوه اودهر ډول فساد ، مجون ، ميوع ، شرابخورۍ ، ډمتوب اوزناکارۍ مرکز شو. خارجيان او پاکستاني مالدار مفسدين ورته راځي او هرڅه ورته مهيا کېږي ......... لنډه داچې دبې غيرتۍ او فساد لوړې څوکې ته ورسېدل ،له هيڅ ډول فجائعوڅخه يې دريغ ونه کړ ، او دافغانستان سره يې هرډول خيانت ، غدراو جفا ته لاس واچاوۀ چې دافغانانوپه لمن يو تور داغ شو . زمونږ ( عبدالرحيم مسلم دوست او استاذ بدر الزمان بدر) او زمونږدامثالو ګوناداوه چې ددغو مفسدينوفجائع موراڅرګندول ، غندل ، خپل وکړي موپوهول او ددوی دخيانتونواو جرمونو مخنيوی موکاوه. درې ځلې يې په ما (مسلم دوست ) قاتلانه حمله وکړه اولارې يې راته ونيوې خوزه الله تعالی وژغورلم ، ماجرا ت له لاسه ورنه کړ او ددوی په خلاف لاګړندی شوم تردې چې په ۱۱ ستمبر کله په نيويارک حمله وشوه او امريکاپه افغانستان حمله وکړه مونږ دامريکااود هغې دمتحدينو داحملې په قلم او بيان وغندلې او له هغې مخکې او وروسته هم ما

دامریکاظالمانه او متکبرانه سیاست غندلی دی او غنده مې په کلنتین مې طنز هم کړی و ........

امریکا دحملې نه مخکې دپاکستان استخباراتو: آی ایس آی ته وویل چې مونږ ته داسې افغانان رامعرفي کړئ چې هغوی مونږ لپاره په افغانستان کې کار وکړي چې داخبره دجماعت نږدې کسانو مونږ ته کړې ده هغوی دخپلو نورو ګوډاګیانو په ترڅ کې دجماعة الدعوة خپل دغه مخلص غلامان ورمعرفي کړل اودامریکاپه استخباراتوکې یې وردننه کړل. هغوی ته یې داسې وښوده چې مونږ تاسو لپاره کارکوو خوپه سلو کې پنځه یې امریکاته کار کاوه او (۹۵) یې دآی ایس آی لپاره کاوه .

لنډه داچې کله امریکا په غرکیو او پرشکیومنطقې ته راغله نو سترګې پرې پټې وې هرغدار اومنافق ته یې ډالرې ورکولې اوپه خپل زعم یې کار ورڅخه اخیسته ، دجماعة الدعوة مذکورمفسد مربع ( سمیع الله ، روح الله ، حیات الله او ولي الله ) لپاره دایو طلایي فرصت شو له یوه پلوه یې دامریکانه ( ۱۵۰۰۰۰۰۰ ) یوسل او پنځوس ملیونه ډالر ،په سوونو سټیلایټ ټیلفونونه او نور وسائل واخیستل او امریکادامبلغ دکوکنارو دکښت دبندولواو دجهادي قوماندانانو ، قومي مشرانواودطالبانو دلوړپوړیو اشخاصوداخیستلو لپاره ورکړ چې دوی او آی ایس آی په شریکه خپلو منځو کې سره ووېشل او امریکاته یې ددرواغولستونه ورکړل. ځینې نومونه په کې داسې ووچې هیڅ وجودیې نه لاره ځینې نومونه سم وو خو هیڅ یې نه وو ورکړي او ځینوته یې څه لږ غوندې ورکړي

وو خوپه څو چنده زيات يې ورپسې ليکلي وو دکوکنارو دبندولو معامله داسې شوه چې په ډېرولږو ځينو منطقو کې يې دکوکنارودوهلو اواپين داودرېدلونه وروسته ډکي تلف کړي او انځورونه يې ورته اخيستي ،چاته يې چې (۱۰۰) ډالرورکړي نو (۱۰۰۰۰) يې ورپسې ليکلي او(۲۰۰) يې چې ورکړي نو (۲۰۰۰۰) يې ورپسې ليکلي له بله پلوه چې کله په افغانستان امريکايي يرغل پيل شو نو دجماعة الدعوة دغو مفسدانو په نورو درغليو سربېره دعربانو او نورو خارجيانو په نيولوپيل وکړ، نوی تجارت يې پيل کړچې **جماعة الدعوة** دغو څلوروډاکوانودعربانو اونورخارجيانوسره درې ډوله معامله وکړه :

ځينو ته يې وويل چې په تليفوني رابطې دخپلو کورونونه ډېرې پيسې راوغواړي اوپه دي ترتيب يې هغوی دآی ايس آی له لارې دهوايي ميدانونو دځانګړيو دروازو او نورو لاروڅخه وايستل ، ځينې بې پيسويې امريګايانوته وسپارل او ځينو نه يې هم پيسې او موټرې واخيستې اوهم يې امريکايانو ته وسپارل ......

چې ددې ډالرودحساب اودې ته ورته نورو فجائعو دراڅرګندېدوپه نتيجه کې روح الله امريکايانوونيوۀ اوله مونږ نه وروسته ګوانتنامو ته راورسېده چې دامسأله به وروسته ان شاء الله وڅېړو.......

له بلې خوادې څلورګونيو مفسدانو زمونږ هغه ټول منشورات او داخبارونو مضامين راټول او انګليسي ته وژباړل چې مونږ دامريکاپه خلاف ليکلي وو اوپه سلوکې نهه نوي (۹۹٪) يې نور ددرواغوتورونه

ورسـره وتـړل اومونـږ يـې دآی ايـس آی لــه لارې امـريکايانوباندې دډېروډالرو پـه بـدل خرڅ کړو چې لـه يوه پلوه يې جېبونه لـه ډالرو ډک کړل اولـه بلې خوايې خپل دښمنان دامريکاپه واسطه ونيول .........

جلاجلا کتابتي ، سمعي او مرئي ګواهي يې زمونږ په خلاف وکړه او زمونږ اړيکي يې دطالبانو ، اسامه بـن لادن ( القـاعده ) او دنړۍ ټولو اسلامي تنظيمونو سره وښودل ......

چې زمونږ دنيولو ، ګوانتنامو پورې درسېدلو او بېرته دراخوشې کېدلو داستان اونور ربنډحقيقتونه په لاندې توګه څېړو:

# لهٔ کوره ترګوانتنامواولهٔ ګوانتنامو ترکوره

زمونږ کرايي کوردپېښور دخيبر روغتون شاته په اکاډمي ټاون کې وٚ.

د۱۴۲۲ هـ ق کـال درمضـان دمياشـتې لومـړۍ د۲۰۰۱ م کـال دنومبر۱۷ مـه وه مونږ درې ورونـه : ( مولـوي سيد محمد وحدتيار ، عبدالرحيم مسلم دوست اوبـدر الزمان بـدر) اومونږ سره نور مېلمانه اودوسـتان عبدالحليم همت ، نـور الحبيـب نـثار ، درويش ، قـاري غـلام موسی او زمـا ( مسـلم دوسـت) زامـن عـبدالاحد ، عـبدالوهاب، عـبدالله ....... اونـورو مېلمنوسره دخپل کور ـ چې په کرايه مو نيولې و ـ دننه پـه کابـتون او اوجره کې ناست وو دشپې يوولس نيمې بجې وې چې پاکسـتانۍ پوليس او دپوځي استخباراتو (ISI) آی ايس آی

تـور پنجابـيـان ، تـور افسـران او منسـوبين دډاکوانـو او غلـو پـه څېـر دتـورو پلمـو سره پـه کـور رانـنه وتـل ، زمونـږ دکـور لـه وره دننه کيـن لورتـه زمونـږ دکتابـتون او اوجرې وربـيرته و او مونـږ دمېلمنوسره پـه خبرو بوخت وو چې ناڅاپـه پولـيس اودآی ايـس آی کسـان وسلې پـه لاس داوجرې مخـې تـه اودرېـدل اوپـه ډېـر وارخطـا هيئـت يې دکلا شينکوفونو شپېلۍ زمونږ لورتـه راواړولې او ويې وېل : ونه خوځېږئ ....... زه ورپـاڅېدم او ورتـه ومې ويـل چې څه خبره ده ؟ تاسو غله يئ اوکه پولـيس ؟ ! پـه کـوم جـواز او کـوم قانون زمونږ کورتـه دډاکوانوپه څېـر راننوتـئ مونـږ خودښـار پـه لمـن کـې دننـه پـه امـن او سـېږو نـه ، فـراريان يـو اونـه دا ځـای کومـه قبائلي سيمـه ده . که تاسو لۀ مونږ سره کـوم کـارلاره نوخبر بـه مـو راکـړی وۀ ........ يـو پنجابي سپاهي زمونږ لورتـه کلاشـينکوف نـيولی وۀ او رېـږدېده ..... مونـږ ورتـه پـه اردو ژبـه ووېـل چې : کښېـنه مونـږ نـه مجـرمان يـو اونـه دتېښـتې والا خلـک . دهغـوی لـه خولـې هيڅ غږ نه راواتـه ٔ او ډېرپه بيړه او وارخطايۍ يې يو خوا اوبـل خواتـه کتـل ، يـو ګنجی پـنجابی کـرنېل يـو بـل لوړ پښتون غـلام، دمونـډېۍ سـپينې ږيـرې والا تانه دار او څه پنجابي اونور وسله وال ورسره وواو دوه تـورې بدرنګې ښځې هم ورسره وې، هغه دواړه کـور ته ننوتې او دوی پـه کتابـتون کـې لټون پيـل کـړ؛ هره الماری اوهره خانـه يـې ولټوله اوله نېکـه مرغه ووايم اوکه له بده مرغه چې له اردو پـرتـه پـه بله ژبه هيڅ نه پوهېدل ځينې فرهنګي دوسيې ، مجلې او نور کاغذونـه يـې راټـول کـړل اودبـاندې ولاړو ګاډوتـه يـې ولېـږل . پـه کتابـتون کـې يـې داسې حرکتونه وکړل چې دټولوکتابونو بشپړتوهين

و چې په هغو کې قرآن کریم ، تفاسیر دحدیثو او فقهي کتابونه شامل دي ؛ لکه دڅپلیو سره ګرځېدل ، دسګرټ څکول اوپه قالینه ګل کول ، دقرآن کریم اونورو کتابونو یو خوابل خوا غورځول او داسې نور ...... بیایې دښځینه پولیسو په لټون بسنه ونه کړه زه دښځینه پولیسو سره کورته تللی وم چې ګورم دآی ایس آی اوپولیس والا کورته دننه راننه وتل زمونږ دکور دننه مونږ نه پرته لوی او واړه ټول په خواره خوب ویده وو زه دکوټې نه دکور دالېز ته راووتم او ورته ومې ویل چې نه درسره اسلام شته اونه غېرت واوځۍ بې غیرتو .تاڼه دار دکلاشینکوف لټ وواهه اوزما په لور یې شپېلۍ راواړوله. ماورته وویل وولـه بې غیرته ددروازې لورته لاړل زمونږ ښځې یې یوې کوټې ته کړې واړه واړه ماشومان له خوبه راویښ شول اونه پوهېدل چې څه خبره ده ؟! چا ژړل اوچاپه خورو وروشیندلو شیانوکې دخپلې خوښې څه لټول ........ زمونږ ددواړو ورونو په کوټو کې یوه یوه تمانچه وه یوه ورته مونږ پخپله راواخېسته اوبله ښځینه پولیسوراواړه. لومړی یې یوه کوټه بشپړه ولټوله او بیایې نورې کوټې وار په وار ولټولې دوه بکسونه یې واخېستل چې نقدي پیسې ، قېمتي کاڼي ، زیورات دخلکوامانتونه ، شخصي اسناداو کاغذونه په کې وو ، یو کمپیوټراونور ..... سامان یې دډاکوانو په څېر راټول کړاوله ځانونوسره یې واخېست . مونږ دواړه ورونه ( مسلم دوست او بدر ) ، زمونږ مېلمه ورور مولوي سیدمحمد وحدتیار او زمونږ بل مېلمه : عبدالحلیم همت یې روان کړو څه نور مېلمانه او زمونږ بچې وروسته پاتې شول، دهریوه په هکله یې پوښتنه وکړه چې داڅوک دی

؟ اوداڅوک دی ؟ ....... غوښتل يې چې هغوی هم له ځان سره روان کړي خو مونږ ورتـه وويـل چې دازمونـږ مېلمانـه دي اوزمونږددين ، دېښتنو دوداونـنګ نـه يو لـوی مخـالف اوبې ننګه کاردی چې تاسو زمونږلـه کـوره زمونـږ مېلمانـه په دې ډول روانوئ ...... نور پاتې شول او مونـږ څلور واړه يـې روان کـړو . يو لوړپښتون سپاهي خپل پنجابي بـادار افسرته په خواره خولـه وويـل چې : سر! مونږ خودوی نه وسله هم واخيستـه اودکور لويان مو هم ونيول ددې علاقې امن هم ښه نه دی ، دوی کې يـو کـس نـه پريږدو؟ تـور پنجابي وويـل : ايک هي رات کي توبـات هے " ( بـس يواځې ديوې شپې خبره ده ) بېچاره پښتون غلام غلی شو . مونږ ته بيا وروستـه داڅرګنده شوه چې دالوړ پښتون هم يو کرنـيل و اودتـورې شبکې ( ISI ) يـو غـړی و خو دپنجابي کرنـيل پـه مقـابل کې يې دخبرې جرا ٔ ت نه شو کولای اودهغه مخکې يې دغلام پـه څيـر منـډې وهلـې . داخبره مونـږ تـه وروستـه نـوره هم ښـه څرګنده شوه چې کلـه کلـه بـه کـوم پښـتون مونـږ تـه پـه غـلا راتـه . اوراتـه ويل بـه يې چې کارټول داسلام آباددپنجابيانو په لاس کې دی او مونږ ډېر بې وسـه يـوو . مونـږ تـه يـې وويـل يـودوه کمپلې هم لـه ځانه سره راواخلئ تاسو بـه مونـږ سره يـو ځل لاړشئ او سبا بـه بېرته خپل کورته راشئ ، دلـوی نهـر نـه راپـه دېخوايـې زمونـږ دکورشاوخوا سيمه ټوله محاصره کـړې وه او دبـزدلۍ نـه دومـره زيات ګاډي او مسلح افراد ورسره وو تـه بـه وايـې چـې پـه يـوه لويـه فـرقه بـريد کـوي !..... زمونـږ دکور غربي او جنوبي لورته شپږ ګاډي او ښکته پورته لرې لرې هم پوليس ښکاريدل زمونـږ دراخلاصېدو نـه وروسـتـه مونـږ تـه خلکـو وويـل چـې زمونـږ

دکورنـه ګرد چاپېـره يـې ټولـه مـنطقه محاصـره کـړې وه چې داټولـې دتـورو پنجابـيانودتورې شبکې دبزدلۍ نښـې دي . مونـږ ډېر ټينګار وکـړ چې دادوه کسـان مېلمانـه دي داخوشـې کـړئ اومونـږ بـه درسـره لاړشـو خوويـې نـه مـنل . زمونـږ دڅلـور واړو سـترګې يـې راوتړلـې ، فـولادي کـړۍ او زنځـيرونه يـې لاسونوته راواچـول اوپـه بې نمبر پلېټه ګـاډي کـې يـې کښېـنولو. داهغـه مجرمانِ دي چـې دهـيڅ ډول قـانون پـروانه کـوي، د هـرډول قـانون څخـه مسـتثنی دي اوپـه همدغه ډول بې نمبرپلېټه ګـاډوکې اخـتطافونـه ، وژنـې اونورجرمونه کوي او هيڅوک تـرې نـه پوښتـنه کوي اونه يې کولای شي ...... مونږ په دې پوه وو چې داد آی ايس آی والا دي خوپـه دې نه پوهېدو چې کوم لورته مو بيايـې ؟ او زمونـږ دکـور خلـک هـيڅ خبرنه وو چې مونږ چا اوپه کومه بوتلو ؟!..... مونـږ پـه دې فـکر کې وو چې زمونـږ دنـيولو لامل به څه وي ؟! خـو داهـم راتـه څرګـنده وه چـې دتـورې شـبکې حلقـه بګـوش غلامـان : ملاسـميع الله ، حاجي روح الله ، حاجـي حيات الله او ماسـټر ولي الله سـره زمونـږ دښمني وه اوروح الله مونږ تـه ټيلفون هم کـړی و چـې دتـورې شـبکې پـه زنـدان يـې وېرولي وو. دهغـوی داغداره ماضي دجرمونو نـه ډک ژونـداودآی ايس آی سره اړيکي يې راتـه مخې تـه اودرېـدل نوځکه زندان تـه رسېدونـه مخکې مونږ پـه دې وپوهېدو چې چاونيولو او ولې ؟!.......مونـږ دتـورې شـبکې اودهغـوی دګوډاګـيانو تـور اهداف خپلو وګړوتـه څرګـندول نوځکه هغوی مونږ دخپلو شومو او کړغېړنو اهدافو پـه لار کې خنډ ګڼلو........

لږه شېبه وروسته يوه ځای ته ورسول شوو اوله ګاډي راښکته کړای شو ولاړو کسانو مونږ نه په پټو سترګو دنومونو پوښتنې وکړې زمونږ کورته چې ورسره کوم افغاني ګوډاګيان راغلي وو هغوی يوې خواته ولاړ وو ما (عبدالرحيم) نه يې چې کله دنوم پوښتنه وکړه ماورته نوم واخيست هغه وويل چې پوره نوم واخله، مطلب يې داو چې تخلص هم ورسره يادکړه مانوم او تخلص تکرار کړل، مونږ وروسته په دې وپوهېدو چې دغه ځای دپېښور شامي روډ دآرمي ستېډيم سره نږدې دآی ايس آی دفترونه وو اوهلته ځانګړی پټ زندان و، دغه زندان دباندې اودلوی وره دننه ديوه کور يادفتر غوندې ښکارېدهٔ او چاپېرې دزندان ګومان نه کاوه دزندان ودانې داسې وه چې له زمکې څوسېمټې پورې ورپورته شوې وې مخې ته يې دګاډودمينځلو ځای و. دودانۍ لومړۍ دروازه عادي دلرګي دروازه وه ددروازې دننه وره کوڅه وه ښي او چپ لورته دوه کوټې وې ددې لنډۍ کوڅې په پای کې داوسپنودپېړوتوروډنډويوه غښتلې دروازه وه ددروازې نه وروسته بله کوڅه وه چې ښي او کيڼ لورته غځېدلې وه مخامخ يو تشناب و چې يو کمود په کې و اوداوسپنې کوم نل يابمبه هيڅ په کې نه وه، ددېوال ببخ ته يو وړوکي سوري کې دپلاستيک پيپ راتېر شوی و اوپه هغه کې اوبه راتللې. يوسطل هم په کې اېښی واودتشناب دروازې دننه هيڅ زنځيريادبندولو کوم شی نه درلود.

دتشناب ښي او چپ لورته دوه دوه تنګې کوټې وې هرې يوې کوټې دوه دوه دروازې درلودې دباندې دلرګي دروازه وه چې

دولاړسرې دسترګو مخامخ يو ګرد سوری په کې و چې په ګرځنده اوتاوېدونکي لرګي دباندې لـه لـوري بنديده اوخلاصيده اودکوټې دننه لورتـه دپېړواوسپنيزوتوروتورو ډنډومضبوطې دروازې وې چې دتوروپنجابيانودتورو پلمو اوتورو موأمرواودسيسوترجماني يې کوله اوداتـورې دروازې پـه غټوغټوقلفونـو دبهرلـه خواقلفېـدې داکوټـې دومره تنګې وې چې په پلنو په کې پښې نه غځېدې اوپه اوږدوپه کې غځيدای شوې ، چتونه يې ډېرلوړلوړ وو اوپه چت کې دبرېښنايو ګروپ لګېدلی و خودروښانه کولو اوبندولو بټنو نه په کوټو کې نه وو بلکه دباندې خواتـه وو کله کله بـه يې دروحي فشار لـه پاره دغه ګروپ مړکاوه چې دورځ اوشپې توپير پـه کې نه کېده . کوټې ډېرې لمدې او زيمناکې وې يـوه يـوه خيرنه اونـاولې شلېدلې درۍ اوپـه همدې ډول توشک نماشی هم پـه کې وٌ چې سوړې سوړې اوډېر بدبويـه وې لـه کوټـنۍ ډېـره لمـده اوبدبويـه وه. دانسـان لاڅـه چې دحيوان داوسېدو قابل هم نهٔ وه ددروازې مخامخ دېوال کې ډېره لوړه يوه داوسپنې جالۍ لګېدلې وه چې دباندې نه په کې دموټرواو خلکو اوازونـه اودآرمـي ستيديم دلوبـو شور اورېدل کېده ، پـه يـوه اوچت کونـج کـې يـو مسندلګيدلی و چې دوروستي معلومـاتو لـه مخـې دڅينو بنديانو دنظارت لـه پاره پـه کې کېمره نصبېده ........ مونږ يې بيلوبيلو کوټوکې واچولو جېبونه يې راولټول نغدې او کاغذونه ، قلمونـه او ........ يې راڅخه واخېستل هره کوټـه کې يې دانساني حاجت درفع کولو لـه پاره دتعميراتي رنګ تشه ډولچه ايښې وه ، دپنځه وختـه لمانځه اوداسـه تـه يې نـه پرېښودلو ، شواروز کې يې

یواځې یو ځل تشناب تـه پرېښودلو مونږ به کوښښ کاوه چې اوبه او خوارړه ددې لـه پـاره لږ وخورو چې دحاجت درفـع کولـو ځـای هم نه و اودلمانځـه لـه پـاره مو اودس هم ساتـه ، کـه بریښنا بـه نـه وه نودشپې او ورځې هیـڅ توپـیرنـه کېـده ....... دوه میاشتې اودوه ویشت ورځې یې نـه ګـرځېدلو تـه پـریښودو اونـه مولمـر لېدلـی دی ..... چـای نـه وُ اوڅوکـیدارانوپاتې شوني کـتغ سره بـه یـې سـاړه پنجابي چپاتـي ( پـتېرې ډوډۍ ) راوړل چې دواړه دخـوراک قـابـل نـه وومابـه د سـوې ډوډۍ نـه سوي ځایونـه لـرې کـول پـنجابی پـه غوسه شواوویل یې چې داسوي ځایونـه لـه ډوډۍ نـه مـه لـرې کـوه دې سره یـې خـوره! څو ځل داسې هم شوي دي چې دبېخ پاتې ککړقاب کې دخوړل شوي غوښې پـاتې هـډوکـی پـروت دی ..... دآی ایـس آی ددې جېـل اودفـترونـو ټـول څوکـیداران او اشپزان پنجابـیان دي مونږ پـه دغه جېـل کې نږدې درې میاشتې تېرې کړې اوپـه دې ټـول وخت کې مویوپښتون څوکیدار هم ونـه لـیده دآی ایس آی پنجابي مسوئـلـین پـه پښتنو هیڅ اعتماد نه لري اوډېرپه سپکه سترګه ورتـه ګوري .....

څـه وخت وروستـه یـو پښـتون کرنـیل چې زمونږ کورتـه هم راغلی و راغـی، مونږ یـې دزنـدان داولی دروازې دننـه لورکوټې تـه یویـو بوتلـو، زمونږعسـکونـه یـې واخیسـتل، دشخصي پېـژنـدګلوۍ لـه پوښـتنونـه وروستـه یـې راتـه وویـل چې دچاسره خودښمني نـه لرې ؟ماورتـه وویـل چې ولـې نـه !استاسودحلقه بګوش غلامـانو او ګوډاګـیانود جماعـــة الدعــوة دمشـرانو: مـلا سمیع الله ، روح الله ، ولي الله اوحیات الله سره چې حقیقت کې ټـول اعـداء الله دي دښمني لـرو. کلـه مې چې

دحيات الله نوم واخيست نو هغه وويل چې هغه شرابي او زناکار ؟
ماوويل : هو هماغه يادوم . هغه وويل : هغه خودوژلودی . بيايې په اشارو او کنايوکې پوه کړم . او څو ورځې وروسته يې راته ژوندي اسناد او شواهد هم وښودل . چې ستا خبره سمه ده همدغه خلک دي دوی په افغانستان کې زمونږ دپنجابي مشرانو په اوامرو مونږ له پاره څه کارونه کړي دي نو د" کچھ لو کچھ دو" ( څه واخله څه راکړه ) په بنسټ به مونږ هم دوی له پاره څه دغه شان کارونه کوو او دايې راڅرګنده کړه چې مونږ بې وسه يوو او کارټول داسلام آبادلاس کې دی. دجماعــة الدعــوة دغه خلک زمونږ افسرانوته دجينکو او شرابو سپلايي کـــوي نـــو هغوی ځکه په دغسې مواردوکې ددوی خبره مني ........

زما دکوټې خواکې کوټه کې دوه عريان وو چې تشناب ته دتللو په وخت کې مې وليدل . هغوی يې مونږ نه څو ورځې وروسته راوړي وو او په هغو کوټو کې يې اچولي وو چې مولوي صاحب سيد محمد وحدتيار او عبدالحليم همت يې ترې خوشي کړي وو. تېر ما سختن څه کسان راغلل ، سترګې او لاسونه يې راوتړل په ګاډي کې يې يويو بيل بيل بوتلو دزندان مخې ته دسرک بلې خواته دفتر ته يې بوتلو زه مسلم دوست چې کله ددفتر دننه يوې خونې ته ورننه کړای شوم سترګې يې راخلاصې کړې چې ګورم درې امريکايان دي او يو هغه اصلع ( ګنجی ) پنجابی کرنيل ورسره دی چې زمونږ کور ته زمونږ دنيولو لپاره راغلی و. لومړی يوه امريکايي زما څو ډوله عکسونه واخيستل دخولی سره ، سرتور ، مخامخ ، له ښي او کيڼ لورنه لږ او

ډېر مایل ......... بیا یې دلاسونو دبېلو بېلو ګوتو او دبشپړو ورغیو بصمات ( خاپونه ) په تور رنګ دکاغذونو په مخ واخېستل بیا تشناب ته بوتلل شوم، لاسونه مې ووېنځل اوبېرته همدغه کوټې ته دتحقیق لپاره راغلم. په یوه چوکۍ زه کښېناستم زما ښي لورته ګنجي پنجابي کرنیل او مخامخ او کیڼ لورته امریکایان کښېناستل زما دبیو ګرافۍ ( شخصي پېژند) په هکله یې پوښتې وکړې نوم ، تخلص ، دپلار نوم ، دنیکه نوم ، واده دې کړی که نه ، څو اولادونه لرې ؟ څو مره زده کړې دې کړې دي ، په څو ژبو پوهېږې ؟ کوم کوم کارونه دې کړي دي ........ او ځوابونه یې ولیکل یو ګیره وریښتون هم دپنجابي خواته ناست و اودخبرو د له لهجې داسې ښکارېده چې دکوهاټ دی . وروسته یې بیا خپل نوم طارق وښود . دا دواړه دترجمانۍ له پاره ناست وو کله چې پنجابي ته دا څرګنده شوه چې زه په اردو ګوزاره کوم نو پښتون یې وشاړه او بیانه راته. په لومړیو دوه ورځو کې ورته څو ځل پنجابي غوسه هم وکړه اوپه ترجمانۍ کې یې پرې نیوکې وکړې ، بې واکه اوبې وسه پښتون غلی شو او بیا رانه غی ، تور ګنجي پنجابي ترجمان څو ځل غلطه ترجماني او له ځانه خبرې هم په کې ننه ایستې .

امریکایي محقق دپاخه عمر ښځه وه چې تقریباً دشپېتو او اویا کلو نو شاوخواکې ښکارېده هغه نوردوه ورسره همکاران وو او ترده ځوانان وو دامریکایانو سره یو کاغذي کاټن و چې دهغوی دضرورت سامان په کې ایښی و اوداکاټن دکوټې منځ کې په ځمکه اېښی و ، کوټه کې فرش وظرف ښه وو .

لنډه دا چې زما ورونو او همت صاحب نه يې مخکې تحقيق کړی و او دهغوی دشخصي معلوماتونه پرته يې زما په هکله هم ترې پوښتنې کړې وې چې زه بيا وروسته خبرشوم . امريکايانو پنځو شپږو ورځو کې څو ځل تحقيق وکړ چې هرځل دشپې وُ، يوه شپه يې دوه ځل وغوښتم او تحقيق يې راڅخه وکړ، دامريکايانو دتحقيق لنډيز دادی چې : ماته يې وويل: ته او ستاورونه نه مونږ نيولي يئ اودآی ايس آی والا ته يې اشاره وکړه چې نه مو دوی ته امر کړی دی چې تاسو ونيسي دوی تاسو نيولي ياست او مونږ ته يې وويل چې مونږ ترهګر نيولي دي راشئ، پوښتنې ترې وکړئ او درواېې خلئ ، بيا يې يو کارت راوايست څلورنومونه يې پرې ليکلي وو : سميع الله نجيبي ، حاجي روح الله ، حاجي حيات الله او حاجي ولي الله . دولي الله نوم يې لومړې وولا وولا لوسته بيايي سم کړ ، ماورته وويل چې هو دا خلک پېژنم چې دآی ايس آی ګوډاګيان دي دهغوی له لارې ستا سو استخباراتو ته درننوتي دي او زمونږ دنيولو باعث همدوی دي. دآی ايس آی په ګنجي پنجابي کرنيل زما داخبرې ښې ونه لګېدلې او څه تاوه راتاوه ترجماني يې زما وکړه . بيا يې راته پټ وويل چې داسې مه وايه خو ماونه منل.......... امريکايانو سره دوه ځل يوه يوه ښځه هم وه چې يوه نسبتاً ځوانه او نرۍ وه او بله دپاخه عمر شين سرې او ډېره څربه اوپېړه وه .

دامريکا يې محقق دتحقيق نورې پوښتنې او زما ځوابونه داسې وو :

ـ اسامه بن لادن پېژنې ؟.

ـ هو ، هغه خوتاسو مونږ ته راوپېژند او او س يې ماشومان او لېوني هم پېژني .

ـ ايا تا ليدلی دی ؟.

ـ نه مانه دی ليدلی اوکه ماليدلی وای نو داسامه ليدل کوم جرم نه دی مابه ضرور ويلي وو چې ماليدلی دی، ما غوښتل هم چې هغه وګورم خوتراوسه موفق شوی نه يم چې ويې ګورم . هغه نړۍ ښځې وغوښتل چې هغې ته متوجه شم او زما جرا ٔت وازمايي ، رابرګه شوه او ويې ويل چې: تاهرو مرو اسامه ليدلی دی . ماپه ډېره بې اعتنايي ترجمان ته وويل چې څه دليل دی ؟ دلږ تکرار نه وروسته يې سترګې مرې شوې او غلې شوه .

ـ اسامه څرنګه سړی دی ؟.

ـ زه نه پوهېږم ځکه چې مايو څوک لېدلی نه وي څرنګه کولای شم چې دهغه په هکله دښه يانابښه پرېکړه وکړم .

ـ دنيويارک په تجارتي برجونو باندې دانتحاري بريد څخه خبر يې ؟ .

ـ هو دامريکا غږ له راډيو څه مو واورېدل .

ـ کله چې په نيويارک حمله وشوه ته خوښ شوې که خفه ؟ .

ـ داپرېکړه هم پېچلې ده ځکه چې مونږ ونه پوهېدو چې داحمله چاوکړه ؟! په چايې وکړه ؟!!! اودڅه له پاره يې وکړه .

ـ دامريکا دخلکو په هکله څه نظر لرې ؟.

ـ زه امريکا ته نه يم تللی .

ـ ایا کومې ایجنسۍ ( استخباراتي ادارې) سره دې کارکړی دی ؟.

ـ نه .

ـ ایا پوځ کې کار یاپوځي ټریننګ ( تدریب ) دې کړی دی ؟.

ـ نه .

ـ دکومې وسلې په استعمال پوهېږې ؟.

ـ هو ټوپک او تمانچه باندې پوهېږم .

ـ جهاد دې کړی دی ؟ .

ـ هو .

ـ پاکستاني استخباراتو ( آی ایس آی ) ستاسو کور څارلی او وایي چې په دې ورځو کې ستاسو کورته زیات مېلمانه راځي آیاداسمه ده ؟.

ـ یواځې په دې ورځو کې نه بلکه هروخت زموږ دهر مسلمان خصوصاً دهر افغان اوپه ځانګړې توګه دهر پښتون کورته مېلمانه راځي ، موږ یې دخپل وس مطابق احترام او اکرام کوو اوله کوره یې نه شړو .

ـ موږ ته ویل شوي دي چې ستاپه کور کې دامریکا خلاف مشورې کېدې او تارهبري کولې .

ـ داسمه نه ده .

ـ ایا ستا سو کور ته عربان راتلل ؟.

ـ پخوا راتلل او اوس نه دي راغلي .

ـ ایا دالقاعدې غړي ستاکورته راغلي دي ؟.

ـ زه دالقاعدې غړي نه پېژنم زمونږ کورته اکثر هغه عربان راتلل چې په خیریه موسسو کې یې کار کاوهٔ یا کومه تعلیمي اداره کې استاذان وو .

ـ دڅه له پاره راتلل ؟.

ـ مطالعې.، پوښتنو او دعربي قواعدو (صرف او نحوي) زده کړې له پاره .

ـ مونږ خبر شوي یو چې تاسو یو شخصي کتابتون (کتابخانه) هم لرئ ؟.

ـ هو داسمه ده .

ـ دادڅه له پاره ؟.

ـ دمطالعې نه پرته نورڅه کېدای شي ؟.

ـ په دومره زیاتو کتابونو څه کوې ؟.

ـ دمطالعې سره مینه لرم دکتابتون بل کوم هدف کېدای شي آیا کتابتون او کتابونه لرل کوم جرم دی ؟.

ـ نه جرم نه دی خو آیا دا ډېر نهٔ دي ؟.

ـ نه زه غواړم چې نور هم زیات کړم کتابتون کوم حد نه لري .

ـ ستاسو په کتابتون کې څه ډول کتابونه دي ؟.

ـ مونږ غواړو چې هرډول کتابونه ولرواوس تفاسیر ، احادیث ، فقه ، اصول او ادبي او فرهنګي کتابونه لرو .

ـ آیا ستاسو په کور کې وسله وه ؟.

ـ زمونږ په کور کې دوه تمانچې وې چې ستاسو دې ګوډاګیانو ـ ترجمان ته مې اشاره وکړه زمونږ دنیولو په وخت کې راواخیستې او یوېې وړې .

ـ ایا ستاسو په کور کې نوره وسله ، تلویزون یاستلایټ نه و ؟.

ـ دوی ـ ترجمان ته مې اشاره وکړه ـ زمونږ کورټول ولټاوه او دنوک په کچ ځای یې هم پرې نه ښود .

پوښته ورځخه وکړه چې دغه شیان یې وموندل ؟.

امریکایي دآی ایس آی دترجمان نه پوښتنه وکړه چې آیا تاسو دغه څیزونه ونه موندل ؟.

هغه وویل چې : نه داشیان مو ونه موندل .

ـ تاسو ولې ونیول شوئ ؟.

ـ مونږ دپاکستاني استخباراتوګوډاګیانو : جماعة الدعوة دمحوري غړو: سمیع الله نجیبي،حاجي روح الله ، حاجي حیات الله ، حاجي ولي الله اوداسې نورو غلامانو سره اختلاف لرو، هغوی دآی ایس آی سره دارېکولرلونه بده ګټه واخیسته او ددوی له لارې یې مونږ ونیولو مونږ خو چاته عریضه نه ده کړې چې مونږ ونیسئ دوی نه پوښتنه وکړه چې مونږ یې ولې نیولي یو ؟!.

امریکایي دهغه نه پوښتنه وکړه ترجمان ورته وویل چې دوی په ورځپاڼو کې ستاسو مخالفت کړی دی، دکلنتن دوژلو له پاره یې پنځه میلیونه افغانۍ انعام ټاکلی دی او ستاسو په خلاف یې فرهنګي کار کړی دی ؟.............

ــ ایا تاداکار کړی دی ؟.

ــ هو دکلنتن دوژلو پنځه میلیونه افغانیو نه څه دپاسه سل (۱۰۰) ډالرجوړېږي دادکلنتن او امریکاپه سیاست اوپه افغانیو باندې یو طنزدی چې دکاریکاتورحیثیت لري او داکارپه مطبوعاتو کې ازاد دی، تاسو په افغانستان حمله وکړه بې ګناه وګړي مو ووژل اوکورونه مو ړنګ کړل نو مونږ داحق لرو چې په تاسو طنزوکړو او ستاسو په خلاف قلم استعمال کړو .

امریکایي محقق ماته مخ راواړاوه او راته ویې ویل چې داستادیموکراتیک حق دی په مطبوعاتي مخالفت مونږ څوک نه نیسو مونږ له دې ټولو خبریو خوپه دې کار څوک نه نیسو اونه یې قانوناً نیولای شو زمونږ خپل ژورنالستان هم زمونږ په سیاستدانانو او حکومت طنزونه او ردونه کوي او سیاست یې غندي داډول وګړي په نړۍ کې ډېر زیات دي مونږ خو ټول نه شو نیولای .

له دې وروسته امریکایان دباندې سره ووتل خپلو منځو کې یې سره خبرې وکړې او مونږ پوه نه شو چې څه یې وویل ؟.

په دې منځ کې یوځل ترجمان ته موبایل کې زنګ راغی هغه وواته یو امریکا یې زرزر دفرصت نه په ګټه اخېستلو ماسره په عربي ژبه خبرې پیل کړې ماهم ورته په عربي ځواب ووایه . اومونږ دواړو غوښتل چې خبرې سره اوږدې کړو خو دې منځ کې پنجابی ګنجی ترجمان چې موبایل سره وتلی و ــ بېرته زر په بیړه راغی کله چې یې ولیدل چې امریکایي ماسره په عربي ژبه خبرې کوي نو ډېر زیات وارخطاشو ځکه چې هغه نه پوهېده چې مونږ څه وایو له مانه یې

پوښتنه وکړه چې ته څه پوه شوې چې دا امریکایي په عربي پوهیږي ؟ ماپنجابي ته هیڅ اعتناونه کړه اوځواب مې ورنه کړ . امریکایي بیاپه انګلیسي پوښتنه وکړه .

ـ ایا ته په دې لنډ وخت کې جلال اباد ته تللی یې ؟.

ـ هو.

ـ کله ؟.

ـ دجلال اباد دسقوط نه یوه ورځ مخکې .

ـ په داسې حال کې چې هلته دامریکابرید روان و او بمباري کېده تاپه جلال اباد کې څه کول ؟.

ـ جلال اباد او افغانستان زمونږ وطن دی او هرو خت څو راځو هلته مو زمکه ده ، دنورستان دکاڼو معدنونوکې کار کوو ، او جلال اباد کې دجنګویوه مدرسه لرو چې دطالبانو نه مو پټه موجوره کړې ده دهغې پوښتنې ته تللی وم .

ـ تاسو هلته نورې مدرسې هم لرئ ؟.

ـ هو دجلال اباد په ښار کې طالبانو بندې کړې دي اوپه لرې اطرافو کې شته .

ـ کابل ته کله دطالبانو دمشرانو سره دکتنې له پاره تللی یې ؟.

ـ هو .

ـ دڅه لپاره ؟.

ـ دې له پاره چې زمونږ دتعلیم او تربیې اداروته دکار کولو اجازه ورکړي .

ـ بياڅه وشو ؟.

ـ دوه درې ځل لاړو خوکومه زره پورې پايله يې ورنه کړه .

ـ تـاسـوسـره دجـلال ابادتـه آخري تـګ کـې يـو ملګری و هغـه څوک و ؟.

ـ هيڅوک نه و زه يواځې وم .

ـ ايا تاسره کوم لاسي بکس و ؟.

ـ نه .

ـ په کومه لاره لاړې ؟.

ـ دتورخم په لار .

ـ په تورخم څو بجې واوړېدې ؟.

ـ تاکلی وخت مې ياد نه دی .

ـ په دې وخت کـې پنجابي تـرجمان له ځانـه ماتـه وويـل چـې : لـه هرڅه انکـار مـه کـوه ، او بـيا يـې پـه امريکايـي احسان وکړ ورته ويې ويل چې ماداسې ورته وويل .

زه الحمد لله په پوره اطمينان اوبې پروا ناست وم اويوه پښه مې په بله اړولې وه .

خو پنجابی ګنجی کرنيل دامريکايي مخکې داسې ناست و لکه غلام او درکوع غونـدې ټيټ شوی و ، خو ماته به يې دامريکايي په غياب کـې ويـل چـې داټماټردرواغ وايـي دآی ايـس آی ټول مسوئلين دامريکايانو پـه مخکـې دډالرو دراشوکولو او جېبونو دوهلو لـه پاره خالص او مخلص غلامان وو اوبسې شايې امريکايانوته ( ټماټر) ويل .

یو ځل امریکایي تړی شو پنجابي ګنجي کرنیل ورته دیخو معدني اوبو بوتل راوړ هغه ترې یو ګوټ وکړ او بوتل یې په مېز کېښود. کله یې چې دبل ګوټ کولو له پاره بوتل ته لاس وغځاوه نو ګنجي کرنیل ورته دډېرې چاپلوسۍ اوغوړه مالۍ لپاره وویل چې: نوسر " ( نه باداره ) بل ګوټ ددې بوتل نه مهٔ کوه ! اود دوهم ګوټ له پاره یې ورته دیخچال نه نوی بوتل راوړ. اوهغه مخکنی بوتل یې دبرکت له پاره په خپل سر راواړاوهٔ !!!. ماته هم ډېر سپک وبرېښېده او باورلرم چې امریکایي ته به هم خپل دغه غلام ډېر سپک ښکاره شوی وي. داسې کارخو امریکایان دواشنګټن په سپینه ماڼۍ کې هم ـ ګومان کوم چې ـ نه کوي چې دیوه بوتل نه یو ګوټ وکړي او سمدستي بې له ځنډه دبل ګوټ له پاره نوی بوتل را واخلي! خو پنجابي غوړه مالان دډالرو دلاسته راوړلوله پاره هر څه کوي او هرڅه ته تیار دي ....

## دآی ایس آی په زندان کې نور بند یان

"آی ایس آی" ډېر زیات پټ زندانونه لري خو دشامي سړک په زندان کې مونږ سره نږدې نور بندیان هم وو. یوځل زما دکوټې دباندنۍ دلرګي دروازه بېرته اودننه داوسپنیزو ډنډودروازه بنده وه چې ومې لیدل دوه عربان وارپه وار ددروازې له مخې تېر شول پوه په کې زما په لور راوکتل اوپه اشاره یې راته وویل چې دعاء راته وکړه.

بیاله دغه ځایه وایستل شول خو پوه نه شوم چې څه شول ځکه چې نه موپه باګرام، نه په قندهار اونه په ګوانتنامو کې ولیدل.

یوبل بندي وړوکی مراهق هلک ؤ چې تقریبا د۱۳ـ ۱۴ کلونو به ؤ. یوه ورځ داسې برابره شوه چې دغه هلک سره ماخبرې وکړې

داهلک تور پوستی اودبنګله دېش و . پاکستان کې ځینې بې ضمیره تاجران د بنګله دېش دخلکو داقتصادي ستونزو نه ناوړه ګټه اخلي اوله هغه ځایه جنکۍ او ښځې دډېرولږو پیسو په بدل کې رانیسي او کراچۍ کې یې دښځو دپلورلو په یوه ځانګړي منډیې کې پلوري . دغه هلک راته خپله کیسه داسې وکړه : زما مور یوه پاکستاني تاجر په بنګله دېش کې واخیسته زه دماشومتوب له امله دخپلې مورسره پاکستان ته راوستل شوم بیاپه کراچۍ کې دښځو پلورلو په منډیې کې یوپنجابي زما مور دشلو زرو پاکستانیو روپیو په بدل کې واخېسته ، زه او زما مور دواړه پنجابي له ځانه سره بوتلو، هغه پنجابي زما مور دوینځې په توګه استعمالوله اودخپل چوپړسخت سخت کارونه یې پرې کول، زما مور ډېره سخته بدعمره شوه اوزه هم دخپلې مور سره د بدمرغۍ په لومه کې ونښتم. سره له دې چې ما او زما مور دواړوشپه او ورځ دپنجابي خدمت ښه په اخلاص کاوۀ خو بیا هم پنجابي زه او زما مور ډېر سخت سخت وهلو او ټکولو تردې چې پولیس هم ددغه پنجابي ملګري وو او زمونږ خبره یې نه اورېده. زما مور یوه ورځ دډېرو زورېدواو ربړېدونه وروسته تانې ته لاړه اوپه دغه پنجابي یې عرض وکړ خو ددې په ځای چې دیوې مظلومې پوښتنه وشي تانه دار دغه پنجابي چوهدري ته خبر ورکړ چې بنګله دېشۍ دهغه په خلاف تانې ته عارضه شوې ده. پنجابي ددغه عریضې په ګونا په ډېرظلم او بې دردۍ زما مور دټېکټر پورې وتړله اوپه زمکه یې ترډېره ځایه راښکوده چې دبدن پوستکي یې دزمکې پورې پاتې شول اوهغه سخته ټوک ټوک او ټپي شوه .... مونږ دواړه

دپنجابي دظلمونـو لـه امله پوزې تـه راغلـو اوپـه ژونـد مـو مـرګ تـه ترجيح ورکـو لـه کله چې زه دغـه عمر تـه ورسـېدم چې ګـورې مـې، دخپلې مـور پـه مشـوره وتښـتېدم ماتـه چـاوېل چې افغانسـتان تـه لاړشـه افغانـان ډېر ښـه خلـک دي او هلـته بـه لـه دې ظلمونـو څخـه خلاص شې. هلـتـه دپنجابي هيڅ وس هم نه رسېږي نوردلته پاکستان کې دپنجابيانو حکومت دی او هرځای ته چې لاړې پنجابی دې پېرته راولـي . زه پـه همدې هيله روان شوم تردې چې کله طورخم ته ورسېدم نـو هلـتـه دغـو خلکو ( آی ايس آی ) ونيولم اودلتـه يې راورسولم. اوس مې وهـې تکوي او راتـه وايـي چې زر کـوه حـال ووايـه تـه دهندوستان جاسوس يې !!.

حـال داچې ددغـه هلـک عمر ددې وړ بـېخي نه و چې دخپـل هېـواد نـه دبـاندې دې دکـوم بـل هـېـواد لـه پـاره جاسوسي وکړي ، کله کله به چې دآی ايـس آی مامورينو واهـهٔ نـو مابـه يـې هـم چغـې او سـورې اورېدې . ددغـه هلـک دژونـد افسوسناکه کيسه به تل زما په زړه داغ وي اوهېڅکله به مې هېره نه شي .

نـور څلـور عـريان هـم دغـه زنـدان تـه راوستل شول چې دوه يې يوې اودوه يـې بلې کوټې کې واچـول . څه په کې زخميان هم وو يو ديمن يو دبحريـن يـو دسعودي اوبـل دتونـس و يـو ځـل يـې زه هم دترجمانۍ له پاره هغوی سره يو ځای کړم .

مونږ نـه مخکې هغـوی تـه داسـماني رنـګ دريشـې ګـانې راغلـې ورواغوسـتـل شـوې او ورتـه ووېـل شـول چې تاسـو يوښـه ځـای تـه بيـــايوو ....

هغه نور درې واړه مو په قندهار او ګوانتنامو کې ولیدل . خو هغه سعودي مو هیڅ ونه لیده هغه ته سعودي سفارتکاران هم دآی ایس آی زندان ته راغلي وو او هغه يې دامریکایانو نه هم پټ وساته، بیاخبر شوو چې دېنډمبلغ په بدل کې يې سعودیانو ته تسلیم کړی وٶ . او سعودیانو ته يې ویلي وو چې دغه رشوت مونږ نه اخلو بلکه امریکا یانو ته يې ورکوو .

دآی ایس آی په جېل کې بل بندي حاجي ولي محمد صراف و چې مونږ سره يو ځای باګرام ، قندهار او ګوانتناموته بوتلل شو . مونږ بیاوروسته وپېژنده چې ډېر ښه سړی او بې ګونا نیول شوی او خرڅ شوی و ، ولي محمد صاحب دبغلان دپلخمري و اودپېښور دیادګار چوک کې يې صرافي کوله .

حاجي ولي محمد وروسته مونږ ته په ګوانتنامو کې کیسه وکړه چې کله زه آی ایس آی ونیولم او له کوره يې را وایستم نو په لاره يې راته وویل چې ته پېښور کې صرافي کوې او مونږ باندې ځان نه پوهوې؟ حاجي ولي محمد وايي چې ماورته وویل : زه خوصرافي کوم څه دپوډروکار خو نه کوم ، ستاسو مطلب څه دی ؟ هغوی وویل چې په مطلب به اوس پوه شې . حاجي صاحب ویل چې وروسته يې رانه دپیسومطالبه هم وکړه خو ما ونه ومنله . نو امریکایانو ته يې حواله کړم او ددروغو تورونه يې راپسې وتړل . حاجي ولي محمد ځینې داسې نومونه هم یادول چې دآی ایس آی ایجنتان وو او دحاجي صاحب وراندې پورو ، دمطالبې نه تنګ وو او دغه دسیسه يې ورته جوړه کړه .

بل بندي يو اردنی عرب و چې مايې يوځل ترجماني هم کړې وه هغه دتعميراتي رنګونو کار کاوه .دسيال سياحت له پاره راوتلی و ، پاسپورټ او وېزه يې هم درلوده چې آی ايس آی نيولی و او بيا يې په رشوت پرېښود .

استاذ بدر الزمان بدر په مخکنيو مشترکو معلوماتو سربېره خپله کيسه داسې کوي .

په لومړۍ شپه لږه شېبه وروسته ددروازې دخلاصولو آواز راغی او اوتوو زمونږ داول پيشمني ملمستياپه يو تورسوي چپاتي او يو قاب کې په يو څه تورې لی وکړه . الله خبر چې زمونږ دکور افرادو اومېلمنويه زمونږ اول تيار شوی پېشنمي خوړلی وي اوکه نه. زه هم پوه نه شوم چې شپه څنګه تېره شوه او دپېشنمي وخت څنګه راورسېد؟. دسهار لمونځ مې په تېمم وکړ او دشپې دبېخوبۍ اثراتو راباندې زور وکړ . زه په خيشتې برستنې نيم اوده اوپرېشان وم چې دخبرو آوازمې ترغوږ شو . په څنګ کې کوټنيوکې خبرې وې خو زه نه پوهېدم چې څه وايي؟ لږ ساعت وروسته زما دروازه هم خلاصه شوه ګورم چې ګنجی تور پنجابی چې دشپې يې دچاپې قومنده په لاس وه څه کاغذونه په لاس يوبل مامورته لاربښوونه کوي چې مونږ نه ابتدايي معلومات قلمبند کړي . دابتدايي پوښتنوله پاره دپنجابي مامور سره يو پښتون مامور هم و چې په وېره وېره به يې ما او پنجابي مامور ته کتل او غوښتل يې چې ماته څه ووايي ګوتې يې رانه ولګولې ابتدايي پوښتنې همداوې چې نوم .دپلار نوم ، سکونت ، مليت ، تحصيل ، وظيفه ،.....

اويوه پوښتنه يې داوه چې پاکستان کې دننه کوم کوم ښارونه مې ليدلي او بهر دنياکې مې کوم کوم ځايونه ليدلي؟ ددې پوښتنې په لامل زه وروسته پوه شوم .

ورځ په فکرونو کې تېره شوه ، شپه راغله او دماسختن نه وروسته زما دځنګ په کوټنيو کې ګونګسي شروع شو . څه وخت وروسته زما ورهم خلاص شو او دهمدغه وړوکو کوټنيو ترځنګ يوه کوټه کې ناست هماغه لوړ دنګ پښتون کرنيل ته محافظينوورمخامخ کړم هغه زما دژوندپه اړه يو څو مختصرې پوښتنې وکړې او بيا يې دطالبانويا القاعدې سره زمونږ دارتباط په اړه وپوښتل. ماپه نفي کې ځواب ورکړ. دپښتون کرنيل ـ وروسته معلوم شوچې کرنيل عزيزو ـ سترګې ډېرې خړې وې ماته دهغه له مخ نه بې وسي ښکاره شوه اصل کې هغه هم دنورو غلامانو پښتنو په شان په نوکرۍ ايمان لاره هغه کولی شول چې مونږ سره ډېر کومک وکړي خو هغه اسلام اباد ته وفادار و. هغه چې په کومو فورمو ليکل کول په هغې **top secret** ( ډېر خفي ياسري للغايه ) ليکلي وو . دليکلو بندولو نه وروسته يې ماته وويل چې يو څو ورځې وروسته اسلام آباد څه امريکا يان رالېږي هغوی به هم تاسو سره خبرې کوي .

اولنۍ پوښتنه يې داوه چې چاسره دښمني يا سياسي مخالفت لرئ که نه ؟ ماورته په ځواب کې وويل چې هو بلې مونږ ستاسو دنړدې ګوډاګيانو او مخلصينو دجماعة الدعوة سره شديد مخالفت لرو. دجماعة الدعوة مشرانوهريو ملا سميع الله نجيبي ، حاجي ولي

الله، حاجي حيات الله ، حاجي روح الله اونورو اعداء الله څو ځل زمونږ دوژلو کوښښ کړی، زمونږ دکور مخکې يې مسلح کسان کېنولي خومرګ او ژوندالله په لاس کې دی هغوی په دې لار کې ډېرې پيسې مصرف کړي او مصرفوي يې پښتون کرنيل دقناعت په لهجه کې ماته اشاره وکړه او ويې ويل چې بس مسئله ښخي واضحه شوه . وروسته مسلم دوست راته ووېل چې کله دهغه نه هم همدا پوښتنې وشوې او هغه ورته دالله والاو نومونه واخيستل او کله حاجي حيات الله ته نوبت راورسېد نو کرنيل صاحب وويل چې" ښه هغه شرابي او زاني هغه خو دوژلو دی " معلومه ده چې دوژلو خبره يې زمونږ له پاره کړې وه خو دشرابو او نورو مردارخورۍ مجالسو کې ورسره کرنيل صاحب ضرور اشتراک کړی وٴ . وروسته بيا دآی ايس آی وړو افسرانوددې اعتراف هم وکړ چې داستاسومخالفين زمونږ لوړپوړو افسرانو ته جنګۍ سپلايي کوي او افغانستان او پاکستان کې يې زمونږ ايجنسيانو ته ډېر کارونه کړي نو زمونږ مشران خوبه هم دوی ته کار کوي .

دآی ايس آی يو کس مونږ ته حتی داهم وويل چې حاجي حيات الله حيات آباد کې يوه کابلۍ ډاکټره لري چې ډېره حسينه ده پخپله هم ورسره ناجايز تعلقات لري او زمونږ افسرانو ته يې هم راوړې . خير داخبرې خو وروسته په تفصيل را روانې دي خو راځئ چې اوس خپله کيسه وړاندې کړو .

دآی ايس آی دابتدايي تحقيق نه وروسته خاموشي شوه او مونږ ته يو پنجابي محافظ چې زمونږد کوټې وراو کوټيو ته دننوتو په

لاره کې دوه نور ورونه به يې قلف ساتل مقرر وهغه به مونږ په څلرويشت ساعتو کې يوځل تشناب ته وړو او نورې راته په سېل کې يوه يوه ټيمې دړيز دبوړکي ايښې و دڅلورو سېلونو منځ کې تشناب دننه طرفته دبندولو کونډه هم نه لرله او داوبو پلاستيکي نل هم ورته دباندې طرف نه په يو وړوکي سوري کی رادننه شوی و .

يوه هفته وروسته ما بيا هماغه دچاپې دښپې ګنجی تورپنجابی او ورسره يو لوړ پنجابی چې دلوړ پښتون کرنيل سره و او پکول او واسکټ يې هم اغوستی ؤ او معلومېده چې داپښتون دی خوپه پښتونه پوهېده هغه بيا په همدغه لباس دتورګنجي سره راغی او مونږ ته يې وويل چې تحقيق دی . مونږ څلور واړه يې نوبت په نوبت دکوټنيو نه را وايستلو ، لاسونه ولچک او سترګې پټې په هماغه نووبې نمبر پلېټه لينډ کروزرو کې کېنولو او دلسو دقيقو په ګرځېدو يې يوې بنګلې ته وردننه کړو . په يوه کوټه کې يې ماته سترګې اولاسونه راخلاص کړل اوپه يوې چوکۍ يې دکېناستلو اشاره راته وکړه . زما دکېناستو سره تورګنجي دکړکۍ پردې بندول شروع کړل خوپه دې لړه وقفه کې مې دکړکۍ نه بهرښکلی شين چمن او هغه کښې دپراخه څانګو يوه ښکلې شنه ونه وليده داډېر غټ چمن و او زما دناستې کوټه هم ډېره صفا ستره وه دروازه خلاصه وه او زما دکوټې او نورو کوټو د منځ مشترکه سالون کې يې TV هم لګولی و او نورو کوټو نه دخبرواواز هم راته، زما کوټه کې زما چوکۍ ته مخامخ درې چوکۍ پرتې وې اوپه همدغه کوټه کې دوه فومونو والا ډبل بېډونه هم پراته وو . ددې بنګلې رنګ او روغن ډېر برابر و او

ماهلته محسوس کړه چې د (isi) safa house دی هغه اصطلاح چې مامخکې په اخبارونو کې لوستې وه دایو دهغوسېف هاوس یا محفوظو کورونو نه دی . چې دمختلفو استخباراتي مقاصدو له پاره استعمالېږي . ددغه سيف هاوس يو مقصد دډېرو معززو مېلمنو دناستې له پاره دی . هو! ماکوټه کې تورګنجي ته دلمانځه کولو ووېل ، هغه راته اول ووېل چې تحقيق دې وشي بيا به يې وکړې بيا يې راته ووېل چې شابه زر زر لمونځ وکړه چې څه ډېر اهم مېلمانه تاسره ګوري زه لادمازيګر په لمانځه ولاړوم چې تورګنجي زمادکوټې ددروازې نه غږ وکړ چې he is waiting for you هغه تاته منتظر دی ) اوپه څواب کې دکوټې دمخې سالون نه اواز راغی ( oh We are ready !) (اومونږ تيار يو) او په دې کې تور ګنجي سره درې نور کسان کوټې ته راننوتل. کله چې ماسلام وګرځاوه نو ګورم چې دوه امريکايي ښځې او يو سړی مې څنګ ته ولاړ دي . تور ګنجي ماته دمخې په چوکۍ دکېناستووېل خو ماتسبيحاتوويلوته ادامه ورکړه دې کې تور ګنجي ته دنمبرو اخيستلو او غوړمالۍ موقع په لاس ورغله ، امريکايانوته يې ووېل چې they are very very religious people ( دوی ډېر زيات مذهبي خلک دي ) زما لمونځ او تسبيحات د تور ګنجي له پاره يوښه دليل پيدا کړ چې خپلو بادرانو ته ووايي چې واقعي ترهګر يې نيولي دي او شايد همداوجه وه چې دلمونځ اجازه يې راکړه. تور ګنجي چې ماته دلمانځه نه وروسته د ژر پاڅېدو ووېل نو امريکايانو ورته ووېل چې let him complete his prayer ( پرېږده چې لمونځ مکمل کړي

) وروسته بیامونږ ته معلومه شوه چې امریکایانو زمونږ د لمانځه نه وروسته ددعا یا تسبیحاتو خاموشي هم زمونږ دلمانځه حصه ګڼله. نو ځکه تور ګنجی غلی شو. کله چې زه پخپله راپاڅېدم اوپه چوکۍ کېناستم ، امریکایان راته مخامخ کېناستل نو تور ګنجي زما چپ لاس ته ډېل بېډ باندې کېناست ، دې وخت کې یو ځوان نری نروچکی مامور قلم او کاغذ سره راننه واته ، په ډبل بېډ باندې کېناست او لیکل یې شروع کړل. وروسته معلومه شوه چې لیکونکی نوی سړی دپېښور ښار پښتون و خو واک اختیار ټول دتور پنجابي ګنجي سره و. تحقیق شروع شو او تور ګنجي غوښتل چې ترجماني وکړي خو چې کله امریکایانو مانه پوښتنه وکړه Do you speak English ( ایاته په انګلېسي خبرې کولی شې ) خو چې کله یې زما ځواب مثبت واورېده نو امریکایان ډېر خوشحال شول تور ګنجی ډېر خفه شو ځکه، هغه غوښتل چې له ځانه خبرې په ترجمانۍ کې ورننه باسي او هغه وخت ثابت شو چې کله ماته مسلم دوست صاحب د تور ګنجي د ترجمانۍ کیسه وکړه.

امریکایانو اول ځانونه رامعرفي کړل . درې واړو اول خپل ددرواغو نومونه راوښودل ماته مخامخ ځوان، ښي لاس ته ځوانه نرۍ نروچکې وړکۍ انجلۍ اوچپ لاس ته دپنځوس شپېتو کالو سپین سرې تجربه کاره ډبوسکۍ ښځه کېناسته چې دټول تحقیق په دوران کې یې ماته ډېر په زېر زېر کتل . سوالونه ټول وړکۍ چالاکې انجلۍ کول او ځوان امریکایي هلک فقط زما دټولو ګوتو دمنجیلو لګولو تکلیف وکړ . چالاکه انجلۍ سره یو ډیجیټل کمره هم وه چې زما څو

قسمه عکسونه یې واخېستل ، یویې بېرته ماته په سکرین هم وښوده، همدغه چالاکې انجلۍ زما دسر نه پکول پورته کړ اوویل یې چې ډېر ښکلی پکول دی او زما داډېر خوښ دی . پکول یې داسې چاپې کړ چې زه یوه شوم چې څه په کې لټوي . ماورته وویل چې ستاسو لیډي ډیانا هم داپکول ډېر خوښ کړی و شاید چې دلیډي ډیاناسپین پکول سره عکسونه دې لیدلي وي، داپکولو نه زمونږ دافغانانوهم ډېر خوښ دي او اوس ز مونږ دملي لباس یوه برخه ګرځېدلې هغې وخندل او ویې ویل : چې داډېر ښه لباس دی .

دپکول په ارتباط خبره اصل کې دژورنالېزم په اصطلاح warm up یا دمخاطب په خبرو دراوستلوابتدایي ګرموونکې خبرې وې چې اصل موضوع ته دننوتلو له پاره لاره اواره کړي. اصل موضوع شروع شوه او اول یې مانه دمختصر شخصي معلومات په اړه وپوښتل ، ماپه څو لنډوجملو کې خپل نوم دپلار نوم دزېږېدوځای . قبلي او فعلي سکونت ، دتحصیل ، کارو بار او وظیفې په هکله لنډ معلومات ورکړل . مخکې پوښتنې یې داوې :

ـ ته آخري ځل افغانستان ته کله اوکوم ځای ته او ولې تللی وې او دڅومره وخت لپاره ؟..

ـ زه افغانستان ته دوه نیمې میاشتې مخکې خپل کلي صاحبانو ته دخپل پتې دحاصلاتو اخېستلو لپاره دلسو ورځو له پاره تللی وم. ددې ځواب په اورېدو یې یوه لویه نقشه را واخیسته اوماته یې دخپل کلي په ګوته کولو وویل : ماورته دکوټ په ولسوالۍ ګوته کېښوده .

ـ داځای دتورې بوړې نه څومره لرې دی ؟

ـ زه تورې بوړې ته نه يم تللى خودومره خبر يم چې توره بوړه هم ننګرهار کې ده .

ـ مشرورور دې ( مسلم دوست ) افغانستان ته کله ، کوم ځاى ته ، ولې او دڅومره وخت له پاره تللى وُ .

مشر ورورمې څو مياشتې مخکې نو رستان ته دکاڼو معدن ته دپنځلس ورځو له پاره تللى وُ دکاڼو کارو بار دهغه ذمه وي .

ـ نور ورونه دې چېرته دي او څه کاروبار کوي ؟.

ـ له ټولو مشر ورور مې چې همدا اوس دلته بندي دى او مانه مشر ورور مې دواړه دشاتو دمچوفارمونه لري اودمشر پسې دويم نمبر په سعودي کې دى هلته دنان بايي دوکان لري.

ـ آيا هغه افغانى ډوډۍ پخوي ؟.

ـ بلې .

ـ زما افغانى ډوډۍ ډېره خوښه ده .

ـ بلې افغانى ډوډۍ او افغان په ټوله دنياکې خلک خوښوي.

ـ ستاخبره صحيح ده په امريکاکې هم ځينې افغاني ريستورانونه شته ډېر امريکايان هلته ډوډۍ خوري په نيويارک کې مونږ افغاني ريستورانونوته ځو.

ـ ماهم داسې اورېدلي دي .

ـ ته نيويارک ته تللى يې؟ .

ـ نه .

ـ په نیویارک او واشنګټن کې دیوولسم ستمبر واقعاتو ته په کومه سترګه ګورې ؟.

ـ زه ددغو احداثو په هکله هیڅ معلومات نه لرم .

ـ ته څوک داسې عربان یاطالبان پېژنې چې دنیویارک په احداثوکې لاس لري ؟.

ـ زه هیڅوک نه پېژنم .

ـ ستاسودالقاعدې اوطالبانوسره له څه وخت.نه تعلق دی ؟.

ـ زمونږددغه دواړو ډلو سره هیڅ ارتباط نشته .

ـ ایا ستاسو کورته عربان نه راځي ؟.

ـ زمونږ کورته هیڅ عربان نه دي راغلي .

ـ یعنې تاسې هیڅ عرب نه دی لیدلی ؟.

ـ دروس دجهاد په وخت کې مو عربان ډېر لیدلي.

پاکستان او افغانستان کې دهغې جملې نه څوک دالقاعدې رکن پیژنې؟.

ـ زه نه پوهېږم چې کوم عرب القاعده اوکوم غیر القاعده دی .

ـ داسامه او ملا عمر سره ستا اخري ملاقات کله شوی؟ .

ـ دهغوی سره زما ېڅي ملاقات نه دی شوی .

ـ ستاپه بعضې لیکنو کې دالقاعدې له بعضو مشرانونومونه شته ؟.

ـ بلې شته خودغه خلک خو تاسې مشهور کړي . دغه نومونه خوپه انټرنیټ هم موجود دي او دهغوی دژوند په هکله خو زما په

شان د پروصحافیانو لیکل کړي دي آیازه تاسې په دې وجه نیولی یم ؟.

ــ نه مونږ په لیکلو او وېلو څوک نه نیسو مونږ دبیان په آزادۍ یقین لرو .

داستاسو جمهوري حق دی ګرده نړۍ کې زمونږ په میلیونونو مخالفین دي که هغوی مونږ دبیان په وجه ونیسو نو دابه ډېره بده خبره وي .

ــ نو بیا ولې تاسې مونږ سره دتحقیق له پاره راغلي یاست ؟.

ــ تاسې نه مونږ نیولې یاست اونه مودوی ته ( دآی ایس آی افسرانو ته اشاره کوي ) ویلي چې تاسې ونیسي داستاسې اوددوی ترمنځ معامله ده البته مونږ دوی راوغوښتلو چې تاسو سره خبرې وکړو زمونږ او ددوی ترمنځ قرار داد دی چې که دوی هم څوک مشکوک ترهګر ونیسي نومونږ را غواړي چې تحقیق ورسره وکړو . دوی وایي چې تاسې ترهګر یاست .

ــ نواوس تاسو زمونږ په خلاف څه موندل .؟

ــ مونږ یو څو پوښتنې نورې لرو .

ــ تاسې کولی شئ چې خپلو پوښتنو ته دوام ورکړئ .

ــ تا سټلایټ ټیلفون څه کړ؟.

ــ ماخو سټیلایت په خپل ټول ژوند کې هم نه دی استعمال کړی .

ــ وررور دې هم نه لري ؟.

ــ نه هغه هم هیڅ وخت دغه شی نه دی استعمال کړی .

ـ تاسو کور کې ډش لرئ ؟.

ـ بالکل نه .

ـ عادي تلويزون خوبه لرئ .

ـ نه دغه لانجې نه هم خلاص يوو.

ـ نو بيا وخت په څه شي تېروئ .

ـ مونږ سره دوخت اکثر ډېر کمی وي .

ـ ځکه چې تاسو ډېر مهم خلک ياست .

ـ دې کې دمهم او غېر مهم څه خبره ده مونږ خوخپل کار اوروز ګار کې ډوب يوو.

ـ ستاسو کورکې خو سياسي غونډې پنډې هم کېږي ؟.

ـ نه داخبره غلطه ده زمونږ دکور دسياسي غونډوپنډو سره څه کار دی .؟

ـ نو بيا ولې ستاسو کورته دومره مېلمانه راځي ؟.

ـ مېلمه پالنه خو زمونږ ددين او ثقافت يوه مهمه برخه ده .

ـ څه قسم مېلمانه تاسو ته راځي ؟.

ـ دچم ګاونډ خلک . خپل خپلوان . عزيزان او دوستان .

ـ طالبان او عربان هم .

ـ طالبان او عربان په دې شرايطو کې په ښاربازار کې او بيا زمونږ په کور کې څه کوي ؟.

ـ ته اخري ځل اروپا او امريکاته څه وخت او کله دڅه له پاره تللی وې ؟.

ـ زه دغه ځای ته بالکل نه یم تللی .

ـ نو بیا په انګرېزي څنګه پوهېږې چې ته دې زده کړې ؟.

ـ په انګرېزي خو ډېر خلک پوهېږي ما هم کالج او یونیورسټي کې زده کړې .

ـ تاسو ډېر پېسه دار یاست دا دومره پیسې مو د کومه کړي ؟.

ـ دا بېخي درواغ ده که مونږ پیسې لرلی نو اوقلاً خپل کور کې به اوسېدو او خپل ګاډی به مو درلود .

ـ ستاد ځوابونو نه ډېره مننه مونږ یو لسو دقیقو له پاره دمه کوو.

امریکایانو یو بل ته وکتل او بیا د کوټې نه بهر ووتل .

ـ پولس پنځلس دقیقې وروسته بیا راغلل او په لاس کې یې ډېر کاغذونه وو .

اول یې په یوې پانه زمونږ په کور کې ټول موندل شوي مهرونه ماته وښودل چې دا د چادي ؟.

ما ورته وویل چې دا زمونږ دي . بیا یې مهرونه یو یو ما نه وپوښتل او یو یو ورته ما تشریح کړ چې ټول فرهنګي او کاروباري مهرونه وو .

په دغه مهرونو کې یو مهر د خیبر انټرپرائزز. Khyber a tertrises په نوم و چې ما د تجارتي پاسپورټ د لاس ته راوړلو په خاطر دوارداتو او صادراتو د دفتر د خلاصولو لپاره جوړ کړی و ،خولا تر دې وخته یې نور مراحل نه وو ترسره شوي. د دغه مهر یې خصوصي پوښتنه وکړه .

ـ ایا له دغې لارې تا بهر ته څه لېږلي او یا دې د بهر نه څه راغوښتي؟

ـ نه داخویوآینده پلان و چې زه يې لاتراوسه په تکمیل نه ووم موفق شوی .

ـ تا دخیبر نوم ولې خوښ کړی ؟.

ـ دره خیبر خودلته زمونږ دپښتونخوایوه مشهوره سیمه ده ( دپښتونخواپه اوږدو سره دتورګنجي پنجابي کرنیل ټنډه ډېره تروه شوه خودبادارانو په وړاندې يې څه نه شو وېلی ).

ـ هو بلې خیبر ډېر ښه نوم دی .

( ماخودخیبر دنوم اېښودو وجه ورته ووېله خود امریکایي انجلۍ چې خیبر په کومې وجې خوښ و او یايې توجه ورکړه هغه نوره وه او هغه داوه چې نوموړي محققین په امریکایي استخباراتو کې دمقتدره یهودیانونه وو او هغوی ته دخیبر نوم ډېرمهم دی . هغوی ته دخیبر دغزوې تاریخ ډېر ښه معلوم دی او اوس هم دټولې نړۍ یهود او بالخصوص اسرائیل ګواښونه کوي چې هغوی به یو ځل بیا دمدینې خیبر په زور نیسي او دپیغمبر صلی الله علیه وسلم په لاس دخپل شکست بدل به اخلي . کله چې امریکایي محقق ووېل چې هو بلې خیبر ډېر ښه نوم دی نود هغه مقصد دمدینې خیبر و، نه دپښتنو خېبر، لکه خاطر آفریدي چې وایي:

مونږه دخیبر زلمي پښتوزمونږه شان دی
مونږه پښتانه یوو خپل وطن رابانديې ګران دی

* * * * * * *

دخـــــاطر رنګين غزل ته حېرانېـــږم
ګنې خړ خيبر کې بې دخاورو څه دي

په آخر کې يې ماته هغه پوستروښوده چې زمونږ دنيوونه مخکې مسلم دوست صاحب په کې دامريکايانود بمبار په خلاف اواز پورته کړی و او منافقين يې هم پکې غندلي وو . منافقينودماضي په اختلافاتو او دسايسو سرېږه اخرنۍ يوه دسيسه داجوړه کړه چې پاکستاني استخباراتو ته يې دغه پوستر په لاس ورکړه او ددروغو پلمې يې ورسره جوړې کړې چې زمونږ نيولوته لاره اواره کړي .

ـ ايا داپوستر ستاورور تيار کړی ؟.

ـ دا پوښتنه زما دورور نه وکړئ هغه تاسو سره دی .

ـ ايا هغه زمونږ سياسي مخالف دی ؟.

ـ داپوښتنه هم دهغه نه وکړئ ؟.

ـ ته دامريکا يانو مخالف يې ؟.

ـ زه دامريکايانو دامريکايي توب په وجه نه يم مخالف البته دامريکايانو دډېرو ناوړه سياستونو مخالف يم .

ـ لکه .

ـ لکه په افغانستان بمباري کول دغريبو عوامو وينې تويول . په منځني ختيځ کې د غلط سياست غوره کول اوداسې نور .

له دې پوښتنې نه وروسته هغوی بيا دلسو دقيقوله پاره ووتل اوچې کله بيا راستوتل نوپه لاس کې يې يو څپک سپين کارت باندې څلور نومونه ليکلي ماته وښودل چې مايې لوستل پېل کړل . نومونه

دملا سميع الله نجيبي ، حاجي ولي الله . حاجي روح الله او حاجي حيات الله وو .

ـ ايا داکسان پېژنې ؟.

ـ هو بلې داخو زمونږ ډېر نږدې خلک دي .

ـ دوی سره کوم سياسي مخالفت يادښمني خونه لرئ ؟.

ـ ولې نه ډېره کلکه سياسي دښمني زمونږ ترمنځ روانه ده، دوی ډېرې ځل زمونږ اوبالخصوص زما د ورور مسلم دوست صاحب د وژلو کوښښ کړی او اوس يو ددوی نه حاجي روح الله همدا زمونږ د نيولو نه لس ورځې مخکې مونږ ته په فون اخطارونه راکړي چې زر به مونږ د تورو تمبو شاته وغورځوي .

ـ تاسې د دوی سره څه مخالفت لرئ ؟.

ـ زما ورور ددوی سره يوتنظيم کې کار کاوهٔ دغه تنظيم ته يې فرهنگي کار کاوه او يو ه مجله يې چلوله دوی د آی ايس آی سره ډېر نږدې روابط لري اوچې کله مونږ ددوی تنظيم پرېښود او ددوی دبدو اعمالو مخالفت مو وکړ نو مونږ ته يې دسيسې جوړول شروع کړل. دوی د افغانستان دملت سره ډېر خيانت کړی خودا ډاېرې اوږدې کيسې دي. مونږ ته يې بمونه ايښي خو الله پاک مونږ ساتلي يوو اوبالاخره يې دادی د آی ايس آی د تعلق نه ناوړه استفاده واخيسته اوپه دوی يې بې گناه ونيولو.

دا خبرې د آی ايس آی په ناستو افسرانوډېرې بدې لگېدې في الحال يې څه نه ويل خو امريکايان ډېر حيران شول او آخر يې ماته

ووېل چې تاسو له مونږ نه فارغ یاست زمونږ پکار نه یاست مونږ درنه لاړو.

ماښام نږدې یې زه بیرته خپلې کوټنۍ ته راوړم او ور یې راپسې په ډیر غضب رابندکړ.

ماسختن ناوخته دآی ایس آی یو پښتون افسر راغی ویل یې:

ـ هلکه ته خو ډېر بدسرې یې .

ـ ولې ماڅه کړي ؟!.

ـ داسې خبرې څوک کوي ؟!

ـ ولې ماخو ټول حقیقت ووایه .

ـ تاته پته نشته چې مونږ دوی ډاچ کول او دوی مونږ ډاچ کول غواړي.

ـ هغه خوستاسو خپل کار دی مونږ خومه ډاچ کوئ که نه.

ـ بس دازمونږ دمشرانو کاردی په آرام کېنه دا اوږدې خبرې دي.

یو دوه شپې وروسته بیا ګنجی تور پنجابی راغی اویو څه بې هوده غونډې سوالونه یې رانه وکړل اکثر تکراري سوالونه وو خوډېرپه کې د جماعة الدعوة په باره کې وو کله چې ما ځوابونه ورکول نو ویل یې چې که امریکایانو درنه بیاپوښتنه وکړه نو داسې ورته ونه وایې.

ـ نوڅه ورته وایم؟.

ـ دا ورته مه وایه چې جماعة الدعوة دآی ایس آی خلک دي که نه نوپته به درته وښایم. داګپ دی څه ؟.

ـ یو دوه شپې وروسته بیا هغه پښتون افسر په وړه وړه راغی او دهرې خبرې سره به یې شاته کتل ویل یې:

ـ یاره ریښتیا چې مونږ غلامان یوو.

ـ دچا غلامان یاست ؟ .

ـ ددې سرو ټماټرو کنه.

ـ سره ټماټر څوک دي؟ .

ـ دا انګرېزان نه دي.

ـ دا امریکایان چې هغه بله شپه راغلي وو.؟

ـ بس ټول یوخلک دي کنه.

ـ اوبیا تاسو دسرحد خلک خو ورسره د پنجابیانو هم غلامان استئ که نه؟ .

ـ آو و الله چې څه وکړو نوکري ده کنه پنجابیانو خو زمونږ د درې صوبو برخه وخوړه.

ـ هغه ګنجي پنجابي خومونږ سره ډېره بده وضعه شروع کړې.

ـ آو هغه امریکایانو ته هم سپی سپی کېږي صرف دیو څوډالرو او وېزې له پاره .

ـ نو تاسوهغه نه شئ منع کولی ؟.

ـ نه مونږ دهغه مخکې بې وسه یوو دهغه مرکز کې موګی مظبوط دی.

زما ددغه افسر سره څو څو ځل مکالمې وشوې اوپه ټولو کې راته جوته شوه چې دسرحد پښتانه دپنجابي حکامو دلاس لاندې دي.

وروسته مونږ ته دا اندازه هم وشوه چې مونږ ته یې پښتانه افسران نه را پرېږښودل اودغه افسر به چې کله مونږ ته راته هم نوپه پته به راته. ماته به یې ویل چې زماپه عریانو ډیوټي ده خوزه تاته هم په پته راځم یار ډېر زړه مې دریاندې زهیرېږي تاسو سره ظلم شوی.

وروسته یوبل پښتون هم راپیداشو اواکثر به یې ماته ویل چې تاسو چې کومې خبرې کوئ دابالکل صحیح دي خو زمونږ مشران نه غواړي چې تاسو پرېږدي ځکه چې ستاسو داسیاسي مخالفین اوس هم زمونږ مشرانو ته راځي هغوی زمونږ له پاره افغانستان کې ډېر کار کړی اوس خوبه زمونږ مشران هم هغوی ته څه کوي که نه. بله خبره داده چې زمونږ مشرانو ته شراب او جینکۍ په کار دي او هغه ورته حاجي حیات الله راوړي. هغه بله ورځ مې هم ورسره هغه ګلم جمه ډاکټره لیدلې وه چې زمونږ مشر سره ناسته وه هغه ډاکټرې ته یې حیات آباد کې کورنیولی او دکور خرچه هم ورکوي ډېره ښکلې ده پخپله یې هم استعمالوي اوزمونږ مشرانو ته یې هم راوړي.

شپې او ورځې تېرېدې او وخت په وخت به مونږ دمختلفو وړو افسرانو له خولې خبرېدو چې د جماعت الدعوه مشران اوس هم لګیادي اومونږ پسې ګوتې وهي. وړو افسرانو مونږ ته داهم وویل چې مونږ څو څو ځل اسلام آباد ته ستاسوپه ارتباط مکتوبونه ولېږل چې داخلک بې ګناه دي خو هغوی ځواب نه راکوي. اصل کې هغوی ستاسو د مخالفینو په لمسون تاسو ایسار کړي یاست. ستاسو مخالفین اوس هم مونږ له پاره ډېر کارکوي هغوی اوس دامریکایانو نه هم مونږ ته ډېر معلومات راوړي اودهغوی ډالرې اودسعودي

ریالونه هم زمونږ مشرانو سره شریکوي. تاسو خو اوچې غواګانې استۍ او اووچې غواګانې خلک قصاب ته ورکوي.

ریښتیا هم چې مونږ یې امریکایانو ته ساتلي وو.

په دې دوران کې داسې وخت هم راغی چې دوه درې هفتې هیڅوک نه راتلل فقط یو پنجابی څوکیدار په مونږ ولاړو اویابه په څنګ کوټه کې ناست و. نور څه مونږ اوریدل قضای حاجت هسې هم په یوه ډولچه کې وُ چې پنجابي پیره دار به یوه ورځ پس په تښناب کې خالي کاوه. خوکه څو ورځې پس به یې زه هم تشناب ته راوایستلم نو که دبعضې کوټنیو اولې دروازې به خلاصې وې نو ځینې خلک به مې په کې لیدل خود خبرو اجازه نه وه. وروسته راته معلومه شوه چې په دوی کې زیاتره عربان وو. که مابه پوښتنه وکړه ماته به یې زما د ورونو او عبدالحلیم باره کې هم وویل چې هغوی ښه دي خولیدل مې نه.

یوه ورځ یو افسر راغی ځینې کاغذونه یې لاس کې وو اوزما وریې راخلاص کړ ویې ویل چې راووځه. کله چې زه ور ووتلم نو معلومه شوه چې په څنګ کې کوټنیو کې دپرتو عریانو ترجمانی ته مې وړي. د درې عریانو دجملې نه دوو وویل چې هغوی په افغانستان کې اوسیدلي او هجرت یې کړی وُ اوزه پوه نه شوم چې دآي ایس آي افسر څه ولیکل خو دریم عرب چې وروسته معلومه شوه چې عیسي نومیږي او دبحرین وُ ووېل چې هغه پاکستان ته دکراچۍ د آغاخان روغتون ته دخپلې ملا د درد علاج ته راغلی وُ. اوپاسپورټ کې یې هم همدغه مقصد لیکلی و. دآي ایس آی افسر

چې داوخت يې کاغذونـه هم لانـدې پـه ځمکه ايښي وو او ليکل يې کول وليکل:

"ښاغلی عيسی افغانستان ته دطالبانو د کومک لـه پـاره تـللی ؤ"

زه هم حيران شوم خوفکر کې شوم چې دې کې عيسي لاس کړ او کـاغذ يې دافسر نـه واخيست هغـه کـه څـه هم روانه انګرېزي نه شوه ويلی خوبيـاهم لوستلی يې شوه اود املا په دې جمله پوه شو چې هغه پسې يې دروغ ولـيکل...ا فسـر تـه يـې وويـل : زه افغانسـتان تـه د طالـبانو کومـک تـه تللی يم ؟! افسر ورتـه وويـل ولـې تـه پـه انګرېزي پوهېږې څه؟

عيسی دځواب پـه ځای کـاغذ ټوټې ټوټې کړ او ويل يې چې زه ستا دسوالونو ځواب تـرهغې نـه درکـوم چې تـرڅو دې زمـا او زمـا د خوښې دوکيل په مخکې نه وي ليکلي .

افسـر ډېـر غـصـه شـو او ورتـه يې ووېل چې زه به دې هم خوښ شم زه يې هم دکوټنۍ نـه راو ايستم، خپلې کوټنۍ تـه يې راوړم اوپه غصه يې راپسې ور رابند کړ. عيسی بيامونږ په باګرام کې وليد چې مونږ نـه مخکې يې وړی ؤ اوزه ايلـه پـوه شـوم چـې د" زه بـه دې خوښ شم " مطلب څه و؟.

کـوم عـربـان چـې ماد پېښور د آي ايس آي په سېلونو کې ليدلي وو هغـوی اکـثـره مـا بيـاپه باګرام،کندهار يا ګوانټنامو کې وليدل. خو يو عـرب چـې زخمـي هـم ؤ او وروستـه نـور و عـربانو ووېـل چـې هغـه هـم ورسـره پـه تـوره بـوره کـې و دپـېښـور نـه وروستـه ماونـه لـيده. اګرچې داخـبره ماتـه پـېښـور کـې هـم د آي ايـس آی افسـرانو کـړې وه خوپـه

ګوانتنامو کې داخبره بیانوره هم تصدیق شوه؟ چې ځینې عربان چې شاته دکورنۍ نه مضبوط وو، په سیاسي اثر او رسوخ او پیسو یې خپل کسان دآي ایس آی اوشمالي اتحادنه واخیستل اویاهم دخپلو حکومتونو خلک وو چې دمجاهدینو منځ ته یې رانه ایستي وو. اودمشکل په وخت یې وایستل. دهغه عرب په هکله کې هم چې مانه دپېښور د کوټنیونه وروسته غایب شو ماته دآي ایس آي لاندې افسرانو او بیاعربانو هم ووېل چې هغه پسې دسعودي دسفارت کسان راغلي وو او ځان سره یې یووړ دآی ایس آی یو افسر چې یوه شپه مخکې یې څه عربان دپېښور هوایي ډګر کې دشپې امریکا یانو ته سپارلي وو ماته ووېل چې مونږ فقط هغه کسان امریکایانو ته ورکوو چې بې موره اوبې پلاره وي. وروسته زه ددې جملې په مطلب پوه شوم، ددې مطلب دادی : هغه څوک چې نه امریکایانو سره ارتباط لري نه آي ایس آي سره اونه دخپلو حکومتونو خلک وي اونه پیسې لري ، نو دغه و چې غواګانې دوی قصابانو ته ورکوي.

پاکستاني او افغاني منافقینو هم په همدغه فارموله عمل کاوه. هغوی هم خپلو بادارانو ته که هغه امریکایان وو اوکه دپاکستان دآي ایس آي وو هغه کسان سپارل چې پیسې به ورسره نه وې. البته د حکومتونو خلک خو مخکې نه دحکومتونو په حفاظت کې وو. پاکستان په افغانستان باندې د امریکا یې حملې نه مخکې خپل مهم فوځي مشران ، د طالبانو او عربانوځینې مهم مشران راو ایستل اوځای په ځای یې کړل. د طالبانو مشرانو مونږ ته په کیوبا کې ووېل چې حتی طیارې یې ورپسې رالېږلې وې او پاتې کسانو ته

يې حتى الامکان کومک ورکاوۀ په شمال کې نيول شويو پاکستانيانو کې دآي ايس آي ورو مامورينو هم خپل حکومت ته کنځلې کولې چې مشران يې طيارو کې يوووړل اومونږ يې پرېښودو.

په هر صورت دا تفصيل وروسته را روان دی. بيرته دآي ايس آي کوټنيو ته راګرځو. په هغه شپو کې چې زما کوټنۍ ته هيڅ يو افسر نه په پټه اونه په ښکاره راته، ما درې ورځې غذايي اعتصاب وکړ. هسې هم سوزيدلو چپاتو اود مسالو ګړوبي زما خرابه معده نوره هم پسې خرابه کړې وه ، ډېر کم خوراک به مې کاوه او بدن مې په سپکېدو راغلی وۀ.

مسلم دوست صاحب چې کور کې دغوايي دشلې په غوړو عادت و اونباتي غوړي به يې بالکل څکل هم نه ترېوې مياشت پورې فقط په شودو او مستوګوزاره کوله خو چې کله پرې ډېر ضعف نه سروچورلېده نو بياهغه هم دآی ايس آی دمسالو ګړوبی شروع کړدهغه هسې هم مسالې خوښې دي .

دغذايي اعتصاب په وجه پيره دار مشران راخبر کړل يو مشر راغی ماته يې وويل چې ستا اعتصاب هيڅ فائده نه لري دلته تاغوندې ډېر مړه شوي او مونږ نهرونو ته غورځولي . کله چې ما اعتصاب ته دوام ورکړ نو يو پنجابی مشر راغی او مانه يې پوښتنه وکړه :

ـ ولې اعتصاب کوې ؟.

ـ مونږ ولې دلته پراته يو مونږ سره انصاف ولې نه کېږي ؟.

ـ تاسو څه جرم کړی دی ؟.

ـ داپوښتنه مونږ تاسو نه کوو که مونږ کې څه ګناه ګورئ راویې ښایئ .

ـ طالبان به ستاسو خوښ وي ( طالبان آپ کے Favorite هونګے )

ـ طالبان خوزمونږ نه بلکې ستاسو خوښ دي .

ـ داسې خبرې مه کوه ( په خنداکې ) .

ریښتیا هم چې کله امریکایي ډنډه راورسېده نو بیا آی ایس آی دخپلو کړونه منکر شو بیا یې په ملاعبدالسلام ضعیف او ملا خیر الله خیرخواه نمبرې جوړولې . خو دمولوي کبیر په شان ایجنټان یې دځان سره ساتل ...................

مونږ دآی ایس آی په سېلونوکې د۱۷\۱۱ نومبر\ ۲۰۰۱\ نه تر ۱۸ فروري \ ۲۰۰۲ . پورې پوره دوه مېاشتې اودوه ویشت ورځې پاتې شو. دې دوران کې به دآی ایس آی دافسرانونه ځینې حقائق هم راوتل. دهغوی نه څو څو ځل اظهارمافي الضمیر زما مخکې وشو. څو ځوځل به چې ماپوښتنه وکړه چې زمونږ قضیه ولې نه فیصله کېږي ؟! نو هغوی به وویل چې " ډالر خوبه هم هضمول غواړي کنه " کله به چې مونږ په پوښتنو ډېر رامجبور کړل نو ویل به یې" بس دعاء کوئ چې الله مو خلاص کړي هیڅوک دچاغم نه کوي هرسړي سره دډالرغم دی " .

یوه ورځ رانه یو افسر پوښتنه وکړه چې کوم ځای یاست ؟.

ـ دآرمي سټېډیم ترڅنګ یوو .

ـ ډېر تېزیې .

ـ دې کې دتېزۍ څه خبره ده ستا سو بدنام زمانه دفتر چاته نه دی معلوم ؟ اوبيا زه خوپه پېښور کې ووړوکی رالوی شوی یم . کوڅه کوڅه راته معلوم دی .

ـ ته خومونږ پتې سترګې راوړې يې دڅه نه يې معلومې چې دآرمي سټېډيم څنګ کې يې ؟.

دا اوازونه اورې ؟.

ـ کوم آوازونه ؟.

دا آرمي سټېډيم کې چې خلک په زانګو ګانو کې شور کوي ماښام کې دا آواز ډېر تېز وي .

ـ بل چاته داخبره ونه کړې .

زمونږ په کوټنيو کې دآرمي سټېډيم دزانګو ګانو دماښام په آوازونو سربېره به همدغه تعمير ته دوړو او غټو ګاډو دوتو او راننوتو او د په شاتګ ګېرسره خاص ارنډونه ـ چې ډېر کم آواز لري اوزماغوږونه ورسره بيرون کې اشناشوي وو ـ راتلل، ورروسته مونږ ته معلومه شوه چې په همدغه تعميرکې دګاډو دوينځلو ځای هم و معلومېده چې دا دآی ايس آی خپل سروس سټېشن وُ . ځکه چې ددغه مجرمانو بې نمبر پلېټه ګاډي هم خصوصي ځای کې وينځل کېږي چې دخفيه ادارو پرته نورو خلکوته پوښتنې راپورته نه کړي .

په دې سربېره زمونږ دکوټنيو شاته يو پخلنځای هم وُ چې دډوډۍ دپخولو تيار به درې وخته په کې راته او پېره دارمونږ ته وويل چې ددغه پخلنځای نه خوا اوشا اونورو سېلونو ته هم خوراک ورې . په

پخلنځای کې به دموسیقي دکېسټو آوازونه هم اوړېدل کېدل چې اکثره به پنجابي سندرې وې او تکرار اوړېدل کېدې .

په پخلنځاي کې موجودو موظفینوته خپلو منځو کې یو بل ته یادبل چادنوم اخیستواجازه نه وه . ددې اندازه مونږ ته داسې ولګېده چې دوی به یو بل ته " هلو" "ګانډو " ( کوني ) او مېرې جان اواز کاوه. کله چې مادپیره دار نه پوښتنه وکړه چې دوی ولې دغه الفاظ بیا بیا استعمالوي ؟ حتی آوازونه یې هم بدل شي ؟ هغه وویل چې دلته مونږ ته دنوم اخیستلو اجازه نشته نو ځکه مونږ دانومونه استعمالوو .

هو! دآی ایس آی همدغه له اخلاقو پرېوتي میلوګان او ګانډوګان وو چې افغانستان یې تباه کړ................

وخت تېرېده او آخر هغه شپه هم راغله چې دآی ایس آی یوانسپکټر ـ چې هروخت به زمونږ خواته راته ـ راغی او ماته یې ووېل چې نن زمونږ څه افسران داسلام آباد نه راځي او له تاسو نه تحقیق کوي . دغه انسپکټر چې زما اود پیره دار ترمنځ دلیوني شیخ په نوم مشهور و نن ډېر وارخطا معلومېده دمعمول نه یې سترګې نن ډېرې بکې وې . زما تالاشي یې مکمله واخیسته سبا ماښام نږدې یې ووېل چې زه وروسته راځم .

ماسختن ناوخته لیونی شیخ او هغه بل لوړ پنجابی راغلل چې واسکټ او پکول به یې هروخت په ځان وو اوپه ظاهرپښتون معلومېده خوپه پښتونه پوهېده . همدغه لوړ پکولي دچاپې نه مخکې ورځ مادکور مخکې دسرکاري ګاډي سره لیدلی وُ .

او مابه پېره دار ته دلوړ پکولي په نوم نوماوه . زه يې سپل نه را وايستم سترګې يې راته په توري پټې وتړلې، لاسونه يې هم راته زولانه کړل او دتحقيق په نوم يې روان کړم دې ځل دلوړپکولي او ليوني شيخ سترګه ډېره خړه وه . ماسره يې هيڅ خبرې ونه کړې او ګاډي کې يې کېنولم دا هماغه انداز کې نوی لينډکروزر وُ چې مونږ يې دکورنه په کې راوړي وو ، تحقيق ته يې پکې ورړو او اوس يې بيا دتحقيق په نامه دپېښور هوايي ډګر ته روان کړو .

که څه هم دآی ايس آی کسانو مونږ ته ويلي وو چې زمونږ مشر ورور سيد محمد او همت دواړه يې زمونږ دنيوونه لس ورځې وروسته خوشې کړي . زمايقين نه کېده خو وروسته راته معلومه شوه چې ريښتيا يې هم هغوی خوشې کړي .

که څه هم لاتراوسه خبره واضحه نه وه او ماته که شک پيداشوی هم و خوپه دې مطمئن وم چې امريکايانو ته خو چې دوی څوک تسليموي نو هغوی ته يوه کځوړه لباس چې Jump Suit يې بولي وراغوستل کېږي، لکه زمونږ دځنګ دسپلونو نه به يې هوايي ډګرته دبنديانو دتلو نه مخکې دغه لباس ور اغوستله . زه يې په خپل لباس کې چې په کميس پرتوګ ، پټو اوپکول مشتمل و روان کړم وروسته ماته معلومه شوه چې زما په خبرې پټولو سرېره يو هدف داهم و چې دوی يقيني نه وو چې طياره به راشي .

زمونږ دسپلونو نه دتحقيق بنګلې ته پنځه دقيقې او هوايي ډګر پورې زيات نه زيات لس دقيقې دګاډي مزل دی خو مونږ په دغه غم لړلې شپه دغه مجرمانو تقريباً پنځه څلوېښت دقيقې په مال

روډګرځولو او آخر هوايي ډګرته ننوتو . زه تردې وخته لانه پوهېدم چې چرته يوو. دفروري اتم تاريخ و يخني وه اوپه ګاډي کې بخارۍ لګېدلې وه . شيشې خوددې مقصد لپاره هم بندې وې چې مونږ دباندې آوازونه وانه ورو. خو چې کله په هوايي ډګر کې زمونږ دګاډي نه يو کس کوزېده نو دطياروآوازونه اورېدل کېدل . ګاډي ته دراختو په وخت کې زه دومره هم پوه شوم چې مسلم دوست صاحب يې هم راسره کېناوه ماګاډي ته دراختو په وخت کې دهغه آواز وارېده خو مونږ ته دخبرو اجازه نه وه.

ګاډي کې يو ډرېور، مخکې سېټ کې يو افسر او دډرېور شاته سېټ کې دډرېور پسې متصل يې زه او مسلم دوست صاحب سره مخامخ کېنولي وو چې يو ځل زما اودهغه لاسونه وجنګېدل او زه پوه شوم چې دهغه لاسونه هم ولچک دي . له بده ياله نيکه مرغه يې بيامونږ سره لوړپکولي او ليونی شيخ کېنول چې هغوی ته هم دخبرو اجازه نه وه. خوچې کله هوايي ډګر کې دمخکې سيټ افسر کوز شو نو دوی دواړو يو څه سره ووېل او مونږ يې آوازونه وپېژندل. دې وخت کې ما ولچک لاسونه پورته کړل، او دګرولو په بانه مې دسترګو پټۍ لږه پورته کړه اولږ ود مې پيداکړ چې دسرکږولو او ديوې سترګې په پورته کولو سره مې وليدل چې ليونی شيخ او لوړپکولي ناست دي دګاډي نه بهر رڼا ګانې دي خو په ګاډي کې دلګېدلې بخارۍ او دباندې يخنۍ ترمنځ په شيشوخوله راغلې وه .

دګاډي دننه نه مې په خولې ښيښې وليدل چې لوړپکولي په مسواکۍ ګوتې وليکل : " کيا يه طالبان هين " ليوني شيخ ورته

دنفې اشاره وکړه بیا ورته لوړ پکولي ولیکل : " شاید آج جهاز نه آئے" او بیا ورته لیوني شیخ دحېرت اشاره وکړه اوس نو زه پوه شوم چې مونږ دطیارې انتظار باسو ما خپله پښه دمسلم دوست صاحب په پښه زور کړه او ورو مې ورته ووېل " څنګه چل دی؟ "هغه راته وویل " چل خراب دی " او بیایې ووېل چې هوایي ډګر دی او مونږ هم امریکایانوته تسلیموي .

دهغه خبره بالکل صحیح وه اوپه کوم حالت چې مونږ انتظارکاوه او بیا په خولې ښیښې د" شاید آج جهاز نه آئے" لېکل ټول ددې دلایل وو چې دمسلم دوست صاحب خبره صحیح ده خو بیا هم زه حیران وم چې مونږ ولې امریکایانوته تسلیم شو ؟!. لیوني شیخ او لوړ پکولي زمونږ داخبرې اورېدلې او غلي وو څه يې نه ویل . مونږ خو پرېږده چې بندیان وو هغوی ته هم دخبرو اجازه نه وه خوله نېکه مرغه دهغوی افسر دګاډي دمخکې سیټ نه کوزشوی و او له ګاډي بهر دهوايي ډګر په پراخه رن وی ( دطیارو سرک) باندې دآی ایس آی دکرنیلانو او جرنیلانو په مېله کې ورشامل شوی و .

که څه هم د بندګاډي دننه دطیاروا وګاډو معمولي معمولي آوازونه اورېدل کېدل خودیوې طیارې آواز لمحه په لمحه تېزېده او زمونږ خواته رانږدې کېده چې په دې کې زمونږ دلینډکروزر ګاډي شاتنۍ دواړه دروازې خلاصې شوې اود" نیچے آو" آواز وشو. دې کې مونږ له مټونه ونیول شوو او دګاډي نه کوزشو . ماچې وکتل نو دامریکا يي نظامي طیارې نه دبرګو درېشیو عسکر راکوزېدل چې دسپینودریشیو والا هم ورسره وو . دې کې مادمسلم دوست صاحب

آواز واورېده " دالله نه نه وېرېږئ چې مونږ امريکايانوته تسليموئ دقيامت په ورځ به الله ته څه وايئ؟! "

داډېر دلږ وخت عمليه وه . متصل زه يو نوي کس دلاس نه ونيولم، تېزيې دامريکايانو په لور روان کړم اوهغوی ته دلاس په لاس ورکولو په وخت کې يې راته ووېل: " چلو الله تمهارے ساتھ ھے " ماپه ځواب کې ورته په لوړ آواز ووېل : " الله تو میرے ساتھ ھے لیکن الله آپ سے بھي پوچھیگا " ددې الفاظو سره سم زه دوه امريکايانو دمټونه ونيولم، اول يې زما دسترګو نه دتورو پنجابيانو توره پټۍ اخوا کړه او زر يې يوه ډبله بوجۍ راپه سر کړه چې څه کېميکلزپرې مږل شوي وو اود دوايانو دزيرمې دبوی په شان بوی يې کاوه. دتورې پنجابۍ پټۍ او بوجۍ اغوستلو ترمنځ څو ثانيې هغه لمحات وو چې ماپه کې امريکايي عسکر، دهغوی حقيقي سپي او معنوي دآی ايس آی سپي ټول ولاړوليدل. دطيارې شاته دروازه چې دځمکې سره لګېدلې وه خلاصه وه اوددروازې نه دواړه طرفته امريکايي عسکر ښي او چپ لاس ته دوه قطاره ولاړ وو . فقط هغه ځلور پنځه عسکر چې مونږ ته دډبلې بوجۍ را اغوستلو اوزمونږ په ترلو موظف وو دخپلو سپينو ورديو والا افسرانو سره زمونږ مخې ته ولاړوو.

سپو غېل او دآی ايس آی پنجابيو سپو مونږ تـه خاموش کـتل. واړه سپي يې شاته ولاړ وو، اوپـه خاکي درېشيو کـې کـرنېلان او جرنېلان امريکايانوته دخپلو پوځي جيپانو مخې ته سلامي ولاړ وو؛ يو دوه جيپان او شاته يې پوځي لارۍ اوعسکر راغلي وو چې تابه وېل خاص دأسامه بن لادن دتسيلمولو محفل جوړ شوی دی.

امـریکایانو مونـږ تـه دبوجـۍ لـه را اغوسـتو وروسـتـه یـو ډبـل ټائـپ زمونـږ پـه سرونو ګیر چاپېره څو څو وارې تـاوکړ او بوجـۍ یـې کلکه زمونږ په سرونو پورې پلسترکړه. دپلستر دټایپ کاډېل ډېر غټ و چې دبوجـۍ داغوسـتو پـه وخـت یـو پوځـي زمـا مخـې تـه منـتظر ولاړ و .

امریکایـي پوځـیانوزما دسرتړلونه وروسـتـه زمـا لاسونه دآی ایـس آی داوسـپنې دولچکـو نه خلاص کړل او ژر یې شاته واړول او شاته یې پـه پلاستیکي ولچکووتړل. بـیـا یې زمـا دواړه پښې سره جوختې کړې، پـه پلاسـتیکي ولچـک یـې وتړلې او زه یـې زر پـه ځمکه راوغورزولم . دغه ټوله عملـیـه ډېـره تېزه وه اوپه ډېر تشددسره یې اجرا کو له چې دوېرې عنصر پـه کې ډېر واضح و . پـه ځمکه لـه راغورزولو وروسـتـه یې ډېرې چغـې شـروع کـړې . څـه هـاهویـې هـم کولـه اود Don’t move " مـه خوزېږه" آوازبه یې ډېر په چغو کاوه .

پـه ځمکـه یـې زه اړخ پـه اړخ واړولـم راواړولـم او تالاشـي یـې زمـا واخېسـتـه. څـه یـې ونـه موندل زمونږ کور آی ایس آی څه راصفاکړی و چې زمـا پـه لاس یـو راډو سـاعـت هـم دآی ایـس آی غلـو رانـه هوایـي ډګرته دراوستو نه مخکې واخېستـه . هغوی خو اوس ایله مطمئن شو چې اوس نو دغوښتو څوک نشته او مونږ خویې دتل له پاره پناه ګڼلي وو . پـاتې دې نـه وي چـې دطـالـبانو دسفیر مـلا عبدالسـلام ضعیف صاحب نـه یـې هم یـو سـاعـت اخیسـتـی چـې شپږ لکه کلداري قیمت لـري. دضعیف صـاحب ماته په ګوانتنامو کې ووېل چې داورته دخپل سفـارت پـه دوره کـې چاتحفـه کـې ورکړی و . ضعیف صاحب یې مونږ نـه څو ورځـې مخکـې داسلام ابـاد نـه پېښور تـه راوړی و، درې ورځې

يې پښور کې مېلمه کړې و اوپه څلورمه ورځ يې د همدې پښور په هوايي ډګر کې امريکايانوته تسليم کړې و؛ امريکا يانودخپلوانډيوالانو مخکې برينډطيارې ته خېژولی و بيا يې لويې بېړۍ ته اودهغه ځای نه باګرام ، کندهار او بيا کيوباته وړی ؤ چې هغه بحث په تفصيل سره وروسته را روان دی.

له تالاشۍ وروسته دوه عسکرو زه له مټو نه ونيولم.او ډېر تېز يې دطيارې په لور روان کړم په ترلو پښو دتېزوقدمونو اخيستلو لومړۍ تجربه همداوه. سترګې پټې وې خودومره پوه شوم چې ټيټې نه لوړې ته خېژم ، طيارې ته له ختو وروسته يې دطيارې په فرش کېنولم او معلومه شوه چې دوه کسان نور هم زما څنګ کې دي . مسلم دوست صاحب خو رامعلوم و چې يو ځای يوو خو يو اجنبي آواز مې واورېده چې په چغوخو په ډوب آواز يې ويل: " ساه مې بندېږي " دا آواز ما څو څو ځل واورېده خو صحيح پرې نه پوهېدم چې مسلم دوست صاحب راباندې آواز وکړ چې دې عسکروته ووايه چې ددې سرې سابندېږي سا خوزمونږ هم خپه وه خو شکايت مونه کاوهٔ خودويم سړي ترجماني وکړه او عسکر ته مې وويل :

"هغه تنفس نه شي کولی " Cannot Breath امريکايي عسکرو چې مخکې لاچغې وهلې: be quite "چپ شئ " او Don't Move حرکت ونه کړئ دې ځل يې چغې کړې shut your Fucking mouth دا.... خولې مو بندې کړئ.

کله چې بياما ددريم بندي د شکايت ترجماني وکړه نو امريکايي عسکر وويل :You Will get used to it تاسويه دې سره اموخته شئ.

اودې سره يې زمونږ د وېرولو او چپ کولو په خاطر سپي را لنډکړل چې ببخي يې زمونږ خولې ته غېل او شوکارې يې راباندې لګولې. طياري ډېر شور کاوۀ او خبره ډېره په مشکله اورېدل کېده خويوه جمله ماداهم واورېده چې the Fucking dog Knows that a fucking military action is going on داپيرکوسي سپي پوهېږي چې پيرکوسی پوځي عمل روان دی وروسته رامعلومه شوه چې امريکايان Fucking کنځل په عامو خبرو کې هم زيات استعمالوي چې دهغوی اخلاقي پستي ښايي . طياري ته دراختونه مخکې عمليه کې او طياره کې دناستې په وخت عکسونه اخيستل کېدل مونږ به بيا بيا فلش محسوساوۀ.

مونږ يې دطيارې په فرش په داسې حال کې وتړلو چې دناستې اودملاستې ترمنځ حالت و. په تړلو لاسواوتړلوپښو سربېره يې په پښو، خېتې اوشاته داسې پلنې پټې وتړلې چې پښې اوملامو په ۱۳۵ زاويې کې راغلې که دکېناستوکوښښ به مو وکړ نو هم يې سوکان اولغتې راکولې اوکه دملاستې کوښښ به مو وکړ نو هم به دغه حال و . داعمل په نيمه شپه کې اجراشو چې نوره دنياخوېږېږده دېښور مسلمانان اوختی زمونږ دخپل کور اعضا هم خبر نه وو چې مونږ سره څه کېږي ؟ دخفيه ادارو دغه مجرمان په نيمو شپوکې دغسې ډېر جرايم کوي چې دهر قانون له سترګو پناه وي . زمونږ طيارې هم په دغه توره شپه کې پرواز وکړ او ماپه خپل تصورکې دتل لپاره دامريکا دطيارې لاندې ګردې پختونخوا اوخپلې کورنۍ سره مخه ښه وکړه .

طیاره په مخه روانه وه اومافکر کاوۀ چې مونږ سیده کیوباته روان یو، ځکه چې مخکې په جېل کې راته دآی ایس آی مجرمانو ویلي وو چې عربان دتسلیمولونه وروسته کیوباته وړي دامې هم په جېل کې اورېدلي وو چې امریکایان بندیان خپلوسمندري بېړیوکې ساتي. کله به تصور کې بېړۍ کې پروت وم او کله به دکیوبا ګوانټنامو کې خپل لـه ځانه جوړ شوي تصویر کې پروت وم. دومره پوهېدم چې طیاره ساعت په ساعت ارتفاع اخلي. دومره مې هم اورېدلي وو چې کیوباته شل ساعته مزل دی. تقریباً یونیم ساعت وروسته دطیارې ښکته کېدل پیل شول اوبالاخره یې دټایرونو په ځمکه دلګېدو جټکه محسوس شوه. آخرطیاره ودرېده اومونږ یې دطیارې نه ښکته کړو. اوس مسلم دوست صاحب ته قلم ورسپارم هغه وایي:

لنډه داچې دآی ایس آی دتورې شبکې دتورو پنجابیانو دشامي روډ دتورپټ زندان په تورو زیمجنو کوټنیوکې ما اوزما ورور استاد بدرالزمان تقریباً درې میاشتې تورې ورځې اوتورې شپې دتورو پلمو اوتورو دسیسو لاندې تېرې کړې. په دې درې میاشتو کې مولمر هیڅ ونه لیده او صحت مو ورځ تر ورځ خرابېده. زمونږ دکور خلک څه وخت وروسته په دې پوهېدلي وو چې مونږ آی ایس آی دخپلو غلامانو اوګوډاګیانو (روح الله، حیات الله ولي الله او سمیع الله) دخوشحالولو لپاره نیولي اوساتلي یوو. هغوی ډېر کوښښ کړی و خو هیڅ نتیجه یې نه وه ورکړې. لاسر بېره په دې ټولو دآی ایس آی یو افغاني ګوډاګي. زمونږ دیوه مخلص دوست نه په دې بهانه (۲۷۰۰۰۰) روپۍ آخیستې وې چې دآی ایس آی افسرانو ته رشوت

ورکوم چې دادواړه ورونه راخوشې کړي زمونږ دورونو اوکورنه يې هم څه پيسې اونورشيان دآی ايس آی افسرانو ته دډالۍ ورکولو په نامه آخيستي دي او درواغ يې ورته ويلي چې نن مې وليدل اوپرون مې وليدل او دادی راخلاصيږي ... کله چې مونږ باګرام او قندهار تـه بوتلل شوو نو دغه تور مخی خبرنه و چې زمونږ دکور خلک له دې خبرې خبرشوي دي ، ورتـه راغلی اوويلي يې دي چې هغوی کوهاټ ته بيول شوي دي ! دآی ايس آی دتورې شبکې يوبل ګوډاګي زمونږ دورور حاجي مسيح الزمان نه پنځه لکه روپۍ په دې بانه اخيستي چې ستاسو ورونه راخلاصوو ... دې دوران کې زمونږ دوستانو زمونږ دراخلاصولو کوښښونه کول اودآی ايس آی ګوډاګيانو زمونږ پرخلاف ددروغو راپورونه تيارول . دآی ايس آی ځينو لاندې او وړو مامورينو زمونږ خپلوانو اومونږ ته په زندان کې هم وويل چې زمونږ دجرنيلانو اوکرنيلانو جينکو اوشرابوته اړتياده اوستاسو دښمنان د( جماعة الدعوه ) مفسدګوډاګيان ورته ګلمجمې راولي ،دهغوی هرطلب ته لبيک وايي اوهره اړتيايې په بې دريغه اخلاص پوره کوي . نو له همدې امله تاسونه پرېږدي .

مونږ ته ځينو لاندې مامورينو د جماعة الدعوه ددغو مفسدانو هغه ژوندي اسنادوښودل چې زمونږ په هکله يې امريکايانوته برابر کړي اوورکړي وو چې هغوی کې دسميع الله ، روح الله ، حيات الله ، ولي الله ، اوځينو نورواعداء الله سمعي ، مرئي او کتبي شهادتونه وو په هغوکې يې ويلي وو چې ددې دواړو ورونودالقاعدې ، طالبانو ، حزب اسلامي اونورو اسلامي ترهګرو ډلوسره اړيکي

دي ، کور کې دچاپ مشين ، ډول ډول وسلې اوستلايت ټليفونونه لري ....

دآی ایس آی ځينو افسرانو مونږ ته وويل چې مونږ ته پيسې راکړئ زمونږ لوړپوړي افسران ډېرې پيسې غواړي که داکار وکړئ نو تاسو به خوشې کړو ...

مونږ درشوت ورکولونه انکاروکړ او ورته ومووېل چې رشوت مجرمان ورکوي مونږ الحمدلله مجرمان نه يوو مونږ دخپلو سپېڅلو اهدافو په لارکې هرډول بنندنوته تياريوو...

آخر په ۳۰/ ۱۱ / ۱۳۳ ه ق ، ۸/ ۲/ ۲۰۰۲ م .

دآی ایس آی يو تور مجرم مامور راغی سترګې يې راباندې په توره ټوټه وتړلې ولچک اوزولنې يې راواچولې ، دتوروښيښو په يوه ګاډي کې يې زه اوزما ورور کېنولو اونامعلوم لورته يې روان کړو ، راته ويې ويل چې تاسو څه پوښتنويګنوته بوځواوبيرته به راشئ زمونږ دسترګو په کونج کې لږ وت پاتې و هغه کې مو وليدل چې دپېښورهوايې ميدان ته يې دځانګړې وره له لارې وردننه کړو، په ګاډي کې ناست وو انتظار مو کاوه. دګاډي ښيښې بندې وې اوژمی ونو ښيښې يې خولې شوې . په وروستنی ښيښې دننه خواته دآی ایس آی يوه ماموردلاس په ګوته وليکل چې ( شايد جهاز آ ج نه آيې )

( کېداې شي چې نن الوتکه رانه شي ).

خبرې يې ددې لپاره نه کولې چې موږ يې وانه ورو اوهغوی مطمئن وو چې زمونږ سترګې يې تړلې دي خومونږ دسترګو کونج کې ديوه وت نه ليدل . لږه شېبه وروسته دامريکا الوتکه راغله . کله چې

مونږ جهاز غرار واورېد: هوايي ميدان او بيا پوځي امريکا يي الوتکه مودترل شويو سترګو دوت نه ولېدل نوپوه شوو چې امريکايانوته مو ورسپاري ، ما پنجابيانوته په اردوکې وويل چې (( بزدلو ظالمانو دقيامت په ورځ به الله ته څه ځواب وايئ ؟؟!!)) او همدا هغوی سره زما آخري خبره وه استاذ بدر الزمان ته مې وويل چې امريکايانو ته مو سپاري ، کاړی بېخي دالوتکې خواته ورغلی و دګاډي نه يې راښکته کړو او امريکايي کماندو يانوته يې وسپارلو .

دتاريخ بې ساري بې غيرتو دآی آيس آی بزدلانو په دې ترتيب ډالرې واخيستې اومونږ يې پرې وپلورلو اوس نودظلم اوتشدد بل دردوونکی داستان پيل شو .

## د پېښور هوايي ډګرکې دامريکا يانو په لاس کې

امريکايي پوځيانو مولومړی په پټو سترګو عکسونه واخيستل چې دکمرې دفلش برېښنا مومحسوسوله نوپوهېدو چې انځورونه مو اخلي اوويډيو يي فلم هم اخيستل کيدۀ . مادامريکا يي کځوړې نه مخکې دپټې لاندې دامريکايي پوځيانوپښې اودرېشي ګانې وليدې چې ډېر زيات وو هغوی دآی ايس آی پولادي ولچکې پرانيستې ، په ډېر تشدد يې زمونږ لاسونه شاته واړول اوپۀ يوډول کلکو پلاستيکي ولچکو يې وتړل خودسترګو پټې يې بدله نۀ کړه . بلکه دهغې پټيو لۀ پاسه يې يو ډول توره کځوړه سرته راواغوسته اودپاسه يې پرې نورې پټې کلکې وتړلې ، لۀ دې مخکې مودلاسونو ساعتونه وايستل شول پوه نۀ شوو چې پنجابيانو وايستل اوکۀ امريکايانو؟ ځکه چې سترګې يې کلکې راتړلې وې . دراخوشي کېدو پۀ وخت

کې زما ساعت ورک و ماته رانهٔ کول شو . داستاذ بدرالزمان ښهٔ اصلي راډو ساعت یې پهٔ خراب بدل کړی و اوامریکایانوته یې هغه خراب ورکړی و . امریکایانو زماپهٔ ولاړه تالاشي وکړه ؛ استاذ یې پهٔ زمکه را ځملاوهٔ او بیایې تالاشي واخیسته لهٔ کلکې تالاشۍ وروسته یې پوځي الوتکې ته ورپورته کړو ، الوتکه کې یې په چوکۍ کښېنه نولو بلکه مونږ ترهګرد چوکۍ مستحق نهٔ ګڼل کېدو !

دالوتکې پهٔ کلک اوسپنیز فرش ( زمکه ) یې کښېنولو، پهٔ ناسته یې دورنونو دپاسه اودملا شاته یویو پړی راتېر کړ اوپهٔ دې ترتیب یې فرش پورې کلک وتړلو؛ مخې اوشاته مو عسکر ولاړوو کهٔ لږ حرکت مو کاوهٔ ، وهلو یې اومخې ته مو سپوږپرسخت غېل. دکمرې دفلش برېښنا وې موشېبه پهٔ شېبه پهٔ کڅوړوکې دننه محسوسولې ، نهٔ پوهېدو چې پهٔ کومه موبیایي ؟.

## د باګرام پهٔ هوایي ډګر کې

زمونږ لهٔ اتکله یو ساعت وروسته الوتکه پهٔ نامعلوم هوایي ډګر کې ښکته شوه دالوتکې لهٔ کښېناستو وروسته یې دفرش پړي پرانیستل اودوه عسکرودښي او کيڼ متې ونیولو؛ پهٔ ډېر تشددیې پاڅولو اوپهٔ راښکودلو اومنډو یې دالوتکې نه ښکته کړو. دهوایي ډګر پهٔ سیمتې کلک سړک دځغلولو پهٔ حال کې یو عسکر یو سخته کړیکه وکړه ، دشالهٔ لوري یې پهٔ ډېر زور سره دمخې لورته ټېل وهلواوپهٔ سړک یې پرمخه وغورځولو. مخ مو الله تعالی وژغورهٔ خوزنګنونه مو ټپي اووینې شول اویولورته پښتۍ مو سختې

وبرېښېدې چې ډېره مـوده يـې دردونـه كول اوبې لـه درمله الله تعالى ښـۀ كړل .

دپړ مخـه غورځولونـه وروسـتـه پـۀ مـلا ، متـهـو اوپـښـو راتـه عسـكر كښېنـاسـتـل سـخت يـې تالاشي كړو اولۀ لومړۍ شپې ترآخره بـه يـې لـۀ بزدلۍ پـه ډېروازكومـي چغـې وهلې او ويـل بـه يـې چې ( نوټاكنگ نو اټيـک ) (( خبرې مـۀ كوئ اوپـۀ مونږ حمله ونـۀ كړئ .))

كلـه چـې تالاشي پـاى تـه ورسـېـده پـۀ راښكودلو يې راپاڅولو ، زۀ ، زمـا وروراستـاذبدر اويو بل كس يې پرلـه پسې سره جوخت پـۀ يوۀ پړې دمتـهـونـه يـوبـل پـورې وتـړلـو . وروستـه بـيـا معلومـه شـوه چې هغـه دريم كس حاجي ولي محمد صراف و چې دافغانستان دبغلان دى . بيا يې درې وارۀ پـۀ ډېـر تـشـدد ، ټيـل وهلـو او راښكودلـو روان كړو . پـۀ لاره چـې روان وو دامومحسوسه كړه چې پـۀ واورو ځودلتـه نو وپوهېدو چې دپاكستان نـه وتلي يـوو خولاپـوه نـۀ وو چې دادافغانسـتـان دباگـرام هوايي ډگردى .

لـږه شـېبه وروسـتـه يـې پـۀ يـوه خونـه وردنـنـه كړوهلـتـه يـې سـتـرگې راپرانيسـتـې ، پلاستيكي تسـمې يـې دلاسـونـونـه غوځـې كړې لاسونـه مـود ډېروسختوتړلولۀ امله تک شنۀ اوپړسېدلي وو ، دهمدې تړلو لـۀ املـه زمـاد ښي لاس دختـې گـوتـې عصب ( پلـه ) غوځـه شـوې وه چـې تـريـوۀ كـال پـورې زمـاداگـوتـه بې حسه وه . بيا وروسته ښۀ شوه . تردې ځايـه زمونـږ پـۀ غـاړوكې خـپلې جـامې وې بـيـا يـې پـرزمكه څملولو ،جامې يې راڅخه پـۀ قيچي گانو قيچي كړې اودبوټانو سره يـې يـوې خواتـه وغورځولې ، يـوه تـنگه درېشـي يـې راواغوسـتـه چې

پتلون اوکميس سره يوځای ګنډل شوي وو اوزمونږ دبدن په مېچ برابر نه وو. انځورونه يې راځخه واخيستل اوبيايې په ولاړه راڅخه وپوښتل چې نوم اودپلار نوم څۀ ؟ داوسېدلو اودنيولو ځای کوم دی ؟ ايا پوليسو ونيولئ اوکۀ پوځيانو؟ ...

بيا يې يوې لويې ګودې ډوله خونې ته ورددننه کړو داپۀ اصل کې روسانو جوړه کړې وه اوچاويل چې ګودام و. امريکايانو ترې ماشينونه او نور سامان اوځينې منځنې دېوالونه لرې کړي اونړولي وو . داورکشاپ شمالااوجنوباغځېدلی و دلويديز لورته يې پۀ يوۀ کتارکې دوه پوړيزې کوټې وې منځ يې خالي پرې ايښی و ، ختيز لورته يې پۀ اغزنو سيمانو ځايونه سره وېشلي وو اومخې ته يې هم اغزن سيمان وو چې پۀ کې يې يو دبل پسې دوه داوسپنيزو ډندودروازې جوړې کړې وې دباندې خواته دروازې ته قلف پروت و اودننه دروازه دباندې نه پۀ يوۀ مزي پرانيستل کېده ، دهر جلاشوي ځای زمکه دلرګي دتختو نه جوړه وه هرځای کې مخامخ نيم غوڅ دتارکولو بلر دانساني حاجت دکولو لۀ پاره ايښی و ، پۀ هر ځای کې لۀ يوۀ نه ترلسو کسانو پراته وو. ولچک اوزولنې يې راڅخه لرې نۀ کړل لۀ مونږ مخکې نور بنديان هم وو چې اکثره پۀ کې عربان اواکثره تېيان وو . وروسته مو بيا دغه عربان دقندهار او ګوانتېنامو پۀ زندانونو کې وليدل ، خبرې مو ورسره وکړې اوپۀ توره بوړه کې دبمبار لۀ امله دتېې کېدو نورې کيسې يې راته وکړې .

دباګرام دغه دالوتکو ورکشاپ کې دننه زندان و اومخامخ دوه پوړيزه کوټې دتحقيق اوتعذيب لۀ پاره وې .

دانسـاني حاجت درفع کولو لـۀ پاره چې کوم نيم بلر ايښى و تهولوته ښکـارېدۀ او دپـردې کـول مـنع وو ، پـۀ داسـې حـال کـې بـه پـرې کښېناسـتې چې تهولـو بـې پـردې لـيدلې ، بـنديانو خوبـه نـۀ ورلـيدل خوعسـکرو بايدلـيدلې ، څـرنګه چې کمـيس اوپـتلون سـره يوځـاى ګنډلي وو اودګرېوان له لارې پۀ کې پښې اوبيالاسونه دننه کېدل اوپۀ دې ترتيـب اغوستل کېدۀ. نو دحاجت درفع کولو لۀ پاره بندي مجبور و چې کميس تهول اوباسي اودورنونودنيمايي پورې يې ښکته ښويه کړي ...

نولـۀ دې امله چې دحاجت درفـع کولـو لـۀ پـاره اړتيا زياته نۀ شي مـاڅوارلس ورځـې ډوډۍ ونـۀ خوړه يواځـې پـۀ اوبـو څښلو مـې بسـنه کوله هغه هم ډېرې لږې .

دلـته نـو زۀ او اسـتاذ بـدر سره يوځاى پۀ يوه خانه کې دحاجي ولي محمد ، عبدالحنان ، اوشريف الله صاحب سره واچول شوو خو زر يې بېرته سره جلا کړو. زۀ داغـزنو خانو پۀ آخري خانه کې او استاذ بـدر لـۀ مالرې پۀ دريمه خانه کې واچول شو. ماسره دتورې بوړې تپي عربان هم وو .

دباګرام پۀ دغـه زنـدان کـې خبرې کـول ښخي منع وو ، حال داچې کـۀ چاخبره کوله نـو هـم چانـۀ اورېـده. يو مشـين يې څلرويشت ساعته چالان پرې ايښى و چې ډېـر سخت زوږ يې کاوۀ او داددې لـه پاره و چې لـۀ يـوې خوابـنديان سره خبرې ونـۀ کـړي او لـۀ بـل پلوه بـنديانو بـاندې يـو ذهنـي فشـاروي . دسختـې يخنـۍ سره سره دسرپټول منع وو اودزياتو کمپلو دموجوديت سره سره لۀ يوې کمپلې پرته بله کمپل چا

استعمالولای نهٔ شوه ، کمپلې هندي او دریشي ګانې بنګله دېشی وې اودواړه ډېرې نرۍ نرۍ اونازکه وې . دپښو لهٔ پاره دڅپلیو یابوټانو پهٔ ځای یو ډول پیړې جرابې وې چې ډېرې ازادې وې ، دسرلهٔ پاره غوړ ورې تورې تاري خولۍ وې اودلاسونولهٔ پاره هم تورې لاسکشې وې .

دهربندي دکمیس پهٔ شا دهغهٔ نمبر لیکلی و . زمانمبر ( ۹۶) شپږ نوي اوداستاذ بدر ( ۹۴) و. چې وروسته بیا دقندهار پهٔ زندان کې بدل شول .

هربندي ته دهغهٔ پهٔ نمبر اواز کېدهٔ . ( لوک ډاون ) ( ښکته ګوره ) (( نوټاکنګ )) ( خبرې مهٔ کوه ) ( ګټ آن یورنیز) ( په خپلو زنګنو ودرېږه ) (( هینډزآن دي هیډ)) ( لاسونه پهٔ سر کښېږده ) ( نواټیک ( پهٔ مونږ حمله ونهٔ کړې ) ( شټاپ) ( چپ شه ).

داهغه انګلیسي جملې دي چې مونږ دامریکایي عسکرونه ترټولو لومړۍ واورېدې او ترآخره ورسره ډېر روږدي شوو .

نوربندیزونه داوو چې بندي باید دڅوکیدارانو امریکایي عسکرو لورته مخ کړي ټیټ زمکې ته وګوري ، ونهٔ خاندي ، بل بندي ته ونهٔ ګوري ، خبرې ورسره ونهٔ کړي ، ....

دتالا شی پهٔ نامه به شپه او ورځ راتلل ، بندیانو به یوې خواته شاکړې، پهٔ زنګنو نو به اودرېدل ، لاسونه به یې پرسرونو کېښودل اوزمکې ته به یې لیدل، هیڅ ډول حرکت به یې نهٔ کاوهٔ .، خبرې به یې نهٔ کولې ، مسلح عسکر به یې شاته اودرېدل ، بیا به نورو عسکرو ټول ځایونه ولټول ، بیا به یې بندیان ولټول ، بیا به یې بیرته

په زنګنو شاکړي اودرول، لاسونه به يې پۀ سرونوکېښودل، هغوی به مخونه بنديانوته کړل ، پۀ وېره وېره به پۀ شابيرته روان شول ، وبه وتل اودروازې به يې وتړلې. څلور پنځۀ ورځې په همدې ترتيب پۀ زولنو کې وو بيا يې زولنې راڅخه خلاصې کړې . تحقيق ته به يې چې بوتللونو دوه عسکر به زولنو اوزنځيرونوسره راغلل دبندي دنمبر اواز به يې وکړ ، هغه به ورپاڅېد دننه دروازه به عسکرو دېرې پۀ راښکلو بيرته کړه بندي به چې کله ددواړو دروازو منځ کښې شونو دننه دروازه به يې بېرته بنده کړه ، بندي به عسکروته شاکړی پۀ زنګنونو اودريده اوددواړو لاسونوګوتې به يې سره ورکړې او لاسونه به يې پۀ سر کېښودل . بيا به عسکرو دباندنۍ دروازه بېرته کړه اوډېر پۀ بيړه به يوۀ دبندي لاسونه ونيول اوبل به يو يولاس پۀ ولچکوکې وتړۀ بيابه يې لۀ ملاڅخه يو زنځير راتاو اوقلف کړ اودلاسونو ولچکې به پۀ همدې ترتيب دملاپورې وتړل شوې چې بندي هيڅ لورته لاسونه نۀ شو خوځولی دملانه دتړل شوي زنځيرنه دلاسونودولچکوسره يو زنځير دپښو دزولنو سره تړل شوی و پۀ پښو کې به يې زولنې واچولې اوبيا به يې پۀ يوه کونجي ولچکې اوزولنې قلف کړې .

ددواړو پښو دزولنو ترمنځ يو زنځير تېرشوی و چې بندي پښه ازاده نۀ شوه اخيستی اوتنګ تنګ به روان و . پۀ دې ترتيب به مخامخ پاسنيو کوټوته پۀ ورختلوپوړيو پورته کړای شو اودتحقيق کوټې کې به دمحقق مخې ته کښېناست ، محقق به کله يو ، کله دوه

اوکله درې یاد ېر هم وو . یوبه ورسره ژباړونکی و ، زمونږ دباګرام په تحقیق کې دپېښورپه پوښتنو سر بېره داپوښتنې وې :

څۀ انځورونه يې راښکاره کړل چې په دې کې کوم پېژنې ؟.

مونږ نورنۀ پېژندل يواځې د ( اسامه بن لادن ) او ( ايمن الظواهري ) انځورونـه مـو پـه ورځـپاڼو ، مجلـو اونـورو خـپرونو کـې ليدلـي وو دهغـوی پـۀ هکلـه مـو ورتـه وويـل چې داپېژنو اوداځکه چې تاسو ټولې نړۍ ته وروپېژندل .

دآی ايس آی اودهغـوی دافغانـي مذکـورو ګوډاګـيانو سره زمونږ دمخالفت ، زمونږ دنـيولو دلاملونو ، پۀ افغانسـتان کې دلاسوهنو او دامريکا پۀ ناوړه سياست موسره څۀ ناڅۀ خبرې وکړې .

زمـا ترجمانـي يـو ځـل يـوۀ هـندي پـۀ اردو ژبـه کولـه ، يوځـل يـوۀ مصري پـۀ عربـي ژبـه ، يوځـل يـوۀ فارسـيوان پـۀ فارسـي ، اونوروپـۀ پښتوکولـه ، يوځـل يـو بـندي زماترجمانی تـه راغـی خو تمبوزک يې وهلی و او زولنې هم پـه کې وې . هغـه وويـل چې زه هم بندي يم ، بله ورځ يې زه پـه پورتني پوړ کـې يـوې کوټې تـه دننه کړم چې ګورم هلته يوافغـان و چـې ګـيره يـې خريلې وه او پـه پښـتو غـږيدۀ يوورسره يـو عربـي هـم و دواړوتـه يـې چيرکټونه ورکـړي وو ، دهغه پښتون لاسونه چې ماولـيدل ومې پېژنده چې هغه بله ورځ يې تمبوزک وهلی و اوزما ترجمانـي يـې کـړې وه ، همغـه دی. ماورتـه وويـل چې تـه هماغـه نـه يې چې هغه بله ورځ دې زما ترجماني کړې وه ؟ .

هغـه وويـل چـې ولې نـه زه هماغـه يم زمانوم حليمي دی مـادطالبانو دحکومـت دباندنيو چارو پـه وزارت کې کار کاوه چې دبهرنيو مېلمنو

پالنه او ترجماني زما ترغاړه وه. زه دمصر دازهر دپوهنتون څخه فارغ شوی یم ... ماڅخه یې هم څه پوښتنې وکړې او ماځوابونه ورکړل. هغه بل عربي دیمن و او (ایمن) نومېده چې ډاکټر هم و وروسته مو بیا په ګوانتنامو کې ولیده چې دماغي توازن یې له لاسه ورکړی و ....

دې دواړو بندیانوته یې امتیازي اسانتیاوې ورکړې وې دتېلو یوه بخاری ورته لګېدلې وه چې هم یې کوټه ګرموله اوهم یې اوبه جوش ساتلې، عسکري تیارخوراک (MRE) دپاکټونو یوه باره ورته لګېدلې وه داسفنجي ګیلاسونو یوبنډل ورسره و .... ماته یې هم په چټکۍ سره یوه پیاله تورچای راتیار کړاودڅه بسکټواوخوږوسره یې راوړاندې کړ ...:

تقریبا پنځلس (۱۵) دقیقې یې زه دهغوی سره پرېښودم ، ماګومان وکړ چې زه یې ددې لپاره هغوی سره دغه لږ وخت پرېښودم چې حلیمي داوګوري چې آیازه او ډاکټر ایمن سره پېژنو اوکه نه ؟ اوزمااودهغه ترمنځ څه خبرې کېږي ؟ دخبرو په ترځ کې حلیمي ته ماداشعر هم ووایه :

دمړانې اوغیرت په ورځ مې ګوره یو وېښته به وروسته نه شم که افغان وم
دپښتو فطرت مې دومره اسلامي دی که اسلام نه وای نو هم به مسلمان وم

داشعردحلیمي ډېر خوښ شو ځان سره یې په کاغذ او دکوټې ددروازې په شا ولیکه . هغوی ته دکاغذ او قلم اسانتیا وې هم ورکول شوې وې ؟ ! پنځلس دقیقې وروسته یې زه بیرته له دغه کوټې وایستم اولاندې یې دمخکني اغزن سیم دننه ځای کې واچولم.

# یوه خندوونکې ډرامه

په باګرام کې دامریکا یي پوځیانو اومحققینو دخندوونکیو ډرامو څخه یوه داهم وه : ددې لـه پـاره چې مونږ تـه داراوښیـي چې ګـنې هغـوی اودسره صلیب مؤسسـه سره بـیل دي اوسور صلیب یوه خیریه مؤسسـه ده نوکله کله به یې دسره صلیب دکارکوونکیو نه مونږ پټولو اودهغـوی دراتـګ پـه وخت کې به یې دپاسني پوړپه یوه یخه کوټه کې دځو شـپـبو لـه پـاره دبندو دروازو ترشا دننه کولو ، مسلح عسکر به راتـه پـه چوکـۍ کې چمتوناسـت وو چې خـپلو مـنځو کې لـه خبرو ، هغـوی تـه لـه کـتلو ، سرپټولو اوداسې نـورو حرکتونو څخـه به یې پـه سختـۍ سره منع کولو .

اوکلـه بـه چې دسره صلیب کار کوونکي لاړل بیرتـه به یې مخکني ځای ته وروړلو .

# په با ګرام کې د بند یا نو نظا فت

باګرام کې دبندیانو دنظافت هیڅ خیال نهٔ ساتل کېدهٔ داوداسهٔ لهٔ پـاره اوبـهٔ نـهٔ وې ، یواځـې دڅښلـو لـهٔ پـاره اوبـهٔ راکـول کېـدې چـې دکویت د ( روضتین ) تصفیه شوې اوبهٔ وې اویویو بوتل یې راکاوهٔ .

دغـاښونو لـهٔ پاره پـهٔ اونـۍ یالسـو ورځو کې یوځل دغاښونو کریم پـهٔ دې ترتیـب راکـول کېـده چـې برشـونه اوکریم به یې راوړل دبرش پهٔ سربه عسـکر پخـپله لږ غونـدې کـریم پـورې کـړل بـیا بـه یې دغه برش بـندي تـه ورکړچـې دعسکر پـهٔ مخکې خولـه پرې پرېمینځي بیا به یې

برش بېرته ورڅخه واخيست او داددې لـۀ پاره هسې نه چې دبرش نه دوسلې کار واخلي !.

پنځلس ورځو کې يې يوځل دلمبلو پۀ نامه پۀ خپل وارېندي پۀ زولنو او زنځيرونوکې يوې کوټې ته ورچې پخوادروسانو لـۀ خواجوړه شوې وه يوه لويه کوټه وه هلته يې په اودان کې اوبۀ اچولې وې زمونږ پـۀ وخت کې يې دنامهٔ پورې پردې لـۀ پاره دلرګي يوه تخته اودرولې وه دهغې يوې خواته به څو عسکرولاړوو اوبلې خواته به بندي ډېر پۀ بيړه ايله پۀ ځان لړې اوبۀ واچولې چې لوند به شو بېرته به پرې عسکر چغې کړې چې بس دی. دګډه کميس پتلون دايستلو پۀ وخت کې به يې ديوهٔ لاس نه دزولنو کړۍ وايسته بيا به يې بېرته پۀ کې واچوله اوبيا پۀ همدې ترتيب له بل لاس نه ، بندي به پۀ تړلو لاسونو پۀ ځان اوبه اچولې دغسل پۀ دې وخت کې همدومره اسانتيا وه چې لاسونه دملاسره نه وو تړلي .

زمونږ نه وروسته چې کوم بنديان ګوانتنامو ته راتلل هغوی بيامونږ ته ويل چې مونږ دې ته مجبورېدلو چې دامريکايي عسکر پۀ مخکې برينډولامبو ، اولا دځانګړيو غړو پورې به امريکايي جنکو ملنډې هم وهلې ...

نوردنوکانو اوزياتي وېښتانو داخيستلو اودجامو دبدلولو هيڅ انتظام نۀ وُ ... دتيمم لـۀ پاره پاک ځای هم نهٔ وُ مونږ به چې پۀ کوم ځای تيمم واهۀ هلته به ډېر تک تور ګردونه اودوړې پرتې وې کله به مو چې پرې تيمم وواهۀ نو مخ اولاسونه به موتک تور شول ...

# د باګرام خوراک

باګرام کې په پاکتهونو کې یوډول تیارخوراک راکول کېدهٔ چې پاکتهونه به عسکرو وخېرل دهغوی چې څهٔ خوښ وو هغه به یې ترې لرې کړل ، کاشوغې به یې ترې لرې کړې اونور به یې مونږ ته راکړل. دافغانـي نانبایانو نـیمه ډوډۍ هم ورسره وه . څرنګه چې زهٔ ددغه زندان پهٔ کوز سرکې یواځې پروت وم نوماته مخامخ یوه بې دړې د روازه وه اودهغې دننه ماهغه څهٔ لیدل چې نورو بندیانو نه پنا وو هلته پهٔ زمکه پهٔ خاورو اوګردونو دپاسه ډېرې ډوډۍ پرتې وې اودڅولارونه پرې دهوایي ډګر خاورې ، ګردونه اولوګي راتلل اوداپهٔ دې ډوډیو پرېوتل همدې ګرد جنوډوډیوباندې څو ورځې تېرېدې اومونږ ته راکول کېدې لهٔ یوهٔ پلوه دهمدې چټلۍ لـه امله اولهٔ بله پلوه لهٔ دې وېرې چې دانسـاني حاجت درفع کولو لهٔ پاره دپردې انتظام نهٔ وٴ اودخلکو مخکې پهٔ نیم غوځ شوي بې پردې بلر کښېناستل وو نو ماپهٔ باګرام کې څوارلس ورځې ډوډۍ ونهٔ خوړه .

# باګرام کې افغاني بیرغ نهٔ وٴ

باګرام کې مونږ هیڅ ځای کې دافغانستان بیرغ ونهٔ لیدهٔ بلکې لورته لوی او وارهٔ امریکایي بیرغونه ځړېدلي وو !!!.

## باګرام کې دامريکا يي پوځيانو بد سلوک

باګرام کې امريکايي پوځيانو ډول ډول بدسلوکي اوبداخلاقي کو له دبېلګې پهٔ توګه : کله به چې بنديان ويدهٔ شول نو لوی لوی کوتکونه اولګي به ورسره وو اوزمکه به يې پرې درزو له کله به يې پرې اوسپنيزې دروازې وهلې ، کله به يې چغې وهلې ...

اوپهٔ همدې پلمو يې بنديان بې خوبه کول ، جنګې به دوسلې سره ګډېدلې اوسندرې به يې ويلې ، ناوړه حرکتونه به يې کول .....

خبرې مهٔ کوه ، ماته مخ کړه ، لاندې ګوره ، سرمهٔ پټوه ...او داسې نورې چغې به يې وهلې .

## باګرام دامريکايي تعذيب مرکز دی

باګرام اوس دامريکايي استخباراتو او تحقيقاتو (CIA) او (FBI) . ( لومړی مرکز دی . دافغانستان دننه اودنورو هېوادونو نه بنديان اول باګرام ته وړل کېږي ، باګرام دتعذيب مرکز دی . وهل ټکول ، بې خوبه کول ، دلاسونو او پښونه ځوړندول ، برق ورکول ، پهٔ واورو څملول ، پهٔ سخت سوړژمي کې پهٔبدن يخې اوبهٔ اچول اوداسې نور ... دتعذيب ډېر ډولونه پهٔ باګرام کې شته اوداټول پخپله امريکا يان کوي. دافغان ګوډاګي حکومت پهٔ کې هيڅ ډول دخل نشته اونهٔ يې څهٔ وس رسېږي ... البته دافغاني استخباراتو خپل ځانګړي دتعذيب مراکز دي مسؤلين يې اکثر زاړهٔ کمونستان دي چې دمجاهدينو اومهاجرينو پر ضد انتقامي جذبه لري اودشمال فاسد عناصر هم ورسره همکار دي چې هغه ځايونه کابل اوشمال کې دي . باګرام کې

مونږ خپله يوه شپه يوېندي ولېدۀ چې دباندې نه يې پۀ زولنو او زنځيرونو کې په راښکودلو راوړ؛ ګيره يې پرې خريلې وه ، اوسرېې يوې خوابل خوا زنګېدۀ ، ژړل يې اوزګېروي يې کول ، سخت يې وهلی ؤ بيا يې يواځې په يوه خانه کې ايسار کړ چې مونږ ټولوورلېدل. پۀ سختو سړو کې يې دڅه ٔ شي اغوستلو، خوب اوناستې ته نه ٔ پرېښودۀ او ورته ويل يې چې ګرځه هغه به چې لږ ودرېدۀ پرې چغې به يې کړې دعسکرو لۀ چغواودهغه بندي دفريادله امله هيڅا خوب نۀ شو کولای . کله کله به بندي پۀ زمکه راپرېواتۀ عسکر به راغی ، وبه يې واهه ٔ، اوبېرته به يې ودراوۀ پۀ همدې ترتيب يې يوشو اروز تېر کړ ...

هغه بندي بيا وروسته مونږ پۀ قندهار او ګوانتېنامو کې ولېدۀ يو مولوي ؤ چې ډېرو ښو اخلاقو ښښتن ؤ کۀ داوېره نۀ وای چې خپلوان به يې خپه شي نو مونږ به يې نوم ليکلی ؤ خوځرنګه چې هغه اوس هم پۀ ګوانتېنامو کې بندي دی نو ځکه يې نوم نۀ ليکوو.

## باګرام کې دامريکا يي تعذيب لاندې وژل شوي بنديان

زمونږ خوباګرام کې ټولې ځوارلس ورځې وې ، زمونږ پۀ مخکې خو څوک نۀ دی مړشوی خوروسته چې ګوانتېناموته کوم بنديان راتلل دهغوی دشمېرې پۀ بنسټ باګرام کې (۲۹) کسان دامريکايانودتعذيب لاندې وژل شوي دي په ٔ دې کې يې يواځې ديوۀ کس مړی کورته لېږلی دی چې دخوست ؤ هغۀ ته يې هم داپلمه جوړه

کړې وه چې لۀ وژلو وروسته یې پرې دخپتې یوه خواخیرې کړې وه بېرته یې ګنډلې وه اودمړي خپلوانو ته یې ویلي وو چې ددې اپنډې سائتس ۍ مونږ یې اپریشن وکړ خو بچ نۀ شو اوسایې ورکړه . حال داچې بندیانو ویل چې مونږ یې خپله چغې اورېدلې چې واهه یې تکبیرونه اوکلمې یې ویلې او لۀ دروازې وینه هم راووته آخریې غږ غلی شو بیا وروسته یې مړی راوایست اومونږ خپله ولیدۀ .

دننګرهار دپچیر اواګام دولسوالی یوبوډا یې هم وژلی ۍ څۀ ورځې وروسته یې دهغۀ زامن هم نیولي وو اوباګرام ته یې راوړل بندیانو کیسه کوله چې کله یې زامن راغلل نو ددې لۀ پاره چې مونږ پوه شو چې دپلار مړی یې ورکړې دی اوکۀ نه ، هغوی نه مو پوښتنه وکړه چې آیا ستاسو پلار کورته بېرته درغلی دی اوکۀ نه ؟ هغوی وویل چې نه نۀ دی راغلی نومونږ نور غلي شوو او حال موورته ونۀ وایۀ چې ګنې ستاسو پلار یې وژلی دی .

پۀ دې (۲۹) وژل شویو کسانو کې اتۀ (۸) افغانان اونور خارجیان وو ، دوه شینواري یې پۀ جلال آباد کې نیولي وو اوهغه تراوسه ورک دي مونږ ته دسرۀ صلیب کارکوونکیو پۀ ګوانتنامو کې وویل چې هغه دوه کسان نۀ پۀ جلال آباد کې شته نه پۀ باګرام اونۀ پۀ ګوانتنامو کې. خپلوان یې پوښتنه کوي اومونږ یې تراوسه هیڅ درک نۀ دی پیداکړی . نو داسې برېښي چې هغوی هم د تعذیب لاندې وژل شوي دي . زمونږ دازادی نه وروسته اوس معلومه شوه چې باګرام کې دوه نور افغانان هم دتعذیب لاندې وژل شوي دي چې راډیوګانو اودخپرونو نورو وسایلو هم اعلان کړل اوامریکایانو پرې اعتراف هم

وکړ. ديوې بلې پېښـې کيسـه هـم چاوکړه چې دکونړ داسعدآباد پـهٔ توپچي کـې هـم يـو کونړیدتعذيـب لانـدې وژل شـوی دی نوپـهٔ دې شـمېرې هغـه وژل شـوي کسـان چې راښکاره شوي دي ټول (۳۴) څلور دېرش دي ، دايواځـې هغـه دي چې راڅرګندشـوي دي پـهٔ ځيـنو يـې امـريکايان معـترف اوپـهٔ ځيـنو مـنکر دي نـور هغـه چې پټ دي اوچاته يې معلومات نهٔ دي شوی هغوی به لاڅومره وي ؟!.

پـهٔ دې کـې هـيڅ شـک نشـته چې خامخا بـه داسې ډېر بنديان وي چې دامريکايي پوځيانو او محققينو دتعذيب لاندې وژل شوي وي او امريکايانو به هغوی پټ کړي وي .

## جلال اباد کې تعذيب

امـريکايانو پـهٔ هرځای کـې بـنديانو تـه تعذيـب ورکـړی دی. دجلال آبـاد يـوهٔ بـندي چـې نوم اخيستل يې دپورتني لامل لهٔ امله مناسب نهٔ ګڼم راتـه کيسـه وکـړه چې پـهٔ جلال آبـاد کـې امـريکايانو ډېـر سـخت ووهلـم ، بـرق يې راکړ اوبيايې ديوهٔ کټ نه زماسر وايستهٔ ، کلک يې وتړلـم اويوهٔ لـوی ټـپ کې يې چې لهٔ اوبو ډکوٌ زما سردننه کړ تقريبا پنځلس دقيقوپورې مې سابنده وه اوپهٔ اوبو کې ځرتېدم مرګ مې پهٔ خپلو سترګو وليدهٔ ، او ديوهٔ نامعلوم حقيقت حال يې پهٔ زور راباندې وايـهٔ ، ماتـه يې ويـل چې حال ووايـه ! ماورته وويل چې دڅهٔ شي حال درتـه ووايم ؟! هغوی دداسې يـوهٔ نـامعلوم شـي حال غوښتهٔ چې خپله يې هم پرې نـوم نـهٔ شواېښودلای. زهٔ حيران وم چې څهٔ ورته ووايم ؟! ډېـرو وهلـو ، ټکولـواوډول ډول ځورونـو او تعذيـب نـه وروسـته يـې

باګرام او بیا ګوانتهنامو ته راولېږلم . داډول کیسې ډېرې زیاتې دي چې ځینې به یې دېلګې په تو ګه په ځینو ځایونو کې وځېږو خو دټولو لیکل لۀ دې امله مناسب نۀ بولو چې داکتاب به ډېر پنډشي . خو د مضامینو پۀ مختلفو او ګڼو شکلونو به یې ان شاء الله دورځپاڼو او مجلو لۀ لارې خپرې کړو چې راتلونکیو پرګنیو لۀ پاره دپندتاریخ شي .

استاذ بدرالزمان دباګرام کیسه داسې کوي : دطیارې نه دکوزېدو په وخت کې ماته دوه خبرې ذهن ته راتلې: یوه داچې ددې دومره لږ مزل نه وروسته دطیارې کوزېدل یاپه بحري بېړۍ کې دي چې دکراچۍ دبندرګاه سره نږدې ښودل کېده اوبله خبره مې داهم اورېدلې وه چې دکراچۍ زوړ هوایي ډګر یې هم امریکایانوته ورکړی دی نوکیدای شي چې هلته مونږ یوسي اویاهم دکیوبا پۀ لارې چېرته دمه جوړوي. خوچې کله مې په غوږونوتېزه یخه هواولګېده نو شک مې پیداشو چې چېرته افغانستان نه وي؟ ولې چې دکراچۍ موسم په ژمي کې هم نرم وي دې چورتونوکې وم چې عسکرو دطیارې نه لږ مخکې په ځمکه کېنولم .مانه مخکې یې ځوک کېناوه، زما مخ یې دهغه په ملا ولګاوۀ اوزما په ملایې دبل چامخ ولګاوه. ددرې واړو متې یې په یوۀ ډبل مزي وتړلې اودرې واړو متوته یې ولونه ورکړل دېرې یوسر یو عسکر اوبل سر یې بل عسکر په لاسونو کې ونیول اود get up (پورته شئ) چغه یې ووهله .

هواډېره یخه وه اوپه هوایي ډګرکې دطیارو آوازونه اورېدل کېدل . خصوصاً دځرخکو آوازونه ډېر وو په دغه یخه هوااودشپې په آخري

پـارکې يـې مونـږ تـه پـه پلاستيکي ولچکـو دتـړل شـوو پښـو اولاسونو دتېـزې مـنډې وهلـو امـرکاوۀ تېـزې چغـې يـې وهلې . move hurry up تېـز شـئ، حرکـت وکـړئ. لـه بـده مـرغـه مـا دپېښـور دکوټنـيونـه دراوتوپـه وخـت کـې دخپلو څرمـنود څپليو وندني هم نه ووتړلي. ځکه چـې مونـږ خويـې دتحقـيق پـه نـوم را ايسـتلي وو . اوس نوپـه خلاصـو څپلـيـو کـې پـه تړلـو پښـو مـنډه هـم ډېـره مشـکله وه خـو دموجـودو عسـکرو ټيم بـه همدا يو غږکاوۀ چې move hurry up يوځل دوه خومـې لادعربـي جملـه واورېـده ، وروسـتـه بـيا معلومـه شـوه چـې امريکايـي عسـکرو تـه يـې ځيـنې جملې ښودلې دي. دوی به چغه کړه (( يـا الله ياشباب)) دغه دتکليف وخت کې دې جملې ډېر خوندوکړ او حيران يـې هـم کړم چې ددې جملې زده کولوته دا امريکايان چا اړکړل ؟! وروستـه پـه باګرام کـې مونـږ ولـيدل چـې دازغن تار دننه بنديانوته مخـامخ دفارمـيکايوه سپينه تختـه لګېدلـې وه چـې پـه هغـې بـه يـې لـنډې عربـي جملې پـه انګريـزي حـروفو لـيکلې وې اوعسـکروبه ورتـه وخت پـه وخـت مـراجعه کولـه لکـه : Min Aina Anta, Ma Ismuka وغيـره وغيـره .

پـه هرصـورت مونـږ تـه يـې تقريـبا پـنځلس دقـيقې مـنډه راکړه ؟ يو ځـل نـيم دڅـرخکي دڅـرخ هواپـه مونـږ ولګـېـده . يوځـل دکومـې بلـې طيـارې څنـګ کـې تېرشـوو پـه مونـږ ديخـې هوا پـه منځ کې دګرمې هوا يـوه څپه هـم راغله او آخريـې يوداسـې سالون ته وردننه کړو چې ناڅاپي موغـوږونـه تـاوده شـول . کـه څه هـم مونـږ پټـې سترګـې اودلاس اوپښو نه يـې هـم تړلـي وو خـوپـه سختـې يخنـۍ کـې ناڅاپـه تودځای تـه ننه ايستـل

ډېر ښه پرېوتل . بل مو په تکليف کې له منډې وهلو وروسته دمه هم وکړه . که څه هم مونږ يې ډېر په غير انساني توګه په ځمکه وغورځولو اويو دبل دپاسه ډېرى شو ...... په دې سربېره يې د Don't move and be quite. ( حركت ونكړئ او خاموش اوسئ ) اوازونه هم کول .

تقريباً پنځه دقيقې په دغه حال پراته وو چې يو کس راغی ، په مايې لاس کېښود اود" انګلش " غږيې وکړ زه خاموش وم او بيايې د Do you speaking ايا ته په انګليسي پوهېږې؟ غږ وکړ اوله بده مرغه ماورته د Yes ( بلې ) ځواب ورکړ بيايې زما دځنګ په ملګرو لاسونه کېښودل . زماد ملګرو نه يې هم د انګلش، پښتو، فارسي او عربي ژبو د پوهېدو پوښتنې وکړې. مسلم دوست صاحب ورته دعربي، پښتو او فارسي په هکله مثبت ځواب ورکړ او حاجي ولي محمد ورته پښتو اوفارسي وربهٔ ګوته کړه. اوس يې نو زمونږ دمتهو پړي خلاصول پيل کړل او هر يويې بيل بيل ځای ته بوتلو وروسته معلومه شوه چې مونږ ټول يې بيلې بيلې کوټې ته دتالاشۍ، طبي معاينې اود کاليو تبديلو لو له پاره وړي وو. مانه يې خپل ملي لباس کميس او پرتوګ ، يو پکول يو ګرم پټو او يوه جوړه سرې چارسده والې دهايي کورم فرمايشي جوړې شوې څپلۍ واخيستې اوپه بدل کې يې راته هغه کځوړه راکړه چې کميس او پرتوګ يې يو وي اوپه انګريزۍ کې ورته jumt suit وايي تېز آسماني رنګ يې و چې زمونږ په مخکې به يې د پېښور په محبس کې هغو بې وزلوعريانو ته وراغوستې چې په کومه شپه به يې په هوايي ډګر کې

امریکایانو نه تسلیمول. دغه لباس زمونږ په ملک کې یوازې د لاریو موټرو میخانیکانو یامستریانو اغوست خو زه هم ورسره په ژوند کې په لومړي ځل مخامخ شوم. ددې په څنګ کې یې د وړیو جوړې شوې هغه خولۍ چې مونږ یې عموماً ماشومانو ته ورپه سر کوو هم راکړه. یوه جوړه وړینې لاسکشې یې هم راکړې اویوه جوړه هغه ارتې جرابې یې هم راپه پښو کړې چې د لیمځي په شکل جوړې شوې وې، له همدې امله یو کچ وې او د تنګېدو او ارتېدو وړ نه وې. بل کار یې داوکړ چې زما دلاسونو نه یې پلاستیکي ولچک دیو امبور په ذریعه پرې اولرې کړل په ځای یې فولادي ولچک راوتړل اود تړلو په مهال هم زما هرلاس بیل بیل عسکر مظبوط نیولی وُ، په ډېره وېره وېره یې زمالاسونه راوتړل اوچې کله یې زما پښو نه بېړۍ خلاصې کړې نو پاس اولاندې یې راته په وېرې وېرې وکتل او ویې ویل : Cooporate ( مدد وکړه ).

ـ څه کومک وکړم.

ـ مهرباني وکړه! د پښو تړلو په وخت ونه خوځېږې اود سپینې کرښې د چوکاټ نه دباندې ونه وځې.

ماچې لاندې وکتل نو ریښتیا هم دلویې کوټې په منځ کې د دوو ګوتو په اندازه پلنه پټه په سپین رنګ جوړه شوې وه چې زمانه ګېر چاپېره یې مربع جوړه کړې وه اوددغه یو متر مربع په منځ کې زه ولاړ وم. کله یې چې دطیارې دټول سفرنه وروسته په لومړي ځل زه دغه مربع کې اودرولم او زمادمخې نه یې بوجۍ اخواکړه نوماولیدل چې مانه ګېر چاپېره دولس کسان په نظامي او ملکي

دربشيو کې ولاړ دي. او له پوښتنه يې داوه :? Are you militant (اياته نظامي شخص يې؟) کله چې زما ځواب منفي و نوبيايې وپوښتل چې:

ـ نوځه کار کوې؟.

ـ زه په يوکالج کې استاذ وم او ورسره مې صحافتي کارونه هم کول . .

زه پوه شوم چې کله دوی پوه شوو چې زه نظامي سړی نه يم نو دوی هم زړور شوو او زما په سينه يولوړ مضبوط ډاکټر Static cope کېښود. ډاکټر مانه زمادصحت په باره کې پوښتنې کولې اويو عسکر زما لباس تالاشي کاوه.

زمادځنګ په جېب کې يودوه ګولۍ لاس ته ورغلې زر يې هغه ډاکټر ته راوړې کله چې د آی ايس آی په کوټنيو کې د مصالحه دا ر ګړوبي ، مرچکو او سويو چپاتو نه زما معده ډېره خرابه شوه اوله خوراکه پرېوتم نو هغوی ماته د نظامي روغتون CMH نه د Zintac په نوم ګولۍ راوړې وې چې دستي يې ماته لږ آرام راکړی وُ دهغوی دغه ګولۍ اود مسلم دوست صاحب يوځه دوايي يې په مونږ باندې ځو ځو ځل زيات کړه چې ګنې مونږ تاسوته مفت سرکاري علاج کوو خو بيا معلومه شوه چې هغه يې هم زمونږ د جېبونو په پيسو اخيستې وه. د باګرام د تفتيش په کوټه کې ولاړ امريکايي مانه پوښتنه وکړه :

ـ داګولۍ دې کوم ځای نه راوړې.؟

ـ محبس کې يې راکړي وې.

_ داڅه له پاره خورې ؟.

_ د معدې تکليف لرم.

_ داڅه فائده درکوي ؟.

_ لږه ډېره .

ډاکټر څه لیکل ځان سره شروع کړل اوزه په دې فکرکې شوم چې داګولۍ څنګه زما په جېب کې پاتې دي ځکه چې زمونږ د کورونو او جېبونو صفايي خو آی ایس آی کړې وه اوهيڅ نقد او جنس يې نه دي پرې ایښي نوداګولۍ څنګه پاتې دي؟ بیامې ځان په دې قانع کړ چې شايد داګولۍ به يې دې له پاره پرې ایښې وي چې امریکايانو ته وښايي چې دوی بنديانوباندې لګښتونه کړي دي اوډالرترې واخلي. واه واه ! دادوه ګولۍ اود آی ایس آی هغه ټولې دسيسې او فرېبونه چې افغانانو ته يې جوړوي؟!هغه سياسي قتلونه.... زه دامریکايي تفتيش په کوټه کې په يو متري چوکاټ کې ساکن په غم کې ولاړ يم اوهغه هم د آی ایس آی د لاسه او بیا زما د څنګ په جېب کې قصداً او عمداً دوه ګولۍ پرېښودل زمايه شونډو هماغه ترخه موسکا راوړه دکوم په هکله چې عبدالحميد بابا وايي :

لکه سرد پسه په اور غـــاښونه سپين کا
مالــه نن له ډېـــــره غمه خندا راغله

په هرصورت په پښو او لاسونو د فولادي ولچکوله تړلو وروسته يې زه بلې کوټې ته بوتلم او په عسکرو سرېبره دوه سپين ږيري امريکايان وو چې وړې وړې ږيرې يې هم درلودې. اويو هم د وړې ږيرې خاوند ځوان مظبوط امريکايي چې ټول په ملکي لباسونو کې

وو زه اودرولم او لۀ مايې پوښتنې پيل کړې. داوړه کوټه وه ټولو ماته ډېر په زير زير کتل او مظبوط ځوان چې سوالونه يې کول بيا بيا ماته ويل چې زماسترګو ته ګوره او بل خوامه ګوره. د دوی هم اول سوال داؤ.

_ Are you militant ? (اياته نظامي شخص يې؟) _؟

_ نه زه استاد او صحافي يم .

_ اياته کيميا دان هم يې ؟

_ نه زه دکيميا په الف ب هم نه يم خبر. ما اجتماعيات لوستي دي.

_ په اجتماعياتو کې دې څه لوستي ؟.

_ د لسانس په دوره کې مې سياسي علوم اوژبې لوستي اوماستري په انګليسي ادبياتو کې لرم.

_ نور څه کار کوې ؟

_ دجامو وينځلو د صابون د عمده فروشۍ دوکان لرم او ور سره ورسره د قيمتي کاڼو په کار کې هم همکار يم.

_ کوم مليت لرې؟ .

_ مونږ افغانان يو خو لـه ډېرشو کالو راهيسې په پاکستان کې اوسوو.

بس په دغه کوټه کې همدا پوښتنې وې ويې ليکلې اوماته يې وويل چې لاړ شه اوس به تا دخپلو اوسېدو ځای ته يوسوو اوسبابه بياخبرې کوو.

له دې وروسته يې زه يوځ داسې ځاى ته وردننه کړم چې يو ډېرلوى سالون وُ. ددغه سالون يو اړخ ته د دوه چته کوټو کتاروُ چې په لاندې چت کې يې سامانونه ايښي وو اود پاس چت کوټې دخصوصي بنديانو ، تحقيق اود محققينو د ناستې ځاى وُ . دغه کوټوته دسالون دواړو سرونو ته پوړۍ ورختلې وې. چې د ټرلو ښنو دبېړيو سره به ورباندې ختل ګران وو خودبنديانو ناکام وُ .

د سالون لاندې او غټه پراخه برخه کې يې تقريباً دولس متره مربع پنځهٔ خانې جوړې کړې وې چې د ځمکې نه خورې ګوتې پورته يې د لرګو چوکاټونه ايښي وو په هغې يې دلرګي تختې مېخ کړې وې اودهغې د پاسه يې خړفرش ميخ کړى وُ. هلته د نارينه وُ دژمي دپټو په اندازه نرۍ شړۍ هم پرتې و ې چې د يخنۍ د کمولو دپاره کافي نه وې او هرې خانې ته د ننوتو له پاره دوه دوه دروازې هم وې. چې د ننوتو پرمهال په اوله دروازه د ننوتونه وروسته دغه اوله دروازه بنده شوه نو بيابه يې دننه دويمه دروازه دپړي راښکودو په واسطه خلاصه کړه او بېرته به يې هم دپړي د راښکودو په واسطه بندوله زه يې هم دمنځ خانې ته ور دننه کړم اود ولچکو سره يې پرېښودم يو دوه بنديان نور هم وو .

زه چې د ISI په تيارو ، لمدو او يخو کنکريټ کوټنيو کې دوه مياشتې او دوه ويشت ورځې پاتې شوى وم اوپهٔ دغه شپه يې هم راته څوساعته سترګې ترلې وې پهٔ لومړي ځل راته په يو پراخه سالون کې په وچو تختو ناسته عجيبه ښکارېده . زر زر مې په سالون کې ګير چاپېره يوځغلنده نظر وګرځاوهٔ.په سالون کې دټولو نه عجيب شي

دامریکاېې بیرغ رازوړندۀ شوې غتهه او پلنه توټه وه دې سره څنګ کې بل کوم بیرغ نهٔ وُ.

وروسته مونږ ته معلومه شوه چې داد روسانو دوخت جوړ شوی د کارګویا د هوایي ډګر دسامانونو ګودام وُ چې پاس د چت لاندې یې د سامانونو د خېژولو او کوزولو لـه پـاره یو متر لوړ لوړ تیران هم لګولـي وو اوددغـه سـالون پـه اړخ کـې کوټـې د ګـودام د مامورینو کوټې وې .

د بندیانو د غټو خانو -چې ازغـن تارونـه ترې تـاو وو- شاته هم څه خالي ځای معلومېده چې دماشینونو دومره تېز غرار ترېنه راته چې خبره سمه نـۀ اورېدل کېده. پـه سـالون کـې یـې درېـا لـه پـاره داوچتې پـایـې غـټ بـرقونه لګولـي وو چـې بـیـخ کـې یـې تېـرونـه هـم درلـودل اویـو انجـن غونـدې هـم وُخودغـه بـرق تولیدونکي مشین څه خـاص شـور نـه کـاوُ بلکه شور ټول دهغه مشین وُ دکوم نه چې یې یو غټ پلاستیکي پایپ دبندیانو د درېـو خـانو ترمنځ تېرکړی وُ اود امریکایانو دعوه داوه چې دامونږ د حرارت پیداکولو لـه پاره لګولی چې د بندیانو یخني کمـه کړي. بې شکه چې پایپ پخپله تـودوُ خودسالون د یخنۍ کمولو کې یې کوم کومک نه کاوه بلکه دشور د زیات والي لـه امله مونږ دپاره یو نفسیاتي تعذیب وُ.د بندیانو د هرې خانې پـه آخرکې چې تقریباً دولس مربع متره وه او تر شلو پورې کسان په کې ځای کېدل دتارکولو غټ ډرمونه په منځ پرې شوي وو ، پـه یو وېلډ شوي اوسپنیز چوکاټ کې ایښودل شوي وو او د ډرم د اخوا کولـو پـه وخت کې دعسکرو د غیر حاضرۍ او غفلت په صورت

کې بندیانو کولی شول چې ماشینونو اود بندیانو دخانو ترمنځ د اوسپنیز دېوال شاته پټ شي اوپه تېښته کې بریالي شي. زمونږ خو باګرام کې وخت کم و ٔ کیوباکې خبرشوو چې دوه کسانو له همدغې لارې د تېښتې کوښښ کړی و ٔ او له بیرته راګېرولو وروسته امریکایانو په وهلو وژلي وو. د خوست د ډاکټر خاندان په قول یې یو بندي د بندیانو په مخکې دومره وواهه چې دخولې نه یې وینه قی کول شروع کړل او مړشو. بیا عسکرو بندیانو ته مخ راواړاوه چې که څوک دتېښتې کوښښ وکړي نو حال به یې داوي. خوسره ددې " سپر پاور " اودهغې د متحدینو او افغاني ګوډاګیانود پیرو اوطیارو، الله پاک سږکال د ۲۰۰۵، کال د جولای میاشت کې څلورو عربانو ته دهمدغه باګرام د بندنه نجات ورکړ.

داو دباګرام د بند دهغو ورځو ظاهري صورت اوس راځو زمونږ او دامریکایانو ترمنځ خبرو او تحقیق ته. دشپې په اخري پارکې چې کله زه د ازغن تار لرونکي دېوال کې دننه ورننوتم نوماسره راغلو عسکرو راته وویل چې تاسې اوس دلته ارام وکړئ. سهار به تاسوته خوراک راوړو. دې کې ګورم چې مسلم دست صاحب هم په کڅوړه لباس کې زولنې په لاس اوبېړۍ په پښوکې ورینې دستانې په لاسونو او ورېنه خولۍ په سر اود سپین رنګ دلیمڅي جرابې په پښو را روان دی، زه دې منظر ډېر خفه کړم. مسلم دوست صاحب ماپه دې لباس کې نه شو زغملی. ریښتیا هم غم سره انسان عادي کېږي اوچه څو ورځې تېرې شوې اول به مې دبندیانو لباس ته وکتل اوبیابه مې ځان ته وکتل نو ځان به راته سم کارټون ښکارېده او کله به خنداهم راغله.

دمسلم دوست صاحب پسې یې حاجي ولي محمد هم راوړ اومونږ ته معلومه شوه چې مونږ سره یې په یوه طیاره کې د پېښور نه راوړی وُ. ماد ډېرې یخنۍ نه په ځان نرۍ شړۍ راواچو له یو طرفته یخني اوبل طرف ته زولنې لاس اوپښې. ستکوری راغونډ شوم. په دې کې چا وخوځولم چې پاځه دلمانځه وخت دی چې سرمې پورته کړ دځنګ په خانه کې یو عرب آذان کاوه چې دماشین د آواز له کبله ډېر تت اورېدل کېده .

زیاتې خبرې به په اشارو کېدې. ماعسکر ته د اوداسه دپاره داوبو اشاره وکړه اوهغه دنفي اشاره وکړه. دځنګ خانې عرب چې مونږ نه یې ډیر وخت دلته شوی وُ او لاس اوپښې یې هم خلاصې وې ماته د تیمم اشاره وکړه اوددغه ځای نه د درې میاشتو دپاره تیمم شروع شو. مونږ ته به یې فقط دځښلو اوبه راکولې او هغه هم په اندازه. او به پلاستیکي بوتلونو کې وې د کویت **Rawzatain** روضتین په نوم کمپنۍ تیارې کړې وې .

دلمانځه پهٔ وخت کې مې دوه نوي کسان په خپله خانه کې ولیدل . وروسته رامعلومه شوه چې یودغزني مولوي عبدالحنان دی اویو هم دمزار ملا محمد شریف وُ دواړه یې دپل خمري نه راوړي وو او مونږ سره یې دملا آذان نه مخکې اچولي وو. دواړو باندې یې ډېرې خرېلې وې کهٔ څهٔ هم ددوی شکلونه بدل شوي وو اوداسې نهٔ ښکارېدل چې دابه ملایان یادطالبانو دتحریک کسان وي خو دشمالي اتحاد کسانو دپښتونولۍ په جرم نیولي او امریکایانو ته یې ډېر غټ

معرفي کړي وو. هغوی وویل چې اول یې ترې دپیسو مطالبه کړې وه اوچې پیسې یې نۀ درلودې نو په امریکایانو یې خرڅ کړي وو.

همدغه عبدالحنان ماته سباته ( زمادپوښتنې په ځواب کې ) پټ وویل چې مونږ باګرام کې یوو.

دسهار د لمانځه نه وروسته نورو خانو کې بندیانو تلاوت پیل کړ اومونږ چې قرآنونه نه درلودل غلي ناست وو اود سهار اذکار مو پیل کړل. کله به چې مونږ یودبل سره دخبرو کولو کوښښ کاوۀ نوپه پیره ولاړعسکر به راته په شونډو دخاموشۍ ګوته کېښوده.

سهار شو اوپه لومړي ځل دامریکایي خوراک سره مخ شوو. هغوی مونږ تازه راغلیو پنځو بندیانو ته یو یو ګیلاس د هګیو یخني راوړه مونږ چې د ISI په جېل کې دمسالو د ګړوبې نه تنګ شوي وو داراته ډېره ښه پرېوته. وروسته یې بیا دحلال په نوم پاکټي خوراک یو وړوکی ډبی ممیز اوځۀ بسکټ د افغاني نانبايي نیمې ډوډۍ سره راوړل چې همدا زمونږ دوه وخته اوکله کله درې وخته خوراک وۀ.کله کله به یې ورسره یوه مالټه یامڼه هم راوړه.دسهاردناشتې په وخت اوپه اول تحقیق کې دمحقق له خوادنان بايي افغاني ډوډۍ اویوه پیاله ګرم تورچای چې پخپله یې هم خوړل ماته شک پیداکړ چې مونږ افغانستان کې یو.خو مادامریکایي نه پوښتنه وکړه چې مونږ کوم ځای یو؟ هغه وویل چې ته څه فکر کوې ؟ . ماورته عارفانه تجاهل سره وویل چې آیامونږ په امریکاکې یو هغه وویل چې نه ( **you are not in America but you are in American hands.** ) ته په امریکاکې نه یې خوپه امریکایي لاسونو کې یې . ) او ورسره یې

دغـه ورانـې ويجاړې کوټې تـه لاندې بـاندې وکـتل يـوه تمسخرامېزه خـنـدايـې وکـړه اوويـې ويـل: ( Is America Like this? ) (ايـا امريکا داسې وي . ) بيايې وويل چې ايا تاامريکاليدلې؟ ماوويل: نه . نوبيرته يې سوال وکړچې نوانګرېزي دې چرته زده کړې؟ مـاوويل چې پاکستان کې . دغې خبرې ته هم هغوی دشک په سترګه کتل .

همدا وجـه وه چې کـه يـو طرفـتـه زه په انګرېزي د پوهېدلو لـه اِمله دغلطو ترجمانانودضررنه بچ وم خوبـل طرفته به امريکايانو ويل چې تـا ضرور سفرونه کړي. يورپ او امريکاکې پاتې شوی يې خومونږ نه داخبره پټوې . په دې ارتباط يې پوښتنې کولې خوبې ځايه .

لـه دې مکـالمې وروسـته کلـه چې پـه همدغـه لومړي تحقيق کې مادامريکايـي نـه پوښتـنه وکـړه چې آيـا مونږ پـه افغانسـتان کې يـو نوهغـه وويـل چې بلـې اوبـيا يـې دافغانـي نـانبـايې ډوډۍ چـې دتوروچايوسره يې پـه خوړوبوخت وُ راپورتـه کړه اوماته يې وويل چې آيـاداډوډۍ بـل ځـای کې پيـداکېږي ؟ مـاوويل چې زه نه يم خبر بيايې ووېـل چې داډېره ښه ډوډۍ ده زمونږ وطن کې هم افغانان داپخوي او زماهم ډېره خوښه ده .

دناشـتې نـه وروسـته يـې دټولـو مخکـې زه تحقـيق تـه پـه همدغـه سـالون کـې د دوهـم چـت کوټوتـه پورتـه کـړم. زه يـې د ډېـرو کوټـو نـه تېرکړم او تقريـباً دسالون د منځ .. کوټې ته يې ننه ايستم دوه عسکرو لـه مټـو نيولی وم اويوکـس راتـه مخکې وُ. يـوه کوټـه چې همېشـه بـه ورتـه محققين وتل ننوتل په هغې په انګرېزۍ کې **Blood and soul** ( وينه او روح ) ليکلي وو. زه تـر اوسه پوه نه شوم چې ددې څهٔ مقصد

ؤ. خودومره پوهېدم چې داد محققینو دناستې ځای دی، تحقیق نه محققین له همدې خونې راووځي اودبندیانو ټولې دوسیې هم دغلته ساتي. دبندیانو په اجتماعي خانوکې یې په یوې Pentagon پنتاګان، په دوهمې Kamia of Tanzania کینیا او تنزانیا اوپه دریمه خانه یې لیکلي وو It will help ۱۱,September . یعنې دابه دیوولسم ستمبر دحملې یا حالاتو سره کومک وکړي.

په هر صورت زه یې د " وینې او اروا " د خونې ترځنګ خونې ته ننه ایستم په خونه کې دوه کسان ولاړوو او چوکۍ او مېزونه یې برابرول. پاتې دې نه وي چې داوخت د امریکایانو په باګرام کې فقط درې میاشتې شوې وې او دوي لاخپل نظام نهٔ ؤ برابرکړی. نو له همدې امله په باګرام کې زما دلومړنې تحقیق خونه هم ورانه ویجاړه وه. د روسانو دوخت نه وروسته بیا نه وه رنګ شوې شاته کړکۍ یې خلاصې وې ؛ د چاریکارو دغرونو په مورګې سپینې واورې ښکارېدې. اودسالنګ نه رارسېدلې یخه هوا هم زمونږ په ټټر رانوته. ډېره یخني وه اوزه دیخنۍ نه تنګ وم. محقق ماته په چوکۍ دناستې اشاره وکړه اوزه کېناستم.

دشخصي معلومات، تحصیل، سکونت او وظیفې نه وروسته یې رانه اول داپوښتنه وکړه چې ( دپېښور) په هوایي ډګر کې یې چې کله تاسې مونږ ته تسلیمولۍ هغه پاکستاني تاته څه وویل اوتاورته په ځواب کې څه وویل ؟ زه د واره پوه شوم چې زما اود ISI دپنجابي ترمنځه اخرنۍ مکالمه دوي اورېدلې. دپنجابي اخرنۍ جمله چې زماپه دماغ یې ډېر بد اثر کړی ؤ او هېڅکله به مانه هېره نهٔ شي

اوزړه مې غـواړي چې دغه پنجابي پيداکړم اوله ګريوان نه يې ونيسم اوپوښتـنه تـرې وکړم چې دڅه تمسخر لـه پاره تا داجمله وويله ؟! جمله داوه چې کلـه يې دپېښـور پـه هوايي ډګر زه لاس پـه لاس امريکايانو تـه ورسپارلم نـو يـو پنجابي چې زه يې د مټ نـه نيولی وم ــ ماتـه وويـل ( چلو الله تمهارے ساتھ هے ) ماورتـه پـه ځواب کې ووېل . الله تومیرے ساتھ هے لیکن الله آپ سے پوچھیگا ( الله خوماسره دی ليکن الله به تانه هم پوښتنه کوي ).

کلـه چې ماداخبره امريکايـي محقق تـه وکړه نو هغه سروځنډه او ويې ويـل. بـس ستاسو مسلمانان دي .زما اول امريکايي محقق چې خپـل نـوم يـې Antonio ښـوده څـو ځـل يـې راسـره تحقـيقونه وکـړل اوزمونږ د ژونـد کيسـه يـې واورېده. دهغوی زياتې پوښتنې دطالبانو او القاعده پـه ارتـباط وې چې زمونږ د معلومـاتو نه ډېرې لرې وې . هغـوی زمونږ دې معلومـاتو تـه هم دشـک پـه سترګه کـتل چې ګنې دمولـوي کبـير پـه شان د ISI ګوډاګيانو اولاسپوځو لـه لاسه مونږ په خپل ولايت ننګرهار کې هم نـه شو اوسېدی. هغـوی د انقلاب پـه تـاريخ کـې د ISI اودهغـوی د ګوډاګـيانو اود مجاهديـنو کيسـې اورېدې خو يوولسم ستمبر هغوی ګنګس کړي وو او ISI دهغوی په غولولو کامياب وو او دي.

ماسره داول تحقيق پـه وخت د لنډې ږيرې يوسپين ږيری محقق هم زماشاته ولاړ وُ او ځينې پوښتنې به يې کولې؛ وروستـه هم څوځل زما تحقيق تـه راغی.

خویوځل یې ځان سره یو بل عمر رسیده محقق راوړ، هغه وویل چې مادویتنام په جنګ کې هم اشتراک کړی او کافي تجربه لرم. هغه به دخبرو په وخت ماته دمخامخ کتلو امرکاوه. هغه داهم وویل چې عربي کې متل دی چې د اوبو یو ډک لوښی په سر ډېر وخت کېږدې نو اخر یې اوبه په مخ راتویېږي. معنی داچې کوم معلومات زه په سرکې لرم دوخت په تېرېدو به هغه زمادخولې نه راووځي. هغه په عربي ډېر ښه پوهېدهٔ خو هغه بې ځایه هرڅه ته دشک په سترګه کتل.

یو عربي ترجمان چې د ایلای Elai په نوم یادېده هم ماسره مخ شو هغه د مسلم دوست صاحب ترجماني کړې وه اوماته یې وویل چې دمسلم دوست صاحب تحقیق ډېر ښه روان دی. هغه مسلم دوست صاحب ته ویلي وو چې هغه عرب نصراني دی، امریکایانو سره دځو کالو راهیسې په پوځ کې کار کوي اود نصرانیت سره سره امریکایان هغه ته دعربیت په وجه دشک په سترګه ګوري اودمیرې مور سلوک ورسره کوي. زماپه باګرام کې نهه تحقیقونه وشول اوپه اخري تحقیق کې ماته خپل محقق Antonio وویل چې اوس یوسړی راځي چې ستا په هکله پوره معلومات لري اوکه ته ریښتیا ونه وایې نو هغه به ستا په هکله منفي نظر ورکړي اوزه پهٔ هغه څهٔ اختیار نه لرم دا د محقق یو تکتیک وُ چې په کار یې اچاوه. ما ورته وویل چې ماسره هیڅ نه دي پاتې ماتاته دخپل ژوند ټوله کیسه وکړه نور څه غواړې؟ اوکه څوک زما په هکله معلومات لري رامخامخ یې کړه زه یې کومه پروانه لرم.همداوو چې یو مظبوط ځوان راغی چې برش ږیره

يې درلوده اود وېښتانو رنګ يې هم عجيب و. وېښتان يې خړوو چې لړ لړ سوروالی يې هم درلود داسې ښکارېده لکه مصنوعي چې يې وېښتان رنګ کړي وي. سترګې يې تکې شنې وې چې بل هيڅ يو رنګ پهٔ کې نهٔ ښکارېده. داسې معلومېده چې لېنزونه يې پهٔ کې لګولي وي. دغه سړی عضلاتو نه داسې معلومېده چې ښه ورزش کار وي هغه هم دنورو محققينو په شان ملکي يامدني لباس کې ؤ دغه سړی ماته مخامخ ښي لاس ته په چوکۍ کېناست او محقق Antonio مې چپ لاس ته مخامخ کېناست يو دوه عسکر هم مسلح ولاړوو.

آخرنې تحقيق کې Antonio مانه زمونږ دعايد او کاروبار په هکله پوښتنې کولې او آخر اصل موضوع ته راغی. او ويې ويل چې داسړی معلومات لري چې تاسود الوفا په نوم يوې موٴسسې سره کارکوئ . زه ددغه نوم سره په لومړي ځل مخامخ شوم ماځواب ورکړچې دغه موٴسسه خوزه نه پېژنم. هغوی وويل چې ته دروغ وايې ته قسم وخوره چې ته داموٴسسه نه پېژنې . ماچې هرڅومره فکروکړ هسې نه چې زه حانث شم فکرته څه رانه غلهٔ له ډېر فکر وروسته د آزاد افغانستان دليکوالو ټولنه راپه زړه شوه چې څه وخت به زه هم ورسره ارتباط کې وم نو دغه ټولنه د Wafa په نوم يادېږي چې د Writer Union Free Afghanistan مخفف دی. سمدستي مامحقق ته وويل چې زه خود وفاپه نوم د افغاني ليکوالو يوه ټولنه پېژنم نه د الوفا په نوم. هغه وويل چې نه داد ليکوالو ټولنه نه بلکه يوه موٴسسه ده چې په افغانستان کې کارکوي. وروسته کيوباکې

مونږ ته معلومه شوه چې دالوفا په نوم دعريانو يوه خيريه مؤسسه په افغانستان کې کارکو ي چې خيريه کارونه يې کول اودهغې دمسئو لينو سره هم مونږ مخ شوو. دغه آخري تحقيق تقريباً يوساعت دوام وکړ خوډېره عجيبه داده چې ددغه پوره يوساعت پر مهال د محقق ترځنګ نوي سړي مسلسل ماته کتل او يو ساعت دده سترګې رپېدل ما محسوس نه کړل. دبدن يوه حصه يې هم نه خوځېده هيڅ قسم د ژوند اثارېئ کې نهٔ ليدل کېدل فقط ديو بوت په شان زمامخې ته ناست وٴ او سترګې يې په ماکې راخښې کړې وې. وروسته نورو تحقيقونو کې مونږ ډېر کسان د محققينو ترځنګ وليدل او مونږ پوهېدو چې رواني ماهرين دي خو هغوی به فقط غلي ناست وو. نه يو ساعت مسلسل ساکن ! وروسته ځينو نورو ملګرو چې تعليم يافته خلک وو او همدغه سړی ورسره تحقيق کې مخامخ شوی وٴ وويل چې دغه سړی د **Mind Science** يعنې د علم النفس دهغې څانګې ماهر دی چې ددماغ يا فکر لوستلو **Mind reading** اود مخ د علامو لوستو **Face reading** په واسطه دروغ او رېښتيا معلوموي.دعلم النفس دغه څانګې ټيلي پيتي **( Telepathy)** اومسمريزم ( **masmarisum**) بلل کېږي چې دنظر دارتکاز په زورهم معلومات لاسته راوړي اوکلک اوجامدشيان هم ماتوي.

ضرور نه ده چې دوي دې سل په سلو کې بريالي وي ځکه چې مونږ د رېښتيا ويلو سره سره کيوياته ولېږل شوو.

ماسره د آخرني تحقيق په وخت کې زما محقق **Antonio** يوځل څان هم عصبي کړ، زما دوسيه يې په زوره په مېز ويشتله اوويې

ویل چې ته هم دخپل ځان په هکله دومره معلومات نۀ لرې لکه مونږ یې چې لرو. ماورته وویل :هغه څه چې ته یې لټوې هغه خو ماسره نشته خوداځنګه کېدای شي چې ته زماد ژوند نه زما نه زیات خبرېې؟! زه ددې سوال په مقابل کې موسکی هم شوم. دې باندې هغه ته ریښتیا غصه ورغله؛ پنځه شپږ مسلح عسکر یې نور هم خونې ته راوغوښتل او ماته یې وویل چې که ریښتیا نه وایې نو اوس به درته معلومات وشي. ماورته وویل چې تاسې اوس هرڅه کولی شئ خوزما یوه خبره ده . ددې خبرې په آورېدو سره محققینو یوبل ته وکتل او دکوټې نه د اضافي عسکرو سره بهر ووتل. ماسره فقط دوه عسکر پاتې شوو. لږه شېبه وروسته یوعسکر راغی او نورو دوه عسکروته یې وویل چې دا بېرته خپل ځای ته بوزئ.

پاتې دې نۀ وي چې مونږ پېښور کې خپل کورکې نیول شوي وو اوزمونږ قضیه بالکل واضحه وه . دتحقیق په دوران کې به هم مونږ ته اندازه لګېده چې کوم سوال امریکایان زمونږ نه د سرنیولو له پاره کوي او کوم سوال د ملا حسین اخونزاده ( مولوي جمیل الرحمن) د ورېرونو د شیطانۍ په نتیجه کې منځ ته راغلی دی؟ محققین هم په دې پوه شوي وو چې مسئله څۀ ده؟ خود ISI دحرام زادګانو اود اخون زادګانو د مسلسلې شیطانۍ په نتیجه کې مونږ کیوبا ته ولېږل شوو. خو الحمدلله زمونږ دقضیې دوضاحت او زمونږ د صداقت نتیجه داوه چې مونږ د امریکایانو له پلوه جسماني تعذیت سره نه یومخ شوي.د انتقال په وخت ټېل وهل، زنځیرونه او ولچک، ..... دنورو بندیانو په شان زمونږ په برخه هم وو. البته د

نورو بندیانو ځورېدل اود بند روحي فشار به مونږ هم زغملی وي. د کندهار او باګرام بدني او رواني تعذیب یوځانګړی بحث دی مونږ فقط ځوارلس ورځې باګرام کې تېرې کړې. نوله همدې امله مو ډېر څۀ ونۀ لیدل مونږ دبندیانو ټوله شپه ودرول، بې خوبه کول، دشپې دخوب په وخت کې دعسکرو دکوتکونو په فرش وهل، داوبو دپلاستیکي خالي بوتلونو په زوره په کوتکونو وهل،تېزه موسیقي لګول... دقرآن دوهم چت نه راغورزول، هره ورځ د تالاشی په وخت کې دقرانکریم په ځمکه په زوره ویشتل ، بندیان د تالاشی پۀ وخت کې په ګونډو کول اوپه سر دلاسونوایښودل زمونږ د سترګولیدلی حال دی.

په حاجي ولي محمد صراف په یخ ژمي کې یخې اوبه اړول اوبې خوبه کول هم زمونږ مخې ته دي. خوزمونږ نه وروسته چې کوم بندیان کیوبا ته راورسېدل هغوی په باګرام اوکندهار کې دبدني تعذیب ډېرې کیسې کولې چې( ۳۴) تنه هم د تعذیب لاندې مړه شوي دي. مونږ نه وروسته په باګرام کې Solatum یا انفرادي خانې هم جوړې شوي او نور ډېر مثبت او منفي اقدامات هم شوي دي. زمونږ په وخت کې په باګرام کې ډېره یخني وه. اود تودوخې هیڅ سرشته نه وه خو وروسته بیاټول سالون په ژمي کې ګرم ساتل کېده. ماباندې په ژوند کې دومره یخني نه ده راغلې لکه باګرام کې. دبند سالون چت هم دروسانو په وخت کې په میزایل سوری شوی ؤ اوباران به په کې ښکته راڅڅېدۀ. باګرام وروسته ترمیم شو او چې کله زه ۲۰۰۴ م کال داپریل په شلم راکوزېدم نو باګرام ډېر بدل شوی ؤ.

په باګرام کې د امریکایانو دوو خبرو زه ډېر حیران کړم. یوداچې مانه خپل محقق Antonio په ننګرهار کې زمونږ دکلي او هلته دپېښور نه دتلو راتلو پوښتنه وکړه اوما ورته وویل چې مونږ خپل کلي ته دمړي ژوندي اود پتې د حاصلاتو لاس ته راوړلو له پاره ځو راځو پهٔ دې خبره محقق ماته وویل چې آیا دپېښور نه هلمند ته تګ راتګ مشکل نه دی.؟! ماورته وویل چې هلمند ته مونږدڅهٔ له پاره ځو؟ هغه وویل :

ولې ننګرهار په هلمند کې نه دی ؟! ددې خبرې په آورېدو په ماسر وګر ځېده او ورته ومې ویل چې کهٔ ستاسو دغه معلومات وي نوتاسو خوبه خلک غرق کړئ .بیایې وویل چې زه به نقشه وګورم.

دوهم داچې باګرام کې زمونږ د قیام پرمهال دسره صلیب عمله دوه ځل باګرام ته راغله او هرځل به یې د صلیب د مامورینو محبس ته راننوتونه مخکې زه، مسلم دوست صاحب اوحاجي ولي محمد درې واړه د تحقیق کوټو ته وخېژولو، مسلح عسکر به یې راباندې پېره کړل ، دکوټې وربه یې بندکړ او دوه درې ساعته وروسته به چې دصلیب مامورین لاړل نومونږ به یې بیا اجتماعي خانوته راوړو. مونږ ته اول ځل هغه مهال پته ولګېده چې لاندې په اجتماعي محبس کې موجودو بندیانو ته سره صلیب کارتونه ورکړي وو اودلاس نه ورته امریکایانو د دوسیې د نمبر پټې یا SN:No تړلې وې. وروسته چې کله مونږ د سره صلیب سره مخامخ شو نو هغوی وویل چې مونږ پهٔ دې پوه وو چې څه خلک یې مونږ نه په خونو کې پټ کړي خو مونږ څهٔ نهٔ شو کولی. اصل کې ددغه

ماموړينو مقصد داؤ چې کۀ چرته مونږ د امريکايانو په نظر مهم خلک وختونو بايد چې دسره صليب په ريکارډ رانه شو، اودهغو کسانو سره ورک شوو کوم چې لا تراوسه ورک دي اود امريکايانو په مخفي جيلونوکې دي، چې په هغوی کې د القاعدې مشرانُ په اول صف کې دي. داهغه خلک دي چې امريکايان پرې هيڅ تبصره کول نۀ غواړي اونه اوس په ميډياکې په دولتي سطح څه ويل کېږي. عام اشخاص په هغوی غږيدی شي خود دولتونو پاليسي داده چې بايد په هغوی خاموش پاتې شي. داهغه خلک دي چې دنيولو نه مخکې استخباراتو په مرګ ياعمري قيدمحکوم کړي دي نوځکه دوی غواړي چې داد خلکو د اذهانو نه ووځي اود تل له پاره دخاورو لاندې شي. بله داچې د دوي ديادولو نه حکومتونو ته نور مشکلات پيدانۀ شي.

مونږ سره په کيوبا کې دمراکش يا المغرب يو بندي و چې ابو احمد المغربي نوميده، پاکستان ته د تجارت په غرض په وېزه تللی ؤ او دا هماغه کس دی چې د څلورو نورو کسانو سره پاکستان کې نيول شوی ؤ او چې کله يې د اسلام آباد په هوايي ډګر تسليماوه نو د ماسخوتن دلمانځه وخت ؤ دوي دلاسواو پښو نه تړلي وو او په سترګوپې ورته پټي تړلي وې دوي وويل چې کله مونږ د ISI مجرمانو نه د لمونځ کولو اجازه وغوښته نو هغوی اجازه نه راکوله ، نو مونږ مجبور شو او له اجازې پرته مايو ملګري ته وويل چې اذان وکړه هغه ښه په زوره آذان وکړ زه مخکې شوم اونورو ملګرو ته مې وويل چې ماپسې ودرېږئ چې جمع وکړو هغوی د سمت له معلومولو

پرته یودبل سره څنګ په څنګ ودرېدل د ISI مجرمانو راته خر خر کتل او یوځل یې راته وویل چې لمونځ مهٔ کوئ ستا سو اوس پرواز دی. هغوي د امریکایانو د طیارې منتظر وو ابواحمد المغربي وايي چې مونږ دهغوی د خبرو پروا ونهٔ کړه اقامت مو وکړ. اودفاتحې وروسته مې په اوچت اواز په قرآن کې د منافقینوپه هکله ایاتونه تلاوت کړل. ابو احمد وايي چې عجب منظر ؤ د ISI منافقین مسلح امریکایانوته منتظر ولاړ وو او مونږ ته په ترلو لاسونو او پښو دغه لمونځ ډېر خوند راکړ. د آي ایس آي بې ایمانه اوبې غیرتو مجرمانو کې دا وس نهٔ ؤ چې په زوره مونږ د لمانځه نه منع کړي. کهٔ څه هم مونږ یې په خولې د لمانځه نه منع کړي وو! هغه وايي چې وروسته امریکایي طیاره راغله او طیارې ته یې دخېژولو نه مخکې زمونږ په حضور پنځه ویشت زره ډالره یعنې سرې سرپنځه زره امریکایي ډالر ورکړل. هغه وايي چې د پیسو شمارېي زمونږ په مخکې کاوهٔ او مونږ اورېدل چې د امریکایي اخرنی جمله داوه:

"This Twenty Five thousand US Dollars" یعنې داپنځه ویشت زره امریکایي ډالردي همدغه ابو احمد وویل چې مونږ یې هم د سره صلیب نه پټ کړي وو. یوځل دسره صلیب عمله راغله اود باګرام په کومه خونه کې چې ابو احمد المغربي اوملګري يي وو نو ابو احمد د دروازې څنګ کې ؤ اود صلیب د عملې اودامریکایانو ترمنځ خبرې یې اورېدې. هغه وايي چې د سره صلیب کسانو د امریکایانو نه پوښتنه وکړه چې IS this door Purposely

closedيعنې ايا دا دروازه د څۀ خاص مقصد له پاره عمداً بنده ده؟ د امريکايانو ځواب Yes ( بلې ) وۀ.

ابواحمد المغربي وايي چې دهغه دګروپ په کسانو کې يې باګرام ته د راوړلو په وخت کې يوبندی ته په سترګه لغته ورکړه اوسترګه او مخ يې ورته شين کړ. هغه وايي چې دلغتې ورکولو په وخت يو امريکايي عسکر بل ته وويل : ته وګوره چې وړوکي عرب ته په سر لغته ورکول څنګه خوند کوي ؟!

باګرام کې زماد آخري تحقيق نه وروسته مونږ دوه درې ورځې پاتې شو. د مسلم دوست صاحب سره هم مختلف تحقيقونه وشول باګرام ته دارارسېدونه دوه ورځې وروسته يې مسلم دوست صاحب مانه ډېر لرې خانه کې واچوه، دهغه د تحقيق ترجماني مختلفو ترجمانانو کوله چې يو هم په کې د طالبانو د بهرنيو چارو د وزارت د تشريفاتو دشعبې مسؤل وۀ چې محمد قاسم حليمي نومېده. دمصر داظهر ديوهنتون نه فارغ وۀ اوپه ډېرو ژبو پوهېده هغه هم د مسلم دوست صاحب ترجماني کوله اويو ځل يې زه هم هغې خونې ته چې په دوهم چت کې وه اود مستنطقينو دخونې ترڅنګ وه ور وړم. هلته حليمي صاحب اويو بل عرب چې وروسته معلوم شو چې ايمن نومېږي دواړه ناست وو. خونه کې ګرمه بخارۍ ايښې وه اوزما ايله غوږونه ښه تاوده شوو. حليمي صاحب ماته وويل چې ته هم دهغه مولوي صاحب ورور يې چې د مدرسو اشراف کوي ؟ ما وويل چې کوم مولوي صاحب ؟ نو هغه دمسلم دوست صاحب نوم واخيست، ماپه اثبات کې ځواب ورکړ او هغه دګرم آبدان نه راته

دچای جوړولو ست وکړ. دغه ټول وخت به درې دقیقې وې اوهغه چې د تورو چایو یوه پوټۍ په ګیلاس کې کېښوده اوګرمې اوبه یې پرې واچولې عسکر راغی زه یې دمخ ته ونیولم او بېرته یې لاندې یخ اجتماعي محبس ته بو تلم. معلومه شوه چې زه یې فقط دغه دوو کسانو ته ورښودلم چې که مهم سړی یم چې غم مې وخوري. حلیمي صاحب په ترجمانۍ کې د مسلم دوست صاحب په شمول د ډېرو خلکو سره کومک هم کړی اود بُز اود باز کیسه هم دهغه په ذریعه حل شوې وه اوس قلم مسلم دوست صاحب ته ورکوم.

## د قندهار په لور

عریان یې مونږ نه مخکې یوه شپه دزندان دخانونه وایستل، ددالېز په منځ کې یې کتار په زنګنو کښېنول ، توري کځوړې یې سرونوته ورواغوستې، لا سونه یې شاته وروتړل او پښې یې هم وروتړلې. بیا یې په یوه لوی پېړمزي . چې پوځي رنګ یې وُ . یو دبل پسې دمتونه وتړل بیا دډېرانتظار نه وروسته داټول کتار پاڅول شو اوپه تنګو تنګو قدمونو وایستل شو مونږ یوه نه شوو چې هغوی چېرته بوتلل شول ؟ .

دیارلس ورځې وروسته په ۲۱\۱۲\۲۰۰۱ م یې یوه شپه مونږ پاتې لس دولس کسان هم دالېزته وایستلو، لاسونه یې شاته کلک راوتړل پښو کې یې زولنې راواچولې ، سرونو ته یې توري کځوړې راواغوستې سترګې اوغوږونه یې کلک راوتړل او دمخکنیو عریانو په ډول یې کتارپه زنګنو نو کېښنولو چې سرونه او ملاګانې مو منحني شکل کړې وې. څو ساعته انتظار مو وکړ ، بیا یوه ښځه

راغله بېرته يې داغزنو سيمانو خانو ته وردننه کړو او خپلو منځوکې يې وويل چې هوا خرابه ده دوړو الوتکو دالوتو وړنۀ ده اولويه الوتکه راونۀ رسېږده. سبا شپې ته بيا په همغه پروني ډول وايستل شوو ، وتړل شوو او بيا په يوه پړي او يو کتارکې يودبل پسې تړل شوي روان کړاى شوو ، داخل هم دالوتکې په زمکه په همغه ډول لکه چې پېښورنه باگرام ته راغلوو ، کښېنول او وتړل شوو او الوتکه ديوه نامعلوم پړاو په لور والوته. ځينو بنديانو گومان کړى وٴ چې گوانتهنامو ته وړل کېږو خو زما په زړه کې الله تعالې دا غوټه کړې وه چې قندهار ته وړل کېږو ؛ هماغه وو چې دڅو شېبو نه وروسته دقندهار په هوايي ډگر کې الوتکه ښکته شوه او کښېناسته. په هماغه ډول سختۍ يې ښکته کړو ؛ دشپې په تياره او دژمي په سخته يخنۍ کې ، په تړل شويو سترگو ، او زولانه شويو لاسونو اوپښويې دشگو دپاسه پړمخه واچولو. دوه درې ساعته همدغسې پراتۀ وواو هيڅ حرکت ته يې نه پرېښودلو بيا يې يويو په دوه امريکايي عسکروله متهو څخه ونيولو ، پايې څولو اووهل شويو تجيرونو ته يې دننه کړو ، هلته يې په ډېر تشدد په زمکه وايشتو او دباگرام جامې ( گډ کميس او پتلون ) يې په قيچي گانو راڅخه قيچي کړې ، لغړ يې اودرولو او يوه ډاکټره راغله زمونږ طبي معاينه يې وکړه اونارينه عورت باندې يې راته گوتې ووهلې .

بيا يې همداسې بربنډ بوتللو، گيرې ، سرونه او وروځې يې په زور او تشدد راوخريل. زمونږ لاسونه اوپښې تړلي وو سرمو واړاوۀ راواړاوۀ خوهيڅ مو له وسه پوره نه وو ، دانو دزندان په تهوله موده کې

ترټولو لوی روحي فشار وي. که دګيرې دهرتار په ځای يې يو يو ځل وژلي وای نو دامونږ لپاره ډېره آسانه وه. اوهغوی په دې پوهېدل. دګيرو خريل هم په ډېر وحشي اندازکې وو ماشين ته به يې ښه زور ورکاوه چې پوستکي يې هم راوګرول نيمې نيمې وروځې يې هم راوخريلې اودسراوګيرې ځينې برخې يې ګنجې ګنجې پرېښودې چې ډېر بد برېښېدل. داټول يې قصداً او عمداً ددې لپاره کول چې مونږ وځوروي، خفه مو کړي او روحي فشار راباندې راوړي. هغوی په دې پوهېدل چې داکار زمونږ ددين، عنعناتو، ننګ او غيرت سره لوبې دي. اودالاځه چې دانسانيت او بشريت خلاف دی بلکه دحيواناتو سره هم څوک په دې ډول تشدد نه کوي ...

بيا يې همداسې لغړ او برېنډ بوتللو، عکسونه يې زمونږ واخيستل، بيا يې توري کڅوړې راپه سرکړې، سترګې يې راوتړلې او همداسې تړلې سترګې اولغړ يې په زنځيرونو کې بوتلو، يوه محقق ته يې اودرولو اوپه ولاړه يې راڅخه تحقيق پيل کړ. يو بې ننګه افغان چې فارسي ژبې وي اوپښتو يې لړه لړه زده کړې وه په ماته ژبه يې راته دملنډو په توګه وويل چې: بيا افغانستان کې اوسېږې؟ ماورته وويل چې: هو افغانستان زما وطن دی او ستادپلار او ستا دباداراتو شخصي ملکيت نه دی چې ته ماترې منع کړې. بيا امريکايي راته وويل چې: کله تسليم شوی يې؟ ماورته وويل چې: زه تسليم شوی نه يم بلکه په پېښور کې په خپل کور کې پنجابي استخباراتو: (آی ايس آی) نيولی يم اوپه تاسو يې خرڅ کړی يم. دنوم، پلار نوم، ځای .... په پوښتنو سر بېره يې داهم وويل، چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



بندي لغړ او په سر کځوړه روان دی یو امریکایي عسکر سپی ور وشکي کوي او بل لغته ورکړې ده
دا ده دیموکراسي او دادي بشري حقوق!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library





بندي لغړ او په سر کڅوړه روان دی یو امریکایي عسکر سپی ور وشکي کوي او بل لغته ورکړې ده
دا ده دیموکراسي او دادي بشري حقوق!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library






امريكايان بشري حقوق دې ته وايي

(c) ketabton.com: The Digital Library




په وحشي ډول د بنديانو سرونه، ږيرې او وروځې خرييل کيږي

طالبانو کې دې څه دنده درلوده ؟ ماورته وويل چې ماطالبانو کې کارنه دی کړي. ترجمان پرته له دې چې امريکايي ورته ووايي . رابرګ شو اوراته ويې ويل چې رېښتيا ووايه . ماورته وويل: زه رېښتيا وايم اوتاغونډې ددرواغو دزده کړې کورس مې نه دی لوستی .....

بيا يو امريکايي عسکردښې تخرګ لاندې لاس رادننه کړ ، په ملايې کېښود اوبل دکيڼ لورنه همداسې وکړل . په سر يې راته زور وکړ په ټيټه ملا ، تړلو سترګو ، تړلولاسونو او پښو يې روان کړو په لار کې ختمې هم وې عسکريه په وچه اومونږ يې په ختو کې بېولو؛ تردې چې څه وخت وروسته دکنډو کپرو لارو څخه تېر شوو يو ځای کې يې پړمخه څملولم لاسونه اوپښې يې راخلاص کړل خو کلک يې نيولي وم دسرنه يې راته کڅوړه لرې کړه خوراته ويل يې چې خوځېږې به نه هغوی ډېر په بيړه مخ په شاووتل او داغزن سيم دروازه يې راپسې وتړ له بيايې دباندې نه راغږ کړ چې پاڅه ! زه پاڅېدم ، دوه کمپلې يې راواچولې او دکويټ دروضتين يو بوتل اوبه يې راکړې. ماچې اخوا دېخوا وليدل ګردچاپېره داغزنو سيمانو څوپوړيزه ، څو غبرګه بنديزونه راتاو وو ، منځ منځ کې لارې وې اودلرګيو نه يې څپرګې غونډې جوړ کړي وو چې لاندې يې هم دلرګي تختې وې اودپاسه يې ترپالونه پرې اچولي وو. دانوتر پالي لويې خېمې وې خو غاړې يې ورتاوې کړې وې اوګرد چاپېره ټولې خېمې ښکارېدې، چې ګورم په خواکې څپرګې کې مې څو بنديان ويده دي زه يې جلاپه يوه څپرګې کې واچولم ، استاذ بد ر يې له مالرې دنورو بنديانو سره په يوه څپرګې کې واچاوه او حاجي ولي

محمد يې ددوه نورو بنديانو سره ماته مخامخ کېنې لاس ته په يوه څپرګې کې واچاوه .

دانو دقندهار دهوايي ډګر په خواکې نوی امريکايي موقت زندان وُ ګردچاپېره ترې دختو دېوال وُ چې تقريبا څه کم دوه متره لوړ وُ ، بيا ددېوال سره نږدې اودهرې خېمې چاپېره داغزنو سيمانو ديوالونه او بنديزونه وو . اودازمونږ دچاپېريال عادي اغزن سيمان نه وو بلکه امريکايي ځانګړي پېرسيمان وو چې په دواړو خواووکې يې تېرهٔ تېرهٔ چاقوګي لرل اوپه دايروي شکل کړی کړی غځېدلي وو . دهوايي ډګر الوتکې چې کښېناستې او الوتې ښه په ډاګه ښکارېدې چې اکثره دوه څرخه اويو څرخه څرخکي اونورې پوځي الوتکې وې چې دکښېناستو او الوتوپه وخت کې به يې تول ګردونه اودوړې په مونږ راتلې. کله کله به يې په الوتکوپوځي تمرينونه هم کول لکه په هواکې اودرول ، په يو پړي کې يولوی بلر راښکته کول اوداسې نور ...
دکمپ ګرد چاپېره دلرګيو لوړې لوړې مورچې وې چې مسلح عسکر په کې وو اودوربينونه هم ورسره وو. مونږ چې کله په څپرګيو کې واچول شوو نو شپه لږه پاتې وه . لمونځ مو وکړ اودسبا په انتظار کښېناستوو دژمي سخت ساړهٔ وو . کله چې سباشو لمونځ مو وکړ او بيا چې ورو، ورو رڼا خپره شوه زما په خواکې بنديان مې وپېژندل. هغوی هغه عرب بنديان وو چې باګرام کې ماسره يوځای وو. دڅپرګيو ترمنځ لارو کې مسلح عسکر ګرځېدل. اګر چې ددوه څپرګيو ترمنځ خبرې بندې وې خوڅارونکي عسکر چې کله شاکړه

مادخواکې څېرګې دبندیانونه پوښتنه وکړه چې داقندهار دی ؟
هغوی وویل چې هو.

# لۀ درې نیمومیاشتو وروسته لمر

لکه مخکې موچې وویل دپاکستان دآی ایس آی په خصوصي پټ زندان کې مو په تنګو زیمجنو کوټو کې درې میاشتې داسې تېرې کړې چې دشپې اوورځ معلومات راته نه کېدۀ اولمر مو هیڅ ونه لیده. بیا مو پنځلس ورځې دباګرام امریکایي زندان کې هم داسې تېرې کړې چې لمر مو په کې ونه لیدۀ کله چې قندهار ته ورسېدو نو دټولو ستنونزواو کړاوونو سره سره چې کله سباشو ، رڼا خپره شوه اولمر راوخوت نو دخېمې نه ګردچاپېره اوداغزن سیم دلوړو بندیزونو نه دننه لږه فاصله وه چې بندي په کې ګرځېدای شو په لومړۍ ورځ مو دلته په خاورو کمپل واچو له اوپیتاوي ته مو کړۍ ورځ د لمر دوړانګو څخه خوند واخیست، لمر هم مونږ ته خپله غېږه پرانستې وه ځکه چې له نېکه مرغه اسمان شین وۀ . په لومړۍ ورځ یې یوځل تحقیق ته بوتلم یودتورو وېښتانو او تورو سترګو والاځوان محقق وۀ اوپه ډاګه معلومېدۀ چې امریکایي نه وۀ فارسي یې هم زده وه په زولنو او زنځیرونوکې په یوه وړه خېمه کې کښېنول شوم دسرنه یې زما کځوړه لرې کړه چې ګورم مخامخ راته په چوکۍ یو ځوان محقق ناست دی ماته یې وویل چې زه فرانسوي یم او فارسي مې زده کړې ده ؛ دزړو پوښتنو په تکرار سر بېره یې راته وویل چې تاسره چې ورورنیول شوی وۀ هغه چېرته دی ؟ ماورته وویل چې داپوښتنه خوزه

لـه تـاكوم ځكـه چـې هغـه تاسـو سره دی ، هغـه راتـه وويل چې هو هغه مونږ سره دی اوهمدلـته دی بيا يې وويل : زه باورلرم چې تاسو دواړه ورونـه ريښتياواياست زه بـه خپل نظر ستاسو پـه دوسيه كې وليكم نور وړاندې نه پوهېږم چې څه به كېږي ځكه چې پرېكړې نورخلك كوي.

پـه دې ترتيـب بيـا بيـا تحقيـق تـه غوښتل كېدوله دوه ؤ پرته دانور ټول محققيـن امريكايان وو. پـه هغـه لومړي فرانسوي نمـامحقق سر بېـره يـو بـل پېرپـوزی غـنم رنګـه تـور بخـن محقق ؤ چـې پېـړې پېـړې شونډې يـې وې او پنجابي معلومېدۀ بيـا وروسته پـه ګوانتنامو كې ماوليدۀ اوهلـته يې اردو راسره وويله. ډېر بدسلوك يې كاوۀ دقندهار دمحققيـنو دتحقيق پوښتنې څه هماغه مخكنۍ تكرار بدې خوځينې نورې پوښتنې يې داوې :

ـ آياته كوم بهرني هېواد ته تللی يې ؟ .

ـ هو پاكستان كې مهاجريم او سعودي عربسـتان تـه تللی يم حج مې كړی دی .

ـ آيـا سـتاورور ( استاذ بدر الزمان) كوم بهرني هېواد يا امريكاته سفر كړی دی ؟ .

ـ نه .

ـ. ولې نه ته يې پټوې خامخا تللی دی .

ـ داناسمه ده تاسره څه دليل دی ؟ .

ـ آياتاسو ټليفون درلود؟.

ـ هو زمونږ په كرايي كوركې عادي ټليفون لګېدلی دی .

ــ نومره يې څه ده ؟.

ــ نومره مې ورته وويله .

ــ آيا تاسره موبايل يا سټيلايټ ټليفون وو ؟.

ــ نه .

ــ خامخاوو .

ــ داخبره ناسمه ده که ماسره دا ډول ټليفون واى نو مابه هرو مرو درته ويلي واى دټليفون لرل کوم جرم نه دى .

ــ تشدد يې وکړ چغې يې ووهلې او ټينګار يې وکړ چې زرکوه ووايه چې ستا دسټيلايټ دټليفون نمره څو وه ؟.

ــ کله يې چې ډېر ټينګ کړم ماورته وويل چې وليکه ! قلم او کاغذ يې راواخيستل او ډېرپه مينه ، خوښۍ او په بيړه يې راته وويل چې وايه .

ــ زمادسټيلايت دټليفون نمبردى : زيرو ، زيرو ، زيرو ، ون ، ون ، ون ، ټو ، ټو، ټو ، تري ، تري ، تري ، او فورته چې ورسېدلم نو ليکل يې بس کړل پوه شو اوراته ويې ويل چې پهٔ مونږ ملنډې وهې ؟.

ــ تاسو مې دې کار ته مجبوروئ تاسو خپله ريښتيانه وايئ نو نور خلک هم درته درواغجن ښکاري .

ماخودرته وويل چې سټيلايټ فون نه لرم خو ته مې نه پرېږدې اوتشدد او ټينګار کوې !!!.

ــ آياستاوروسره موبايل ياسټيلايت ټليفون وو ؟.

ــ هو موبايل وو خو سټيلايټ نه وو .

ـ ولې نه ستهيلايټ ټليفون خامخا ورسره وؤ خوته مونږ ته حال نه وايې .

ـ نه وؤ .

ـ ته دخپل ورورنه هسې کلکه دفاع کوې کېداى شي چې ستهيلايټ ټليفون هم ورسره وؤ اوامريکاته يې سفر هم کړى وي خو ته به خبرنه يې .

ـ زه ښه خبر يم زما وروړماسره په يوۀ کورکې وړوکى رالوى شوى دى هغه نه امريکاته سفر کړى دى اونه ورسره ستهيلايټ ټليفون وؤ .

ـ ته اوستا ورورپه يوه کورکې اوسيدئ ؟.

ـ هو .

ـ دکور نقشه څرنګه وه ستاکوټه چېرته اودهغه چېرته وه ؟.

ـ اګر چې زه پۀ نقشه نه پوهېږم خوپه دې ډول وه ( نقشه مې ورته جوړه کړه اودکوټو ځايونه مې وروښودل ).

ـ آيا ستا اوستادورور په منځ کې کله اختلاف راځي ؟.

ـ هو.

ـ په آخر کې کوم يو ګټندوى وي ؟.

ـ کله هغه اوکله زه

ـ زه هم دخپلو ورونو سره همداسې يم .

يوه سورمخي اوسپين سترګي محقق په سخته يخه هواکې په زخمي زنګنواودرولم لاسونه يې راباندې پورته کړل بيا ډېروخت وروسته يې په زمکه پرمخه څملولم اوپه شاراته اودرېده بيا يې

راپاڅولم پښې لاسونه مې تړلي وو په خوله يې راته لاس کېښود . چې ځواب ورنه کړم اوپه ولاړه يې په يوه غوږ کې راته په چغو او کړيکو ډېرې سختې اوپوچې کنځلې کولې اوپه بل غوږ يو فارسيوان ترجمان په ماته پښتوترجمه کولې خو ترجمان دهغه نه يوپه دوه زور کاوۀ اودومره سخت زور يې کاوۀ چې ماته وېره پيداشوه چې له ډېره زوره يې باد پرې نه شي!! . اودادې له پاره چې خپل ځان وفادار غلام وښئي او خپل امريکايي بادار خوشحاله کړي !.

دډېرو کنځلونه وروسته يې يوبل امريکايي له خېمې راوغوښت هغه پوځي جمپردباندې وايست بيارانه واته اوراته ويې ويل چې : ته پوهېږې چې زه څوک يم ؟ .

ـ نه نۀ دې پېژنم .

ـ زۀ يو امريکايي يم اوزما خوردنيو يارک په برجونوکې دستمبر ديوولسمې په انتحاري حمله کې وژل شوې ده تاسو زمونږ برجونه ړنګ کړي دي ، امريکايان مووژلي دي ، اسامه ته مو پناورکړې ده ، خارجيان مو ساتلي دي ...

ـ داچې ستاسو برجونه ړنګ شوي دي نو ړنګوونکي يې معلوم دي مونږ نه دي ړنګ کړي اوداچې ستاخور په کې وژل شوې ده نوداښه نه دي شوي په کار داوه چې ته په کې وژل شوی وای ...

ـ ښه داهم لاوايې ؟ ويې وهلم اودغوسې نه نورهم دډېرسور والي نه تک تورشو.

ـ آيا ته خبرېې چې له تاوروسته ستاپه کور څه شوي دي ؟ غوښتل يې چې ماسره اندېښنه پيداشي.

ـ نه زه نه یم خبر .

ـ خبر به شې .

ـ ستا کورته اوس څوک ډوډۍ ورکوي ؟.

مخکې هم الله تعالی ورکوله اواوس اوبیا به یې هم ورکوي .

سرېې دتمسخرېه ډول وخوځاوه او ویې ویل چې ستا بچي به اوس له ولږې مړه شي اوته به مونږ سره په جېل کې مړشې .

یوه محقق یوه ورځ راتـه وویـل چې تاسوکره وسله وه اوته منکر یې .

ـ نه داخبره درواغ ده له دوه تمانچوپرته هیڅ وسله نه وه .

ـ ستاسو کورکې وسله وه ستاورور بدرالزمان اعتراف وکړ اومونږ ته یې ټول حالونه وویل خوته منکر یې هغه به کورته لاړشي اوته به یو لرې جېل (ګوانتنامو) ته لاړشې هلته به دې دداسې خلکوسره ګوزاره شي چې په ژبه به یې نه پوهېږې اوډېره سختې به درسره کوي . بیا به خپله اعتراف وکړې .

ـ داخبره درواغ ده زمونږ کور کې وسله نه وه اوزما ورور په درواغو اعتراف نه کوي .

ـ رابرګ شو اوپه چغو یې وویل چې آیازه درته درواغ وایم ؟.

ـ هو ته درواغ وایې هغه دا اعتراف نه دی کړی .

ـ له چوکۍ پاڅېدهٔ لـه ډېرې غوسې تاوراتاو شو دآی ایس آی دګوډاګیانو دجماعـــة الدعـــوه دمخکنیو ذکر شویو درواغجنو

ددرواغو راپورېې راواخيست او ويې ويل چې دادی مونږ سره لست او ګواهان دي چې تاسو سره په کور کې وسله وه اوته منکر يې ؟!.

ـ که وه نو ستاسو پاکستاني دآی ايس آی ګوډاګيانو څرنګه پيدانه کړه هغوی خو زمونږ کورټول ولټاوهٔ او دنوک په کچ ځای يې هم بې لټولو پرې نه ښود ؟.

ـ ستاسو په کور کې ددغه لست ټوله وسله وه خوته درواغ وايې .

ـ دې لست کې کومه وسله ده ؟.

ـ راکټ لانچر ، هاوان ، پيکا ، زيګاويک ، دهشکه ، مينونه ، ګرنېټونه اونورې درندې اوسپکې وسلې ...

ـ داخو ډېر مختصر لست دی زمونږ په کور کې دوه ډو له وسلې نورې هم وې .

ـ کومې ؟.

ـ بم غورځونکې الوتکې او ټينکونه .

ـ ته بيابيا په مونږ ملنډې وهې .

ـ ملنډې خو په تاسو هغه چاوهلې دي چې دغه لست يې درکړی دی مونږ دپېښور ښارپه حدودوکې په دې وسله څه کول ؟.

ـ امريکايانو سره جنګ.

ـ پښتوکې يو متل دې وايي چې باران په تيرا وشو او خرهٔ يې دلړه موږې نه يوړل ! عجيبه خبره ده چې امريکايان افغانستان ته راتلل اووسلې مونږ په پېښورکې په خپل کور کې اېښودلې ؟! بيا يې راته يو څوانځورونه ( عکسونه ) وښودل چې يو يې ديوې لويې پخې کلا

په ډول وٸ چې لويه دروازه يې وه دپاسه پرې اغزن سيمان او برېښنايي مزي غځېدلي وو اويوې يو کټ وٸچې بندي په کې بند په بندترلی وٸ ... په پټه خوله يې راوښودل اوڅه يې ونه ويل .

ـ ماخودغه ځای نۀ دی ليدلی ستاسو څه مطلب دی ؟.

ـ زه هم پوهېږم چې تاسه دی ليدلیخو که سمه خبره ونه کړې او اعتراف ونه کړې نودغه ځای ته به دې ولېږو داامريکايوسخت جېل دی اودلته سخت تعذيبونه دې اعتراف وکړه که نه نو دغه ځای ته به دې ولېږو.

ـ دڅه شي اعتراف ؟ .

ـ هغه هم نه پوهېده چې دڅه شي اعتراف خونور څه يې چې ونه موندل نو ويې ويل :

ـ ددې چې تاسو کره کومه اوڅومره وسله وه او څه شوه ؟.

ـ ډېر يې چې راتنګ کړم ماته زياته غوسه راغله اوورته ومې ويل چې هوماسره دوه ډوله وسله په کور کې وه اودلته مې هم له ځانه سره راوړې ده .

ـ کومه ؟ ( په ډېره حيرانتيا )!.

ـ ماسره يو ميزايل اودوه بمونه وو چې اوس هم راسره شته .

ـ په ډېره وارخطا يې اوحيرانتيا : کوم دي ؟.

ـ ترجمان پوه کړ چې زماڅه مقصد دی ...

ـ په ناڅاپي توګه يې بې ارادې سخت وخندل له ډېرې خندا نږدې وو چې له چوکۍ سره شاته وغورځېږي. زماپه غوسه پوه شو او له

خبرې يې ټوکه جوړه کړه له خېمې دباندې يوه ښځينه عسکره وه هغه يې راوغوښته اوورته ويې ويل چې دابندي داسې وايي ..

بې شرمې عسکرې ته يې خوند ورکړ اوماته يې څه وويل چې ترجمان په سوچ کې شو اوبيايې وويل : دايوه جمله وايي او مفهوم يې دادی چې : په دغه ميزايل زما مورچه ووله .

ـ ماورته هيڅ ځواب ورنه کړ .

سباته بياتحقيق ته وغوښتل شوم محقق بدل ؤ اووضعه يې هم بدله وه ډېرې نرمې خبرې اوښۀ سلوک يې کاوۀ ...

دامريکې محققينو همداکار و چې کله نرمه اوکله ګرمۀ يوبه سختي کړو له اوبل به نرمي... له هرې وسيلې يې کاراخيسته اوکوښښ يې کاوه چې له بندي اعتراف واخلي اوتروسه زيات معلومات لاسته راوړي . پرونۍ سختي يې وغندله او ويې ويل چې هغه ښه نه دي کړي اوبيا يې وويل :

ـ دورور سره دې ليدلي دي ؟.

ـ نه .

ـ داډېره سخته نه ده ؟.

ـ هرڅه چې وي ستاسوله لاسه دي .

ـ غواړې چې دخپل وروسره وګورې ؟.

ـ هو.

ـ له لرې ځنډوروسته زما ورور بدر الزمان په زولنوکې تړل شوی راوستل شو ، زه دتحقيق خېمه کې په چوکۍ ناست وم هغه يې

دخپمې په دروازه کې اودراوه محقق ورسره ولاړ راته يې وويل چې وروردې دادى ماچې ورته وکتل، بېخي راته بدل ښکاره شو چې ښه ورته متوجه شوم ومې پېژنده ، مانه خوخپل مخ پناو چې زه به دخپل ورور په سترګو کې څنګه ښکاره شوى يم؟ اودهغه پټ انفعال به څه و؟ خوماچې دهغه مخکنى دمبارکې ګيرې سره له وقاره ډک مخ ليدلى و اواوس مې خريلې ګيره ولیده چې مخ يې بيخې وړوکى و خوار شوى هم و اودغمونو ، اندېښنو اوکړاوونوله لاسه يې رنګ هم تور اووښتى و ... زه په دغه حالت کې دخپل ورور په ليدلو ډير زيات خواشينى شوم . وبوګنېدم ، زړه ته مې سخت درد او ټکان ورسېد .

ددغه غمجنې شېبې اودهغه دغمجن مخ زېښلى او مړاوى انځور زماپه سترګوکې تراوسه پاتې دى اوزما په زړه کې يې داسې داغ او ټپ جوړکړى دى چې ترعمره به يې سوى اودردمحسوسوم ...

مادخپل ورور استاذ بدر په مخ کې يوه جعلي غوندې موسکا ددې لپاره وکړه چې هغه زماپه درد پوه نه شي . همدومره خبرې موسره وکړې چې سترى مه شې څنګه يې ؟ زه الحمدلله ښه يم . نوريې نه هغه کښېناستلو ته پرېښود اونه يې دواړه زياتو خبروته سره پرېښودو هغه عسکرو سمدستي بېرته ستون او پنا کړ .

ماسره محقق کښېناست ماورته وويل چې ! تاسو خو دبشري حقوقو ، ديموکراسى ، ازادۍ اوداسې نور... شعارونه زوتوئ ، دلته خو بشري حقوق ، بېخي ترپښولاندې دي ، تاسو خو مونږ سره له حيواناتو هم بتر سلوک کوئ ... داولې ؟ هغه وويل : په لويو جنګونو، دولتي امورو اودبيړې اقدامونو کې همداسې کېږي. کله

کلـه بې ګونـا هـم دګوناهګـارو سره څـورول کېږي ، زه بـه ستاسـو پـه هکلـه واشنګټن تـه ولـيکم چې دا دواړه ورونـه بې ګونا دي بايد خوشې شي . خو وعده درسره نه شم کولای اونه پوهېږم چې راتلونکي کې څه پېښېږي ؟ .

عسـکروتـه يـې حوالـه کړم اوپـه ګـنګس حالـت کـې يـې څپرګـي تـه ستون کړم .

# دقندهار په څپرګي کې زما ملګري

دقـندهارپـه زنـدان کـې ديواځېتـوب لـه ورځـو وروستـه زه دروغـتون دخېمې له وره سره نږدې څپرګـي کـې واچـول شـوم استـاذ لـه ماڅخـه لـرې اود هـوايـي ډګـر دختـو دېـوال تـه نـږدې و. ماسره لومـړی حاجـي صـاحب ولـي محمـد صراف و چـې دپېښـور اوباګـرام پـه زنـدان کـې هم راسـره نږدې، خو جلاو اوقندهار کې موږه يوه څپرګي کې سره ګوزاره شـوه. هغـه ډېـر ښـه سـړی و اوپـه همدغـه څپرګـي کـې مونـږ يوبـل سره وپېـژندل.بـل دايـران يـو چرسـي شيعـه و چـې عبدالمجـيدنومېده هغـه امريکايي محققينوتـه ويـل چې زه افغانستـان تـه دمخدراتودرانيولو لـه پـاره راغلـی وم خومونږ تـه يې ويـل چې زه دايران حکومت دجاسوسـۍ لـه پـاره رالېږلـی وم، دقـنـدهـار پـه ښـارکـې ديـوه نانـبای سـره اوسـېدم کېمـره اونورسـامـان مـې هـم دهغـه سـره ايښـی دی ... ډيـر احمـق او لاوبالـي سـړی و چـې وروستـه يـې بـيـاپـه ګـوانتـنـامو کـې صليب هم پـه غـاړه کـې څـوړندکـړ ، امـريکايانـو تـه يـې جاسوسي هم کولـه اوپـه ډېرو خلکـو يـې ددرواغـو تـورونـه هـم لګـولـي وو . يـوه ورځ يـې ديـوه ازبـک

عبدالله فاريابي سره دمخالفت لـه امله دښيښې په يوه ټوټه خپل لاسونه وګرول لږ لږ وينې شول اوبيايې امريکايي پوځي ته وويل چې داکار راباندې عبدالله وکړ، دڅېرګې ټولو بنديانو او دهغه دلاسونو کرښو ددې ګواهي وکړه چې هغه درواغ وايي نو لـه همدې املـه عبدالله دسزانه وژغورل شو . څو ورځې مونږ درې واړه سره وو بيا دمزارشريف قاري صاحب فضل الرحمن اوداندخوی نورالله صاحب هم زمونږ دڅېرګې ملګري شول. دواړه ډېروښو اخلاقو څښتنان وو په ځانګړې توګه زمااودنور الله صاحب ترمنځ ډېره مينه پيداشوه. خبرې اودخپل ژوند ځينې کيسې به مو سره کولې او وروسته بيا دګوانتنامو په اخري ورځو کې موداملګري او مينه ډېره غښتلې شوه. نورالله صاحب ډېر لائق ، پرهيز ګار اودښو صفاتو څښتن او دملګرۍ وړانسان و.

زماد څېرګې نور ملګري دپکتيکامولوي محمد صديق ، دارزګان دديراوت نورالله . چې دطالبانو دمشرملامحمد عمر صاحب باجه هم و . دديراوت حاجي نظر محمد ، دخوست حاجي خان زمان ، دپکتياقاري عصمت الله ، دارزګان حاجي امان الله دفارياب عبدالله ازبک عربانو کې عبدالخالق يمني ، محمد حمادي يمني ،سلمان يمني ، وليد يمني ، صالح يمني ، سعيد جزائري ، عبدالله کردي اودکوزې پښتو نخوا طارق وو.

## دقندهار وضعيت

په قندهار کې هم انساني معيارونه او بشري حقوق ترپښو لاندې شوي وو ديو ترپال لاندې چې دڅو لرګيو دپاسه خپور و. ترشلو پورې

بندیان اوسېدل کله به چې باران و نو ډننه ورېدهٔ اوپه باران کې به ټول بندیان ولاړ وو، دناستې ځای به نه و. داترپالونه په اصل کې خېمې وې خودغاړوېټې یې پورته ورنغاړلې وې نوځکه یوائې دچت ترپال پاتې و او ګرد چاپېره هیڅ نه وو. باران کې به دخېمې نغاړل شویو برخوکې اوبه جمع شوې خېمې به راځځېدې او چې اسمان به شین شوهم څو ورځې به همداسې ځځېدلې. دا اجازه نه وه چې پټې راخلاصې شي او اوبه ترې لرې شي. دهر شکایت نه وروسته بندیان یو خواته شاکړي په زنګنونو اودرول شول ، بیا عسکررانن وتل او دخېمو دغاړو هغه برخې یې په چاقوانو څیرې کړې چې اوبه په کې جمع شوې وې .

سخت بادونه لګېدل اوټولې شګې او خاورې په مونږ راتلې ، نه داوداسه اوبه وې اونه دمخ لاسونو پرېمینځلو ، خیرن خچن دلېونیو غونډې اوسیدو.دیوه ترپال لاندې ددرې کسانو څخه زیاتو خپلو منځو کې خبره نه شوه کولای ، خواکې خېمه کې چې یو اغزن سیم یې ترمنځ و او یو تریله به مو سره لیدل یو تریله خبرې منع وې ، که په چابه هسې شک هم و شو چې دبلې خېمې خلکو سره یاددرې کسانونه زیات سره خبره کوي نو هغه ټه دڅېرګي مخکې په خاورواو کاڼو کې په زنګنونو اودرول شو اولاسونه به یې په سرکېښودل، یو ساعت یادوه ساعته به دغسې لمرته ولاړو ، ددرې کسانو نه زیات دڅېرګي ګردچاپېره خالي ځای کې نه شوګرځېدای اوکه دریونه به زیات وو نوټول به په زنګنو ودرولو جزایي شوو. کله کله به عسکرو بې موجبه بندیان جزایي کول ، هیڅ قانون نه و اوقانون دهرعسکر په

خپل لاس کې و. په نیمه شپه کې به په لسګونو عسکرپه منډو منډو راغلل اودیوې خېمې نه به ګرد چاپېره اودریدل، چغې اوسورې به یې وهلې چې پاڅېږئ پاڅېږئ سپي به هم ورسره وو. هغو به سخت سخت غپل. بندیان به یې له خوبه راویښ کړل دخېمې یوې خواته به ټول په سپېرو خاورواوکاڼو کې پړمخه څملاستل ، سرونه به یې ټیټ نیولي وو لاسونه به یې شاته وو بیابه ګردچاپېره او مخې ته مسلح عسکر اودرېدل اونور به خېمې ته دلټون په بانه ورننوتل کمپلې به یې اخوادېخوا په خاورو کې وغورځولې او قرآنونه به یې په خاورو کې اخوا دېخوا ګوزار کړل ، ټول ځایونه به یې تالاشي کړل، که چاسره به دخوراک یو ناڅیز اومعمولي شی هم پیداشو نو دخېمې ټول بندیان به جزایي په زنګنونو اودرول شول . دتالاشۍ په وخت به یې یویو اول په ولاړه ولټاوه بیا به یې په خاورو کې راڅملاوه اړخ په اړخ به یې واړاوه تردې چې په عورت به یې هم ورته ګوتې ووهلې بیابه یې ټول څملولي پرېښودل او ورته ویل به یې چې ونه خوځېږئ . عسکر به له وېرې په شاشاتللو ووتل ، دروازه به یې قلف کړه، بیا به یې اواز وکړ چې پاڅېږئ. بندیان به خړپړ په خاورو ککړسپېره مخونه راپاڅېدل قرآنونه به یې راټول کړل او ځانونه به یې وڅنډل. بیا به یې کمپلې له خاورو راپورته کړې وبه یې څنډلې اودالله په هیله به څملاستل. زه دروغتون دخېمې سره لنډ دناروغانو اوټپیانو په خېمه کې پروت وم نو زمونږ دغه ډول تالاشي ترنورو لږه وه . که چا به دپاڅېدوپه وخت کې لږ ځنډ وکړ هغه به بیا جزایي کېده یوه شپه یو ناروغ دپاڅېدو په وخت کې لږ ځنډ وکړ یو بد اخلاقه عسکر ؤ هغه

دخپمې ټول بندیان په زنګنو کړل او چغې سورې يې جوړې کړې. بیا يې په بندیانو ملنډې وهل پيل کړل وروسته به يې کړل او بیرته به يې په بیړه په زنګنو کړل چې دې کارښه شیبه دوام وکړ ...

تحقيق تـه بـه چې څوک غوښتل کېـده نو عسکریه زنځیرونه پـه لاس راغلل، دروازې سره بـه يې دبندي نمبر واخیست ټول بندیان به دخپمې شاته لاړل هلته بـه شاکړي پـه زنګنونو اودریدل اولاسونه به يې پـه سرونوکېښودل ؛ مخې تـه بـه يې مسلح عسکر اودرېدل هغه دتحقـیق بـندي بـه دروازې تـه لاړ هلـتـه بـه پړمخـه پـه خـاورو کـې څملاست اولاسونه بـه يې شاته واړول، بـیا بـه عسکر پـه ډېره بیړه او وارخطایي سره رانئول. یو به دبندي په ملا ګونډې ولګولې اولاسونه بـه يې ورتـه ونـیول بـل بـه پـه پښو کښېناست. لاسونه بـه يې شاتـه پـه پولادي ولچکو وتړل ، پښوکې بـه يې ورتـه پـولادي زولنې واچولې اوتـوره پـه خـاوروککړه کڅوړه بـه يې سرتـه ورواغوستـه بیا بـه يې بندي راپاڅاوه یوې خواتـه یـو او بلې خواتـه بـل عسکر بـه يې دتخرګونو لانـدې لاسـونه نـنه ایستل اوپـه شابـه يې ورتـه کېښودل،متې بـه يې پورتـه خواتـه زورکولې او ملابـه يې ښکتـه خواتـه. پـه سربـه يې ورتـه دزمکې لورتـه زور کـاوه، لکـه درکـوع پـه ډول بـه يې روان کړی و.سره لـه دې چې پښـو کې بـه زولنې وې او ددواړو پښو منځ کې زنځیروچې بـندي ازاد پـل نـه شـو ایښـودای، خوبـیا بـه يې هم ټېل واهه او بیړه بـه يې پرې کوله، ډېر ځلـه بـه بـندي پـه زنګنونو راپریواتـه او زنګنونـه بـه يې زخـمـي شـول. پـه لاره بـه عسکروپـه راښکودلو ، ټېل وهلو او وهلو ټـيـټه او مـاتـه مـلا روان کړی و. پـه لاره کې بـه څو ځایه بندیزونه وو، پـه

تاوو راتاوو کنډو کپرو لارو او ختوکې به یې دتحقیق خېمې ته ورساوه هلته به دمحقق ښکلې او دبندي په خاورو لړلې چوکۍ وه پرې به کښېنول شو او تحقیق به پیل شو ...

عسکر ډېر زیات بداخلاقه وو یو ضابط و چې حاضري به یې اخیستله ډېر متکبر انسان و بندیان به یې ټول په یو کتارکې اودرول بیا به یې دیوه یوه نمبر اخیست کله به یې په پېړتورتوش قلم دبندي په کمیس شاته نمبر ولیکه اوکله مخامخ .کمیس به ټول په نمبرو او خیرو تک تور شوی و. بندیانو ته به یې ویل چې ماکله له لرې وګورئ نویو کتار به اودرېږئ که چابه لږ ځنډ وکړ جزایي به پرزنګنونو اودرول شو . بیا یې په کارتونو نمبرونه ولیکل او ویل یې چې هریو کس به دحاضرۍ په وخت کې غږ هم کوئ اوداکارت به هم ښایئ .داضابط به ډېر په تکبر روان و ، بندیانو ورته رامبوویل یو بل عسکر چې په لومړیو ورځوکې به یې سخت ژړل او ویل به یې چې زه امریکاته ځم بیا وروسته نفسیاتي ناروغ شو بندیانو سره به یې سخته کینه کو له ، بې ځایه یې جزایي کول ، چغې سورې به یې وهلې او کنځلې به یې هم کولې . یوه ورځ یې یو ناروغ بندي ته وویل چې په زنګنو نو اودرېږه هغه نه شو اودریدای چغې سورې یې جوړې کړې،بیا یې نورعسکر راوغوښتل، بندیان یې یو خواته کړل او له ډېرې کینې نه یې عسکري جمپر او خولې دباندې کېښودل بیا دنورو عسکرو سره رانـنواته او دغوسې نه تک سور او تور اووښتی و، بندي یې راځملاوه، ویې واهه ، لاسونه پښې یې پرې زولانه کړل

، توره کڅوړه يې وربه سرکړه اوداوسپنيزو څادرونو ګودام ( انفرادي ) ته يې په تېل وهلو ، رابنکلو او وهلو بوته .

# دقندهار زندان کې دبنديانو خوراک

دقندهار امريکايي زندان کې دبنديانو دخوراک مهال وېش داسې و چې دسهار او مابنام له مخې هيڅ خوراک نه ودغرمې خوراک و او دمابنام پرځای په نيمه شپه کې خوراک و. اودا ددې له پاره چې دخوراک په نامه بنديان له خوبه وباسي. نيمه شپه به بنديان ويده وو چغې به يې پرې جوړې کړې او خوراک به يې پرې تقسيم کړ.دخوراک نوعيت داو چې تيار عسکري خوراک و، په پلاستيکي کڅوړو کې بند و او پنځه شپږ کاله مخکې جوړشوی و. دګرمولو کوم انتظام نه و همداسې يخ به يې راکاوه. يوه وچه کلچه يو وړوکی کېک ، پاپړ، څوداني خوږې دانې يو وړوکي ډبي کې مميز يامميلي ،يوه اوږدړه ددوه ګوتو په پلنوالي پلاستيکي لفافه کې دخنزيرغوښه ، يوه لفافه کې کله دچرګ اوکله دغويي غوښه او وچ ککوړي.يوه اردني عيسايي ترجمان باګرام کې مونږ ته ويلي وو چې داوړه لفافه دخنزير غوښه ده اودانوره غوښه هم حلاله نه ده ځکه چې په اسلامي طريقه نه ده ذبح شوې، دا امريکايانو خپل فوځ ته تياره کړې ده دخوراک دغه ټو له کڅوړه يې (MRE ) ايم آراي په نامه يادوله. کله کله په کې يوه کڅوړه مکروني ( ميانچې ) يالوبيان ، يادال هم وو . مونږ يې غوښې نه خوړې بيا وروسته دغه وجبه بدله شوه او يوه بله کڅوړه وه چې دپاسه پرې حلال ليکل شوي وو هغې کې حلالې غوښې هم وې

نورسابه ګان هم وو هغه به مو بیا خوړل . څه وخت وروسته بیا په ماښام کې یوه افغاني ډوډۍ او دګڼو وړو ترکاریو دډبلیوهغه اوبه وې چې هغه اصلاً دډبلي دخلاصولو نه وروسته تویېږي هغه به یې هم لږې غونډې دهغه بوتلونو په بیخ کې راکولې چې مونږ بهٔ ترې اوبه څښلې وې اود ډېران دګوزارولو به وو ،هغه به عسکرغوځ کړل نور به یې وغورځاوهٔ اوبېخ به یې پرېښوده په هغې کې به یې دغهٔ دایشولو سبزیو زیرېخنې اوبه راکولې چې ډوډۍ په کې چوکه کړو همدغه مات ډبلي به مو ساتل اوبې له مینځلو به مو هره ورځ په کې دغه اوبه راخیستې اوډوډۍ به مو ورسره خوړه . دخوراک پلاستیکي لفافو کې به چې دعسکروڅه خوښېدل هغه به یې ترې ستنول او دګرمولو یو ډول ماده وه په اوبو کې اچولوسره یې جوش کاوه چې دترکارۍ دګرمولو لپاره وه هغه به یې هم ترې لرې کوله. یوه ورځ په تېر کې دیوه بندي په خوراک کې راغلې وه .

# په سطلونو کې دانساني ضرورت رفع کول

دقندهار په برینډوخېمو کې دهرې خېمې سره یویادوه سطلونه دانساني ضرورت لپاره ایښي وو هربندي به په همغې کښېناسته او یو څادربه یې له ځانه راتاواوه کله به چې سطلونه ډک شول نو دورځې یویا دوه ځل به یې دوه بندیان په زولنوکې را ایستل چې

پښتې به يې ترلې او لاسونه به يې خلاص وو، مسلح عسکر به ترې وروسته روان وو هرې خېمې ته به اودريدل او دخېمې بنديانو به خپل ډک سطلونه داغزن سيم دمنځونو نه ورکول ، هغوی به وړاندې وړل اويوه ماشين کې به يې اچول . عبدالسلام ضعيف صاحب باندې به يې اکثره دغه کار کاوه الله تعالى دې اجر ورکړي .

بيا زما ورور استاذ بدر هم دنورو بنديانو په څېر ددې له پاره چې ماسره وګوري . په خپله خوښه دسطلونو راټولولوته دوه درې ځل راووانه څه لږې غوندې خبرې به مو سره وکړې او دجوړناجوړپوښتنه به موسره وکړه . خوعسکرپه دې پوه نه وو چې دادواړه سره ورونه دي داخبره يوائې محققينوته څرګنده وه .

# قندهار کې دپاکوالي کچ

په قندهار کې هم دپاکوالي له پاره هيڅ انتظام نه و، نه داودس اوبه وې اونه دمخ لاس مينځلو. کله کله به مو دعسکرنه پټ دهغه بوتل په اوبو مخ لاس ومينځل چې دڅښلو لپاره به يې راکړې وې هغه به هم که عسکروليدلې نو سمدستي به هغه بندي جزايي کېده او لمرته به خاوروکې په زنګنونو ديوه يادوه ساعتونوله پاره اودريده.

دبرېتونو يازياتي وېښتانو يادنوکانو دلرې کولو له پار هيڅ انتظام نه و . په آخر کې بيا دغسل په نامه يو دوه ځل يوه ځای ته په کتارونو کې يودبل پورې ترل شوي اوزولانه په پټو سترګو بوتلل شو اوهلته يې راته په يوه وړوکي سطل کې دومره خړې اوبه اچولې وې

چې ايله سرپرې لونديده؛ هغې کې به هم ختمې او خاورې وې اوپه اجتماعي ډول دې ته مجبورېدو چې بربنډ دغه اوبه په ځان راواچوو. کله چې مونږ انکار وکړ نو يوې عسکري افسرې راته وويل چې ولې بربنډ نه لامبئ؟ زه خوپه دې ارمان کې يم چې داسې يو څوک پيداشي چې جامې رانه اوباسي اوتاسو بربنډ نه لامبئ!.

# قندهار کې دارو درمل اوډاکټرانو سلوک

دناروغانو دعلاج هيڅ انتظام نه و دروغتون په نامه يوه لويه خېمه وه يواځې دهغو ټپيانو پټۍ په کې کېدې چې امريکايي بمباريو کې ټپي شوي اولاسونه اوپښې يې غوڅ شوي وو. ډېر سخت ناروغان به هم په خېمه کې پراته وو. که ډېر به سخت وو نو نور مريضان به دخېمې شاته په خاورو کې په زنګنونو ياهمداسې کښېنول شول او ناروغ ته به يې سيرم ولګول، هغه نور ناروغان به ترهغه هلته په خاورو کې شاکړي په زنګنونو ولاړوو ترڅو چې دناروغ سيرم خلاصېدل ...

اکثره ناروغانو به چې کله شکايت هم وکړ نو ورته ويل کېدل به چې مونږ سره ستاددرملنې هيڅ انتظام نشته ... ناروغان به بې درملوکړېدل اودالله تعالى اسرې ته به پراته وو. څه ناروغان داسې هم وو چې پښې به يې دواړه په واورو يابمبارۍ کې داسې ټپي شوې وې چې پټۍ به يې پرې تړلې وې او يو لاس به يې هم په بېخ کې غوڅ شوی و. هغه به هم تحقيق له پاره داسې بېول کېده چې يو لاس به

يې ورته شاته دبل لستوڼي سره وتړل شو، پښې به يې هم په زنځيرونو او زولنوکې وتړل شوې او بيا به تحقيق ته روان کړای شو.

نورو ناروغانو ته يواځې ددردونو لـه پاره ګولۍ ورکول کېدې اوبس. ګولۍ هم په دې ډول ورکول کېدې چې دبرېښنايي مزو دغځولو يو کلک پلاستيکي پايپ به دنرسانو سره و په زمکه به يې دامسا په ډول لګاوه اوروان به و خېمې ته به چې ورسېده . نو دا په خاورو ککړ پايپ به يې داغزن سيم په منځ کې وردننه کړ ، د پايپ يوسرته به بندي لاس ونيوه اوبل سرکې به نرس ګولۍ په کې ورواچو له اوپه دې ترتيب به دغه چټله ګولۍ دبندي په لاس کې ولوېده بيا به يې بندي دهغې خوړلو ته په زور مجبوراوه دنرس په مخکې به يې خوړه او بيا به يې پرې لاخوله هم وازوله چې ويې ګوري چې آيا رېښتيا يې خوړلې ده اوکه درواغ وايي !.که په زمکه به وغورځېده هم بندي يې دهغې چټلې ګولۍ خوراک ته اړايسته .

# په قندهار کې دبنديانو لباس

په قندهار کې هم دباريک تاري رخت درېشي وه چې لکه دمستريانو غوندې کميس او پتلون يوځای سره ګنډلي وو دحاجت لپاره به ټول کميس ايستل کېده ...

دلوی بدن او جسيمو کسانو کې تنګ و، پتلون به يې اغوستی و او کميس يې نه اغوستل کېده ذکميس لستوڼي به يې دملانه تړلي وو اودنامه نه پاس به لغړ و .

څه وخت وروسته دسره صليب والاو دهلکانو واړه واړه تاري ارزان بيه پټوان راوړل چې هغه هم دکارنه وو . دوه دوه نرۍ نرۍ کمپلې يوه بندي ته ورکول کېدې نور هيڅ نه وو هغه به مو په خاوروکې خپرولې او پرې ويده کېدو ،بالخت نه و، اودسختو بادونو او دهوايي ډګردالوتکو ټول ګردونه ، خاورې اوشګې به په کمپلو او زمونږ په ټټونو اونور بدن پورې نښتې وې . کله کله به يې دتفتيش په وخت کې څه کمپلې يوړې چې چاته به يوه او چاته به يوه هم پاتې نه شوه.

# دقندهار زندان کې دامريکايانو خپل ګوډاګيان

يوه شپه امريکانو تقريباشل بنديان راوستل اومونږ ته مخامخ خېمه کې يې واچول، يو په کې سپين ګيرى سړى و کله يې چې دزولنودپرانستلوپه وخت کې په خاورو پړمخه وغورځاوه نو خوله يې هم وينې شوه دنورو بنديانو په څېر يې ټولوته ګيرې هم ورخريېلې وې . سپين ګيري چغې وهلې اودغورځولوپه وخت کې يې ګومان کاوۀ چې وژني مې . سباته معلومات وشو چې دغه سپين ګيرى په قندهار کې درباني دجمعيت اسلامي(؟) يو قوماندان و . هغه جميعت ، رباني اوشمالي اتحاد چې کله امريکاپه افغانستان بمباري کو له نو رباني وويل چې دابمباري رنګې ده بايد ګېه شي او بمونه غټ شي !!! اوهغه رباني، سياف، نظار شورى او شمالي اتحاد چې امريکايان دهغوى په اوږو سپاره کابل ته ننوتل ....!!!.

ګومان کوم چې دغه قوماندان حاجي او ملاهم و . دانور دکرزي دنوي حکومت سړي و اودشمالي اتحاد دنورو غړيو په څېرداهم دامريکايانو خپل ګوډاګي وو خوپه تېر کې يې دخپلو ملګرو سره نيولي وو او زندان ته يې رادننه کړل. دبې پتۍ او بې عزتۍ نه وروسته چې کله دکرزي اورباني دسپاربښتنو په ترڅ کې امريکايانوته معلومات وشو چې داخو زمونږ خپل ګوډاګي دي نو عذر يې ورته وکړ او خبر شوو چې قوماندان ته يې دمرمۍ ضد يو واسکټ هم ورکړی و، او همداسې خرېيلې ګيرې يې خپلو کورونوته ولېږل . دافغانستان لاڅه چې دزمکې زرې زرې پرې لعنت وايه ...

نه پوهېږو چې ددومره سپکاوي اودشرم سره به يې دخپل کور اونورو خلکو ته څه ويلي وي ؟ خوزه په دې باورلرم چې داډول خلک نه شرمېږي او دامريکاپه ګوډاګي توب يې پت، عزت او عرض لاپخوا بياللي او خرڅ کړي دي . مونږ نور بنديان خود اسلام، پت ، عزت او نواميسونه ددفاع په ګونا هلته پراته وو نو دوی په کومه ښادۍ کې هلته راغلل اولاړل ؟!.

# د قندهار زندان ته د نورو بندیانو راتلل

دقندهار زندان ته د بندیانو د راتګ سلسله جاري وه یوځل یې مونږ ته مخامخ خپرګي ته نوي بندیان راوستل چې د طالبانو وزیر او دهرات والي ملا خیرالله خیرخواه هم په کې و. کله یې چې د زولنو دپرانستلو له پاره پر زمکه راوغورځاوه نوسختې چغې یې وهلې اوفریاد یې کاوه.اګرچې هغه بیا ګوانتهنامو کې مونږ ته وویل چې هغه زه نه وم بل څوک و(؟!) په دې ډول یې له مختلفو ځایونو بندیان راوستل اوپه څپرګیو یې وېشل په دې کې عربان، شرقي ترکستانیان او نور بهرني او داخلي بندیان و. ځینې په کې زخمیان هم وو.

په لاسونو شوتې په پښو ګوډان او نور تپي او ناروغه بندیان هم وو. دپکتیکا یوبندي یې راوست چې ډېر سخت تپي شوی و، په امریکایي بمبار کې په سرلګېدلی و، چې ډېر ژور تپ په کې و او زیاته وینه ترې تللې وه تردې چې دماغي توزان یې له لاسه ورکړی و. اوګډې وډې خبرې به یې کولې، امریکایي څرخکوراپورته کړی و. تریوه وخته یواځې څپرګي کې و، بیایې مونږ سره واچاوه. ځینو نورو بندیانو وېېژنده او هغوی ویل چې دغه شخص ډېر غښتلی او هوښیار ځوان و، خو اوس په دغه بدحال و. څه سیرمونه یې ورته ولګول مونږ بیا ګوانتهنامو ته لاړو هغه هلته رانه غی نو پوه نه شو چې اخري برخه لیک یې څه شو ؟!...

# قندهار کې انفرادي زندان

په قندهار کې داوسپنیزو څادرونو نه یولوی ګودام غونډې جوړشوی و مخکې چې دهر مقصدله پاره استعمالېده خو په دغه وخت کې امریکایي پوځ دانفرادي بند( کوټه قلفي ) په حیث استعمالاوه دننه یې په کې داغزن سیم په واسطه بیلې بیلې خانې جوړې کړې وې .ما خوددننه نه دی لیدلی ځکه چې زه یې نه یم وردننه کړی خو استاذ بدر یې د(۲۵) پنځه ویشت ورځو له پاره وردننه کړی و هغه ددغه انفرادي زندان په هکله پوره معلومات لري چې وروسته یې خپله تاسوته کیسه کوي .

# دقندهار دزندان آخري ورځې

مونږ په قندهار کې ټولې دوه میاشتې او اته ورځې تېرې کړې په آخري ورځو کې امریکایانو راته دنمایش له پاره دکریم بوره او شطرنج تختې او ځینې زړې شکېدلې مجلې اودخیالي کیسوځه کتابونه راکړل چې هغه هم مونږ غنیمت ګاڼه څو ورځې وروسته یې بیرته راځخه واخیستل داهم هسې ملنډې وې دهغه بدسلوک سره چې امریکایي پوځ دبندیانو سره کاوه دشطرنج او کریم بوره مثال داسې و لکه چې یو څوک سربښکته پښې پورته ځوړند کړې . وهې یې، سکونډې یې او مخکې ورته دکریم بوره تخته کښېږدي چې واخله لوبې کوه !.

# دګوانتنامو زندان ته دلېږلو نښې

دکیو بادګوانتنامو ټاپوکې امریکایي زندان ته دلېږلو پنځه نښې مالا مخکې لیدلې وې چې هغه دادي :

۱ـ دباګرام په زندان کې دطالبانو حلیمي نومي بندي دامریکایانو سره خبرې کولې اوکله کله یې دبندیانو ترجماني هم کوله لکه مخکې چې ماوویل : هغه سره یوه ورځ زه دڅو شېبو له پاره په یوه کوټه کې واچول شوم هغه دخبرو په ترڅ کې داخبره هم وکړه چې هغه بندیان چې دګوانتنامو زندان ته لېږل کېږي هغوی دقندهار زندان ته لېږل کېږي .

دادهغه وخت خبره وه وروسته بیا دباګرام نه کیوباته بندیان لېږل کېدل .

۲ـ دقندهار په زندان کې یو هندي ترجمان سره ماخبرې کولې هغه وویل چې امریکایان دګوانتنامو په ټاپوکې دې بندیانو له پاره پنجرې جوړوي . کله چې هغه جوړې شي داټول بندیان هلته لېږل کېږي .

۳ـ په تحقیق کې دمحققینو دخبرو څخه هم ددې استنباط کېدۀ چې مونږ ګوانتناموته لېږي .

۴ـ کیوباته دلېږلو نه څو ورځې مخکې یې په زیات مقدار کې نارنجي جامې راوړې، دروغتون په یوه لوی تجیر کې یې په زمکه خپرې کړې اودوایې پرې وشیندله ، مونږ لامخکې اورېدلي وو چې دکیوبا بندیانوته نارنجي جامې وراغوندي نو ځکه مو داکیوباته

دلېږلو ځواکمنه نښه وګڼله . نورو خېموته نه ښکارېدې خو مونږ سره نږدې څلور خیموته داجوته شوه نو ځکه ډېر خفه او اندېښمن وو .

**۵**ــ ددوهم ځل له پاره یې ګیرې راوخرېیلې .

اګر چې اکثرو بندیانو سره دازادۍ هیله وه خو دې پنځو نښو په دې دلالت کاوه چې لـه قندهاره ځوک نـه پرېږدې او ټول کیویا تـه لېږي. مـاهمدا ګڼلـه خو نـورو تـه مـې لـه دې املـه نه ویل چې خفه نه شي .

استاذ بدر له باګرامه ترقندهاره کیسه کوي اووایي : په باګرام کې زمـا د آخرنـي محقق پـه دویمـه شـپه یـو امریکایـي محقق راغـی چـې شـکل یـې د افغانسـتـان د ازاره ګـانو په شان و او زماپرې اول د افغان ګومـان و ځکـه چـې دغـه شکل خلک په امریکا کې د **Red Indians** قـبایلو پـه نـوم یادېږي. پـه عربـي کـې ورته هنود الحمر وایي ډېره ښه فارسـي یـې ویلـه او هیـڅ نـه معلومېده چې هغه افغان نه دی درېشي یـې هـم د پنجشـیریانو پـه شـان کړې وه اود **CIA** او ایف بي آي **FBI** اکثرو مامورینو چې اوس هم په افغانستان کې په افغاني ملي لباس لیدل کېږي په هغه وخت یې ځانونه بالکل دشمالي اتحاد قوماندانان جوړ کـړي وو ماپخـپله څـو کسـان پـه پکـول او افغانـي ملـي لـباس اویـاهم هغـه خړو یـا کمـپو فـلاج درېشـیو کـې وکـتل چـې اصـحاب الشـمال یـې اغونـدي ، ورسره بـه یې دپنجشېریانو په شان دسمالونه غـاړه کبې اچولـي وو او لـنډې لـنډې ږیـرې بـه یـې پـرېښودې . اوس خوپـه موجـوده افغانســتان کــې دلویــو ږیــرو او پګړیــو خــاوندان

امریکایان هم لیدل کېږي چې دهرې منطقې سره مناسب لباس جوړوي او پېژندل یې له ورایه مشکل دي.

دباګرام لوی محقق چې کله ماسره په انګلیسي خبرې شروع کړې نو ماورته وویل چې ته خو ډېره ښه انګرېزي وایې! هغه وویل چې دا خوزما خپله ژبه ده زه حیران شوم او ومې پوښته چې آیا ته امریکایي یې؟ دهغه ځواب مثبت و نوما بیا ورته وویل چې ته خو ډېره ښه فارسي هم وایې دهغه سوړه غټه شوه وېې خندل او ویل یې: زه غواړم چې فارسي مې نوره هم ښه شي ماپه دې څو کاله خواري کړې. اوبیایې ماته وویل چې ځان تیار کړه چې نن شپه ستاسو ډېر اوږد پرواز دی . که تشناب ته ځې او که نورڅه حاجت لرې نو بیا په طیاره کې نه کېږي. ماته یې وویل چې داخبره نورو بندیانو ته هم وکړه. کله چې ما دا خبره نورو بندیانوته وکړه نو په ټولو غم راغی چې اوس به مونږ کیوباته وړي. خصوصاً حاجي عبدالحنان چې په خبرود پابندۍ سره سره به یې بیا بیا ماته ویل چې مونږ به چرته وړي؟ ایا وژني موکه کیوباته مو وړي ؟ څرنګه چې ما پخپله هم څوځو ځل د نورو بندیانو او ډاکټر ترمنځ په همدې اجتماعي خانو کې ترجماني وکړه نو حاجي صاحب فکر کاوه چې ماته به شاید ډېر معلومات وي. زه هم دهغه د ځواب نه عاجز وم. یوه شپه مخکې یې زمونږ د څنګ خانې دوه عریان او څه نور کسان افغانان زمونږ په مخکې د ازغنو خانومخکې میدان کې کېنول پلاستیکي خلتې یې ور واغوستې اوپه یو ډبل مزي یې د ټولو متونه سره وتړل او روان یې کړل. مونږ یې هم په هغه شکل په دویمه شپه کتار کېنولو او خلتې

يې هم راواغوستې خو څه شېبه وروسته يې لرې کړې . مونږ ته د روانېدو د خبرې شپه خوزمونږ خوب وتښتېده خو نيمه شپه بياهمدغه هزاره شکلي امريکايي راغی او ويل يې چې نن پاتې شوود هواء دخرابۍ له امله مونږ نه شو کولی چې تاسو په وړه طياره کې انتقال کړو سباشپې ته به لويه طياره راشي مونږ تليفون کړی دی که څه هم موقته مو بلا له سره اخوا شوه خوسباته بيابه تشويش کې وو سبا شپې ته د ماسختن نه دوه عسکر راغلل اوپه لاسونو کې يې هماغه شنې پلاستيکي خلتې وې چې زمونږ نه مخکې ګروپ ته يې زمونږ مخکې ور اغوستې وې. هغه خلتې يې زمونږ مخکې د دېوال ترڅنګ کېښودې اودخاص لباس عسکر چې غوږونو اوسترګو ته يې خاص آلات او خاص خولۍ اغوستې وې ودرېدل اوزه ، مسلم دوست صاحب ، حاجي ولي محمد صراف، حاجی عبدالحنان غزني وال او مولوی شريف الله د مزار شريف ؛ پنځه واړه يې يودبل ترشازنګون کېش کېنولو. اول يې شنې پلاستيکي خلتې راپه سر کړې، بيايې زمونږ په سرونو د خلتې د لا مضبوطولو لهٔ پاره ټيپ واړاوه . په آخر کې يې راته متې را وتړلې او روان يې کړو.

دمحبس نه يې طيارې ته په هماغه شان يوړو په کوم شان چې يې راوړي وو. د طيارې په فرش يې وتړلو او دملاستې او ناستې ترمنځ حالت کې يې پرېښودو اوس نو زمونږ مکمل يقين وشو چې داد کيوبا سفر دی. ولې چې هزاره شکلي امريکايي هم ماته ويلي وو چې ډېر اوږد سفر دی. طياره کې ډېر شور و دشورنه اورېدلو له پاره

خو پخپله امریکایي عسکرو هم غوږونو ته آلات لګولي وو او په خپلو کې دخبرو یابهرسره ارتباط له پاره یې هم خولې ته مایک لګېدلی و خو دطیارې شور زمونږ غوږونه را وخوړل اویخني هم ډېره وه.

آخر تقریباً د درې درې نیم ساعته مزل نه وروسته طیاره کوزه شوه مونږ یې بیا په همغه طریقه کوز کړو لکه په باګرام کې یې چې کوز کړي وو. دې ځل هم زمونږ لاسونه او پښې په پلاستیکي ولچکو تړل شوي وو. څه منډې راکولو نه وروسته یې یوځای ته ننه ایستو چې په ملاسته یې جامې راشیرې کړې اوبیایې بربنډ په یوه تخته کېنولو سرونه او ږیرې یې پاکې رامشین کړې. په همدې حالت کې یې زمونږ عسکونه واخیستل اوبیایې یوې خېمې ته ننه ایستو چې هلته یې بیادتت آسماني رنګ کڅوړه جامې **Jump Suit** را واغوستې. پاتې دې نه وي چې ددغه عملیې د اجرانه مخکې یې مونږ په ځمکه پرمخه دیودوه ساعتو له پاره څملولي وو او زمونږ نه مخکې بندیان یې پنځه شپږ ساعته باران ته په لمده ځمکه په سخته یخنۍ کې پرې ایښې وو. ددغه ملاستې په وخت کې مونږ ته داهم دیو ترجمان په ذریعه وویل شو چې تاسې به اوس خپل د اوسېدو ځای ته وړو او سباته به تاسو خپلو کورونو ته خطونه هم ولیکئ.

دطبي معاینې اولباس تبدیلولو نه وروسته یې رانه یو څو پوښتنې په پټهو سترګو وکړې ، سترګې یې راته په پکول پټې کړې وې. په کندهار کې یې چاته د په سرولو له پاره پکولونه او چاته وړینې

خولۍ ورکړې وې . دسترګو پټولو لـه پاره بـه يې يا همدا پکول او وړينې خولۍ ورته په سترګو راکوزولې او تحقيق ته د وړلو په وخت کې به يې توره خلته هم په مخ وراغوسته.

طبي معائنه او پوښتنې يوې ښځې وکړې چې دبدن نه ډېره وړه او ډېره بد اخلاقه وه دغه وړه ډاکټره به اکثر د اجتماعي بند د خېمو په ساحه کې عسکرو ته ور غاړې وته اويابه ور په شا کېده. يوه ورځ يې يوبندي ته قبض کشا دوايي ورکړه په خپله خېټه يې لاس کېښود ، بيا داسې حالت کې کېناسته لکه چې انسان قضای حاجت ته کېني او دخولې ډر يې هم ورسره وکړ. معنی داچې داقبض کشا ګولۍ به ستا خېټه نرمه کړي او دغسې عمل به اجراء کړې. کله به همدغه ډاکټرې نورو عسکروته په مخ خپل مخ کېښود ، دټيټ قد له امله به ورته وريه شاشوه. اودغه حالت کې به يې عکسونه واخيستل. همدغه لچرې ډاکټرې مانه دشخصي معلومات نه وروسته پوښتنه وکړه When did you last time meet Osama and Mullah Omar? يعنې ستاپه اخري ځل د اسامه بن لادن او ملا عمر سره کله ملاقات شوی؟ زماځواب داو چې زما په ژوند کې هيڅکله هم د اسامه او ملا عمر سره ملاقات نه دی شوی. داهغه پوښتنه وه چې دټولو بنديانونه په کراتو مراتو شوې ده.

له دغې مرحلې وروسته يې زمونږ دګوتو منجيلې ولګولې، بيايې سترګې راپټې کړې او لاسونه يې شاته راوتړل ،خو البته په فولادي زولنو. دوه عسکرو په تړلو متو کې لاسونه د تخرګ لاندې رانـنه ايستل او سريې زما په زور ټيټ کړ.په لباس تبديلولو کې يې زماپه

پښـو کـې یـو څـو جوړه کـر میـچ هـم ولـیـدل خـو تـنـګ وو نـو بیایـې لـوړ ساق دار دځرمـنـې عـسـکري بوټان راپـه پښـو کـړل. اودرکوع پـه حالت کـې یـې چـرتـه روان کـړم. دومره پوهېدم چـې د اوبـو ډنډونـو او ختـو کـې روان یـم. څـه وخت وروسـتـه یـې ودرولـم اود لـږ ځنډنـه وروسـتـه یـې بیـا روان کـړم. څـو قدمـه مخکـې یـې پـه ځمکـه پـړمخـه څملـوم خـو پـه لاري یـې پـه انګرېزي کـې راتـه ویـل چـې تابـه اوس مونـږ یـوه پـنـجـره کـې اچوو. مـافکـر وکـړچـې دابـه دکیوبا پنجرې وي. دپـړمخـه اچولـو نـه وروستـه یـې زمـا لاسونـه چـې شـاتـه تـړلـی وو او پښـې چـې پـه فـولادي زولـنـو تـړل شـوې وې خـلاص کـړل اود **Don't Move** ( حرکـت مـه کـوه ) تېزغـږ یـې وکـړ زه غلـی پـروت وم اونـه پوهېـدم چـې ددې څـه مقصد شـو؟! د طیـارو آوازونـه وو او هـوا ډېـره یخـه وه. شـاطرف نـه مـې د **Gut up** ( پاڅـه ) آواز واوریـده خـو مـافکـر نـه کـاوه چـې مـاتـه وایـې آخـر رابانـدې پـه پښتـو کـې چـا آواز وکـړ چـې " پاڅـه " او وروسـې پـه آردو کـې چـا آواز وکـړ چـې " اټهـو " مـاچـې سـر راپورتـه کـړ ګـورم چـې دیـوځپرګـي مخـې تـه پـروت یـم. ګېـر چاپېره رانـه ازغـن تـاردی. زمونـږ د ځپرګـي یـا خېمـې نـه ګـیـر چـاپـېـره نـور ځپرګـي دي اوداټـول ځپرګـي د ټیټو دېوالونـو پـه یـو کـنـډر شـانـتـې ځـای کـې دي د دېوالونـو شـاتـه د لرګـي جـوړې شـوې لـوړې لـوړې مورچـې دي او امریکایـي عسکـر پـه کـې مسلـح ولاړ دي ددغـه عـارضـي مخیـم غـرب خواتـه دهوایـي ډګـر د ترمینل برج ښکاري او ورسـره دلویـو لویـو تجیرونـو یـا خېمو سرونـه ښکاري. جنوب خواتـه څـه ونـې ښکـاري اود خېمـو ترمـنځ امریکایـي عسـکـر د سـپـو پـړې پـه لاس مسلـح پیره کـوي او ګرځـي.


زماپـه خېمـه کـې موجودو کسانو ماته سترې مه شي وویل او ویل یـې چـې راشـه دخېمـې دترپال لانـدی رانـنوځه ، کمپلې درتـه راوړې . پوښتـنه یـې وکـړه چـې دکوم ځای یـې ؟ ما ورته وویل چـې دننګرهار یم اوپېښـور کـې اوسېږم . هغـوی وویـل چـې داد کـندهار هوایي ډګر دی راځـه ځمله نـورې خبرې بـه بـیا کـوو. یوکس راتـه دخپلو دوه کمپلو نـه یـوه راکـړه او راتـه یـې جوړه هـم کـړه چـې نیمـه ځان لاندې کړم اونیمه پـه ځان راخوره کړم . داکمپـلـې د باګرام دکمـپلو نـه ډېلې وې اوزما ډېره ګـوزاره پـه کـې وشـوه. دمـلا آذان نـه مخکـې عسکرو یوه کمبله اویـو پتـو راوړ ډېروخت وروسـتـه مولمونځ پـه جمع وکړ. خـو دلـتـه هـم پـه تیمم . بیاځیني خلک ویده شول او ځینو تلاوت کاوه .

داپـه کـندهار کـې زمـا اولـه ورځ وه او زه پـه لومړي ځل پـه ورځ کـې دوه ځـل دبـندیانو حاضرۍ تـه پـه کـتار کـې د اودرېدو سره اشناشوم. دلـتـه یـې دورځـې پـه یوه برخه کـې عسکري خوراک راوړ چـې دباګرام د حـلال خوراک برعکس عسکري خوراک و چـې پخـې یخـې سبزیانـې ، بسـکټ، دشربت دپاره پوډر، یو دوه خوږې ګولۍ اودکافي یوه پوڼۍ پـه کـې وه. یوه پوڼۍ بـه پـه کـې د لمر پرست سپین شوي مصالحه دار زنـې هـم وو. او حرامـې غوښـې بـه هـم پـه پـاکـټو کـې وې. مونږ بـه فقط سبزیانـې ، بسـکټ اود لـمر پرست زنـې وغـیره خوړل. او غوښـې ځینو خلکـو اول پـه سـهوه کـې خوړلـې وې خـو وروسـتـه یـې پرېښـودې. یـو دعـبد المجـید پـه نوم یو تور رنګې ایراني شیعه بـه ښه پـه شوق خوړې او ویـل بـه یـې چـې څـوک داحـرامـې غوښـې نـه خوري مونږ تـه یـې راکوئ. عبد المجـید د جاسوسانو د جملـې نـه اوډېر بد اخلاقه و.

په کندهارکې په او له ورځ په افغانانو او عریانو سر بېره زما تعارف د لاهور ډاکټر سرفراز احمد صاحب سره وشو چې په شمال کې نیول شوی اود شبرغان دجېل نه راوړل شوی و. دهغه دکندهار په محبس کې څه وخت شوی و اود ټولو قوانینونه خبرو هغه ماته لازم هدایات راکړل اودهمغه په ذریعه زه خبرشوم چې نوي بندیان یوځای کې نه اچوي. بلکه په مختلفو خېمو یې تقسیموي. همداوجه وه چې زمونږ د طیارې نور ملګري یې ټول هریو په بیله بیله خېمه ورتقسیم کړي وو ماد مسلم دوست صاحب ډېر تالاش وکړ خوپیدامې نه کړ. کله چې لمر راتود شو اوزه درې میاشتې وروسته لمرته مخامخ شوم نو ډېر ورته لېوال وم. دغه ورځ ډېره په خوند تېره شوه، بو دلمر خوشحالي اوبله خوشحالي داچې دکیوبا په ځای په خپل وطن کندهار کې یوو . دخېمې ملګرو راته وویل چې ډېر ملګري یې په نارنجي لباس کې کیوبا ته بوتلل خوزما یقین نه کېده چې مونږ هم کیوبا ته روان یوو له همدې امله مې هغوی ته هم تسلي ورکوله چې الله به خیر کړي. د ورځې په یوه برخه کې چا راته ملا عبدالسلام ضعیف هم راوښود چې مونږ ته مخامخ خېمه کې یې قدم واهه په خېمو کې په یو وخت درې کسانونه زیاتو ته نه د ګرځېدو اجازه وه اونه هم په خپلو منځو کې دخبرو. په همدغه ورځ ماداهم ولیدل چې دقوانینو خلاف ورزي کوونکي جزایان شوي او څوک دنیم او څوک د یو ساعت له پاره په ګونډو نېغ ولاړدي اولاسونه یې په سر ایښي دي . د همدغه اولې ورځې د ثابت په وخت یې زه هم تحقیق ته بوتلم چې ډېر توهین امیز شکل یې درلود.

(c) kitabton.com: The Digital Library






کندهار کې بندي تحقیق ته وړلو او تړلو لپاره پروت دی

(c) ketabton.com: The Digital Library





وحشي او بزدلو عسکرو بندي تحقیق ته روان کړی

بندي به د تحقيق په وخت دخپلې دوسيې دنمبر اورېدو سره د دروازې لورته خالي ځای ته ورغی او پړمخه به په خاورو کې څملاست ، لاسونه به يې شاته په خپلې ملا کېښودل او خپل مخ به يې دخاورو سره ولګاوه. دخېمې نور ټول بنديان به د خېمې شاته لاړل هلته به په ګونډو شول ، لاسونه به يې په سر کېښودل ، دازغن تار شاته به ورته مسلح عسکر ودرېدل او دري عکسرو به دخېمې د دروازې له طرف نه چې مخکې به يې خلاصه کړې وه رامنډې کړې او تحقيق ته د تلونکي بندي د پاسه به يو په ولو کېناست ا ويو هم په پښو اودريم به زر زر اوپه وېره زولنې ور واچولې. بيابه يې توره خلته ور واغوسته ، راپورته به يې کړ او درکوع په حالت کې به يې تحقيق ته روان کړ. سپي به هم ورپسې و اوماته پخپله يوځل سپي خله راواچوله او ګوتې يې زما لمدې کړې خو زخمي نه شوې. دغه ټول ترتيب دوی دبنديانو د وېرولو، ذليل کولو اود خپلې وېرې له امله کاوه چې چرته بنديان د محبس نه بهر د دوی نظامي قرار ګاه ونه ګوري. په لاره کې به خو خو پاټکونو نه تېريدو اود هر پاټک سره به يې د بندي د دوسيې نوم اخيست په باګرام کې يې ماته ۹۴ حاجي ولی محمد ته ۹۵ او مسلم دوست صاحب ته شپږ نوی نمبر ورکړی و خو څرنګه چې مونږ هلته د سره صليب سره ثبت شوي نه وو نو په کندهار کې يې مونږ ته نوي نمبرونه راکړل چې زما ۵۵۹ دحاجي ولی محمد صراف ۵۶۰ او دمسلم دوست صاحب ۵۶۱ و .

په لومړۍ ورځ يې چې زه د څاښت په وخت په کندهار کې لومړي تحقيق ته بوتلم نو اول يې رانه شخصي پوښتنې وکړې، اوبيايې راته

وویـل چې تـه نـن د صلیب لـه لارې کورتـه خط لیکلی شې.د پوښتنو په وخت یـو ټیټ قـدي محقق چې ښه فارسي یې ویلـه مانـه پوښتنه وکړه : " چي وقت تسلیم شدي؟ " (څه وخت تسلیم شوی یې؟) ماورتـه پـه ځواب کې وویل چې زه خو تسلیم شوی نه یم .هغه حیران هم شو او رابرګ هم چې څنګه نـه یې تسلیم شوی ته خوبندي یې. ماورتـه وویـل چې اول تـه د تسلیم ټکي په معنی ځان پوه کړه خیردی تاتـه قصور نشته او ستامورنۍ ژبـه بلـه ده هغـه وویـل چې هو زمـا مورنۍ ژبـه فرانسیسي ده بیایې وویـل چې ته یې راته معنی وښایه. ماورتـه وویـل چې تسـلیمېږي خـو هغـه څـوک چې یاپـه جنګ کې محاصره شي اویـاهم لـه جنګ پـرتـه ځـان چاتـه حوالـه کړي. او مونږ خوپـه خپـل کورکې نـیول شوي بلکـه یـرغمال شوي او خرڅ شوي یو. محقق نـه و خبر هغـه فقـط ابتدایـي معلومـات لیکل مانـه یې عفوه وغوښتـه، بـیایې راسره پـه انګلېسـي خبرې شروع کړې او عسکر تـه یـې وویـل چې دده خیال کوه چې صلیب والا راشي چې زر تر زره دوی کورتـه خط ولېږي ولـې چې دا ترجېحـي قضیـه ده ډېـر وخـت نـه یـې دکـور سره رابطـه پرې شوې ده. بیایې ماتـه وویل چې څه اوس لاړشه نور تحقیق به بیاکوو.

زه عسـکرو بیا خېمې تـه راوړم اود ډاکتـر سرفراز ، جـان ولي او انـور سره پـه خبرو بوخت شوم که څه هم بند و خو زه نن ډېر خوښ وم ځکـه چې مـا د درې میاشتـونـه پس آسمـان اولـمر ولیدل اودچاسره د خبرو کولـو اجـاره راکـړی شـوه . پـه کـندهـار کـې د اولـې ورځـې پـه مـازیګر زه پـه دې وپوهېدم چې مسلم دوست صاحب پیداکړم هغه یې

په يوې خېمې کې يواځې اچولې و ږيره او وېښتان خويې نه وو خود تېرې پوزې، مزل او څادر اغوستو نه مې وپېژندو دېر مې لاس ورته په غلا غلا وخوزاوه خو دهغه فکر نه شو اوشپه راغله. دشپې په مختلفو برخو کې بنديان تحقيق ته ورل هلته معمول و او چې کله به يې يوبندي تحقيق ته وړنو د دېرلرې ځاى نه به يې په دېر اوچت آواز د Get Up پورته شئ اوازونه کول، سپې به هم ورسره وو نو خلک به ټول راويښ شول ، سترکې به يې لانه وې ورغلې چې دبل کس د تحقيق نمبر به شو اويابه هم تالاشي راغله.

د تالاشۍ ترتيب به داو چې دعسکرو يوه لويه مجموعه به د دوه درې سپو سره ناڅاپې په يوې خېمې راغلل د Get Up پورته شئ چغې به يې شروع کړې اود خېمې ټولو اوسېدونکوته به يې دخېمې آخر ته دتلو حکم وکړ هلته به په ګونډو شو لاسونه به يې په سر کېښودل اودهر بندي په سربه درې عسکر ټول په يوځاى ور ننوتل سپي به غپل او هر بندي به د تحقير کېدو او سپکېدو انتظار ايسته. هربندي به يې راپورته کړ پښې به يې ور آزاده کړې او ټول بدن به يې ورته تالاشي کړ بيابه يې په ځمکه په ګونډو کړ اود خېمې انچ انچ به يې تالاشي کړ. ځينې کسان به يې د کاڼو او کاغذونو ټولولو ته موظف کړل. دکاغذونو ټولو لو کار به کيوباکې عسکرو پخپله کاوه د تالاشۍ له ختمېدو وروسته به چې کله ور بندشو نو د Get Up پورته شئ آواز به وشو او دهغې نه وروسته به بنديانو ځانونه څنډل او کمپلې برابرول شروع کړل.

یـوه شـپـه یـو بـنـدي پـه کـمـپله کـې اوده پـاتې شـوی و مونـږ هـم نـه ولـیـدلی مونـږ. دخېمې آخرکې پـه ګونـډو شـو اویوکـس یې تحقیق تـه یـوړ دې وخـت کـې دپـیـره دارخـانې د عسـکر پـه اوده بـنـدي نظـر شـو مخابـره یې وکړه ، ډېر عسکر راغلل ، ټول لـه خېمه یې هـم تالاشي کړه او اوده بـنـدي یې هـم درې سـاعتـه پـه ګونـډو کړ. مونـږ د خېمې ټـول کسـان یې ټـول لـه شـپـه کې پـه مختلفو وقفـو سره راپاڅولو او نیـم نیـم ساعـت بـه یې جزایي کولو. دامریکایي ښځینه او نارینه عسکر یوېل تـه غاړې وتل، ښکلول او داسې نور سپک حرکات عام وو خوداسې هـم شـوي دي چې بـنـدیانو عسـکر سړي اوښځې پـه باګرام اوکندهار کې دزناپـه حالـت کې لیدلي. پـه کـنـدهار کـې دمحبس د وره سـره نـږدې عسـکروکمپیوټر ایښـی و چې پـه هغې بـه یې فحش فلمونه لیدل. یو عسـکر چې همېشـه بـه یې د آذان پېښې کـولې پـه لاس کې بـه یې د انسـان وچـه ګنګې نـیـولې وه اوبـنـدیانو تـه بـه یې ویل چې داوخورئ . همدغـه عسـکر یـوه ورځ پـتلون کـوز کړ او درکـوع پـه حالـت کې شـو شـایې هغـه پیره دار خـانې تـه کړه چې په کې ولاړ عسکر پـه دوربـین کې خېمو تـه راکتل .کـه څه هم دپیره دار خانو او خېمو تر منځ فاصله کـمـه وه خـو ددې لـه پـار چې وګوري چې پـه هره خېمه کې څه کېږي؟ د دوربـیـن استعمال بـه یې کاوه. بې شرم عسکر د دوربین خاوند عسکر تـه شـاور واړو لـه او خپلې شرمګاه تـه یې اشاره کو لـه چې دې خوا وګوره.

یوبـل بد اخلاقه عسکر یو ه ورځ راغـی یو یمنی عرب ملګری رفع حاجت تـه دسطل دپاسـه ناست و عسـکر ورتـه دوه درې ځـل وویـل :

زرکوه چې دبندیانو مخیم ته څوک مشران رانوځي او مونږ نه غواړو چې زمونږ دمشرانو په مخکې څوک قضای حاجت ته ناست وي. عرب ملګري چې ضرورت یې لاته و پوره کړی سر ټیټ کړی و او عسکر چې همدغه عرب ته مخامخ ولاړ و او فقط یو ازغن تار د دواړو ترمنځ وُ بیا بیا عرب ته د پاڅېدو ویل او آخره کې یې په کانې وویشت ترڅو خامخا سر ورپورته کړي. عرب بې چاره هیڅ نه ویل مجبوراً یې ځان د تشناب په کاغذ پاکول شروع کړل. عرب چې دوه ټوټې کاغذ مستعمل کړ نو امریکایي عسکر ورته وویل چې ولې دومره کاغذ ځان پورې سولوې؟ څه خو له خونه ده چې خوراک پرې کوې Bung Whole (شرمګاه) خو هسې هم ګنده ځای دی او بیا ګنده کېږي. امریکایي چې د استنجا او نمازي کېدو د اهمیت نه ناخبرو عرب ته د زر نه پاڅېدو سزاورکړه، هغه یې د نیم ساعت له پاره په ګونډو ودراوه اولاسونه یې په سر ورته کېښودل. داکار زمونږ په خېمې کې وشو او مونږ ددې عیني شاهدان یوو.

ابو احمد المغربي په لندن کې اوسېده اوله هغه ځایه پاکستان ته د تجارت په غرض په وېزه راغلی و؛ د پاکستاني حکامو له خوا په امریکایانو خرڅ شوی و چې ډېر جزایي کېده دهغې وجه داوه چې هغه په انګرېزي پوهېده او امریکایانو ته به یې ویل چې تاسو ظالمان یاست ...... هغوی ورسره کینه اخیستې وه اوداسې هم شوي چې ابو احمد المغربي په یوه ورځ کې لس دولس ځل مسلسل جزایي شوی. دیوه عسکر یو ساعته یا دوه ساعته جزابه چې ختمه شوه نو بل به راغی او هغه به جزایي کړ....

لکه مخکې موچې وويل په کندهار کې يې د رفع حاجت له پاره دوه واړه سطلونه راکړي وو، ټولې خېمې لـه پاره به يې دوه رو لـه د تشناب کاغذ هم څلر ويشت ساعتو کې راکاوه ، اوبيايې دتشناب د کاغذ پـه شـان ارزان شـی هـم رابـاندې زياتـاوه چـې تاسـودا ډېـر مصرفوئ. مونږ نـه مخکې خلـک به په سپين ميدان د سطل دپاسه کېناستل اود ځان پټولو اجازه هم نه وه مونږ چې کندهار ته ورسېدو نو لـه نېکـه مرغه څو ورځې دمخه يې هرې خېمې ته دوه پلاستيکي چوکاټونـه ورکړي وو چـې يونـيم متر لوړوالی يې درلود او يونيم متر يـې هـم دنـنه دکېناسـتو ځـای و؛ د درې طـرفونو نـه بـندو او څلـورم خلاص طرف يې چې د ورننوتو طرف و ددې لـه پـاره خلاص و چې بـايد د رفـع حاجت په وخت کې بندي مخه د چوکاټ خلاص طرف ته کړي اودنامه نه پورته ځان اولاسونه هم نه شي پټولی څکه دا معلومه نـه ده چې بندي دلمنې يا کمپلې لاندې چې په زنګنو نويې پرته ده په پټولاسو څه کوي؟ ايا دابم جوړوي اوکه څه بله تخريب کاري کوي؟!. خودغـه چوکـاټ هـره خېمـه کې نـه وُ دځـه خېموخلـک دپخواپـه څېرپه ډاګه دسطل دپاسه کېناستل .

پـه هرې خېمې کې به اکثر اتلس شل کسان وو دوه سطلونه په څلر ويشت ساعتو کې ډکېدل او اکثر بـه ترې ګـنګې تويېده . خودخپل وخت نه مخکې به يې نه خالي کول اود تعافن نه به بنديان تنګ وو، پـه ځينوخېمو کـې بـه يوسطل و چـې هغـه بـه بـالکل کافـي نـه و اوچې بـنديانو بـه دبل سطل مطالبه وکړه نو عسکرو به ورته ويل چې تاسې د سره صليب نـه مطالـبه وکړئ هغـه بـه مونږ ته ووايي نو بيابه تاسې

ته سطل درکړ شي . بيابه بې چاره بنديانو د سره صليب د راتلو انتظار کاوه چې هغوی راشي او بيادا مسئله ورته حل کړي. دغسې ډېر واړه واړه مسائل به يې سره صليب ته راجع کول چې بنديان هغوی ته مجبور کړي او ددوی په خپل ګومان کې سور صليب بنديانو ته محبوب کړي ځکه چې هغوی يو يو سطل غوندې غټ غټ مسايل حل کوي اودهغې په مقابل کې به سورصليب هم دبنديانو نه معلومات غوښتل اودځينې بنديانو نه يې داسې سوالونه کړي چې امريکايانو ترې په تحقيق کې هم نه دي کړي!!.

کله به چې د خېمو د سطلونو د خالي کولو وخت راغی نو عسکر به د پښو دزنځيرونو سره راغلل اودهرې خېمې نه به يې په نوبت سره هره ورځ دوه کسان ايستل چې دګنګې سطلونه دخپلې خېمې نه شروع کړي او نوبت په نوبت دټولو خېمو سطلونه هغو ډرمونو يا بېلر ونوکې خالي کړي چې دهوايي ډګرد دېوال طرف ته هوايي ډګر ته دننوتو دلويې دروازې سره نږدې ايښي وو. دغه بېلرونه له ډکېدو وروسته ديوې غټې ټينکۍ لرونکي مشين په ذريعه چې په يو ګاډي به نصب و ديو پايپ په ذريعه راښکودل کېدل اوخالي کېدل . دا همغه ډرمونه وو چې په ۱۷ مارچ ۲۰۰۲م يو بداخلاقه امريکايي عسکر قرآن پاک ټولوبنديانو ته وښود اوبيايي عملاً دغه بيلرونو ته ور وغورځاوه!!!.

د سطلونو دخالي کولو مسئو ليت اول ديودوه بې ايمانه عريانو په لاس و چې يود عراق علي نومېده اوبل دبحرين عيسی . هغوی دواړو ديوې اضافي عسکري وجبې يادعسکري خوراک دپاکټ په

مقابله کې داسپک کار کاوه هغوی په دغه وخت کې لمونځونه هم پرې ایښي وو، او امریکایانو ته یې ویل چې دوی عیسایان شوي دي. اودبندیانو په منځ کې به یې تجسس هم کاوه. علي عراقي خو هماغسې مردار خور پاتې شو خو عیسی بحریني کیوباکې اصلاح شوی و اوویل یې چې داکار یې دوېرې له امله کاوه هغه بیا په ظاهره توبه ایستې وه اوښه لمونځ او اودس یې شروع کړی و(؟) نور دزړونو مالک الله تعالی دی. ددغه دوه تنو عربانو سره دنورو بندیانو سلوک ښه نه و.

وروسته بیا داترتیب جوړ شو چې هره ورځ به دیوې خېمې نه دوه کسان اخیستل کېدل چې سطلونه بېلرونو کې خالي کړي په پښوکې به یې زنځیرونه ور واچول اولاسونه یې خلاص وو دغسې به دټولو خېمو د دوه کسو خدمتیانو نمبر راته . له خپلې خېمې پرته به دبندیانو دبلې خېمې سره دخبرو اجازه نه وه اود خېمو یا ځپرګو ترمنځ دلرې والي له امله به هم نه معلومېده چې د چاملګری چرته دی ؟ اویاکه وي نو څنګه پیغام ور ولېږي ؟ نویوه طریقه یې داوه چې پخپله ځان د سطلونو خالي کولو له پاره وړاندې کړي اوپه دغه طریقه د نورو خېمونه دسطلونو د راپورته کولو او بېرته د خالي سطلونو ورکولو په وخت کې خپل ملګري سره زر زر یو څو خبرې وکړي یا هم د نورو ملګرو سوال ځواب ورورې. داطریقه بیا وروسته دومره عامه شوه چې سطلونه خالي کوونکی بندي به حیران شو چې د چا پیغام چاته ورسوي ؟! اوکوم کوم پیغام په یادوساتي؟ ځکه چې یو خویه یوې خېمې ته دډېرو خېمونه مختلف پیغامونه وو اوبیابه د

همدغې خېمې نه بيرته نورو خېموته هم پيغامونه وو. د ډکو سطلونو اخيستل اود خالي سطلونو بيرته ورکول به په دې طريقې وو چې هغه دوه بنديان چې هغوی به دسطلونو دخالي کولو له پاره منتخب شوي وو د څپرکي د ازغن تار سره ودرېدل اود څپرکي دننه بنديانو کې به هم يو يادوه کسانو ډک سطلونه راواخيستل اود ازغنو تارونو ترمنځ فاصله کې به يې ډک سطلونه د ازغنو تارونو نه بهر کسانو ته ورکړل او هغوی به خالي سطلونه له څو دقيقو وروسته بيا په همدې طريقه ورکړل. ددغه راکړې ورکړې فرصت به بنديانو له قصده هم اوږداوه ترڅو ډېرې خبرې وکړي خو شاته به ولاړو عسکرو Hurry Up (زرکوه) آواز کاوۀ. په دغه طريقه به بنديانو ته په دغه ظالم کمپ کې د موجودو کسانو په اړه کافي معلومات کېدل. امريکايان تر آخره په دې پوه نه شول چې دسطلونو خالي کولو په وخت کې څومره معلومات دبنديانو ترمنځ تبادله کېږي؟.

دګندګۍ د سطلونو دخالي کولو دغه ظاهري ګنده عمل به ان شاء الله چې دالله سره اجرو لري خوداچې بنديانو ددغه عمل نه څومره کار اخيست او څومره معلومات يې ترلاسه کول؟ ډېره په زړه پورې موضوع ده . داعمل بنديانو کې دومره مقبول شو چې کله به دسطلونو دخالي کولو غږ عسکرو وکړ نو دنوبت په خېمې کې به هر چا داکوښښ کاوه چې هغه د سطلونو خالي کولو ته ورمخامخ شي. ترڅو ډيرو ملګرو سره وګوري اوداخدمت وکړي چې دملګرو ترمنځ پيغامونه تباد له کړي. زه چې د انګليسي ژبې دزده کړې له امله دخپلې خيمې مشر وم او دهرې خېمې مشريه عکسرو English

انګلش باله اوکوښښ به يې داو چې هرې خېمې کې بايد يو انګلش وي. کله به چې عسکرو په اوچت آواز دانګلش غږوکړ او ملګري به پوه شوو چې دسطلونو دخالي کولو وخت دی او عسکر د انګلش نه دخدمت له پاره دوه کسان غواړي نو هر ملګري به ماته ويل چې بايد هغه انتخاب شي. بلکه ددغه کار له پاره به له وړاندې نمبر نيول شوی و. زه هم د انفرادي محبس نه له راوتووروسته ډېر لېواله وم چې خپل ورور مسلم دوست صاحب وګورم چې هيڅ معلومات يې نه کېده چې هغه چرته دی؟ محققينو به فقط همدومره ويل چې هغه همدلته په کندهار کې دی. همدغسې مسلم دوست صاحب هم اندېښمن و چې ورور مې څه شو؟. وروسته بياهغه هم ماته وويل چې دمحققينو نه به يې زماپوښتنه کو له اوهغه ته به يې هم زما په شان ځواب ورکاوه. ددغه مشکل دحل يو ه لاره مادا راوايسته چې بايد زه هم د ډکو سطلونو دخالي کولو په بهانه خپل ورور په خېمو کې ولټوم اوچې کله مې داکار وکړ نو کامياب شوم.مسلم دوست صاحب يې زمادخېمې بالکل مخالف سمت کې چې دکمپ بل کونج واچولی و. له نېکه مرغه هغه د مريضانو په خېمه کې و چې نسبتاً يې جزاګانې کمې وې.

کله چې زه د مسلم دوست صاحب دوی د څېرګي د څنګ څېرګي کې دسطلونو خالي کولو له پاره دخپل يوبل ملګري سره د عسکرو نه مخکې زنځيرونه په پښو روان وم نو دغه وخت کې مسلم دوست صاحب چامتوجه کړی و چې ورور دې سطلونو خالي کولو له پاره راغی زرکوه خبرې ورسره وکړه او سطلونه ازغنو تارونو کې ورکول

بل چاته مه پرېږده. چاچې مسلم دوست صاحب متوجه کړی و هغه زمونږ دځپرګي په څنګ کې بل ځپرګي کې پاتې شوی و او دومره معلومات ورته و چې زه دمسلم دوست صاحب ورور یم. کله چې دمسلم دوست صاحب دوی دخېمې ترڅنګ بلې خېمې ته زه اوزما ملګری فارغ شوو اود مسلم دوست صاحب دوی خېمې ته ور روان شوو نو مسلم دوست صاحب له ورایه ماته لاس وخوځاوه. که څه هم زمونږ د دواړو ږیرې نه وې او مخونه مو اوس لږ لږ راتور شوي وو خویېل مو وپېژندل. زه هم ورګړندی شوم اودڅنګ ملګري ته مې ـچې زما په کیسه پوه وـ وویل چې "ورور مې پیدا شو" مسلم دوست صاحب هم راګړندی شو اودهغه دځپرګي یوېل کس چې سطل یې ماته را روان کړی و زر مسلم دوست صاحب دهغه نه سطل واخیست او څه یې ورته وویل زماملګری هم شاته شو اوزه او مسلم صاحب مخامخ شوو په ازغن تارکې موسره لاسونه ورکړل او زر زر موسره یو څو جملې تباد له کړې. د تحقیق په باره کې مو لنډ لنډ یوبل وپوهول اودځاني حال احوال پوښتنه موسره وکړه. دغمونو په منځ کې داد خوښۍ عجیبې لمحې وې خو ډېرې لنډې. مونږ ته د ډېرو اودرېدو اجازه نه وه اونه دا کافر عسکر په دې پوه وو چې دا دواړه سکه ورونه دي اوبیاد شرقي دنیا ورونه بلکه دوه مسلمانان افغاني وورنه دي عسکرو د Hurry up (زرکوئ) غږ وکړ، ما اوملګري مې ډک سطلونه بېلرونو ته یوړل او چې دهغه ځای نه راګرځېدو نو د مسلم دوست صاحب د ځپرګي خوا اوشاتول ځپرګي په دې خبرشوي وو چې د دوو ورکو ورونو ملاقات وشو په ځپرګو

کې ټولو موجودو بندیانو ته هم دا ملاقات ډېر په زړه پورې و او چې کله مونږ خالي سطلونه راوړل او بیا مسلم دوست صاحب رامنډه کړه او له مانه يې خالي سطلونه د ازغنو تارونو ترمنځ واخیستل نو زر زر يې راته دخپل تازه جوړ کړي شعر يوڅو بيتونه وويل چې دپسرلي موسم وٸ اودقندهار په امریکايي زندان کې دپسرلي هیڅ نښه نه وه نو هغه داوضعه داسې انځور کړې وه :

داځـــنګه پســـرلی دی نـــه ګلـــبڼ اونـــه ګلونـــه شـــته
نـــه پـــه کـــې بلـــبل نـــه يـــې نغمـــې نـــه چيـــنارونه شـــته
خـــاورې دي اودوړې دي شـــګلن ســـاړه بادونـــه دي
ظلـــم دی تېـــری دی سراســـر تـــرخه يادونـــه دي
دلـــته دانســـان نـــه کرامـــت نـــه ارزښـــتونه شـــته
نـــه پـــه کـــې بلـــبل نـــه يـــې نغمـــې نـــه چيـــنارونه شـــته
دلـــته پـــه ګوګـــل کـــې ائډ ښنـــې ځړيکـــې دردونـــه دي
هرخواوحشـــــتونه دي آهونـــــه فـــــريادونه دي
فصـــل دبهـــاردی نـــه يـــې نښـــې نـــه کښـــتونه شـــته
نـــه پـــه کـــې بلـــبل نـــه يـــې نغمـــې نـــه چيـــنارونه شـــته
داځنګه سپرلی دی چې .......

ريښتياچې دپسرلي دګلانو دبوي پرځای زمونږ ترمنځ دګندو سطلونو بوی و بلکه د ببلرونو نه دګندو کش کولو په وخت کې خوبه

ټول کمپ بوي په سر واخیست او امریکایانو به داکوښښ کاوه چې ډرمونه د ډوډۍ په وخت کې خالي کړي.داهم په مونږ دذهني اوروانې جنګ یوه حربه وه.

زه او مسلم دوست صاحب په کندهار کې تقریباً یوه نیمه میاشت یو دیل دحال نه نه وو خبر او حتی له ورایه مو هم سره نه شولیدی. دهغې لامل داو چې کله مونږ کندهار ته ورسېدو زه او مسلم دوست صاحب یې په بیلو بیلو خېرګوکې واچولو نو زه یې په دوهمه شپه کوټه قلفې یا انفرادي محبس ته یوړم. په کندهار کې زمونږ په وخت دمالونو له پاره جوړ شوي زاړه داوسپنې خادرې لوی لوی ګودامونه د انفرادي جېل له پاره مستعملېدل. دغه لوی خادري ګودام دبندیانو ترمنځ د کنټینر په نوم یادیده او کنټینر ته دیوچا وړل ښه نښه نه وه. دغه کنټینر ته به یاد محققینو له خوا اویا هم د انتظامي مشکلاتو له امله خلک وړل کېدل. زه خو فقط دوه شپې مخکې کندهار ته رارسېدلی وم اودعسکرو یابندیانو سره مې څه انتظامي مشکل نه لاره خو محققینو زه د تحقیق خصوصي سختیا له پاره کنټینر ته بوتلم.

دانفرادي محبس یاکوټه قلفۍ له پاره ـ چې پاکستاني جیلونو کې ورته چکۍ وایي ـ امریکایانو دغه ځای انتخاب کړی و. زه خوېې دغه کنټینر ته په پټو سترګو ننه ایستم خودننه یې چې کله زماسترګې خلاصې کړې ګورم چې کنټینر یې په اتو حصو وېشلی . اول یې دټول کنټینر منځ کې یو عارضي د اوسپنې خادري دېوال وهلی او بیایې هر طرف کې د ازغن تار په ذریعه څلور څلور خانې

جوړې کړې دي. چې هره خانه درې متره مربع مساحت لري. دهرې خانې دروازه هم د ازغن تار په ټولولو اوغځولو خلاصېده او بندېده او دواړه طرفته د انفرادي خانو ترمنځ یو متر نرۍ لاره وه چې عسکر په کې ځي راځي اوبندیان له همدغې لارې تحقق ته په پټو سترګو اوکړه ملا وړي راوړي. دکنټینر یوسر خلاص و اوبل سر کې یې هم د پیره دار له پاره ځلورمه برخه خو له خلاصه کړې وه. دواړه طرفته د کنټینر د بهر دطرف نه زینې راختلې او هلته د هریو دوه او ځینې وخت درې ساعته پس مسلح پیره دار بدلېده دغه کنټینرد روسانو دوخت دجګړو له لاسه سورۍ سورۍ و اود باران په وخت کې به په کې لاندې پراته بندیان لمدېدل. هربندي ته یې فقط یوه کمبله ورکړې وه چې نیمایي به یې دځان لاندې کو له اونیمه به یې اغوستله. د کنټینر د باندې د اجتماعي ځېرګیو فرش به دلرګیو و خو په انفرادي کنټینر کې به بندیان په زیمجنه شګه پراته وو.

مادکندهار په کنټینر کې پنځه ویشت شپې وکړې او له مخې مې ډېر خلک تېرشول ځېنو خلکوته به یې لومړۍ څو شپې یوه کمپل هم نه ورکو له او په لمده شګه به پراته وو. په دغه انفرادي کنټینر کې پراته خلک د امریکایانو په فکر خطرناک یا وران کاري خلک وو نو له همدې امله به یې ورسره بده رویه کو له یوبل سره د خبرو اجازه نه وه شپې او ورځې یواځې تېرېدې. کله به یې چې د تحقیق له پاره یوبندي ته آواز وکړ نو بندي به د نورو عامو بندیانو په شان په ځمکه پړمخه څملاست اوخپل لاسونه به یې په خپلې شاکېښودل د کنټینر دواړو سرونو کې دپاتخو سرونو ته

اوچتو ناستوڅوکیدارانو به دخپلو ټوپکونو لټونه ووهل اوشپېلۍ به یې د پړمخه ملاست بندي خواته کړه اود Don't Move ( مه خوځېږه ) آواز به یې پرې وکړ نوبیابه عسکر د زنځیر ونو او تورې خلتې سره ورننوتل، بندي به یې وتړه، توره خلته به یې ور واغوسته اود رکوع په حالت کې به یې تحقیق ته روان کړ. تحقیق ته دوړلو په وخت کې دعامو بندیانو له پاره دسپي موجودیت هروخت لازم نه و خوددغه انفرادي کنټینر نه تحقیق ته وړونکیو بندیانو له پاره تحقیق ته دوړو په وخت کې عسکرو سره دسپو موجودیت لازمي خبره وه .

په کنټینر کې بندیانو ته د نفسیاتي تعذیب له پاره ځینې عسکر موظف شوي وو چې کله به شپه پخه شوه نو د کنټینر دپاسه به یې غټ غټ کاڼي راغور ځول. د کنټینر پاس سر دائروي و او کاڼي به پرې نه ټینګېدل خود کوز شوي څادر په وړو وړو لختیو کې به یې دکنټینر بېخ ته دراکولي کېدو په مهال وخت اخیست اوپه دغه ترتیب به یې ګړزاکو له چې دیوکاڼي د راکولېدو پسې به یې بل د کنټینر په سر ور واچاوه اوبیابه ګړزا جوړه شوه په دغه ترتیب به ډېر وخت داکار روان و . اویابه هم یو یا دوه کسه د کوتکونو سره موظف وو چې د کنټینر څادر په کوتکونو ووهي اومونږ خوب ته پرې نه ږدي. کله به یې سپي کنټینر ته رادننه کړل اوپه غپا به یې خلک نا ارامه کړل ، دغسې به یوه نه یوه لوبه روانه وه. دټول کنټینر په اتو بندیانو کې به هم یونه یو تحقیق ته روان و اویابه د تحقیق نه دسپو په بدرګه کې را روان و، هغه به هم یوه لوبه وه. په کنټینر کې

به شپه او ورځ يوكس نه يوكس جزايي هم و، دغه جزايي به ياپه ګونډو شوی اولاسونه به يې په سر ايښي وو اويابه هم ولاړو اوناستې يا ملاستې ته به يې نه پرېښود. په كنټېنر كې ماسره درې مهم كسان مخامخ شوو. په اوله هفته كې يې يو تور رنګى او ټيټ قدى كس راوړ او زما چپ طرف ته خانې كې يې واچاوه په كنټېنر كې زمونږ دطرف څلورو خانوكې يې مونږ څلورو كسانو ته يو قرآن شريف راكړى و چې نوبت په نوبت به موږه كې تلاوت كاوه اويوبل ته به مونوبت په نوبت د ازغن سيم ترمنځ فاصله كې وركاوه.

كله يې چې نوى تور رنګى ټيټ قدى سړى زما ترڅنګ دشپې واچاوه زه دهغه په عربيت او عجميت كې شكي وم، سباته مې دقرآن شريف وركولو په وخت كې ترې پوښتنه وكړه چې څوك يې؟ هغه زر زر په انګرېزي كې راته وويل چې زه د برطانيې اوسېدونكى يم هماغلته پيداشوى يم، مور اوپلار مې پاكستانيان دي اوزه يې يوه هفته مخكې په اسلام آبادكې ونيولم. مونږ ته دخبرو اجازه نه وه خودطيارو دغرار په وجه زمونږ خبرې عسكرونه اورېدې. بله داچې مونږ د خبرو پرمهال ظاهراً قرآن شريف يوبل ته وركاوه. دلته زمونږ د ضروري خبرو بهانه همدغه يوه وه چې د بلې خانې نه به ما قرآن شريف وغوښته اوپه ازغنو تارونو كې به دوركولو په وخت كې مونږ يوبل سره خبرې كولې.

وروسته زه خبرشوم چې دغه تور رنګى ټيټ قدى سړى حذيفه نومېږي اوپه كابل كې د عربانو سره نږدې اوسېده. كابل كې يې يودار الايتام درلود. ډېر متحرك سړى و ډېر ورزش كار هم و. په

کنټېنر کې يې هم ورزش کاوه. په انګلستان کې يې يو اسلامي مرکز لاره؛ اوس يې دخپلو ماشومانو سره هجرت کړی و او کابل کې اوسېده دعربانو دمشرانو سره دنږدې اړيکو اود اسنادودلرلو تور پرې لګېدلی و؛ وروسته معلومات وشو چې حذيفه يې دکندهار نه بيا باګرام ته وړی هلته يې يوکال ساتلی اوپه باګرام د تېرېدونکو بنديانو په هکله معلومات اودهغه مخکې تېرول يې په باګرام کې د ډېر وخت د ساتلو هدف و. دلاهورسعد مدني چې سعودي کې پيداشوی او اندونيشيا کې نيول شوی و. هم باګرام کې يو کال ساتل شوی وُ د متوکل سره درې مياشتې کوټې کې هم اچول شوی و اود بنديانو ترمنځ مشکوک هم و..

حذيفه وروسته دباګرام نه دعربانو دمشرانو سره څه وخت اچول شوی وُ ويل کېږي چې اوس آزاد شوی دی . په کنټېنر کې دوهم سړی د حمزه په نوم راغی چې دتيونس اوسېدونکی او کيوباکې د عربانو ترمنځ د حمزة البطل په نوم يادېده. حمزة البطل لوړ دنګ سړی و له رنګه لږ تور اود مضبوطو غړو او غټو هډونو خاوند وُ،هغه هم ورزش کار برېښېده. دهغه کيسه هم ډېره عجيبه وه حمزة البطل يې زماپه کنټېنر کې د درې هفتو پاتې کېدونه وروسته راوړ او کنټېنر ته يې سوچه برېنډ رادننه کړ. دوه شپې يې په سخته يخنۍ کې همداسې برېنډ اودرولی و، کمپل يې هم نه ورکو له اوخوب ته يې هم نه پرېښوده په ژبه هم نه پوهېده او عسکرو سره به يې په اشارو خبرې کولې.

حمـــزة الـــبطل ته امريكايان په دې غوسه شوي وو چې دا دومره ماهرسړی و چې د نيول كېدو نه رادې خوا چې په سوونو ځل يې دټول بدن تفصيلي تالاشي هم شوې وه او جامې يې هم څوځل امريكايانو پخپله وربدلې كړې وې څوهغه په همدې حالت كې دسلو امريكايي ډالرو نوټ د ځان‌سره ساتلی و او تراوسه وربانديې امريكايان نه وو پوه شوي چې كشف يې كړي ! دې ته وايي د CIA او FBI قوي استخبارات !(؟). حمـــزة البطل دغه دسلو امريكايي ډالرو نوټ دباګرام نه هم راتېر كړی و اوپه كندهار كې هم دټولو پلټنونه وروسته ورسره و. هغه به چې كومه خېمه كې اوسېده او هلته به تالاشي راغله نو نوټ كې به يې يوه وړه تيږه كېښوده او دڅنګ خېمې ته به يې ورواچاوه كله به چې تالاشي ختمه شوه نو ملګرو به بيا بيرته ورواچاوه. كله كله به چې دڅنګ په خېمه كې ډېر اعتباري ملګری نه و نود كمپ بل سرته ډېرې لرې خېمې ته به يې د ګاټې سره دغه دسلو ډالرو نوټ ورساوه.

داسلسله ډېر وخت وچلېده خو آخر بې چاره ښكاره شو او هغه هم فكر كوم چې دبنديانو ترمنځ كوم جاسوس افشاكړ.بيايې هم نه شو موندلی خودتعقيب لاندې و او د ګوزارولو په عين موقع يې ونيوه.

محققين حمـــزة الـــبطل ته ډېر غصه وو اوويل يې چې: ته دهغو خلكو دجملې نه يې چې زمونږ دقوي اميګرېشن نه تېرېږي اوطيارې د بلډينګونو سره جنګوي.

کله یې چې حمزة البطل برېنډ کنټېنر ته را دننه کړ نو یو افسر راغی او غوښتل یې چې دا ته وښایي چې حمزة البطل هم د هغو کسانو دجملې نه دی چې طیارې دبلډنګونو سره جنګوي اوپه دې هم پوهېده چې حمــــزة البطل په انګرېزي نه پوهېږي نو امریکایي افسرچې ډېر غوسه معلومېده په تکرار حمزه ته ګوته ونیوله او خپل پیغام یې ورته دجملې نه بلکې په نیمګړو الفاظو داسې ورساوه.

You, Newark, airplane, Bummm.. یعنې تاسو په نیویارک کې طیارې جنګولې چې دبوم آوازیې کړی وُ.

ددغې خبرې سره به امریکایي نظامي افسر دخپلو دواړو لاسونو نه هم دطیارې وزرې جوړې کړې اود" بوم" سره به یې خپل ټول بدن ته داسې ټکان ورکړ تابه ویل چې واقعي طیاره د تجارتي مرکز سره وجنګېده.

حمــــزة الـــبطل په ګوانتنامو کې هم په یوائې زندان کې ډېر وخت تېر کړ اوداخبره مشهوره وه چې هغه محققینو ته معلومات نه ورکوي بلکه تمسخر پرې کوي دحمــــزة البطل دملګرو ترمنځ یوه جمله ډېره مشهور ه وه چې هغه یوه ورځ پخپله دخپل تحقیق کیسه کوله :

محقق د حمزه نه پوښتنه کړې وه چې نوم دې څه دی؟. هغه ورته وویل چې حمزة البطل یعنې اتل حمزه دهغه خپل نوم خو فقط حمزه و بیایې ورنه پوښتنه کړې وه چې افغانستان کې دې څومره وخت

تېرکړی دی؟ هغه وویل : یونیم کال . بلـه پوښتنه داوه چې نظامي تدریب دې کړی که نه؟ دحمزه ځواب داو چې نه . نو محقق ورته وویل چې داځنګه کیدای شي؟! عربانو به د محقق الفاظ عربي کې تکرارول.

محقق : (حمزة البطل سنة ونصف فی افغانستان ومافیه التدریب؟! لایمکن ).حمزه: (نعم سنة ونصف فی افغانستان ومافیه التدریب ) یعنی دا ځنګه کیدای شي چې دیوائې حمزه پرځای دې یوسړی حمزة البطل یا اتل حمزه وي او یونیم کال دې هم افغانستان کې تېرکړی وي او نظامي تدریب دې هم نه وي کړی؟! هغه وویل هو یونیم کال په افغانستان کې وم او نظامي تدریب مې نه دی کړی. خو ددغه جملو سره به حمزة البطل دامریکایانو په شان حرکات کول اودهغوی پېښې به یې کولې. زماد کنتینر نه د راوتو دوخت پورې حمزة البطل بربنډ پروت و البته دوه ورځې وروسته یې یوه کمپل ورکړه .

دریم سړی چې ماسره دکندهار د کنتینر په یوائې بند کې مخامخ شو د طالبانود اسلامي تحریک یونامي شخصیت وخوت کله چې زما په یوائې بند کې تقریباً پنځلس ورځې وشوې. دشپې په شګو پروت وم ،دشپې آخري پار و اود ډېرو فکرونو نه وروسته ایله زما سترګې ورغلې وې چې ناڅاپه مې تشې درد وکړ اوداسې فکر مې وکړ لکه چاچې راباندې ګوزار وکړ خو متصل مې په خپل ځنګ کې یو غونډاری محسوس کړ چې سرمې راپورته کړ زما د خانې د ازغن سیم خواته دوه امریکایي ، عسکر ولاړوو او په کړس کړس یې

خندل. دغو عسکرو تولـه شپه د کنټینر په درزولو اود کنټینر دپاسه پـه تـيږو اچولـو تسلي نـه وه شوې، ديـو کـيلو پـه انـدازه تـيږه يـې راخيستې وه او چې زه يې پټې سترګې ولـيدم نوزمـا دپاسـه يې راواچـو له اوزمـا پـه ښي تشي داسې راوغورځېده چې زه يې وډردولم خود پاسته تشي لـه املـه مـې هډوکي ته کوم زيان ونه رسيده. البته تشي مې دڅـو ورځـو پـورې درد کـاوه اوچې کلـه مـې طبي ټيم تـه شکايت وکړ نوله پاسه به يې زماتشی ولید او ویل به یې چې ښه دی کوم ظاهري زخم نه لري کيسه به يې هم زما واوريده چې عسکرو په تيږه ويشتلی يم خوڅه غوږ به يې پرې نه ړباوه درې ورځـو پورې مې تشـو بولـو کـې نـرۍ نـرۍ وینه هم راتله خو لـه درې ورځو وروسته الله پاک تکليف په کمېدو کړ او بالا خره پخپله ښه شو.

وايـي چې يـو سړي په ولاړه بولې کولې ځا ورته وويل چې داولې؟ څو مره غټ سړی يـې اوداسې بدتميزه کـارکوې چې دماشومانو په شان په ولاړه بولې کوې ؟! متيازن سړي ځواب کې وويل:

ـ زه خو اوس ډېرښه شوی يم مخکې به ورسره چورلېدم هم .

زمـاديو سوال پـه ځواب کـې زمـا امريکايـي محقق ماتـه تقريباً همداسې ځواب راکړ. کلـه چې ماخپل محقق ته وويل چې زه بېګا ستاسـو عسـکرو بـې لاملـه ولـې پـه درنـه تـيږه وويشـتلم ؟ نـو دهغـه ځواب داو چې:

ـ دا اوس حالت خو ډېر ښـه دی ستاسـو د راتلـو نه مخکې دلته حالـت ډېـر خـراب و او زمـونـږ عسـکر د نـيويارک او واشـنګټن پـه احداثـو ډېـر غوسـه وو . خـوزه امريکايـي عسکرو د غوسې پـه حالت

کې په تیره نه وم ویشتلی بلکه هغوی زما په ویشتلو خندل او تمسخریې کاوه. د کنټینر دواړه طرفته پیره دارانو هم خندل او ددغه کار نه یې خوند اخیست چې دهغوی دتکبر ښکارندوی و.

هو! په ماد امریکایي عسکرو دتیرې دګوزار شپه هماغه شپه وه په کومه شپه یې چې یو نوی مېلمه زما خواته راوړ. کله چې زه دتیرې د ګوزار ددردنه راپورته شوم او دامریکایي عسکرو خندا مې ولیده نو عسکرو چې زمااودهغوی ترمنځ فقط یو ازغن تار حایل و ـ ماته اشاره وکړه چې داتیره راپورته کړه. ماتیره راپورته کړه اوعسکر ته مې وویل Is this your human Rights (ایا داستاسې بشري حقوق دي ؟) عسکرو زما دسوال دځواب پرځای ماته وویل چې داتیره واخله اوداستا دځنګ خانه کې دغه بل بندي نه خپل انتقام واخله اوهغه پرې وو له. ماورته وویل چې دهغه څه ګناه ده؟ ظلم تاسې کوئ او انتقام دهغه نه واخلم؟! بیایې دریمې خانې ته اشاره وکړه چې ښه څه دهغه وړاندې بندي نه انتقام واخله یعنې هغه په تیره ووله. په دریمه خانه کې یو سپین ږیرې عرب پروت و وروسته ماته معلومه شوه چې دکندوز د ولایت د الوفاء دخیریه مؤسسې مسؤل دی. دعسکرو دهغه په ګټه دویشتلو امرهغه هم حیران کړ او ماته یې حیران حیران راوکتل. ماتیره لاس کې نیولې وه چې که کوم نظامي مسئول راشي اوزه ورته شکایت وکړم خو بیامې فکر وکړ چې داکار بې ګټې دی اوتیره مې د ازغن تارنه دباندې لارې ته وغورځوله.

دغه عسکر اصل کې دنوي مېلمه لیدوته راغلی و اوچې یو څو دقیقې وروسته ټوپل عسکر کنټینر ته راننوت نو موجودو عسکرو هغوی ته وویل چې :

We have a special guest today (مونږ نن یو خاص مېلمه لرو) بیایې ورته وویل: He was Taliban governor of Herat Province... (دادطالبانو د هرات والي و).

داخبرې ماد عسکرونه واورېدې اوزه هم متوجه شوم خود خبرو اجازه نه وه دورځې چې کله مانه نوي مېلمه دقرآن شریف غوښتنه وکړه نو د ازغن تار په منځ کې مې دقرآن شریف دورکولو په وخت کې ترینه زر زر څو پوښتنې وکړې هغه راته وویل چې زه ملا خیر الله خیر خواه یم ، په کویټه کې یې ونیولم او بېګایې دلته راوړی یم . دیوائې قید شپې تېرېدې زه به یې هم تحقیق ته ورم خو خیرخواه صاحب به یې ډېر ور اوزماد یوائې قید نه دوتونه څلور ورځې مخکې یې ډېر تنګول شروع کړل .

په باګرام کندهار او کیوباکې یې چې کله مونږ تحقیق یا روغتون ته وړلو نودنوم اخیستو په ځای به یې زمونږ د دوسیې نمبر اخیست چې هغوی د ISN نمبر په نوم نوماوه. څرنګه چې زه ، مسلم دوست صاحب او حاجي ولي محمد صراف یې باګرام کې د سره صلیب نه هم پټ ساتلي وو نو له همدې امله یې په باګرام کې مستقل ISN نمبر نه و راکړی بلکه هلته یې دموجودو بندیانو مسلسله ګڼه راکړې وه چې د مسلم دوست صاحب ( ۹۴) دحاجي ولي محمد صراف ( ۹۵ ) او زماګڼه (۹۶) شپږ نوي وه . خوپه

کندهار کې بیاد ISN یا دوسیو نمبرې زما ( ۵۵۹ ) دحاجي ولي محمد ( ۵۶۰ ) اود مسلم دوست صاحب ( ۵۶۱) نمبر و. په نورو نمبرو سربېره دملاخیرالله خیر خواه نمبر زما په ذهن کې ډېر پوخ شوی اودهغې لامل داوچې د کندهار په یواځې قید اوبیا وروسته زماپه څېرګکي کې دهغه نه ډېر زیات ما اورېدلی و دهغه د دوسیې نمبر( ۵۷۹ ) و.

زما دیواځې قید نه د راوتو نه څلور ورځې مخکې یې چې کله ملاخیر الله خیرخواه ته بې خوبي ورکول شروع کړل نو دامریکایانو دقرار ګاه په مخابره کې - چې هغوی ریډیو بلله - به یې (۵۷۹ ) یادکړ او متصل به دکنتېنر پیره دار په ملاصاحب غږوکړ چې ودرېږه. ملاصاحب به چې ودریده نو نیم ساعت وروسته به بیاغږ وشو چې ( فایوسیون ناین) او ملا صاحب ته به یې اشاره وکړه چې کېنه. نیم ساعت وروسته به یې بیا اودراوه اونیم ساعت وروسته به یې کېناوه په همدې ترتیب به شپه او ورځ تېرېده. هغه یې څملاستو ته نه پرېښوده او مسلسل بې خوبي یې ورکوله . آخر داسې شوی و چې نه اودرېدی شو اونه کېناستی شو؛ عسکرو به پرې چغې وهلې دملا صاحب دڅلورو ورځوبې خوبۍ نه وروسته زه د الله په فضل د انفرادي قید نه اجتماعي څېرګکي ته راووتم. ملاصاحب وروسته راته وویل چې هغه ته یې اته شپې بې خوبي ورکړې وه او تحقیق به یې ترې کاوه زه چې کله بیا نورو خلکو سره یوځای شوم نو د اجتماعي څېرګکي قید راته د انفرادي قید په نسبت بېخي راحت ښکارېده. اوچې کله ملاصاحب خیرالله خیرخواه

راووت او زما څپرکي ته يې راوړ نو هغه هم ډېرخوشاله و. په دې وخت کې مونږ ته د دريو کسانو ترمنځ د خبرو کولو اجازه وه. ملاخير الله خيرخواصاحب چې دانفرادي تعذيب ليدلی وٸ ،کله چې اجتماعي څپرکي ته راورسيد نودټولو ستونزو سره سره ورته څپرکی ښه ښکاريده بياهغه مونږ ته ديوائې قيد دبې خوبۍ په وخت کې دخپل نفسياتي انديښنو کيسه وکړه. هغه ويل چې کله هغه دبې خوبۍ نه ډېر تنګ شو نو څو څو ځلې يې اراده وکړه چې خپله مرۍ د انفرادي خانې نه چاپېره دازغن تار په تېرو څوکو پرې کړي اويا هم د پښو لاندې شګې زر زر خولې ته واچوي او ترهغه يې خوري چې ترڅويې سابنده شوې نه وي ؛ چې عسکر ترڅو ده ته رارسي نوده به ځان وژلی وي. ملاصاحب ويل چې بيابه غيرت راغی چې خير په نارينه هر قسم تکليف راځي اوکه زه داکار وکړم نو وروسته به خلک څه وايي چې د دومره معمولي تکليف په مقابل کې يې ځان وواژه. هغه مونږ ته د طالبانو په تحريک کې دخپل پرمختګ کيسې هم وکړې اود طالبانو دسقوط نه مخکې او وروسته حالات يې هم راته بيان کړل ؛ په هغې کې په عشق آباد کې دامريکايانو سره مذاکرات، په هرات کې دهغه د ولايت پر مهال دايران سره روابط، دمولوی عبدالوکيل متوکل دريځ، د حامد کرزی سره دهغه زړه رابطه، په کويټه کې د آي ايس آي په ذريعه دهغه نيول ؛ لس ورځې په تياره کوټه کې دهغه غورځول ، په دغه جېل کې دآي ايس آي له خواد مخالفو افغانانو تعذيبول اوداسې نور معلومات شامل وو چې دلته يې ليکل مناسب نه دي. هغه داهم وويل چې هغه او کرزی دواړه

وپلزيان دي او كرزي د طالبانو په وخت دهغه په ذريعه كوښښ كړې چې په امريكاكې د طالبانو نماينده شي ؛ دغه خبره د طالبانو مركزي شورى تصويب كړې هم وه اودهغه د تقرر مكتوب يې هم ليكلى و خودغه مسأ لـه آي ايس آي په شاوهلې وه او كرزى په دې خبره پوه شوى هم و.

دمحبس پرمهال د طالبانو د ډېرو مشرانوله خوادا خبره جوته شوه چې دنورو افغاني شخصيتونو په شان دحامد كرزي پلار عبدالاحد كرزى هم د پاكستان فوځي استخباراتو آي ايس آي وژلى دى او هر هغه څوك چې د افغانستان په ملت كې څه اثر او رسوخ ولري او د افغانستان دملي ګټو نه دفاع كوي هغه آي ايس آي نه پرېږدي او وژني يې.

په هر صورت دغه اوس زمونږ د ليكنې موضوع نه ده.

په انفرادي قيد كې زما بل څنګ ته يو برطانوي پاكستانى : حذيفه وځې وروسته يې باګرام ته يوړ، هلته يې يوكال وساته او بيايې دالقاعدې دمشرانو سره ساتلى و، اوس راخوشى شوى دى دحذيفه په هكله بيانورو بنديانو ويل چې هغه په كابل كې دخپلو ماشومانو سره اوسېده او په برطانيه كې يې يو اسلامي مركز درلود....دسيف الله اخترچې په كابل كې يې دپاكستانيانو مشري كوله خاص سړى و. سيف الله اختر يا اخترسيف الله هغه څوک وځې دطالبانو په وخت كې يې دزرګونو پنجابيانو مشري كوله افغانانو ته به يې ويل چې هغه دپاكستان دحكومت سره وران دى اوله همدې امله يې خپل ماشومان هم راوړي ؛ ډېره يې اوږده كړې وه او مولوى سيف الله اخترورته ويل كېدل. دهغه داحقيقت وروسته راښكاره شو چې هغه د آي ايس آي د كرنيلانو نهٔ وٌ ؛ يولورته يې داخل كې دننده ترسره كوله اوبل لورته يې په افغانانو، عربانو اوپاكستانيانو كې دپاكستان اصلي مخالفين معلومول هغه به مركز ته لستونه وركول او اشخاص به ترور كېدل. دامريكايانو د راتلو او دطالبانو د سقوط نه څو ورځې مخكې

هغه دخپلو مسلحو باډيګاډانو سره ترټولو مخکې اسلام آباد ته ورسېده او داسلام آباد مرکز وروسته داخبره مشهوره کړه چې هغه دوبۍ ته تښتېدلی. وروسته هغه په نظامي وردۍ کې ليدل شوی چې دطالبانو غټه ډېره يې پاکه خرېلې وه او اوس په نورو دندو ګمارل شوی و. وروسته دامعلومات هم دځينو پاکستاني بنديانو نه افشاشو چې آي ايس آي دطالبانو دسقوط پر مهال خپل مهم مشران په ځانګړيوالوتکو کې ايستلي وو اوځينې ترييب يافته خلک يې شمال کې پرې ايښې وو ترڅو د امريکايانو ، شمالي اتحاد ، دشبرغان دجېل، باګرام، کندهار اود ګوانتانامو ټول حالات وڅاري. په کيوبا کې آخرنيو پاتې درېو کسانو بنديانو کې يو سعد مدني هم و. د راخوشې شويو بنديانو نه يو سپين ږيری هم ؤ دآي ايس اي له لوري افغانستان کې موظف و هغه وويل چې مدني صاحب هم داسلام آباد نه لېږل شوی و. مدني صاحب ته کيوبا کې ب. ديانو دشک په سترګه کتل. له دې وروسته مسلم دوست صاحب ته قلم سپارم هغه وايي:


## له قند هاره تر ګوانتنامو

د ۲/۲۳ / ۲۰۰۲ م نه تر ۳۱/ ۴/ ۲۰۰۲ م پورې مونږ دقندهار په امريکايي زندان کې پاتې شوو.

کيوبا ته دلېږلو نښې هغه وخت رښتيا وختې چې د دوه مياشتو او دوه ويشت ورځو نه وروسته په ۳۱/۴/ ۲۰۰۲ م مونږ د خپلې خېمې ختيز لورته د ماسپښين نه وروسته دخېمې نه دباندې دخېمې ورمات سيوري ته په خاورو ګمپلې خپرې کړې وې اوپرې ناست وو چې امريکايي عسکر راغلل ترټولو دمخه زمونږ خېمې ته اودرېدل او ترټولو دمخه يې زماد نمبر( ۵۶۱ ) غږ وکړ. ماګومان کاوه چې

ګنې تحقیق له پاره مې غواړي ورپاڅېدم او د معمول مطابق يې په لاسونو اوپښو کې زولنې راواچولې، توره کڅوړه يې راپه سرکړه او روان يې کړم. سره له دې چې دتورې کڅوړې لاندې څه ئ راته نه ښکارېدل خود معمول خلاف د لارې په کږو وږوکې پوه شوم چې دتحقیق ځای ته نه بلکه بل لور ته روان کړای شوم. دهوايي ډګر دننه يې په يوه لويه خېمه کې ځملوم ، دمخکې په څېر په تشدد يې جامې راڅخه په بيتې غوځې اوګوزارکړې ، بيايې نارنجي جامې راواغوستې ، يوپتلون او يوکميس ؤ چې دنيمايي متهو پورې لنډ لستونې اودنامه پورې اوږدؤ، نارنجي ټوکري بوټان يې هم راپه پښو کړل، توره کڅوړه يې له سره لرې کړه اود چشمو په ډول په غټو کلکو تورو پلاستيکونو يې سترکې راوتړلې چې دغوږونو له پاسه يې سختې پټې تېرې شوې وې اود سرشاتنۍ برخې سره نښتې وې. غوږونه يې هم په همدغه ډول پلاستيکونو کلک راوتړل او خولې اوپوزې ته يې هم ټوکري ماسکونه را واچول ، بيايې په يوه لويه خېمه کې دلرګي دتختې په يوه اوږده کورسۍ کښېنولم . ماپسې استاذ بدر او بيانور بنديان په همدغه ترتيب راوستل کېدل چې دې کار زيات وخت ونيوه نه راسره ګړۍ وه اونه مو سترګې خلاصې وې چې په وخت پوه شوي وای ماداستاذبدرڅه خبره واورېده نوپوه شوم چې هغه هم راغی . هيڅ يې راته نه ويل خو اوس مو باور راغی چې ګوانتېنامو ته لېږل کېږو. الله تعالی مو په زړه کې يو ډول اطمينان اوډاډ واچاوه چې له همدې امله مو ګوانتېناموته د انتقال له امله په

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنديان د انتقال په انتظار کې

(c) Ketabton.com: The Digital Library






الوتکې ته د بندیانو وحشي انتقال

زړه کې زياته انديښنه ياد حواسو کوم بدلون رانه غی خودکړ اوونو او سختيو نوی پړاو پيل شو.

په ټولو لاسونو، ټولو سترګو او ټولو غوږونو يې تقريبا ماښام نه وروسته دماښام ډوډۍ راته لاسونوکې کېښوده چې دنيمې وچې افغاني ډوډۍ څخه عبارت وه خو مونږ ونه خوړه . اعلان يې وکړ چې دچاضرورت و نو په الوتکه کې به يالاس ياپښه پورته کوي. زه حيران شوم چې مونږ به ټولي لاسونه او ټولې پښې څرنګه پورته کوو ؟!.

دبنديانو دپېرې دپوره کېدلو نه وروسته الوتکې ته نقلول پيل شول . په لويه پوځي باروړونکې الوتکه کې يې په کلکو لرګيو يو لور او بل لورته کتار کښېنولو، په لاسونو او پښو کې موفولادي زولنې وې چې لاسونه دملاسره په زنځير تړل شوي وو او حرکت مونه شو ورکولای دغه دلاسونو او ملازنځيرپه بل زنځير دپښو ترمنځ زنځير سره نښتي و، ددواړو پښو ترمنځ هم دواړه زولنې په زنځير سره نښتې وې ، دالوتکې په زمکه کې يوه کونډه وه چې دپښو زنځيرورسره په قلف کلک تړل شوی واودملا زنځير هم شاته دڅه شي سره تړلی و چې په دې ترتيب بندي هيڅ حرکت نه شو کولای کله کله به مو په ولې دغوږ اوپه مټ دسترګو پټيونه دسخت دردله لاسه حرکت ورکړ چې عسکرو به ووهلو و . دبزدلۍ او ډار نه يې په لوډ سپيکر کې ويل چې ونه خوځېږئ ، په مونږ حمله ونه کړئ . په دې وخت کې مودغوږ پلاستيک لرې ډډکړای شو. خومونږ حيران شو چې په داسې سختو پولادي زنځيرونو تړل شوی بندي څرنګه حرکت او حمله کولای شي ؟!.

دالوتکې داسفر ترټولو سخت ، څورونکی اوله کړاوه ډک و .

ډېر بنديان بې هوښه شول ، دخولې اوپوزې ماسک باندې زما ساه ډېره تنګه شوه ، څو ځله مې غړونه وکړل ، امريکايي عسکر به په سر ټس راکړ. اخريو عربي ترجمان راغی له يوه غوږه يې پلاستيک پورته کړ اوراته ويې ويل چې څه مشکل دی ؟. چپ شه حرکت مه کوه.

ماورته وويل چې سامې په ماسک کې تنګه ده مرم داماسک مې دخولې يا پوزې نه لرې کړئ چې لږه ازاده ساواخلم . امريکايي عسکرته يې وويل هغه ماسک نورهم پوزې اوخولې ته راجوخت کړ سامې نوره هم تنګه شوه او فکر مې کاوه چې اوس مرم. يو وخت راباندې دبې هوښۍ حالت راغی اوخواته بندي باندې ورتکيه شوم. سفرډېر اوږد او څورونکی و دعاوې اواذکار مو پيل کړي وو الله تعالی مهرباني وکړه او حالت مولږ ښه شو. په لارکې پنځه ځل راته په ترلو لاسونو کې دپړسېدلې ډوډۍ يوه وړه ټوکړه اودرې ځل يوه يوه منه کېښودل شوې چې هم يې خوراک مشکل وځکه چې لاسونه خولې ته نه رسيدل، هم موزړه ته نه کېده اوهم له دې وېرېدلوو چې انساني ضرورت به څنګه رفع کوو ؟! اوبه موڅوځل وغوښتې يوه ورځ وروسته يې وړوکی کاغذي ګيلاس زماخولې ته ونيوه خوچې دوه ګوټه مې وکړل لرې يې کړې .

تقريبا ددرې ساعتونو سفرنه وروسته الوتکه يوځای کې ښکته شوه. وروسته مونږ ته څرګنده شوه چې هغه ترکيه وه دډېر ځنډنه وروسته بيا پورته شوه نورنو بيا ترګوانتنامو چېرته نه ده ښکته شوې

او مسلسل والوته . يو وخت کې يې يوه يوه ګولۍ راته په خوله کې واچوله چې سخته ترخه وه اوګومان کوم چې دملاريا وه ځکه چې دګوانتهنامو ټاپو کې زيات ماشي دي . داوبويوګوټ يې ورپسې راکړ چې په هغې ګولۍ پوره تېره نه شوه اودمرۍ په يوه برخه کې کلکه ونښته. ډېر مو اوبه اوبه وويل خو چاوانه ورېدل . هغه ګولۍ ترآخره زيات په تکليف کړم . ماترګوانتهنامو نه څه وخوړل ، نه مې څه وڅښل اونه مې انساني ضرورت رفع کړ. ترګوانتهنامو په دغه اوږد سفر کې په لرګي دکښېناستلو او (۲۴) ځلرويشت ساعته حرکت نه کولو له امله ډېرو بنديانوته درګ نساتکليف پيداشو چې له دې جملې زه هم وم. ماته درګ نساتکليف پيداشو چې تريونيم کال پورې ترې په پنجرو کې بې علاجه وکړېدم اوترډېرې مودې پورې نه کښېناستی شوم اونه مې لمانځه کې رکوع اوسجده کولای شول لمونځ مې په ولاړه په اشاره کاوه اوډوډۍ مې هم په ولاړه خوړه .

ترکيوبا دغه هوايي ستونزمن سفر پای ته ورسېد اوآخر کيوبا ته ورسېدو.

# دګوانتهنامو په ټاپو کې

اګر چې زمونږ سترګې اوغوږونه راتړلي وو اونه پوهېدو چې څومره وخت وواته خوتقريبا ځلرويشت (۲۴) ساعته وروسته په ۱/۵/ ۲۰۰۲م دکيوبا په يوه هوائي ډګرښکته شوو. وروسته بيادامعلومه شوه چې شل ساعته لارېه هواکې وه اوتقريباځلورساعته په انتظار، تړلو پرانستلو اوښکته کولو پورته کولو ولګېدل .

دالوتکې نـه پـه ډېر تشـدد پـه راښکودلـو اوتېل وهلو ښکتـه کړای شـوو دمصـري لهجـې يـو عـرب تـرجمان داجملـه تکـراولـه چـې: " لاتتحرك . انتم الان في يدالقوات المسلحة الامريكة ."(( مـه خوځېږه تاسـو اوس دامريکاد وسله والو ځواکونو پـه لاس کې ياست ))يويو يې يـوه داسـې بس تـه وروخېژولو چـې چوکـۍ پـه کې نـه وې . داځکه چې مونـږ يـې دچوکـيو مسـتحق نـه ګڼلـو . دبـس پـه مـنځ کـې پـه زمکـه کېنېناسـتوو ، بـس روان شو ، لږ وروسته بس داسې يو ګرزوکړ لکه پـه يـوه مـوړه چـې واوړي اوبـيا ودرېده . ډېربنديان پـه دې نـه وو پـوه شوي چـې بـس بېړۍ تـه وروخـوت اوبېړۍ دګوانتېنامو دټاپو پـه لـور روانـه شـوه. خومونـږ څـه کسـان پـوه شـوو . تقريباڅلوېښت دقـيقې بېـړۍ پـه بحـر کـې روانـه وه اوپـه ډېرباريک دقت معلومېده چـې زمونږ بس يوې خـوا اوبلـې خواتـه کږېږي اومونږ همدغـه باريک کږېدل محسوس کړي وونوځکـه پـوه شـوي ووچـې بېړۍ کـې روان يووخواکثرونـه وومحسوس کـړي.څلوېښـت دقـيقې وروسـتـه دګوانتېنامو جزيرې تـه ورسېدو بس لـه بېړۍ ښکـتـه شـو اولـه لـږې شـېبې مزلـه وروسـتـه پـه يـوه ځـای کـې اودريده.

څو څو ځل مودلمانځـه کولـو وويـل خوراتـه ووېـل شـوو چـې ددې عملـې اجازه نشتـه .


مونـږ دپـولادي زنځيرونو پـه ولچکو او زولنو تړلي لاسونه ، ملا او پښـې دبسـونو نـه ښکتـه کړای شـوو؛ نـه موڅـه ليدل اونه پوهېدو چې چېرتـه ورسـېدو خوپـه يـوه داسـې زمکـه يـې روان کـړي وو چـې دپښـو لانـدې مـو دکـاڼو جغـل و. بـيا پـه همدغـو کلکو کـاڼو کښېنول شـوو




یو بندي بې هوښه شوی او بل ناست دی



ګوانټنامو ته د رسېدو نه وروسته بنديان په کاړ کښېنول شوي او د پنجرو انتظار کوي



ګوانتانامو کې په پټو سترګو او تړلو لاسونو بندي لامبي(؟)



الوتکه کې دننه بندیان چې غوږونه، سترګې، پوزه، خوله، لاسونه او پښې يې تړل شوي دي او د پښو زنځير يې د الوتکې د ځمکې د کونډې پورې قلف شوی دی.



امريكايان بشري حقوق دې ته وايي

(c) ketabton.com: The Digital Library



امريکايان بشري حقوق دې ته وايي



سر مه پورته کوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنديان يو د بل پسې له مټو تړلي الوتکې ته ور روان دي

ښرڅونه يې په زور راټيټول ، دحرکت ، خبرو او پوښتنې هيڅ اجازه نه وه. څو ساعته دغسې ناست وو دڅټ پلوموسخت دردکاوه او ځينې خلک بې هوښه شوو بيا يې يويو پاڅولو، په لاره کې يې جامې راقيچې کولې او لغړيې په يوه پوړۍ پورته کړو. مونږ څه نه ليدل نوله همدې امله به موچې په هرپاړکي پښه کېښوده عسکر به ويل چې " اګين" يعني بيا تکرار کړه ترڅو يوه ځای ته ورونختو چې څوکوټې په کې وې. سترګې يې راپرانستې ، يوه ډاکټره راغله معاينه يې وکړه اوپه خصيتينويې راته لاس وواهه وايې ړولې راوايې ړولې بيا يې يو تشناب ته دننه کړو چې دروازه يې نه وه. په تړلو لاسونو اوتړلو پښو يې اوبه رابانديې راخوشې کړې چې فقط لانده شوو اوبس . بيرته يې راوايستو نارنجې جامې ( کميس پتلون ) يې راواغوستل ، بيا يې وتللو او دلوړوالي کچ يې رامعلوم کړ.بيا يې زمونږعکسونه داسې واخيستل چې خولې اوپوزې ته را اچولی دتوټې ماسک يې فقط غاړې ته راښکته کړ ، دکمپيوټر دچاپ دآلې نه يوه شنه سورۍ پلاستيکي تسمه راووته چې ددوه کوتو په کچ پلنه وه يوې خواته دبندي عکس او ورسره خواکې دهغه ددوسيې نمبر ، عمر اودهېواد مخفف ليکل شوی و. زماپه تسمه ( AF) ليکل شوي وو چې دافغانستان مخفف و . دلاس نمبر( ۵۶۱) ، دبدن وزن ، دلوړوالي کچ او عمر پرې ليکل شوي وو. دغه تسمې يې دلاس نه دساعت په ډول راوتړلې بيايې راڅخه وينه واخيسته. يوائې دعکس اخيستلو په وخت کې مودکېمرې لورته وکتل نوريې راته په تکرار ويل چې (لوک ډاون ) ښکته ګوره. کله چې دوينو اخيستلو له پاره په

کټ وغځول شوو ډاکټرانو هم دا اجازه نه راکوله چې ور وګورو . اوداځکه چې ټول راځخه سخت وېرېدل او ګومان يې کاوه چې مونږ ډېرخطرناک ترهګريوو.....

په دې پوه نه شوو چې څومره وينه يې را څخه واخيسته ؟!.

بيا يې دمالوچو په ذريعه دلاړو بېلګه راځخه واخيسته ډاکټرې راته دمعاينې نه وروسته نوَرڅه ونه ويل خو پوښتنه يې راځخه وکړه چې کله خودې زياته دوانه ده خوړلې ؟ زيات ګبينی ( شهد ) خودې نه دی خوړلی ؟.

بيابل بلاک ته په وړوکي ګاډورګاډي کې دعسکرو په بدرګه بوتلل شوم اوهلته يوې کوټې ته دتحقيق له پاره دننه کړای شوم. کوټه کې يوه بې کاره پلاستيکي چوکۍ دبندي له پاره اوڅو ښې ښې چوکۍ دمحققينو اوترجمان له پاره ايښې وې . دچت په يوه کونج کې دتورلوی ګروپ غوندې ښيښه لګېدلې وه چې دبلې کوټې کمپيوټر ته يې عکسونه ورکول اود اواز ثبتولو او راښکلو آلات هم پټ پټ خوندې شوي وو، دکوټې يودېوال کې لويه ښيښه لګېدلې وه چې ظاهر کې هنداره برېښېده او سرې په کې خپل عکس ليده خودبلې کوټې له لورې ښيښه وه ، دبندي څارنه ترې کېده اونفسياتي اوروانې ماهرينو دبندي حرکات په کې څارل. ډېرو بنديانو ته دڅه وخت پورې دانه وه ښکاره شوې خو مونږ ځينو ته دځينو باريکو ښونه دهماغه لومړۍ شپې نه معلومه شوه چې کيمره لګېدلې .... اوکله چې څه موده وروسته محققينو ته دامعلومه شوه چې زه په دغو

شیانو پوه شوی یم نوحیران شول اوراته ویې ویل چې چاته ونه وایې.
خوبندیان ټول بیا خبرشول .

یوه عسکر دیو مټ او بل دبل مټ نه نیولی وم او یو وروسته راپسې را روان و. کله چې دتحقیق کوټې ته ننه ایستل شوم نو په چوکۍ یې کښېنولم یو عسکر مې ښي لورته اودرېده یوه پښه یې زما په پښه کلکه کېښوده یو لاس یې زما په ښي زنګون کلک کېښود اوبل لاس یې زما په ښۍ اوږه کیښود په همدې ډول بل عسکر له کیڼ لورنه کلک ونیولم . سره له دې چې په پښو اولاسونو کې مو زولنې هم وې اولاسونه مو دزنځیر په واسطه دملاسره تړلي وو .

خوله وېرې یې ویل چې په مونږ حمله ونه کړې. دریم عسکر راغی په زمکه کې یوه پنډه پولادي کړۍ په سیمټوکې کلکه لګېدلې وه . زما ددواړو پښو ترمنځ نښتی زنځیرېې دحیوان غوندې دزمکې دکړۍ سره په یوه غټ قلف قلف او وتاړه .

بیا دوه محققین اویو ترجمان راغلل ، دمحققینو په لاسونوکې کاغذي دوسیې وې ، دیوه محقق په غاړه کې پوځي دریشي وه اوبل ملکي دریشي اغوستې وه چې زما په ګومان یو د( سی آی ای ) اوبل د( اف بي آی ) نه نمایندګي کوله. درې واړه ماته مخامخ کښېناستل . زما او دهغوی ترمنځ یو مېز و په هغه یې کاغذونه کېښودل. ماپوښتنه وکړه چې داکوم ځای دی ؟ هغوی وویل چې دادکیوبا یوه جزیره ده بیا یې پوښتنې پیل کړې. نورې خو اکثره زړې پوښتې وې چې تکرارته یې اړتیا نه لیدل کېږې او مخکې تېرې شوې دي .

دباګرام او قندهار سره يې توپير داو چې کهٔ څواب يې نه وايه هم دپوښتنې او مناقشې څه نا څه فرصت يې راکاوه . دشخصي پېژندپرپوښتنو سربېره يې وپوښتلم چې : چېرته ونيول شوې ؟ چاونيولې ؟ ولې يې ونيوې؟ ددې لومړنې تحقيق نه وروسته تقريباً د شپې لس بجې وې، محققين لاړل اودڅه څنډنه وروسته څلور عسکر راغلل ، دوه و زه په همغه لومړني ترتيب ټينګ ونيولم دريم دزمکې دکوټې دتړل شوي زنځيرقلف خلاص کړ اويو ولاړو . بيا دوه عسکروديوه اوبل مټ نه ونيولم او روان يې کړم دودانۍ دوتو ددروازې نه لږ مخکې دمستطيل په شکل څو تختې لګېدلې وې چې په عربي ، پښتو او څو نورو ژبو پرې ليکل شوي وو. زه عسکرو تختې ته مخامخ اودرولم په هغې څو مادې ليکل شوې وې چې دعسکرو اودکمپ دمسؤلينو خبره به منئ ، دکمپ دقوانينو نه به سرغړونه نه کوئ ... اودمادو په ترڅ کې دادروغ هم ليکل شوي وو چې تاسوته دژينيودکانفرانس دبنديانو دحقوقو دتړون نه هم زيات مراعات درکول کېږي . (؟) که سرغړونه مو وکړه نوبيرته به درڅخه واخيستل شي اودسختې سزا سره به مخ شئ . عسکرو دومره فرصت رانه کړ چې زه دتختې ټولې مادې ولولم اوپه زور يې ترې روان کړم . په لارې په تکرار ويل چې .(لوک ډاون ) ( ښکته ګوره ) دسرپورته کولو اوبل لورته دکتلو اجازه نه وه . دودانۍ ددروازې نه چې ووتو اوپورې ته ورمخامخ شوو وړاندې داوسپنې بلاکونه اودهغو په سر دپاسه وړاندې بحر ښکارېده . په پورې ښکته شوو اودنامعلوم ځای په لور په شرنګېدلو زنځيرونو کې په تنګوتنګو قدمونو روان وم . هر

لورتـه داوسـپنيزو جـالونو دېوالونـه راتـاو وو اودپاسـه پـرې داغـزنو سـيمانو دائـروي كـړۍ غځېدلـې وې. پـه دوه اوسـپنيزو جالـي دروازو نـنوتوو چـې څارونكـي عسـكرته دكـارت پـه ښودلـو بـه يـې ماسـره عسـكروته دروازه پرانيسـتـه ؛ پـه يـوې دروازې بـه چـې دننـه شـوو بلـه بـه يـې تـرهغې نـه خلاصوله چـې لومړنۍ بـه يې ديوې لويې پلنې كـونجي پـه واسطه بـيرتـه تړلـې اوقلـف كـړې نـه وه. ددوهمې دروازې نـه چـې ننوتوو نـو منځ كـې لويـه لاره وه او دواړو خـواوتـه داوسپنيزو پـنجرو بلاكونـه وو چـې داوسپنيزو جاليو دوه غبرګ دېوالونـه ترې راتـاو شوي وو اودپاسـه پـرې داغـزنو سـميانو حلقـې غځېدلـې وې . مونـږ دبلاكونوترمنځ پـه لويـه لاردجنوب لورتـه روان وو او مخامخ مو بحر و؛ لږ وړاندې كيڼ (ختيز) لورتـه ديوه بلاک مخې ته اودرېدو پـه يوې وړې سـپينې تختـې پـه تـور رنـګ د (G) تـوری كښـل شـوی و چـې دګولف مخفف و دګولـف بـلاک څوكيدارانو تـه يې غږوكړ يو راغی، دواړه اوسـپنيزې جالـي دروازې يـې يـودبـل پسـې پرانيستې اوز مونږ دننوتو نـه وروستـه يې وتړلې. او سپنيز بلاک دزمكې نـه تقريبا يونيم ګز لوړپـه سيمټي ستنو او اوسپنيزو تيرانو ولاړو . دلتـه نوپـه انساني تـاريخ كـې دانسانانو سره دځناورو نـه دبتر سلوک ديونوي دردوونكي بـاب پـانې پرانيستـل شـوې . .

# اوسپنيزې پنجرې

دبلاک منځ کې کوټه وه اوښي او کيڼ لورته يې پنجرې وې . په يو بلاک کې ټول (۴۸) اته څلويښت پنجرې وې چې (۲۴) څلرويشت ښي او څلرويشت کيڼ لورته . داټول بلاک (۴۸) پنجرې دي اويوه پنجره کې يوبندي وي . بلاک ټوله اوسپنه ده نه په کې سيمټ نه لرګى اونه پلاستيک شته . زمکه اوچت يې هم اوسپنه ده اوګردچاپېره يې اوسپنيزجال دى چې اسمان ، لمر او نږدې مخامخ ، ښي او کيڼ لورته بنديان په کې ښکاري . د ټولوپنجرو ورونه دمنځ کوټې ته رامات دي. په هروره کې دسينې په کچ لوړه يوه وړه کړکۍ ده چې دباندې خوانه ورته داوسپنې تمبه ګۍ لګېدلې ده . داوړه کړکۍ ددې له پاره ده چې دډوډۍ په وخت کې عسکر بندي ته په کې لوښى ورکوي ياناروغ ته په کې دوا ورکوي اوياچې کله دچاتحقيق وي نوبندي په کې دزولنوله پاره لاسونه را اوباسي يادجامو دبدلولو په وخت کې بندي ته په کې جامې ورکول کېږي ... هره پنجره يومتراو اتياسانتي مربع ده کله چې پنجرې ته ننوځې مخامخ داوسپنيزې زمکې او فرش سره برابر دنکلو کموداوخواکې ورسره دلاسونو مينځلو دپاره دنکلو لوښى لګېدلى دى. په لومړيو ورځو کې دکمود داوبو له پاره دنکلو يوپنډ بټن په زمکه يوې خواته لګېدلى و بيا دلاسونو مينځلو دلوښي په يوه اړخ کې ولګول شو چې دزور ورکولو په وخت کې يې اوبه راپرېښودې . دلاسونو داوبو هم همداترتيب و .

دپنجرې ښې لورته دروازه ده اودننه کيڼ لورته دنامه په کچ لوړه داوسپنې تخته ولډشوې ده چې دکټ کار ورڅخه اخيستل کېږي .

# دپنجرو ژوند

پنجرې ته دننوتو او بلاک ته دراتللونه مخکې ما عسکروته ويلي وو چې دتش حاجت لـه پاره تشناب تـه ضرورت لرم. نو کله چې عسکرو دګولف بلاک کيڼ لورته لومړۍ پنجرې ته ننه ايستم دکمود مخې تـه يې پـه زنګنونو اودرولم ، زولنې يې راڅخه خلاصې کړې . لاسونه يې راته په سر کېښودل ، دحرکت نه کولو يې راته وويل ، ډېر پـه بيړه ووتل او دروازه يې راپسې وتړله . ماګومان وکړ چې داتشناب دی او څرنګه چې ما مطالبه کړې وه نو ځکه يې ددې لـه پاره رادننه کړم. چې حاجت پوره کړم ، وروسته بـه مې بل ځای ته بوزي؛ خبرنه وم چې همداتشناب نماپنجره زماداوسېدوځای دی. کله مې چې تش حاجت پوره کړاو راپاڅېدم ، چې ګورم يوې خواته داوسپنې تخته ده پـه هغې دوه باريکې نرۍ نرۍ کمپلې پرتې دي ، دوه ورسره ځانپاکونه اويو ورووکی لاسپاک دی . چې ګورم ښې او کيڼ لورته دواړو کتارونو کې يوې يوې پنجرې کې يويو بندي دی او هغه بنديان پـه کې دي چې باګرام اوقندهار کې مونږ سره وو اوپـه يوې الوتکه کې مونږ سره راغلي دي . لـه دې وروسته پوه شوم چې زمونږ داوسېدو ځای همدغـه تشنابي پنجرې دي او دا دکيوبا دګوانتنامو دزندان هغه پنجرې دي چې قندهارکې هندي ترجمان راته ويلي وو .

ټول بنديان دستونزمن سفر دستړيا ، خفګان او نابلدۍ لـه امله غلي ناست دي . ورو ، ورو مو سره ستړي مه شي وکړل اولږې لږې

خبرې مو پيل کړې . مونږ نه مخکې چې دايکسرۍ کمپ نه کوم بنديان راغلي وو نو هغوی ته د اذان او خبرو اجازه هم نه وه خو هغوی احتجاجونه او مظاهرې کړې وې نوله هغه وروسته بيا دخبرو او أذان اجازه شوې وه هغوی هم بيا همدغه ډلتاکمپ ته راغلي وو او زمونږ خواکې بلاکونوکې اوسېدل . زمونږ په وخت کې دخپل بلاک دننږدې بنديانو سره دخبرو اجازه وه او خواکې دپلاستيک او اوسپنيزو جالونو نه اخواته بل بلاک سره دخبرو کولو اجازه نه وه خو مونږ يې پروانه کوله او هغوی ته مو غږ ورکاوه له همدې امله چې کله عسکرېوه شول نو جزايي به يې کړو.

دلته نو اوس انسانانو سره دحيواناتو نه بتر سلوک او معامله کېږي، دبشر حقوق دپښولاندې دي ، اخلاقي موازين رنګ شوي دي، بنديان داندېښنو ، دردونو او غمونو په رېږوونکيو او سوزوونکيوتو پانونو کې اوسېږي . انساني حاجت ، خوراک ، خوب ، لمونځ او ټول ژوند په همدغه پنجره کې دی. دننږدې پنجرو کمودونه ټول يوبل ته سره ښکاري ، ديولور پنجروکې کمودونه دلمانځه په وخت کې دبندي مخې ته دي اودپردې هيڅ انتظام نشته. مونږ نه مخکې په لومړيو ورځو کې دقضاء حاجت په وخت کې دعورت دپټولو اجازه هم نه وه خودمظاهرونه وروسته بيا زمونږ په وخت کې دومره اجازه وه چې يوه اسفنجي نرۍ ګته يې دخملاستلو له پاره راکړې وه مونږ به هغه له ځانه راتاوه کړه چې دملا نيمايي پورې به په کې پټ شوو عورت به مو پټ و او نور به ټول ښکارېدو او همدا قانون و چې عسکر بايد دبندي سروګوري ..

یو وړوکی صابون ، دغاښونو کریم ، وړوکی دنیمې ګوتې په کچ دغاښونو برش اویو کاغذي اسفنجي ګیلاس هم په پنجره کې وو .

یو یو قران کریم یې هم راکړی و چې دپنجرې په جال کې به مودټوټې ماسک کې ځوړندکړی و. یو کال وروسته یې یو اسفنجي توشک اویوه روجایي هم راکړل چې توشک به باداخیستل نوله همدې امله څو ک پرې نه ویده کېدل .

خوبالښت ترآخره نه و . کله مې چې ولیدل چې پنجره کې دننه داوبو بمبه ده نو ډېر خوښ شوم دبندیانو سره دسلام او خبرونه وروسته ما ترټولو لومړی په دغه پنجره کې ولمبل . اګر چې داوبو راخیستلو له پاره کوم لوښی نه و خودڅښلو له پاره کاغذي وړوکي ګیلاس نه مې کار واخیست . لړې لړې اوبه مې په ځان اچولې، صابون مې استعمال کړ او دشپږو میاشتو خیري مې لرې کړل چې اوبه یې خړې پړې کړې . بدن مې سپک شو او بیا مې دماښام اوماسختن لمونځونه په یوځای وکړل. دڅوشپېو شغل نه وروسته چې ګورم استاذبدریې دتحقیق نه په نارنجي جامو، زنځیرونو اوزولنوکې راروان کړی دی اوپه بلاک یې رادننه کړ ماچې په دغه حالت کې ولیده ډېرغمجن او اندېښمن شوم خو دبندیزسره سړه مې هغه ته د ډاډ څو خبرې وکړې اوهغه دبلاک اخرته دښي لاس دګتار اخري پنجرې ته بوتلل شو چې نه موسره لیدل کولای شوو اونه مو غږونه اورېدل کېدل .

دڅو شپېو شغل نه وروسته دسبا راختونه مخکې راپاڅېدو، او دسونه مو وکړل عبدالسلام ضعیف صاحب مانه څو پنجرې وړاندې و

هغه راباندې غږ وکړچې شپه لاډېره ده ویده شه. دلمانځه اوذکارونه وروسته دسبادراختوپه انتظار ناست وم . ... دسبا راختو نه وروسته مو لمونځونه وکړل ، یویو قران کریم یې راکړی و تلاوت مو وکړ . بیا سبا ناری راغی . دمعمولي خوراک نه وروسته مو سره خبرې کولې چې دګوانتېنامو په ټاپوکې په مونږ دلومړی ورځې دلمر څرک راولګېد. مونږ د "ګولف" بلاک کې وو زمونږ کینې خواته بلاک کې مخکني زاړه بندیان وو زمونږ اودهغوی منځ کې دجال پرده وه سره لیدل مو نه خو غږ مو اورېده ، هغوی غږ راوکړ او ستړي مه شي یې راته وویله. عربان ، افغانان او نورګډ وډ سره پراته وو. یو افغان چې ماته یې پنجره نږدې وه غږ یې راوکړ اوراته ویې ویل چې زما نوم سراج الدین دی زه دخوست یم ماسره زما زوی ګل زمان هم همدلته ګوانتېنامو کې بندي دی، زما یو ورو چې حاجي خان زمان نومېږي دهغه په هکله معلومات راکړه چې ایا بندي دی که خلاص شوی دی ؟ ته یې پېژنې که نه ؟.

دهغه په هکله څه معلومات لرې که نه ؟... زه پوه شوم چې دادخوست دهغې کورنۍ مشر حاجي سراج الدین دی چې ورور ( حاجي خان زمان ) یې مونږ سره په قندهار کې دیوه ځپرګي لاندې و اودامریکایي پوځ په بمبارۍ کې یې دکور (۱۱) یوولس کسه شهیدان شوي دي ....

ماورته وویل چې حاجي خان زمان ماسره په قندهار کې یو ځای و هغه هلته پاتې شو او مونږ دلته راوستل شوو . څه ورځې وروسته

هغه هم ګوانتانانو ته راغی . په دې ترتیب دګوانتانامو په اوسپنیزو پنجرو کې دتاریخ نوی باب پرانیستل او دژوند نوی پړاو پیل شو .

اوس به استادبدر ته قلم ورکړو هغه دقندهار نه دګوانتانامو په لور دروانېدو کیسه داسې کوي .

لنډه داچې دقندهار کړاوونه پای ته ورسېدل او د ۲۰۰۲ م کال داپریل په میاشت کې یې بیاګیرې راوخریلې او یوه ورځ غرمه چې مونږ دخپلو خېرګیو نه دحاضرۍ ورکولو لـه پاره راووتوو، یـو عسکرماته وویل : کېدای شي چې تاسې نن یاسبا شپې ته له دې ځایه بل ځای ته لاړشئ . مسلم دوست صاحب له مخکې دصلیب دیوه هندي ترجمان له لارې خبر شوی و چې کندهار کې ټول موجود بندیان ګوانتانامو تـه وړل کېږي خوهلته پنجرې لانـه دي تیارې. بندیانو له پاره نارنجي رنګ کې تیارشوی لباس هم دمسلم دوست صاحب دوی دخېرګې سره لنډپه آخري ورځو کې راوړل شوی و .

دعسکرخبره رېښتیاشوه پـه همدغـه ورځ زه او مسلم دوسـت صاحب لومړني کسان وو چې دقندهار دهوایي ډګر دعارضي بندیخانې نه وایستل شوو. کله چې عسکر زما نمبر (۵۵۹) پنځه سوه نهه پنځوس واخیست اوزه یې په مذکور حالت کې دهوایي ډګرپه دروازه وایستم نو دتحقیق دوړو خېمو پرځای یې یو غټ تجیر ته یوړم ، کله چې یې زمادسترګو نه توره کځوړه لرې کوله او ګاګوز Gagoes یې راتـه پـه غوږ کول اوسترګې یې زما پټولې نو دغه وقفه کې ما مسلم دوست صاحب ولیده او دترجمان سره دخبرو پرمهال مې دهغه اواز هم وپېژنده .

دغه اوږد تجیر ته دهرو څو دقیقو په وقفه خلک راوړل کېدل اود مازیګر دڅلورو بجونه دشپې ترنهو بجو دبندیانو عارضي طبي معاینه، نارنجي رنګ لباس وراغوستل ، اسماني رنګه خلته Jump Suit ترې ایستل او زنځیرونو کې تړل وغیره عملیه اجراء شوه. د تجیرنه یې وار په وار راوایستوو ټول یې دمتهو نه دمخکې په شان په یوه رسۍ څو کتارونو کې په ناسته وتړلو او هوایي ډګر کې یې روان کړو. مادخپلو پټهو سترګو په یو کونج کې یو معمولي منفذ ومونده اودهغې نه مې ولیدل چې مونږ یې دیوې لویې طیارې شاته کېنولوچې شاته دروازې یې خلاصې وې او دننه په کې د صفر واټ تته سره رڼا لګېدلې وه اوعسکر کوزېدل راکوزېدل . له څه وقفې وروسته یې وار په وار یو یو ور وخیژولو دلرګیو په کلکو سېټونو یې وتړلو....

په طیاره کې مونږ ولیدل چې د موجودو عسکرو کیمو فلاج دریشې ګانې د خاکي برګو پرځای شنې برګې وې او دهر بندي په سر ولاړ درې درې عسکر د کندهار د عسکرو په نسبت غلي وو اودومره بداخلاقي یې نه کوله لکه د کندهار او باګرام عسکرو.

د زنځیرونو او Blue Box ( دلاسونو ترمنځ شین بکس ) د غوړونو او سترګو په پټولو سربېره یې داسې دستکشې هم راپه لاس کړې وې چې حتی ګوتې، مو هم نه شوې خوځولی د خوځېدو په صورت کې بندیان وهل شوي ....

ځینې بندیان چې تشناب ته ورل شوي وو په پټهو سترګو ترې پتلون ښویه شوی او په تړلو لاسونو یې اودس مات کړی : د

لمونځونو اجازه نه وه. دخوب ګولۍ راکول شوي خوله ډېره غمه نه چا خوب کړی او نه خوراک . طياري ته د خېژولو نه مخکې يې چې کندهارکي نيمه نيمه ډوډۍ راوړې وه هغه هم چا ونه خوړه . ملا عبدالسلام ضعيف خير الله خيرخواه، حاجي ولي محمد صراف، مولوي امين الله اونور عرب او عجم ټول پنځه دېرش کسان مونږ سره په دغه طياره کې وو. عبدالرحمان آغاد ګوانتنامو په څلر ويشت ساعته سفر اودوه دري ساعته پنجرې ته دتلو په انتظار کې خپلې ورې بولې ټينګې کړې وې چې وروسته ورته بولي تکليف پيداشوی و. دمسلم دوست صاحب په شمول ډېرو بنديانو ته دعرق النساء تکليف پيداشوی و چې مسلم دوست صاحب يې يونيم کال په ګوانتنامو کې وکړاوه.

په باګرام ، کندهار او د آي ايس آي په جېل کې دتکاليفو نه وروسته دټولونه مشکله مرحله د کندهار او دکيوبا ترمنځه دسفروه، دغه سفر په جسماني او رواني لحاظ ډېر ستونزمن و. له دوه دري ساعتووروسته طياره ودرېده چې تقريباً دري ساعته وقفه يې وکړه او وروسته معلومه شوه چې ترکيه ده. مونږ نه دري ورځې وروسته طياره کې کسانو ته يې طياره هم ترکيه کې بدله کړې وه چې د کندهار دشپې د سفردپيل نه وروسته د طيارې د بدلولو په وخت بنديانو په خپلو شاګانو لمر محسوس کړی و.

طياره کيوبا ته ورسېده. ټول تکليفونه يوې خواته خود طيارې په لوډسپيکر اعلان شوی يوه جمله بل لورته چې د طيارې کپتان وويل

Show no affection to the terrorist: ( د ترهګرو سره هيڅ قسم همدردي ونه ښايئ ) .

دغه جلمه ماد درد له امله خپل ولی دغوږ ونو دپوخ ګاګوز سره دمښلو پرمهال هغه وخت واوريده چې زمادغوږونو پوخ دولي په ذريعه په ټېله کولو لږ دغوږ نه پورته شو. داجمله دپرواز نه فقط يو څو دقيقې وروسته وويل شوه . زه دې ظلم ته حيران وم ، زه او مسلم دوست صاحب د خپلو بچو سره په خپل کور کې اوسېدو. اومونږ د آي ايس آي اودهغوی د ايجنټانو له خوا ديو سازش په نتيجه کې نيول شوي وو نو څنګه کېدای شي چې مونږ دې ترهګريو؟! او مونږ دې دهيڅ قسم همدردۍ مستحق نه يوو؟! د ګوانټنامو په هوايي ډګر کې د کوزېدو په وخت کې بياد کندهار او باګرام په شان دبداخلاقۍ مظاهره شروع شوه بيا عسکرو چغې وهل پيل کړل ، دطيارې نه يې کوز کړو، دبې چوکيو بس دننه يې په فرش کينولو اودمعمولي خوځېدو په صورت کې به يې راباندې دسوکانو باران جوړ کړفقط يو عربي ترجمان و او ډېر زر زر به يې يوه جمله مسلسل تکراروله.

" الان انـــت فی يد القوات الامريکيه اسکت " ضع يدك على رجلك اليسرى لا تتحرك.))

بس روان و،يو وخت بس يو ګرز وکړ لکه په کنده چې تېرشي ، خوبيا دبس عمومي باډي ډېره لږه خوځېده خود بس غرار ياد ايکسلېټر آواز نه راته. وروسته معلومه شوه چې دهوايي ميدان اود ډيلټا د کمپ ترمنځ يو وړوکی خليج دی ، بس په بېړۍ کې خېژول

شوی و. بیاد څو دقیقو بحري سفر نه وروسته بس وچې ته خېژي او په وچه دلږ مزل نه وروسته محبس ته ننوځي . لنډه داچې بس محبس ته ننوت مونږ یې کوز کړو، په څمکه خور کاړیاندې یې کېنولو او واړیه وار یې روغتون کې غسل او کالیو بدلولوته بوتلو.

اکثرو بندیانو د اودس ماتې دفشار نه شکایت درلود چې دشکایت په صورت کې به د چپ کېدو ورته ویل کېدل او سوکان به هم ورکول کېدل. سپې به هم موجود وو چې بندیان ووېروي او غلي یې کړي . مونږ دیوې شپې اُویوې ورځې د اوږد سفر نه وروسته دبلې ورځې د مازیګر لمر په خپلو ملاګانو محسوساوه ، لمونځونه مو تراوسه په اټکل او اشاره کړي وو اوډېرو بندیانو بیا پنجروکې دوباره وکړل.

یوډېرزړه راښکونکی کارچې تل به زماپه ذهن کې نقش وي داوچې دبس نه دکوزیدو اوپه څمکه دکېنولونه وروسته مې په لوډسپیکرآذان واورېد.خولوډ سپیکروړوکی و. داسې ښکارېده لکه له لرې فاصلې نه چې راځي. دغه اذان زما اودنورو بندیانوپه زړونوکې دومره لاروکړه اودومره یې زمونږ زړونه غټ کړل لکه له سره چې مونږ بندیان شوي نه یوو! ماهیڅکله په خپل ژوندکې دومره روحي خوشحالي نه ده محسوس کړې لکه دغه اذان چې ماته راکړه . یوعجیب خوندیې وکړ؛ داذان هریولفظ ماته سکون او اطمینان راکاوه داسې برېښېده لکه زه چې دخپل کلي دجومات اذان اورم اوزه ازادیم . اذانونه خو کندهاراو باګرام کې هم کېدل خودومره اثر په کې نه و . یو خوزمونږ سترګې پټې وې اوغوږونه یې راته خلاص کړي

وو ، مونږ دليدلوپرځای آواز ته ډېر متوجه وو اوبل دتکليف په وخت کې دې اذان يو عجيب الهام رابښه . داسې ښکارېده لکه چې مونږ ته وايي چې فکر مه کوئ . تاسو دلوی رب په حفاظت کې ياست . لکه چې دټولې نړۍ دمسلمانانو اوازمونږ ته په دې آذان کې رارسي، لکه چې مونږ دمادي دنيا داندېښنونه روحاني سکون ته راکاږي . داذان سره ماخپل ذهن کې نورتصويرونه جوړکړل... مافکر وکړ کېدای شي چې مونږ دګوانتانامو دکوموپنجرو په هکله اورېدلي دي هغه دبل چاله لپاره دي اودلته موجودبنديان شايد په غټواجتماعي سالونونوکې اوسېږي ، اواوس به بختورددې اذان پسې جمع کوي. دغه ټول تصورات په پټو سترګو روان وو چې په مايې دپاڅېدو غږ وکړ اوزه يې هم روغتون ته روان کړم .

روغتون ته زما وار نسبتاً وروسته راغی، روغتون چې دمحبس په نسبت لوړ ځای کې جوړ شوی و په پوړيوېې وروخېژولم اودروغتون دننه يې ديو شواروز له کړاو وروسته سترګې راپرانيستې، جامې يې رانه په ولاړه بيتې کړې اوغسل خانې ته يې وردننه کړم. دوه عسکر راته ولاړ وو او زه زنځيرونه په لاسو او زولنې په پښوغسل ته ولاړيم اوله ملا مې دلاسونو زنځيرراتاودی له شپږومياشتو وروسته مې غسل وکړ. عسکرو بيابيا دبيرې آوازونه کول خوزمادمياشتو مياشتو خيري چرته دپاکېدو وو او هغه هم په ترلو لاسونو اوپښو؟!. ددغه بې شرمانه غسل نه وروسته يې يوې کوټې ته ننه ايستم چې يوې ښځې زما طبي معاينه وکړه ، نارنجي رنګ جامې يې راواغوستې اوپه بله کوټه کې يو سړي چې ډېره

مکاره قواره یې درلوده مانه زماد شخصي ژوند او نیولو په اړه ځولنډې پوښتنې وکړې خویوه پوښتنه یې ډېره بې هوده وه او هغه دا چې په دغه حالت کې ماته وایي چې تا انګرېزي ادب لوستی په انګرېزي لیکوالانو اوشاعرانو کې دې څوک ډېر خوښ دی؟.
داپوښتنې ټولې په ولاړه وې، زه ولاړ وم اوپوښتنې کوونکی ناست و.
زه عسکرو د متهو نه نیولی وم ماپه ځواب کې ورته وویل چې په ټولو دې تندر پریوځي زه تاسودې پوښتنو ته راوړی یم؟. هغه سړي ماته ډېر په زیر زېر کتل. بیایې وپوښتلم چې Keat په نوم شاعر دې لوستی اوکه نه؟ ماورته دهو ځواب ورکړ، بیایې وویل چې: Keat دې ډېر خوښ دی اوکه Kaplin ؟ ماورته د خوښۍ او ناخوښۍ په ځای وویل چې ماد Kaplin په نوم شاعر نه دی لوستی. بیایې د Keat په هکله رانه پوښتنه وکړه چې که کوم شعر دې یادوي؟ خو چې زماسترګو ته یې وکتل نودا موضوع یې پرېښوده اویوکارډ یې رامخې ته کړ چې په دې خپل د کور ادرس ولیکه او لاسلیک وکړه .
د دومره سترې سفر نه وروسته متصل د انګرېزي ادب په حواله پوښتنې کول فقط زما د معنو یانو مطالعه وه. داسې وشو عسکرو زه روان کړم اود محبس د کلینک په بله دروازه یې د ایستونه وروسته یوې پوستړې ته ودرولم چې په مختلفو ژبوپرې لیکل شوي وو او غټه خبره په کې داوه چې مونږ تاسوته د جنیوا د معاهدې نه هم زیات حقوق درکړي اوکه تاسود کمپ دقوانینونه سرغړونه وکړه نودسختې سزا سره به مخ شئ ، بیایې د کلینک نه دوتو دروازې ته ورمخامخ کړم .کله چې زه دروازې نه ووتم اودپاتخې د کوزېدونه

مخکې مې په خلاصوسترګو ګير چاپېره نظر واچاوه يو عجيب منظر په نظر راغی . دغه منظر اوس هم زماپه دماغ ډېر پوخ تصوير لري اوزه يې هيڅکله نه شم هېرولی. څرنګه چې کلينک په لوړه ؤ نودروازې نه دوتو سره سم مې سترګې په بحر ولګېدې. زمااود بحر ترمنځ مې دمحبس بلاکونه وليدل اود مختلفو بلاکونو ترمنځ مې دټوټې هغه شنې پردې وليدې چې اول ماته ټول محبس تقسيم شوی شين چمن ښکاره شو .دباګرام اوکندهار د کثافتونو اودوړ و نه وروسته راته چاپيريال ډېر صفا ښکاره شو اودغه چاپېريال يقيناً هم څه ناڅه صفا ؤ. خو دسمندر په ليدو مې زړه ډوب شو اوپوه شوم چې مونږ کيوبا ته رارسېدلي يوو . اوداځکه چې د آي ايس آي په محبس او کندهار اوباګرام کې مې اورېدلي وو چې دګوانټنامو محبس سمندر کې دی.

دباګرام او کندهار د بد اخلاقه عسکرو په نسبت راته دګوانټانامو دعسکرو رويه ښه ښکاره شوه. عسکرو زه د کلينک دزينې نه کوز کړم اولاندې يې د رکشې په شکل يو وړوکې ګاډي کې کښېنولم. يو يو عسکر مې ښي او کيڼ لاس ته کښناستل اويو هم د غټو ټېرونو والا دغه بې چته ګاډي کې مخکې کښناست چې ګاډی يې چلاوه ، فقط ديو درې څلور دقيقو د کار دپاسه سفر نه وروسته يې کوز کړم اودتحقيق کوټې ته يې بوتلم.

په کيوبا کې دا زما داول تحقيق اوله کوټه کې اول محقق ؤ. دتحقيق بلاکونه د اوسپنيزو چوکاټونو نه جوړ شوي اود فارميکا په پردو پوښل شوي دي دپردو ترمنځ تشه دفوم په مسالې ډکه کړې .

هرېلاک ښې اوکيڼ لور ته شپږ شپږ کوټې لري . د تحقيق دهرو دوه کوټو ترمنځ دمراقبت کوټه ده چې د تحقيق دوران کې دتحقيق فلمبندي په کې کيږي اود تحقيق اود مراقبت دکوټې ترمنځ د يوې غټې کړکۍ په اندازه دښيښې ترشا بندي ته کتل کيږي، دښيښې هغه مخ چې دبندي خواته دی آينه ده چې بندي خپل شکل په کې ګوري.هرېلاک خپل رنګ لري چې د زيړ Yellow نه شروع کيږي. دوهم بلاک د آسماني رنګ Blue په نوم دريم دنارنجي Orange څلورم د ګلابي Gold اوپنځم د نسواري Brown په نوم يادېږي. په بنديانو کې داخبره مشهوره وه چې زيړ د عادي تحقيق، آسماني دشکوکود بنديانو نارنجي د مستشرقينو په ذريعه دفکري مطالعې اووفدونو سره دملاقات له پاره، طلايي د مهمو معلوماتو دحاصلولو اونسواري دخطرناکو بنديانو د تحقيق له پاره ټاکل شوي وو.

داخبره تر ډېره حده صحيح هم وه اوبله وجه يې داهم وه چې په کيوبا کې د نظامي او استخباراتي مختلفو شبکو تحقيق کاوه چې هرې شبکې به مختلف بلاک استعمالاوه. خود ضرورت په بنابه بلاک هم استعمالېده.

زما اولنی تحقيق د زيړ بلاک نه شروع شو نظاميانوبه اکثر په زيړ بلاک کې تحقيق کاوه. په افغانستان کې د خلقي وزير دنازولي زوی کيسه مشهوره ده هغه دومره نازولی و چې هيڅکله يې وينه نه وه ليدلې خو چې دعسکرۍ نوبت يې راغی اودجنګ سره مخامخ شو نو دځنګ د ملګري نه يې پوښتنه وکړه چې د وينې رنګ څنګه وي ؟ هغه ورته په غوسه کې وويل چې ولې ته دوينې رنګ نه پېژنې

؟ نازولي خلقي ځوان ورته وويل چې که رنګ يې زيړ وي نوبيا خو ما زخمي درواخله. ملګري يې چې وکتل واقعي ځوان پرتوګ زيړ کړی و.

زه فکر کوم چې د نظاميانو د تحقيق دبلاک نوم زيړ ايښودل څه همداسې ربط لري ځکه چې مونږ دخپلو درې نيمو کلونو دبنديه دوران کې امريکايي نظاميان ډېر نازولي ومونډل، هغوی به تل شخوند واهه او زمونږ په مخکې به يې له هغې توبرې نه چې تل به ورسره وه قسم قسم خوراکونه، لکه بسکټان، شربتان، اوداسې نور شيان را ايستل. دټا پرسو وريته زړې به يې هم ډېر خوړل ډېر به زمونږ نه وېرېدل او حتی چې ځينوعسکرو خو مونږ ته عذر کاوه چې که تاسې د پنجرو نه راووځئ نو مونږ ته به څه نه وايئ مونږ ستاسو دښمنان نه يو. لنډه داچې زه يې زيړ بلاک کې دريم نمبر کوټې ته ننه ايستم. کوټه کې يو اوږد مېز پروت و. يوه چوکۍ دبندي اودوه دمحققينو له پاره پرتې وې عسکرو زه د کونډې پورې وتړلم او خاموش اودرېدل.

لږ ساعت وروسته يو لوړ کاړ ساو محقق چې نظامي لباس يې په غاړه و اويو بوډا تور رنګی ترجمان هم ورسره و کوټې ته راننوتل. محقق خپل نوم Dave وښوده اود ترجمان تعارف يې فقط ديو ترجمان په حيث وکړ. ده خبرې په انګرېزي کولې اوماته يې وويل چې ستا دراتلونه مخکې ما ستادوسيه لوستلې ده ، زه چې ترڅو په کيوبا کې يم تا سره به تحقيق کوم اووخت په وخت به دمحققينو مختلفې ډلې هم راځي اوتاسره به ګوري. محقق داهم وويل چې موجود ترجمان به مونږ سره دمشکل په صورت کې کومک وکړي ،

هغه وویل چې ستا دوسیه کې لیکلي چې ته انګرېزي کې روانه محاوره کوې اوکه ته ددې نه انکار هم وکړې مونږ ته معلومه ده.

په اول تحقیق کې یې ما نه دژوند په په هکله عادي پوښتنې وکړې اوویې ویل چې : که تیاریې نو ډېرې پوښتنې لرم اوکه نه نو آرام وکړه دشپې ناوخته به دې راوغواړو. ماورته وویل چې زه د سفر نه ډېر ستړی یم اونه شم کولای چې ستاپوښتنو ته ځواب درکړم. هغه وویل چې سمه ده خو پام کوه چې دلته دنورو بندیانو خبره ونه منې تاته به زاړه بندیان مشوره درکوي چې په تحقیق کې خبرې مه کوه اویاهم معلومات مه ورکوه نوکه داخبره دې ومنله ټول عمر به دلته پروت یې اوکه زمونږ سوالونه دې ټول ځواب کړل نو فقط دوه میاشتې پس به تا آزاد کړو. اخري خبره یې دا وکړه چې که په عسکرو دې حمله وکړه نو زمونږ عسکر په خپلو ټوپکونو کې مرمۍ لري او ددې خبرې سره پاڅېږ.

عسکرو زه د تحقیق دکوټې نه راوایستم او چې د اول کمپ دبلاکونو ترمنځ یې تېرولم نوله هرې خوا را باندې آوازونه کېدل. په مختلفو ژبو کې تسلي راکول کېده چې هیڅ فکر مه کوه ته کامیاب یې. ته دالله په لار کې یې ، الله ستا ساتونکی دی ، داکفار ستاهیڅ نه شي کولی ، مرګ په خپل وخت راځي، الله ته توبه وکړه اودې کفارو سره مرسته ونه کړې. زه ډېر حیران وم د بلاکونو ترمنځ آوازونه مې ډېر په مشکل سره بېلول خو چې کله زه دګلف بلاک Gulf Block ته ننوتم ګورم چې په یوه داسې کوټه کې عسکرو روان کړم چې دپاسه پټه وه ښې اوکیڼ لور ته پنجرې وې رنګې

رنګـي خلـک پـه کـې وو او اکـثر خـاموش وو. دازمـا پـه شـان نـوي بـنديان وو چې ماسره سم په يوه طياره کې راغلي وو، دوی دانظاره کولـه، دخبرو جرئت يې نه درلود، زه په بلاک کې روان وم او دبلاک پـه آخر کې دښي کتار آخري پنځه ويشتمې پنجرې ته يې ور دننه کړم دلته. ساعت آرام نـه وروستـه عسـکر راغلـل اوزه يـې بـيا تحقيق تـه بوتلم، اوس دشپې نهـه بجې وې اوچې دتحقيق نـه يـې بيرتـه راوړم دشپې يوولـس بجـې وې بـلاک تـه درانـنوتو سره سم مـې سترګې پـه مسـلم دوست صـاحب ولګـېدې اوس يـې هغـه هم دتحقيق نه راوړی و اودچپ لاس دکـتار پـه اول نمبر پنجره کې يې اچولی و هغه دهمدغې اول نمـبر پـنجرې نـه چـې دعسـکرو دناسـتې ځـای سـره نـږدې وه د عسـکرو ډېرې نـاخوالې لـيدلې وې. کلـه چې مسلم دوست صاحب هم ماتـه مـتوجه شـو اوزه يـې پـه ړومبي ځـل پـه نارنجي جاموکې پـه تړلو زنځـيرونو کـې ولـيدم نوډېر پـوه شـوم چـې ډېـر خفـه شـو خوماتـه يـې تسلي راکول شروع کړل ماتـه يې الله تـه دتوبې اودعـا توصيه وکړه اوزه عسـکرو تـرې تېـرکړم. اصـلا دخبرو اجـازه نه وه. دګلف په بلاک کـې زماپـه پـنځه ويشـتمه اود مسـلم دوست صـاحب په اوله پنجره کې اچول زمااودهغـه دجدا سـاتلو تسلسـل و.مونږ که څه هم په بلاک کې سره يوځـای وو اود احـوال نـه سره خبرېدو خو پـنجرې مـو بـالکل پـه مخـالفو کونجونـو کـې وې مونږ يواځې دانه چې سره نږدې نه وو بلکه کـتارونه موهـم جـلا وو. دامـريکايانو تجربه شوې وه چې کـه پـه يـو بـلاک کې ټولې پنجرې ډکې وي نو په يوکتار کې دپنجرو بنديانو بـه يوبـل تـه پـيغامونه لېږل. وروسته امريکايانو دکتارونو ترمنځ خپل

جاسوسان موظف کړي وو د کنړ حاجي روح الله دوه ځلې د ملګرو لیکلي پیغامونه پټ کړل. اول ځل چې افشاشو نو دوهم ځل ملګرو امتحاناً یو عادي پیغام ولیږه چې حاجي روح الله بیادځان سره معطل کړ چې محققینو ته یې ورکړي او آی ایس آی جاسوسي پرې پته کړي اوچې کله ترې پوښتنه وشوه چې پیغام څه شو؟ هغه وویل چې مانه په کمود کې وغورځېده خو چې تحقیق ته د رسېدلي پیغام خبره افشا شوه نو سړی بې ځوابه شو اود بندیانو د کنځلو هدف وګرځېد.

اول خودخط لیکلو اجازه فقط دسره صلیب په اوراقو وه ، وروسته چې په سپین کاغذ لیکل آزاد شوو نو دبندیانودوه تجربې شوې وې چې دخپل یا مخالف کتار پنجرې ته پیغامونه تبادله کېدل . نورې ډېرې داسې طریقې ایجاد شوې چې د دوه پنجرو ترمنځ د خالي پنجرې اویاهم مخالف کتار ته یوشی رسول اویاهم دبندي دپنجرې په سر د جزایي بندي نه اخیستل شوی سامان راکوزول اوداسې نورکارونه بېخي آسان شوو چې دلته یې افشاکول په کار نه دي .

کیوبا ته زمونږ د رسېدونه یوه هفته وروسته بل جهاز راغی او زمونږ د جهاز په شان یې نور پنځه دېرش کسان راوړل. نوي بندیان دزړو بندیانو له پاره د خبرونو یواځینی ذریعه وه. تحقیق په مخه روان و البته دعسکرو او محققینو رویه د باګرام او کندهار په نسبت ښه وه. مونږ نه مخکې زړو بندیانو د **X-Ray** ایکسری په کمپ کې چې دکندهار په شان یو عارضي کمپ و او عین د کندهار

شرایط او رویه یې درلوده مونږ ته زړو بندیانو دهغې کیسې وکړې چې څنګه مشکلات یې د أذان او لمانځه لپاره زغملي وو اوڅنګه په سطلونو کې رفع حاجت ته تلل؟! زمونږ دکندهار دقیام په وخت یې دغه نوی کمپ چې اوس مونږ ورته راغلو اود ډیلټا Delta په نوم یادېده جوړ کړ اود X-Ray زاړه اودکندهار اوباګرام نه یې ورته بندیان راوړل. زمونږ درسېدو په وخت کې په ډیلټا کمپ کې فقط اول نمبر کمپ و. دویم، دریم، څلورم ، اوپنځم زمونږ د درې کاله قیام په دوران کې جوړ شو. د ډیلټا نه وروسته شپږ م کمپ چې ایکو نومېده او ایګوانا هم جوړ شوي وو اود نورو پټو کمپونو خبرې هم کېدې. مونږ د ګلف بلاک په اوله اوپنځه ویشتمه کې اوه میاشتې تېرې کړې ، بیا مسلم دوست صاحب دلیما بلاک په (۳۶ ) مه اوزه د مایک بلاک په دویمه پنجره کې وم وروسته یې په لومړي ځل دمایک بلاک په اوه دېرشمه اواته دېرشمه پنجره کې سره څنګ په څنګ واچولو چې دهمغې پنجرې نه زه د مسلم دوست صاحب نه څلور میاشتې مخکې په (۲۷ ) د نومبر( ۲۰۰۳ ) څلورم پنځ غالي ته لاړم.

په دغه ټول دوران کې تحقیق په مخه روان و اودباګرام او کندهار په نسبت په ګوانتنامو کې ډېر تفصیلي پوښتنې وشوې چې زمونږ په شخصي ژوند سربېره په کې دالقاعدې، طالبانو، اسلامي تنظیمونو، مدرسو، علماو، جهاد، تدریب ، ددغو ټولو دتمویل منابع ، اوداسې نورو موضوعاتو په هکله پوښتنې کېدې هغوی په تحقیق کې فکري او نفسیاتي مطالعه هم کوله او اکثر به درې

محققین ناست وو چې یو به پوښتنې کولې دوهم به لیکل کول اودریم به چپ ناست و او بندي ته به یې په زیر زیر کتل .

ما او مسلم دوست صاحب او نورو هغو بندیانو چې یا به سره ورونه وو یا پلا ر اوزوی اویاهم نږدې ملګري وو تولوسره دا حربه په کار اچول کېده چې هریو ته به یې دبل په غیاب کې دروغ ویل چې هغه بل خو مونږ ته داسې وویل. اوبیابه یې عین حربه په دغه بل استعمالوله. څو څو ځل یې ماته وویل چې مسلم دوست مونږ ته ټول حالونه وویل اوته ډېر خراب سړی یې چې مونږ ته معلومات نه راکوې هغه به کورته لاړشي اوته به دلته ټول عمر پروت یې او ددې سره به یې د دروغو یولست رامخکې کړ چې دغه خبرې هغه کړې چې د هغې به دمسلم دوست صاحب د ژوند سره هیڅ تعلق نه و او عین حربه به یې مسلم دوست صاحب ته زما په هکله استعمالوله. کله به برعکس شو او ویل به یې چې ته خو ډیر ښه سړی یې ته خو مونږ ستا د هغه بد ورور په وجه راوړی یې. هغه مونږ سره همکاري نه کوي ته مونږ سره همکاري کوه ته به کورته لاړشې اوهغه به ټول عمر دلته پروت وي. او چې دغه ټولې حربې به ناکامې شوې نو کله به یې ځان غوسه کړ او کله به یې نرمي شروع کړه اود خوراک څښاک ستونه به یې هم کول .

مونږ سره ګوانټنامو کې دلاهور ډاکټر سرفراز احمد صاحب هم و ٔ هغه کیسه کوله چې کله هغوی دشبرغان جېل ته ورسېدل نو یوه ورځ دوستمیان راغلل او راته ویې ویل : تاسوکې چې څوک تعلیم یافته وي او خصوصاً په انګرېزي ژبه پوهېږي نوهغه دې دباندې راووځي

چې صحافیان راغلي هغوی به نړۍ ستاسو په حال خبره کړي .ډاکټر صاحب وویل چې څه حضرات خو ډېر په خوشحالۍ ورپاڅېدل اوزه هم ځینو ملګرو وته مبلغ چې ډاکټر صاحب زرکوه زمونږ حال صحافیانو ته بیان کړه. صحافیان څه وو چې امریکایان بهر ولاړ وو او تعلیم یافته خلک یې راچاپېړول ، هغوی دېرش کسه د درې نیم زرونه راچاپ کړل او کندهار ته یې ورسول ، ډاکټر صاحب ویل چې دوستمیانو ورته زه ډېر غټ معرفي کړم او له همدې امله یې له قهره یادتمسخر نه ماته په مخ د را اغوستل شوې بوجۍ په سر یو ټکټ ولګاوه او اسامه بن لادن یې پرې ولیکه چې له همدې امله یې هغه په کندهار کې ډېر په عذاب کړ.

عین کیسه ماسره هم وشوه زه که یولورته دانګرېزي ژبې د زده کړې له امله په سهولت کې وم اود غلطو او ناپوهو ترجمانانو دشر نه په امن کې وم او خپل مطلب مې اداکولی شو خوله بله پلوه د امریکایانو په غم اخته شوی وم. هغوی تر ډېره وخته په ماداشک کاوه چې ګنې ما اروپا او امریکا ته سفرونه کړي او ګنې زه داخبره دهغوی نه پټوم.

دفکري مطالعې په سلسله کې مانه په نارنجي بلاک کې مشرانو مستشرقینو عجیبې اوغریبې پوښتنې کولې او هغه پوښتنې هم په ډېرې ښې فضا کې. نارنجي بلاک د خوراک څښاک او نورو سهولتونو له پاره مشهور وُ . هلته په یوه وړه کوټه کې پستې صوفې، دخوراک له پاره وچه مېوه دانه ، دلمانځه له پاره جای نماز اوځینې اسلامي کتابونه ایښي وو. ماپخپله هلته په مختلفو

وختونو کې قرطبي تفسير ، جلالين اود سفر حوالي" العلمانيه " وليدل. په نارنجي بلاک کې به خبرې ډېرې پرسکون فضا کې کېدلې او همداوجه وه چې بنديان به يې هم دخپلو ملکونو دوفدونو سره په نارنجي بلاک کې مخ کول هغوی يې پنجرو ته نه وررېښودل او دبندي سره دملاقات په وخت کې به يې يوڅه خوراک څښاک هم مخې ته اېښوده، په نارنجي بلاک کې مانه سپين ږيرو داپوښتنې وکړې:

- د امام ابن تيميه کتابونه دې لوستي ؟.
- سيد قطب، حسن البناء او مولانا مودودي دې لوستي دي ؟
- تهجدوته پاڅېږې اوکه نه ؟.
- موسيقي اورې اوکه نه ؟.
- ستا د کور ښځې سترکوي ؟.
- ستاسو دکور د ښځو وېښتان کوڅې دي اوکه قيچي کړی شوي ؟.
- ته په ژوند کې څه ارمان لرې ؟.
- ته څه قسم حکومت غواړې ؟.

انګرېز ليکوال **Janathan Swift** په خپل کتاب **Gulliver Travels** کې فوځيانو ته د **Yahoos** ياهوګان يعنې کم عقل او چټل انسان خطاب کوي او وايي چې دغه خلک ډېر پس فطرته خلک دي دوی نور انسانان فقط دخپلې تنخوا له پاره وژني او داسې نور. رېښتياهم چې کله زه دباګرام اوکندهار نظاميان راياد کړم نو واقعي دياهوګانو مصداق وو، خوددغه بداخلاقه اشخاصو شاته يو څومکار دماغونه دي.

ماد امریکایي عسکرو بد اخلاقي دومره درنده ونه لیده لکه د امریکایي ایجنسیانوځینې اشخاص چې له ډېرې مکارۍ نه به یې د تحقیق دوران کې مونږ سره ظاهري خندا هم کوله خودهغوی دسترګو نه به کینه څڅېده. هغوی خپله دښمني نه شوه پټولی اوپه یونه یوشکل کې به هغه راښکاره کېده.زما په مستقلو محققینوکې Mike,Tom,Dave,Antonio,George,Christ,Brown نومونه ماته یاد دي چې په دې ټولوکې د ملکي محقق George او نظامي محققMike رویه انساني وه چې دخپل نظام په غلطیانو او کمزوریانو یې څو څو ځل شعوري او غیرشعوري اعترافات زماپه مخکې کړي دي.

# دخوبونو په شکل کې بشارتونه

هسې خود آي ایس آي د بند نه ترکیوبا پورې مونږ پخپله اونورو ملګرو ډېر عجیب او غریب خوبونه کتلي چې ددغو خوبونو شمېر اوتفصیل ډېر زیات دی خود ګوانتنامو په محبس کې تقریباً لس دولس ډېر مشهور خوبونه وو چې ملګرو به بیابیا یوبل ته تکرارول او یقیناً دغه خوبونه مونږ له پاره د یوغټ تسل اوسکون باعث و. دلته دبېلګې په توګه یو څو را اخلو.

لومړی مشهور خوب دیو عرب مجاهد وٴ چې رسول الله صلی الله علیه وسلم یې خوب کې لیدلی وٴ او په همغه قیافه وٴ چې په صحیحو احادیثو کې راغلی دی. عرب مجاهد پېغمبر صلی الله علیه وسلم ته دکفارو دمظالمو نه شکایت کړی وٴ اوپېغمبر صلی

الله علیه وسلم ورتـه په خوب کې فرمایلي وو چې تاسو هیڅ فکر مه کوئ تاسو دحق په لار یاست دا کفار ډېر زر تباه کیدونکي دي عرب مجاهد وایـي چې درسول الله صلی الله علیه وسلم پـه لاس کـې دوه واړه سپین کاڼي وو چې یوې دکفارو په طرف وروغورځاوه اوبل یې لا لاس کې و ، ماتـه یې وویـل چې کفاروتـه مـایو ګوزار ورکړ اوکـه لارې تـه رانغلـل نـو ډېـر زر بـه دابـل ګوزار هـم ورکړم او مکمل به تباه شي. پـه ګوانتهنامو کـې دخوبونویـو مشهور معبر ددې خـوب تعبیر داسې وکړ چې دیو ولسم ستمبر دحملو په نتیجه کې دامریکا نیم اقتصـاد لـه منځه لاړ او نـیم نوربـه ډېر زر لـه منځه لاړشي چې داکار بـه د مهدي علیـه السـلام دظهـور نـه مخکـې دهغـو جګړولـپاره یـوه پیلامه وي چې د مـلا حمـو پـه نـوم یادېږي اودعیسي علیه السلام د راکوزېدو نـه مخکـې غتـه جګړه چې په شام کې به د متحدو کفارو او مسلمانانو ترمنځ کېږي اود "ملحمة الکبری" په نوم یادېږي.

د یوولسـم ستمبر د حملـو پـه نتیجه کـې د تېرو دریو څلورو کلونو پـه دوران کې دامریکایانو نیم اقتصـاد لـه منځه تللو تائید اقتصادي ماهرین هم کوي.

دوهـم خـوب دیوبـل مجاهد ؤ چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم یې ولـید چـې پـه کـندهار کـې دعـربو مجاهدیـنو د شـهیدانو د اديـرې ترڅنګ دخاورې پـه یـوې غتې ډوبۍ ولاړ وي اودغه شهیدانو تـه یې ددعـا لـه پاره لاسونه پورته کړي وي . دخوب لیدونکی مجاهد وایي چې دکندهار پـه هغـه اديره کې چې عرب مجاهدین شهیدان په کې دفـن دي زمـا یوملګری هم هلته ښخ دی هغه مې په خوب کې ولیده

چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته شکایت کوي چې امریکایانو او دهغوی ترڅنګ افغاني منافقینو د دوی سره ډېر ظلم وکړ دګل آغا شیرزي کسانو شپېته کسان حلال کړي وو چې ډېر یې په کې دځنې له لوري حلال کړي وو. دخوب لیدونکی وایي چې پېغمبر صلی الله علیه وسلم په ادیره کې دشهید عرب دشکایت اوریدونه وروسته وویل چې کفار او منافقین به الله پاک تباه کړي او تاسو بریالي یاست . بیا پېغمبر صلی الله علیه وسلم وویل چې په دغه ملک ( افغانستان ) کې په منافقینو سربېره نېکان بندګان هم شته الله تعالی به دهغوی په ذریعه اسلام ته فتح ورکړي او منافقین به ذلیل او رسواشي.

په کیوبا کې یو مصري ملګري خوب ولید چې درسول الله صلی‌الله علیه وسلم په مخکې ولاړ دی. رسول الله صلی الله علیه وسلم د ملګري نه پوښتنه کوي چې څه حال مودی؟ ملګری ورته وایي چې یارسول الله! مونږ په پنجرو کې پراته یو او ډېر ظلم راسره کېږي. رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل :

( لاتحــزن والله معكم والفرج قريب بإذن الله ) مه خفه کېږه الله پاک ستاسو ملګری دی اودالله په حکم آزادي ډېره نږدې ده .

دخوب خاوند وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ماسره ډېرې خبرې وکړې اودبندیانو له پاره یې ډېر نصایح راته وکړل چې په هغو کې د ډېر عبادت اودعاء اودنظر دساتلو توصیه شامله وه ملګري وایي چې پېغمبر صلی‌الله علیه وسلم ماته تکراراً وویل چې تاسو دامریکایانو ښځو ته مه ګورئ اودخپلو نظرونو حفاظت وکړئ.

همدغه ملګرى وايي چې پېغمبر صلى الله عليه وسلم ماته وويل : ( انتم من اهل البدر) (تاسو دبدر والا ياست ) ملګرى وايي: ما ورته وويل چې: يارسول الله ! د بدر خاوندان خو تاسره څوارلس سوه کاله مخکې تېرشوي دي .

پېغمبر صلى الله عليه وسلم وفرمايل : " أنتم من اهل البدر الثاني " " تاسو د دوهم بدر ښتنان ياست "

يوبل ملګري خوب وليد چې دپيغمبر صلى الله عليه وسلم ترڅنګ يوسړى ولاړوي خويو نقاب يې اغوستى وي اومخ اوټول بدن يې پټ وي. پېغمبر صلى الله عليه وسلم دخوب ليدونکي اوخوب کې موجودو نورو مجاهدينو ته وايي چې : دغه نقاب پوش سړى ستاسو امام دى . معبر ددې تعبير داوکړ چې دغه نقاب پوش سړى امام مهدي دى چې همدا اوس زمونږ په عصر کې ژوند کوي او موجود دى خويوائې مونږ نه پټ دى اودنقاب نه راوتل به دهغه ظهور وي او دهغه ظهور ( ان شاء الله ) لرې نه دى.

يوعرب مجاهد په باګرام کې خوب وليد په داسې حال کې چې مجاهد په سخت ژمي کې دباګرام په يخنۍ کې پروت دى ، ګوري چې يو شخص ولاړ دى په ښي لاس کې يې قرآن او په کيڼ تخرګ کې يې انجيل نيولى ؛ هلته موجودو خلکو دخوب ليدونکي ته په خوب کې ددغه سړي پېژندګلوي وکړه او ويې ويل چې دا عيسى عليه السلام دى. دخوب خاوند وايي چې ماورمنډه کړه،غوښتل مې چې ورغاړې وځم اوبه تندي يې ښکل کړم خو عيسى عليه السلام مانه مخ په شاشو او ډډه يې رانه وکړه. ددغه حرکت سره هلته ناستو

خلکو ورته وويل چې دا خو عرب مجاهد دی او اوس په باګرام کې دامريکايانو سره بندي دی او په لنډو ورځو کې ګوانتنامو ته روان دی.

دخوب ليدونکی وايي چې: ددې خبرې په آورېدو سره عيسی عليه السلام رامنده کړه ، ماته يې دواړه لاسونه خلاص کړل، په ښي لاس کې يې قرآن شريف اوپه چپ لاس کې يې انجيل شريف و، ماته راغاړې ووت ، زه يې په تندي ښکل کړم اوراته يې وويل چې تاسو بريالي ياست ، تاسوهيڅ فکر مه کوئ تاسو به ډېر زر الله پاک خلاص کړي، زه راتلونکی يم اودغه خلک چې ځانونه نصاری بولي، دوی کې به ځينو ته الله پاک هدايت وکړي ، نور به الله پاک تباه او برباد کړي اوزه به په زمکه محمدي شريعت نافذ کړم.

ملګری وايي چې عيسی عليه السلا م ددغه خبرو په آخر کې زماښی لاس په خپل ښي لاس کې ونيوه ، ټينګ يې کړ او ټکانونه يې ورکړل چې ددغه ټکانو نو په نتيجه کې زه راويښ شوم او ګورم چې دباګرام په يخ محبس کې په يخ ژمي کې پروت يم اودښي لاس پنجه مې لمده اوډېره خوشبويه ده . ډېر حيران شوم چې اوری خوهم نه دی چې په خولې مې لاس لوند شي. ملګری وايي چې زه ډېر خوشحاله وم، ډېر سکون مې زړه ته حاصل شو او دګوانتنامو تګ ته لېواله شوم چې په دې کې زما دمحبس دځنګ ملګرو مانه دناڅاپي خوشبويي پوښتنه وکړه. دخبرو اجازه نه وه خو ماورته په پسپسکو دا خوب ووايه او ورته ومې ويل چې زه پخپله حيران يم چې راپاڅېدم نولاس مې لوند او خوش بويه وُ دغه خبره ديو څو بنديانو

ترمنځ خوره شوه اوهريو كس كوښښ كاوه چې دخوب خاوند ته ځان راورسوي اودهغه دلاس نه څه خوشبويي په ځان ومږي. امريكايي عسكرو چې كله وليدل چې دبنديانو ترمنځ څه حركت روان دى نو هغوى يې جزايان كړل اوديو يو ساعت له پاره يې دلاسونو نه زوړند كړل خو ددغه خوب له امله بنديان دومره مطمئن وو چې حتى دغه جزا هم خوند وركاوه او چې كله امريكايان ددغه خوب نه خبر شول نو دخوب ليدونكى يې منع كړ چې داخوب چاته مه وايه اوهمدا لامل ؤ چې وروسته په كيوباكې امريكايانو بنديانونه د خوبو نو پوښتنې هم كولې.

يوخوب داو : يوبندي خوب وليده چې دبحر څپې پنجروته رانږدې اوپنجرې دنيمايي پورې ډكې شي. خوچې كله څپې بيرته مخ په شاشي نودپنجرو يولورته جال وغورځېږي، پنجرې خلاصې شي او اوبه خپل زوړ ساحل ته ورسيږي. دپنجرو دخلاصو طرفونو نه ټول بنديان را ووځي اودبحر په طرف روان شي په بحر كې يوه غټه بېړۍ ولاړه وي ، يو لوړ اوقوي سړى چې سپين عربي لباس يې اغوستى وي توره اوډال هم ورسره وي دبېړۍ په دروازه كې ولاړوي ، مسكى وي او بنديانو ته اشاره كوي چې بېړۍ ته راوخېژئ بنديان بېړۍ ته ورخېژي اودخوب ليدونكى دچانه پوښتنه وكړي چې داڅوك دى.؟ په خواب كې ورته وويل شي چې داعمر رضي الله عنه دى اود بنديانو دخلاصولو له پاره راغلى . دخوب ليدونكى وايي چې كله مونږ بېړۍ ته خېژو نو شاته په لمده ځمكه امريكايان د دوى

پسې منډې راوهې چې راويې نيسې خوځمکه يې د پښولاندې تښتي اومخ په شا ځي.

يوخوب هم عين د يونس عليه السلام د نجات په څېرو. دخوب ليدونکی وايي چې بنديان ټول دپنجرو نه ووځي اودبحر خواته ورشي ؛ دبحر نه يوغټ کب سر راپورته کړي اودساحل په غاړه ټول منتظر بنديان وخوري. لږساعت وروسته په بحر کې اور ولګېږي ، دغه غټ کب ډير تنګ شي ساحل ته راشي خوړلي نيم خلک بېرته د استفراق له لارې راوغورځوي خوبيا هم تکليف کې وي اوډېر مړاوي وي . دخوبونو معبر ددې خوب تعبير داسې وکړ چې په ګوانتهنامو کې موجودو بنديانو کې به نيم کسان زر خلاص شي اونيم نوربه لږ وخت واخلي او حقيقت هم دادی چې ددې ليکنې تروخته تقريباً مونږ نيم بنديان راخلاص شوي يوو. ديوو لسو سوو خواوشابنديانو نه اوس هلته څه ډپاسه پنځه سوه کسان پاتې دي چې که خصوصي بند کې ساتل شوي دعريانو مشران ور سره حساب کړو نو بالکل نيمايي عدد جوړوي. ددغه خوب تعبير کوونکی بنديانو ته د ذي النون ددعاء چې يونس عليه السلام دکب په خېټه کې دخپل نجات له پاره ويله توصيه هم وکړه چې.

" لا اله الا انت سبحنك إني كنت من الظالمين ".

الله پاک وروسته فرمايي چې : " وکذلک ننجي المؤمنين."
(اوهمدارنګ مونږ مؤمنانو ته هم نجات ورکوو) دکيوبا دګوانتهنامو په پنجرو کې زماديو شعر انګېزه همدغه خوبونه وو.

هغه دادی :

چې دظلم انتهاشي | بيا رواتول نارواشي
تور اوسپين کې تميز ورک شي | لوی مفسدولي الله شي
نه حق وايي نه حق اوري | تش په نوم سميع الله شي
منافق ګوډی په څنګ کړي | معرکه چې هويداشي
چې دحق تله درنه شي | نو خرسری راپيداشي
بيا خبرې داخلاص کړي | غت بلاوي خوملاشي
ځيني داسې په کې وايي | چې پيسه دې جيب ته راشي
تول هدف يې ماديات وي | که په مخکې که په شاشي
چې ښه سپينې سپينې وايي | نوژونډون يې په کيوباشي
بياعيسی شي ياموسی شي | ابراهيم خليل الله شي
دتودواوښکوڅپوکې | بياله خلکو مستثنی شي
په رکوع اوپه سجدوکې | تول شپه کله سبا
ای دخپتې مزدورانو | چې هدف درب رضاشي
بيايه خوب کې عاطفي غږ | زخمي زړونوته دواشي
په څپودسمندرکې | بدره نوې خبرراشي
صبروکړئ صبروکړئ | توره شپه به زر سباشي

الحمدلله سباشوه


# ببرزمريان

مونږه دوخت اتلان مونږه سرلوړي غازيان
مونږه دغرونوزمريان
مونږ اوس کيسوکې اوسو په حماسوکې اوسو

دخلکوزړوکې اوسو
مونږ دظالم مخکې سپر زمونږ همت لکه غر
دوخت فرعون دی اوتر
سپينه ماڼۍ کې غاور ټول مجرمان اکابر
نه ګوري دلته صابر
زمونږ داوښکوګرداب دی ور روان په شتاب
څوک يې راوړی نه شي تاب
په دې پنجرو کې مدام داسمان ستوري ماښام
راکوي مونږ ته پيغام
تاسوسرلوړي کامران کړي انتظار موجهان
تاسودبدرکاروان

نور قلم مسلم دوست صاحب ته سپارم هغه نوره کيسه داسې کوي :

(c) ketabton.com: The Digital Library




# د ګوانټنامو ټاپو

(c) ketabton.com: The Digital Library






د ډیلټا کمپ نه ګرد چاپېره لوړو مورچو کې امریکایي عسکر ښکاري

# د ګوانتنامو ټاپو

دګوانتنامو ټاپودکیوبادولت پورې مربوط دی او دکیوبا جنوب لورته په بحر کې پروت دی ؛ اصل کې دکیوبا ملکیت دی خوامریکا یوه وخت کې په کرایه نیولی و اوس کرایه هم نه ورکوي اوپه بدمعاشۍ دامریکا دبحري پوځ په لاس کې دی دغه ټاپو کې نه ښار او بازار شته نه کلي او نه شخصي کورونه. دامریکا بحري پوځ په کې دخپلو پوځیانو له پاره یو مجهزروغتون ، دپوځیانو داوسېدوځایونه، کلبونه اوسړکونه جوړ کړي دي. داستوادخط سره نږدې دی نوله همدې امله ډېر ګرم دی ، دپسرلي،اوړي ، منې او ژمي څلورو واړه فصلونه تقریبا یوډول وي په ژمي کې هم ګرمي وي خوداوړي سره یې لږ توپیر پیداشي اوڅه لږو ورځو کې لږ ساړه وي واړه غرونه او غونډۍ هم لري ، لویې ونې نه لري واړه واړه بوټي ، زقوم او وا ښه ډېر لري . په ژویو کې چینچښې ، ګوګیشتکې ، تورې مرغۍ ، سورتاجي ،چتي ، ځینې نور نااشنا مرغان ، ماران ، سیمسارې ، کربوښي ، چرمخکۍ ، وړې او غټې مږې ، موږ کان او چنګاښان مونږ لیدلي دي .

نااشنا او عجیبه یې مږې دي چې دپیشو ګانو نه غټې دي . څلورم کمپ کې یې دجالیو لاندې سورې کول او مونږ ته نږدې آخري جال ته راتلې. مونږ به ورته ځینې خوراکي شیان وراچول دانسان غوندې به یې په لاسونو کې نیول او خوړل به یې. دډوډۍ وخت یې داسې پېژندہ؛ ته به وایې چې ساعتونه ورسره دي، نوروو‌ختونو کې به نه

وې او دډوډۍ په وخت کې به راغلې. مونږ سره داسې روږدې شوې وې چې دجالۍ په سوريوکې به يې زمونږ دلاسونونه خوراک کاوه. ځينو پوځيانو مونږ ته وويل چې په دې کې تر(۲۵) پونډو وزن پورې مرږې شته ، جنګ به يې کاوه دانسانانو په ډول به اودرېدې اولاسونه به يې سره واچول .

سيمسارې هم ډېرې وې اوهغه هم داسې روږدې شوې وې چې زمونږ له لاسونونه يې خوراک کاوه . دشامتورو په کچ يو ډول تورمرغان وو چې لوی لوی سيلونه به راتلل ، ګوګيشتکې په درې ډوله وې: يو ډول زمونږ دسيمو غوندې غټې خړې وې، يو ډول غټې سور بخنې خړې وې اويو ډول وړې وړې خړې وې چې په سينه کې يې لړ لړ رنګې تور تور داغونه هم وو .

ماران هم وو ځينې په کې دومره غټ وو چې وړې مرږې يې ژوندۍ تېرولې عسکروبه راونيول او وړاندې يوه شپله کې به يې پرېښودل چيچل يې نه کول. چنګابښان هم ډېر زيات وودننه به راننوتل او مونږ به رانيول ، غټ او واړه هرډول وو خوتک زېړ اوسره رنګونه يې وو اويولاس به يې غټ و داکثرو ښې لاسونه غټ وو .

ګوانتېناموکې دنسل دورکېدوله وېرې ددغو حيواناتو وژل منع وو خو په انسانانو ظلم او تېرې روا بلکه ضروري ګڼل کېده !!!.

# کېمونه او بلا کونه

دګوانتېنامو دټاپو زندان دټاپو په جنوبي برخه کې جوړشوی دی او دامريکايي پوځ داوسېدو ځايونه دټاپو په شمالي برخه کې دي

دزندان اودهغوی ترمنځ څه غونډۍ اوفاصله ده. دازندان په امریکا د ۱۱ ستمبر ۲۰۰۱ م دیرغل نه وروسته جوړشوی دی . دټاپودغه ځای دبحر سره نښتی. شمال ته یې غونډۍ او جنوب ، ختیز او لویدیز لورته یې بحردی . دغه ځای ځنګل و هغه یې اوارکړی او داوسپنې بلاکونه اوپنجرې یې په کې جوړې کړې دي ؛ ګردچاپېره ترې څو کتاره اوسپنیز جالونه او ګڼ اغزن تارونه راتاودي چې دامریکا داغزن سیاست اوداغزنې کړنلارې اوتګلارې ترجماني کوي.

په دې کې څه کمپونه ښکاره او څه پټ دي چې په لاندې نومونو یادېږي :

۱: ایکسرې کمپ .

۲: ایګواناکمپ .

۳: ایکوکمپ .

۴: پټ کمپ .( دزمکې لاندې تیاره )

۵: ډیلټاکمپلکس .

له دې ټولو څوکتاره جالونه او اغزن تارونه راتاو دي او ګرد چاپېره دلرګیو لوړې لوړې مورچې دي چې مسلح عسکر په کې پیره کوي اوپه یوه لوی ګروپ او دوربین دبلاکونو او شاوخواڅارنه او ننداره کوي . دغه لوی ګروپ په یوه خوځنده ډولچه کې لګېدلی دی چې ګردیې چورلوي اودبندیانو په سترګو ډېر بدلګېږي . داځکه چې ډېر تېزوالي نه سترګې برېښوي . لږه فاصله کې ورسره منتظره قطعې دي اوپه درندو وسلو سنبال جیپان او زرې پوښ ټانکونه ترې

ګرد چاپېره ګرځي، په غونډيو دپاسه ښکته پورته کېږي او شپه او ورځ څارنه کوي . دنږدې غونډيو دپاسه هم مورچې دي چې سوري يې له ورايه ښکاري .

کله کله دکمپ دپاسه څرخکه هم ګرځي چې په لومړيو ورځو کې زياتې وې اوپه ځانګړې توګه به په هغه ورځ څرخکې ګرځېدې چې نوي بنديان به راتلل.دکمپ نه ګردچاپېره داوسپنيزو ستنو دپاسه لوی لوی ګروپونه کمپ ته مخامخ دي چې دشپې ټول کمپ روښانه وي .

# ايکسرې کمپ

دګوانتېنامو په جزيره کې ترټولو دمخه دايکسرې کمپ جوړشوی و، او مونږ نه مخکې ترټولو لومړني بنديان يې په کې اچولي وو. وروسته بيا هغه بنديان هم مونږسره دډيلټا او نورو کمپونو کې يوځای شول. دهغوی په روايت دايکسرې کمپ کې دډيلټا په څېر بلاکونه نه وو هلته يواځې اوسپنيز جالونه وو اودشنه اسمان لاندې اوسېدل . په لومړيو کې چت هم جال و بيا يې چتونه پټ او نور جالونه وو. بنديان په زمکه پراته وو او انساني ضرورت يې په سطلونو کې رفع کاوه دخبرو او اذان کولو يادجماعت دلمانځه اجازه نه وه بندي بايد مخامخ وګوري ، سرېټ نه کړي په ځانګړي انداز کښېني ، يواځې دڅښلو اوبه وې خوداودس يامخ لاس مينځلو اوبه نه وې او په ولاړه لمونځ منع و.

# دايکسرۍ کمپ کې لوږې مظاهره

دايکسرۍ دکمپ بنديانو مونږ ته کيسه وکړه چې کله زيات تنګ شوونو دعسکرو دبداخلاقۍ په وخت کې يو عرب بندي دشپې په خوب کې رسول الله صلى الله عليه وسلم وليده چې ورته ويې ويل :
( قم فأذّن ) پاڅه اعلان وکړه ! هغه چې راويښ شوداذان وخت نه و . بيا يې وليداو همدايې ورته وويل . په دريم ځل يې چې خوب وليده نو بندي ورته وويل چې اى دالله رسوله ! دڅه شي اعلان وکړم ؟ هغه ورته وفرمايل : " بالفرج " دازادۍ او آسانۍ اعلان وکړه . هغه راويښ شو او دشپې په همدغه برخه کې يې د" الله اکبر" نعرې ووهلې چې ټول کمپ يې راو پاراوه. ټولو دتکبير نعرې پيل کړې . په عسکرو داوبو او دسطل دغائطه موادو اچول هم پيل شول . امريکايان دتکبير دنعرو په اوريدلو سخت ووېرېدل ، منتظره قطعې راورسېدې او ګرد چاپېره د خطر د ارنډونو آوازونه شول . ټينکونه اوپوځي ګاډي راورسېدل کېمرې اوسپي راورسيدل اوله ورايه يې سوال زارې پيل کړه چې دغه نعرې مه وهئ مورچې يې ونيوې او اعلانونه يې پيل کړل چې ستاسو هره مطالبه وي مونږ يې منو ، دنه خوراک اعتصاب پيل شو دڅه ورځوجرګومرکونه وروسته داذان او خبرو اجازه وشوه اوپه ولاړه لمونځ هم پيل شو .

# د ډيلتها کمپلکس

دايکسرۍ کمپ نه وروسته دډيلتها کمپلکس جوړشوی دی، دې ته دايکسرۍ کمپ بنديان هم رانقل شول . په دغه کمپلکس کې لومړۍ درې کمپونه جوړشوي وو او بيا وروسته څلورم کمپ او بيا لږه فاصله کې پنځم کمپ هم جوړشول .

مونږ هم لومړی دډيلتها کمپلکس دلومړي کمپ دګولف بلاک کې واچول شوو دډيلتها کمپ نه ګردچاپېره لږه فاصله ترمنځ داوسپنيزو جالونو دوه دېوالونه راتاودي چې دپاسه يې په دايروي شکل اغزن سيمان پېيل شوي دي . لکه مخکې مو چې وويل هر دېوال يوه دروازه لري. دلومړيو دواړو جالونو ددوه دروازو نه دننه بلاکونو ته دننوتو نه مخکې دوه نور جالي دېوالونه دي او هريو کې يوه يوه دروازه ده، ددواړو دروازو ترمنځ پوځې څوکيداران ناست دي . کله چې څوک راشي نو لومړۍ يوه دروازه بېرته کړي ، راتلونکی چې دننه شي نو هغه بله دروازه ترهغه نه بېرته کوي چې لومړۍ يې تړلې نه وي ، لومړۍ بنده کړي بيا هغه بله بېرته کړي . مخامخ کوڅه ده، ښي او کيڼ لورته بلاکونه دي ، دبلاکونو مخې ته دوه نور جالي او اغزن دېوالونه دي او هريو کې دمخکې په څېر يوه يوه دروازه ده .

دالومړی کمپ دی او لوېديز ته يې دوهم او دريم کمپونه په همدې ترتيب دي چې دکمپلکس دلومړيو دوه درازونه دننه ښي لورته لاره ورغلې ده او څلورم کمپ ته کيڼ ( ختيز ) لورته لار ورغلې ده .

دکمپلکس دڅلورو کمپونوبلاکونه په لاندې ډول دي .

## دلومړي کمپ (پنډغالي) بلاکونه

۱_: A (الفا). _۲: B (بریوو). _۳: C (چارلي). _۴: D (ډیلتها). _۵: E (ایکو). _۶: F (فاکسفرو). _۷: G (ګولف). _۸: H (هوټل). _۹: I (انډیا) (انفرادي ؟).

## ددوهم پنډ غالي بلاکونه

_۱۰: K (کیلو). _۱۱: L (لیما). _۱۲: M (مایک).
_۱۳: N (نومبر). _۱۴: O (آسکر) (انفرادي).

## ددریم پنډ غالي بلاکونه

_۱۵: P (پاپا). _۱۶: Q کیویک. _۱۷: R (رومیو). _۱۸: S (سیارا). _۱۹: T (ټینګو).

## دڅلورم پنډ غالي بلاکونه

_۲۰: U (یونیفارم). _۲۱: V (ویکټر). _۲۲: W (ویسکي).
_۲۳: Y (ینکي). _۲۴: Z (زولو).

په دې بلاکونو کې کیلو، مایک لیما او پاپا کې هغه بندیان اچوي چې زیات تحقیق طلب دي اودې نورو کې دلږ تحقیق والادي خو بندیان په یو ځای نه پرېږدي او بدلوي رابدلوي یې. څوک زر زر او څوک څو میاشتې وروسته دیوې پنجرې نه بلې ته او دیو بلاک نه بل ته بدلوي رابدلوي .

په دې بدلون کې کله کله چاڼ کوي او کله کله خپل جاسوسان دمختلفو کسانو خواکې اچوي . چې ماسره يې هم څو ځل جاسوسان اچولي او خطرناکې پوښتنې به يې رانه کولې خوپه ډېرو زه پوه شوم او ځينې نورو بنديانو په اشارو او په پټه راوپېژندل .

# دګولف بلاک کې ماسره نږدې ملګري

هر بلاک کې دپنجرو نمبرونه دکيڼ لورنه پيل کېږي کيڼ لورته ديونه ترڅلرويشتو (۱_ ۲۴) نمبرې دي اوښي لور ته بيا دآخر نه تردروازې پورې دپنځه ويشت نه تر اته څلوېښت . ( ۲۵_ ۴۸ ) پورې نمبرې دي زه دګولف بلاک په اوله او استاذ بدر په پنځه ويشتمه کې وو چې نه موسره ليدل اونه مو غږ اورېدل کېده. دګرځېدو ځای ته دوتو په وخت کې به زه په هغه تېر ېدم اودهغه دتحقيق په وخت کې به هغه په ماتېرېده دتېرېدو په وخت کې به مو زر زر په ناګارۍ خبرې سره وکړې . کله کله به مو چېره له پښې وايسته عسکر به چې ترڅو راپه پښه کوله څه خبرې به مو وکړې . نورو بنديانو به خندل خو عسکر احمقان په دې نه پوهېدل .

زماپه خواکې په دوهم نبمر پنجره کې يو يمنی عرب و چې سالم الحضرمي نومېده هغه په لومړيو کې چاته معلوم نه و خو وروسته معلومه شوه چې داسامه ډېرورو او هغه معلومات هم داسې وشو چې دهغه ښځه دامريکايانو دحملې او بمباريو په پيل کې له افغانسان نه وتلې او يمن ته رسېدلې وه ، هغه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library






د ګوانټنامو ټاپو کې د ډيلټا اغزن کمپ

(c) ketabton.com: The Digital Library





د ډيلټا کمپ نه ګرد چاپېره لوړو مورچو کې امريکايي عسکر ښکاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



بندي پنجره کې په لمانځه ولاړ دی



د پنجرې په کړکۍ کې د بندي لاسونه تړل کیږي



ناروغ بندي په تذکره کې تړل شوی روغتون یا تحقیق ته وړل کېږي

کله دخپل مېړه (سالم) نه جلا شوې وه نو ګومان یې کړی و چې مېړه یې بمبار کې شهید شوی دی .هلته یې دیمن حکومت او خلکوته ویلي وو چې زما مېړه داسامه ډرېور و او شهید شو . خودیمن حکومت ته چې کله دامعلومه شوه چې هغه ژوندی اوپه ګوانتېنامو کې دی او امریکایانو دبندیانو بشپړ معلومات غوښتي وو، نو دسالم په هکله څو میاشتې وروسته دیمني حکومت له لارې دامعلومه شوه چې سالم داسامه ډرېور و. سالم په دې اعتراف کړی و چې زه داسامه سره دشخصي نه بلکه داجتماعي کارونو دګاډي ډرېور وم او بندیانو ویل چې هغه امریکانو قندهار ته بېولی و او هلته یې دابو حفص او دالقاعدې دځینو مهمو غړیو قبرونه امرکایانو ته ښوولي وو او ځیني معلومات یې هم ورکړي وو چې امریکایانو دهغوی قبرونه راسپړلي وو او دګوتو دمنجیلو چاپې او دوېښتانو او وینې بېلګې یې ترې اخیستې وې . عکسونه یې هم اخیستي وو .

سالم یې دمعلومات نه وروسته زماله خوانه بل ځای ته انتقال کړ ډېره موده یې چاته معلومات نه و چاویل چې دایکوکمپ ته یې بیولی دی ، چاویل بل ځانګړي ځای ته چاڅه او چاڅه ویل آخر بیا بیرته پنجروته راوستل شو، ځیني امتیازات یې هم ورکړي وو کورته یې څو ځل تیلفون هم کړی و اوله کوره ورته خو رما ، قهوه او ځیني شیان هم راغلي وو چې یوې او بلې خواته یې پنجرې ورسره خالي کړې وې په یوه کې دهغه دکورنه

راغلي شيان وو چې دغوښتنې په وخت کې به عسکرو ورکول دانترنټ کومه پاڼه يې هم ورته راوړه او وکيلان يې هم درلودل . زماتر خلاصېدو ما اورېدل چې دپاپا بلاک کې په همدغه حالت کې اوسېږي . په ټول زندان کې يواځينی سړی همداو چې دغه اسانتياوې يې لرلې او کورته يې ټيلفون هم کړی وُ !!!.

ماته مخامخ دبل کتار په آخري . (۴۸) اته ځلوښتمه پنجره کې دکويټي دچمن اوسېدونکی مولوی حاصب امين الله و چې ډېرو خو اخلاقو ښتن و، زمااودهغه سره نږدې نورټول عربان وو څو پنجرې وړاندې زماپه کتارکې مولوي عبدالسلام ضعيف او ورپسې ملاخير الله خير خواو .

چې دواړه له جاليو ښکارېدل او غږ مو سره کاوه خو زياتې خبرې به ما او مولوي صاحب امين الله سره کولې ځکه چې سره مخامخ او نږدې وو . دهغه دغوښتنې سره سم مادقران کريم ترجمه هم پيل کړه چې دشپږو سيپارو نه وروسته يې هغه راڅخه بل ځای ته بدل کړ او ماته محققينو په تحقيق کې وويل چې ته دبلاک مشر يې . ماورته وويل چې آيادغه بنديان ماراټول کړي دي اوکه تاسو سره يوځای کړي يوو؟ هغه وويل چې مونږ داکار کړی دی . ماورته وويل : نو په کوم دليل زه دبلاک مشريم ؟ هغوی وويل چې ته درس ورکوې ، له تاپوښتنې کوي ...

ماورته وویل چې داپه دې دلالت نه کوي چې زه دبلاک مشر یم درسونه او پوښتنې زمونږ ددین برخه او زمونږ حق دی داخبره پرې ښه ونه لګېده او کوښښ یې وکړ چې ماله درس ورکولو منع کړي خو ماونه منل .

دامین الله مولوي صاحب دبدلېدو نه وروسته دهغه ځای ته دیمن یو ځوان هلک راوستل شو چې "عدیني" یې باله او ډېر خوږ غږ ښښتن او دقران کریم حافظ هم و، الله تعالی ډېره ښه حنجره ورکړې وه ، تلاوت به یې هم ډېر ښکلی کاوه او دعربي ترانې به یې په ترنم کې ویلې چې ټول بلاک او نږدې بلاکونو یه ورته غوږ ایښوده، په آخر کې به هرچاشاباسی ورکاوه. جزاک الله خیراً به یې ورته ویل او هرو خت به په تکرارخلکو ورځخه غوښتنه کوله چې اشعار زمزمه کړي چې دبندیانو دښه وخت دتېرېدلو ، دمعنویاتو دلوړېدلو او دډاډ او تسل یوه په زړه پورې مشغله وه . مونږ سره نږدې دنورو بندیانو نومونه دادي :

سمیر الجزائري ، ابو عبدالرحمان الیمني ، عبدالرحمان الجداوي، محمد الحمادي الیمني ، عثمان الحجازي ....،

پنځه میاشتې وروسته زه شپږم نمبر پنجرې ته بدل شوم هلته زما خواکې عبدالعزیز العوشن و چې دریاض و اوډېرفاضل او دښو اخلاقو څښتن و مخامخ یو روسي مسلمان و چې قتیبه یې باله ځوان زلمی و او ډېر نیک، دښو اخلاقو ښښتن او مینه ناک ځوان و عربي یې زده کړې وه په ټولو بندیانو به یې غږ کاوه او

ټولو سره يې خبرې او سلام كاوه . ماسره چې كله اشنا شو نو دصرف او نحوې درسونه يې پيل كړل هره ورځ به دپنجرو په زمكه مخامخ سره كښيناستو مابه چې څه ورته ويل هغه به زده كول قلم او كاغذ نه و چې ليكلې يې واى ، ښه ذهين او خوارې كښ هلك و نرى ډيره يې راغلې وه اوډېر نشيط انسان و .

هغه ته نږدې يو استرالي و او بيا ورپسې دقندهار خيرالله و چې ډېرې ترانې او لنډۍ به يې ويلې او كله كله به يې پنجره كې اتڼ هم كاوه . وروسته ابوعمر النجدي هم مونږ سره نږدې شوچې ډېرښه سړې وٚ اوپه بدوى لهجه به يې ځينې اشعار هم زمزمه كول . نورهم ډېر بنديان وو.....

دګولف په دې بلاک كې ټول (۴۸) اته څلوېښت كسان همدا زمونږ دپېرې بنديان وو چې په يوه الوتكه كې لـه قندهاره تركيو با راغلي وو.

اوه مياشتې وروسته زه او زما ورور استاذ بدرپه يوه ورځ دبلاک نه بدل كړاى شوو هغه وخت ديو بلاک نه بل بلاک ته بدلول لانه وو پيل شوي نو دالومړى ځل و اومونږ نه پوهېدو چې چېرته مو بيايي ؟. عسكر راغلل راته ويې ويل چې سامان راټول كړه ! ويې ترلم سامان يې له كوټې راواخيسته او ماته يې په ترلو لاسونو وويل چې دادرسره واخله ! ماورته وويل چې څنګه يې واخلم ؟! بيا هغوى مجبور شول چې سامان راسره واخلي . نورو

بنديانو فکر کاوه چې مونږ خلاصېږو نو ځکه ټولو په مخه ښه راته وويل اوسلامونه يې راته راکړل ...

خومونږ ټول نه پوهېدو چې دسخت تحقيق بلاکونو ته روان يوو او کلونه به دلته پاتې کېږو! . زمونږ ددغه بلاکونو غربي لورته نور بلاکونه وو او لار ورته لرې راتاوه شوې وه ، هلته بوتلل شوو زه يې د " ليما " بلاک کې په (۳۶) شپږ دېرشمه پنجره کې واچولم او داستاذبدر نه خبرنه شوم چې چېرته لاړ؟ څه ورځې وروسته بيا خبرشوم چې هغه د " مايک " بلاک کې دی .

د " ليما " بلاک ته چې لاړم ، پنجره کې يې واچولم او زنځيرونه او زولنې يې راڅخه خلاص کړل . دنړدې بنديانو سره مو سترې مه شي وکړل چې ګورم ډېر غلي دي او زمونږ دګولف دبلاک غوندې نشيط نه دي ، نه هغسې شور شته اونه هغسې خبرې . له پوښتنو وروسته پوه شوم چې داهغه نوي بنديان دي چې يوه مياشت مخکې راغلي دي او دوی لادکمپ دحالاتونه خبر نه دي ، سخت وېرېدلي دي او په زوره غږ او ډېرې خبرې نه کوي. مانږدې بلاکونو ته غږ کړ، يو بل سره په لوړ آواز خبرې اوسلام کلام مووکړل. دې سره دغه نوي بنديان هم رازړور او ډاډه شول اومعنويات يې غښتلي شول . نور زاړه بنديان هم راغلل ،نوي او زاړه سره ګډ وډ پنجرو کې پرېوتل او خبرې اترې پيل شوې . ماسره نږدې يوه لسته څه عرب وو او بلې خواته افغانان وو ، ماهغوی نه پوښتنې پيل کړې هغوی راته وويل چې

مونږ نوي راغلي يو ماسره لنډه پنجره کې دخوست عبيدالله او ورپسې دلوګر عبدالظاهر وو. دواړه مې نوي وپېژندل مخکې مو سره ليدلي نه وو. کله چې سره بلد شوو نو بيامو انډيوالي شوه، مينه موسره پيداشوه، خبرې اترې او ټوکې ټکالې مو کولې؟ دعبدالظاهر نه دوه پنجرې مخکې معلم صاحب اول ګل و بيا صبر لال و چې هغوی سره هم نوی معرفي شوم.

عبدالظاهر لوګري چې مانه پوښتنه وکړه ماخپل ځان ورمعرفي کړ چې زما نوم عبدالرحيم مسلم دوست دی، دننګرهار دکوټ دصاحبانو دکلي ... هغه رابوخ او متوجه شو اولکه چې ټګرشي ويل يې چې مسلم دوست ؟!

ماويل چې هو. هغه دډېر افسوس نه وروسته وويل چې ته دلته يې ؟!

ماورته وويل چې هو. ماهغه نه پېژنده خو هغه زمانوم اورېدلی و هغه راته وويل چې زه تاپېژنم ... څه وخت وروسته زما ښي لورته پنجرې ته دچپرهار نسيم هم راغی چې ډېر ښه ځوان و.

مخامخ راته سعدالطائفي او ابو الحارث المغربي وو. بيا نورعرب او عجم وو. مختلفو بلاکونو کې وخت په وخت خلک بدلېدل او مختلفو خلکو سره مخ کېدو چې دټولو دنومونو يادونه دتطويل باعث ګرځي.

او مناسب يې نه ګڼو داسلسله روانه وه څو مياشتې وروسته دليما دبلاک نه ډيلټا ته تبديل شوم هلته داحسان الله شينواري او احسان الله مزاري په منځ کې وم نږدې راسره دشبر غان محمد شريف صاحب هم و چې ډېر نېک او دښو اخلاقو خاوند و .

دډيلټانه بيرته لمياته اود" ليما" نه "مايک" بلاک ته تبديل شوم هلته داستاذ بدرالزمان په خواکې پنجره کې واچول شوم داله څوارلسو مياشتو وروسته لومړی ځل دی چې زه او استاذ بدر سره نږدې کېږو. له دې مخکې مو يوځل دتحقيق په ځای کې سره ليدلي وو او بيا مونه وو ليدلي ، دواړه ډېر خوشحال شوو، دالله تعالی حمد مو ووايه اوشکر مو اداکړ چې له دومره مودې وروسته سره يوځای شوو .اګر چې هغه په بيله اوزه په بيله پنجره کې وم خويواځې يو جال مو په منځ کې و نوداسې وو لکه په يوه کوټه کې ، خبرې اترې موسره کولې ، دلته يواځې يوه ورځ اويوه شپه پاتې شوو دواړه يې بيرته د" ليما" بلاک ته تبديل کړو او هلته زه په (۴۶) شپږ ځلوېښتم او استاذ بدر په ( ۴۴) ځلورځلويښتم نمبر پنجرو کې سره پاتې شوو . هلته په اوه ځلوېښتمه (۴۷) پنجره کې زما خواکې دغزني عبدالحق " وثيق " صاحب و ، په (۴۵) پنځه ځلوېښتمه کې داستاذ او زماترمنځ محبت خان ، په (۴۳) درې ځلوېښتمه کې دخوست ډاکټر خاندان ، اوپه (۴۸) اته ځلوېښتمه پنجره کې دهلمند دباغران نصرالله و چې په همدې ورځو کې نوی ګوانتنامو ته راغلی و .

عبدالحق صاحب دلومړنيو بنديانو نه و چې لومړی بحري بېړۍ ته بېول شوی و او بيا ګوانتنامو ته راغلی و . دايکسرۍ په لومړني کمپ کې يې هم وخت تېر کړی و. دلومړيو ورځو تولې سختۍ او کړاوونه پرې تېرشوي وو. دښواخلاقو څښتن او ډېر نېک انسان و ، زماډېر خوښ شو او دزندان نړدې او زړه پورې ملګرو کې يې زماپه زړه کې جلا ځای ونيوه .نصرالله هم ښه سړی و ټوکې ټکالې به يې کولې او دساعت تېرۍ او انډيوالۍ سړی و . ډاکټر خاندان هم ددروندخوی څښتن او غيرتي انسان و . مخامخ دمحمد ولي اوپهلوان په نامه افغانان وو، څه ورځې وروسته يې دعبدالحکيم بخاري په نامه يو عرب مونږ ته مخامخ واچاوه چې اصل کې ترکستانی و اوپه سعودي کې اوسېده ، دطالبانو په وخت کې دسعودي استخباراتو افغانستان ته دجاسوسۍ له پاره لېږلی واو هلته عربانو کشف کړی و .

طالبانو سره بندي و اوله بنده هلته راوستل شو، هلته يې هم امريکايانو ته جاسوسي کوله ډېر بداخلاق او کرغېړن انسان و عربانو به تل رټه ...

مونږ دليما په دغه بلاک کې وو چې دقران کريم دبې حرمتۍ له امله دمظاهرو مسأله پيداشوه .

# انفرادي بلاکونه

دډیلټاپه کمپ کې درې بلاکونه انفرادي ( کوټه قلفي ) وو او هغه د" آسکر ، انډیا او نومبر" په نومونو یادېدل . دابلاکونه دجزایي بندیانو له پاره وو او مونږ نه وروسته به یې چې نوي بندیان راوستل نو دیوې یادوه میاشتو له پاره به په دغه انفرادي کې وو بیا به عمومي ښکاره پنجرو ته راوایستل اوپه بلاکونو به ووېشل شول . انفردي بلاکونو کې ورې ورې یو کسي کوټنۍ وې چې دکانټینرونونه جوړې شوې وې اوټولې بندې وې . یوبل ته سره نه ښکارېدل خو زړو بندیانو به دبندیز سره سره په لوړ غږ دعمومي پنجرو نږدې بلاکونو سره خبرې کولې او نوي بندیان به لانابلد وو نو غلي به وو خو زړو به په ډېرو چغو زړور او روږدي کړل . عمومي پنجرو کې چې کله کوم بندي دعسکرسره څه خبره لاندې باندې کړې نودبلاک په کتاب کې یې ولیکي او مرکز ته خبرورکړي کله سمدستي او کله یې څو ورځې ، اونۍ او میاشتې وروسته دپنجرو نه انفرادي ته نقل کړي . کوم قانون اوپوښتنه نشته . کله کله یې عسکر هسې دطبیعت دجوړولو له پاره هم جزایي کوي او انفرادي ته یې لېږي . هتله ددرې ورځونه واخله تر هفتو ، میاشتو او کلونو پورې جزاشته. ما خپله انفرادي نه دی لیدلی او استاذ بدر په لومړیو ورځو کې څو ورځې په کې تېرې کړې دي . کله کله بندي په حجره کې دکمپل په اخیستلو جزایي کېږي . اوکله کله چې محقق ګومان وکړي چې بندي درواغ وایي یاسم ځواب نه ورکوي .... نو دمحقق له پلوه هم بندي دتحقیق دکوټې نه انفرادي ته لېږل کېږي ، ماپه تحقیق کې

په صراحت بې ګرده خبرې کولې اوداامريکاپه خلاف ليکنو اودآی ايس آی اودهغوی دګوډاګيانو په خلاف ليکنوباندې مې اعتراف کاوه نو دهغوی پوره باور راغلی و چې داسړی درواغ نه وايي نوځکه يې انفرادي ته نه يم لېږلی . انفرادي بلاکونو کې(۲۴) څلرويشت کوټې دي .

دهر انفرادي په منځ کې دپنجرو په ډول کوڅه ده، (۱۲) دولس کوټې يو لور او (۱۲) دولس بل لورته دي دهر انفرادي بلاک په آخر کې لوی ايرکنډېشن لګېدلی دی ، يخه هوايې په ټولو کوټو وېشل کېږي .

دتنګولو او تعذيب لـه پاره کله دايرکنډېشن يخوالی آخري درجې ته ورسوي چې په داخل کې دډېرو سړو لـه املـه دبنديانو غاښونـه ړچېږي چې ډېر دډېرې يخې هوالـه املـه ناروغ هم شي. اوکله کله ايرکنډېشن بندکړي نو بنديان دسختې ګرمۍ سره مخ شي . خو پنجروکې نه پکې شته اونه ايرکنډېشن .

# روميو بلاک

جزايي بنديانو ته دجزاورکولو لـه پاره ترټولو بد او ناوړه بلاک د " روميو" بلاک دی . د غـه بلاک هم پنجرې دي خو دنورو پنجرو ناځيزه اسانتياوې هم دلته سلبېږي .بندي ديوه نيکرنه پرته چې دنامه نه دورنونو ترنيمايي پورې وي نورهيڅ ډول جامه نه لري او لغړ په دغو پنجرو کې اوسېږي خودپنجرو اسانتياوې لکه : کمپل ، ځانپاک ، څادر ، کميس پتلون ، ګيلاس او بوتل ورڅخه اخيستل

کېږي . دقضاء حاجت له پاره دکمود او نل اوبه هم ډېر ځله پرې بندېږي چې دڅښلو او اودس له پاره هم اوبه نه لري ...

په دې بلاک کې هغه بندیان اچوي چې دعسکرسره یې څه ستونزه پیداشي اویاپه تحقیق کې څه ستونزه ولري. ډېر ځله داسې هم کېږي چې بندي دهیڅ ډول ستونزې لامل نه وي خودعسکرو او محققینو دټولواکۍ له امله دروميو بلاک ته لېږل کېږي . اوکله کله دروميو بلاک کې داسې هم کېږي چې له بندي څخه هغه نېکرهم واخلي چې ورکړې یې وي او بېڅې برېنډپه پنجره کې اوسېږي . هغه خوارکی په زمکه ناست وي اوله دې وېرې نه پاڅېږي چې عورت یې ښکاره نه شي . دسختې اړتیا په وخت کې پاڅېږي او عورت په خپلو لاسونو پټوي نوربندیان دهغه داحترام له پاره دهغه لورته نه ګوري ...

بندیان په همدې حالت کې هم دفاقدالطهورین والحجاب په حیث دپنجرې په اوسپنه تیمم و هي او خپل لمونځ کوي . فولادي ارادې او معنویات یې دومره لوړوي چې دخپل عزم څخه دوېښته په شم تنازل نه کوي بلکه لا نور هم سختېږي .

په عسکرو او پوځي افسرانو اوبه ، لارې او .... اچوي سختې خبرې ورته کوي او تحقیق ته یانه ځي اویاپه تحقیق کې هیڅ خبرې نه کوي.

# د ډيلټابلاک اولېوني بنديان

د ډيلټاپه کمپ کې يو بلاک هم د ډيلټاپه نامه و. په لومړيو کې عام بنديان په کې وو ، بيا وروسته يواځې دلېونيانو له پاره وټاکل شو. ځينې بنديان دتعذيب ، نفسياتي فشار او زيات غم او اندېښنو له امله په ګوانتنامو کې لېوني شول. په لومړيو کې دنورو بنديانو سره يو ځای بلاکونو کې وو چې په خواکې پنجره کې به ورته رواني ډاکټران کښېناستل او دهغه حرکات به يې ثلرويشت ساعته په نوبت څارل . بيا دغه کار پاتې شو لېونيان زيات شول او ټول يې د ډيلټا بلاک کې واچول . نور علاج يې نه و دشپې له پلوه به يې دخوب ګولۍ ورکولې او نشه به پراته وو. چابه بې وخته اذانونه کول او چابه يو رکعت لمونځ وکړ، چې سجدې نه به راپورته شو نو څه به ملاست . نورعجيبه عجيبه کارونه يې کول . وروسته بيا اونۍ کې يوځل ورته نفسياتي ډاکټر راته . پوښتنې به يې ترې وکړې او نور هېڅ نه وو .

په نورو بلاکونو کې به روغو بنديانو ته هم کله کله نفسياتي ډاکټر راته او پوښتنې به يې ورڅخه کولې استاذ بدر ته هم کله کله دغه ډاکټر راته پوښتنې به يې ترې وکړې نوربه ولاړ.

داکثرو نه به يې داپوښتنې کولې چې خوب کوې که نه ؟ ډوډۍ خورې که نه ؟خپل ځان خونه وژنې ؟....

يوسعودي بندي لېونی شوی و ، ځوان هلک و ، کله به يې ويل چې (( انــا اصــنع قنبلة نو وية مائة في المائة )) بيابه يې وويل :

" والله أعلم" هغه شمالي اتحاد په افغانستان کې دنورو بنديانوسره نيولى و ، ډېريې وهلى ټکولي و اولواطت يې هم ورسره کړى و چې دډېرو ځورولو نه وروسته ليونى شوى و خو ګوانتنامو کې امريکايي ډاکټرانو په ځټ کې ورته اپرېشن وکړ او څه موده وروسته ښه شو .

# دايکوکمپ

دايکوکمپ دډيلټانه لرې دى چې ددواړو منځ کې غونډۍ دي دايکوکمپ هم يوډول سخت انفرادي دى . هلته هم ځينې بنديان دمحققينو له لارې دجزا ورکولو له پاره لېږل کېږي چې ديو يو بندي له پاره وړه کوټه ده اودهرې کوټې مخې ته څوکيدار عسکروي . دباندې هيڅ نه ښکاري اودهيچاسره خبرې نه شي کولاى . په مياشتو مياشتو بنديان دجزايي په توګه په کې اوسېږي چې نه لمر ګوري ، نه رڼا اونه دنورو بنديانو دحالاتو نه خبرېږي . ددغه کمپ ځينې کوټې تپه تياره دي او هيڅ رڼا نه لري .

# څلورم کمپ

دډيلټا په پنجرو کې ديو کال دتېرېدو نه وروسته څلورم کمپ لاجوړشوى نه و خو محققينو او عسکرو ورته په تبليغاتو پيل وکړ او دحقيقت نه يې زيات حجم ورکاوه چې يو کمپ به جوړېږي چې په هغه کې به دبندي له پاره ټولې اسانتياوې وي ، ازادبه ګرځي ، دلوبو ميدانونه به لري دپنجرو په ډول سختي به نه وي او داسې نور ...

دا اوازه نړدې يو کال وچليده او تقريباً ددوه کلونو دپوره کېدو نه وروسته ځلورم کمپ جوړشو. محققينو دبنديانو په چاڼو لوپيل وکړ او دايې ويل چې ځلورم کمپ دګوانتنامو دبند آخري او کورته دتللو لومړی پړاودی . دکمپ دجوړېدونه وروسته يې ځينې بنديان په زولنواو زنځيرونوکې هلته بوتلل ، بلاکونه يې وروښودل او په دې ډرامې سره محققينو دتحقيق له پاره دګټې اخيستلو پيل وکړ. محققينو به هربندي ته ويل چې دادی زه کوښښ کوم چې تاځلورم کمپ ته ولېږم خو څه پوښتنې پاتې دي ته مونږ سره همکاري وکړه اوداپوښتنې سم ځواب کړه چې کاردې خلاص شي او ځلورم کمپ ته لاړ شې .

ځلورم کمپ کې ګرد چاپېره پنځه بلاکونه دي چې ديونيفارم، وکټر ، ويسکي ، ينکي او زولو، په نومونو يادېږي .

منځ کې يې يولوړ برج دی چې پاسنۍ برخه يې ګرد چاپېره ښيښه ده . هلته لوی لوی کمپيوټرونه لګېدلي دي اوموظف عسکر ورته ناست وي دهمدغو کمپيوټرونوله لارې دبلاکونو کوټې دکېمرو په واسطه څاري او دضرورت په وخت کې دهرې کوټې دروازه هم په کمپيوټر خلاصوي ، هربلاک کې ځلور کوټې دي چې په منځ کې يې عمومي تشنابونه او دلمبلواولاسونومينځلوځايونه دي چې دراوتلو په وخت کې ترې بنديان استفاده کوي . په هره کوټه کې لس اوسپنيز کټونه دي چې پنځه يو لور او پنځه بل لور ته دي او دزمکې په سيمټي فرش کې دپېرو مېخونو په واسطه ټينګ نښتي دي دروازې سره لنډيوتشناب لري دادننه او دباندې تشنابونه ټول دروازې نه لري

اودبنديانو په ډېر ټينګار بيا د $\frac{۱}{۳}$ برخې نه لاندې درون پلاستيک پردې ولګېدلې . بنديانو به کله کله دروجايي ګانو نه پردې ځوړندې کړې خو هغه به هم بيا څه وخت منع شوې . دتشناب $\frac{۱}{۳}$ برخه بايد دتشناب مخامخ چت کې لګېدلې کېمرې ته ښکاره وي ترڅو په کمپيوټر کې دتشناب دننه هم بندي ښکاره شي چې څه کوي ؟!.

دټول بلاک دېوالونه داوسپنيزو څادرونو دي ، منځ کې يې يوډول فوم دی او چتونه يې هم اوسپنه ده .

دبرېښناتارونه داوسپنو په پيپونو کې غځېدلي دي او هرڅه داسې کلک دي چې ماتول يې اسان نه برېښي . ددوه کوټو دمنځ ددېوال آخر کې دمثلث په ډول جال دی او دشاله خوا ورته دروازه ده دشاله دغه دروازې نه څوکيدار عسکر راځي هلته په چوکۍ کښېني او دواړه کوټې په سترګو هم دجاليو له لارې څاري او هلته ورته مخامخ دوه سکرينونه لګېدلي دي چې په هغې کې هم ټوله کوټه ښکاري . يو سکرين ديوې کوټې اوبل دبلې کوټې دی . دهمدغه مثلث جالي کوټنۍ دجال نه دواړو کوټوته وړې وړې کړکۍ هم شته چې داوسپنې په تختو دشاله لوري بندېږي او ناروغپالان ناروغانوته په کې دوا ورکوي ، تبه ، شکر ، دوينې فشار اونورې وړې وړې کتنې هم دهمدې کړکۍ له لارې کوي . د ليکونوراکړه ورکړه اودصليب دمامورينو سره کله کله خبرې هم دهمدې جال اوکړکۍ له لارې کېږي .

دهرې کوټې په چت کې دلويو تورو دښيښې دچراغونو په څېر دوه دوه کېمرې لګېدلې دي چې يوه د دواړو کوټو دمنځ مثلث کې کمپيوټر ته او بله دباندې دبلاکونو منځ کې برج ته عکسونه ورکوي

. چې په دې ترتيب په کوټه کې هيڅ شی هم دعسکرو څخه پټ نه وي اودبندي هر حرکت څاري او کتاب کې يې ليکي .

دهرې کوټې په دېوال کې دلوډ سپيکريوه يوه خوله هم لګېدلې ده چې دباندني مرکزي برج سره يې تعلق دی او هلته ناست عسکر په کې بنديانو ته ددروازې دخلاصولو ، بندولواونورې ضروري خبرې کوي او دهمدې لګېدلې خولې نه دمايک کارهم اخيستل کېږي . بنديان له دې خوادبرج سره خبرې کوي اودکوټې ټولې خبرې هغوی برج کې اوري .

دهرې کوټې دروازه په برېښنايي طريقه دبرج نه دکمپيوټر په واسطه خلاصېږي . دکوټې په چت کې څلور اوږده برېښنايي چراغونه لګېدلي دي چې نه ما تېدونکي دي ، شپه او ورځ لګېدلي وي او دبنديانو داندېښنې سبب دی .

دهرې کوټې دغه لس بنديان دکوټې په يوه برخه کې دجماعت لمونځ کوي .

دهر بلاک نه ګردچاپېره داوسپنې جالونه اودهغودپاسه اغزن تارونه راتاودي . بندي دبلاک شاته نه شي تلای خودبلاک مخې ته دپنځو قدمونو په فاصله جال دی دبلاک يو لور ته دډوډۍ دخوړلو له پاره داوسپنې دڅادريو څپرګی دي چې ګرد چاپېره په کې دلرګي اوږدې تختې دکښېناستلوله پاره لګېدلې دي او منځ کې دنکلو يو مېزاو ورسره دواړو خواو ته دمېز سره نښتې دنکلواوږدې چوکۍ دي چې داټول په سيمټي فرش کې نښتي دي او يو پلاستيکي مېز او ورسره نښتې پلاستيکي چوکۍ دي چې دغه مېز او چوکۍ نښتې نه

دي او دنقلولو وړ دي . يو بل پلاستيکي ميز هم دغلته وي چې دډوډۍ دوېش اودلوښو دايښودلو له پاره وي .

# د څلورم کمپ اسانتياوې او توپيرونه

دڅلورم کمپ ځينې توپيرونه خومخکې يادشول اګر چې څه خاص امتيازي او دپام وړ امتيازات نه لري خودپنجرو دکمپ سره يې ځينې نورتوپيرونه اواسانتياوې دادي چې :

۱ : دپنجرو جامې نارنجي اودڅلورم کمپ سپينې دي .

۲ : پنجروکې دوړې کړکۍ له لارې عسکرډوډۍ توزيع کوي او په څلورم کمپ کې دخوراک لوښي راوړي ، دبلاک نه دباندې اودجال نه دننه دډوډۍ خوړلو په ځای کې يې ږدي او عسکر بېرته وځي دروازه بنده کړي بيا دوه کوټوته دمرکزي برج نه په کمپيوټر دروازې خلاصې کړي، په کوټه کې دلګېدلي لوډسپيکر له لارې دوتو غږوکړي . دادوه کوټې بنديان دخوراک دلوښونه دنيم خوراک مستحق دي دوی له پاره دخوراک يوساعت اجازه ده .

ديو ځل استعمال اسفنجي ، کاغذي او پلاستيکي قابونه ، کاشوغې او ګيلاسونه هم ورسره ايښي وي ، ميوه هم په کاټن کې وي ، ددوه کوټو بنديان چې راووځي هغوی دخپل نظم مطابق دهرې کوټې نه يويو موظف کسان داټول سره نيم کړي ددوه کوټو برخه پرېږدي او خپله برخه سره تقسيم کړي . هرڅوک خپل قاب اوډوډۍ واخلي څوک دميز دواړو خواوته چوکيو باندې کښېني اوپه ميز خوراک وکړي او څوک دخپل کټ اسفنجي نرۍ ګته له ځانه سره

راوړي اوپـه زمکـه پرې کښېني مېوه سره نـيمه کړي اودهرې کوټې برخه خپلې کوټې ته يوسي اوهلته يې بيا خوري .

ديوساعت دپوره کېدونه وروسته عسکر ووايي چې وخت پوره دی . داددوه کوټـو شـل کسـان خـپلو کوټـو تـه ننوځـي اودروازې وربـسـې بندې کړي . بيا دپاتې دوه کوټو بـنديان را ووځي اوپه همدې ترتيب خپل وخت ډک کړي .

۳: پنجرو کې پکي نشـتـه او ځلورم کمپ کې هره کوټـه کـې دوه زمکـي پکي دي چې دجالـۍ لـه لارې ورتـه تارونـه راتېـر شـوي دي اودباندې مثلث کې دموظف عسکر سره يې دلګېدلو بټنې دي .

۴: همدارنګه ځلورم کمپ کې هرې کوټې ته يويوکولروركول شوی دی اودكوټـو مخې ته يو پلاستيكي بكس هرسهار دداورې نه ډكېږي ، دهرې كوټې بـنديان تـرې خـپل خـپل كولـر ډكـوي او يخـې اوبه ترې څښي ، خوپنجرو كې داسهولت نشـتـه او هلتـه بنديان دبمبوتودې اوبه څښي .

۵: ځلورم كمپ كې دكوټـو ترمـنځ جالي مثلث كې دليكلولـه پاره كاغذوي او بندي هر وخت ترې ګټه اخيستلای شي .

۶ـ ځلورم كمـپ كـې همدغـه جالـي مثـلث كـې دډاک كارتونـه او كاغذونـه وي چې بندي هروخت خپل كورته ليک ليكلای شي دډاک والا عسـكر يـې پـه اونـۍ كـې يـو ځـل راټولوي . دابيله خبره ده چې نه ټول لېږي اونـه كوم لـيكل پـوره لېږي . پـه پنجرو كې هم اونۍ كې يو ځل خطونه ټولوي خوهلته كارتونه هروخت نه وي .

۷: څلورم کمپ کې دکوټو مخې ته دورځې دوه ځل یویو ساعت دوه دوه کوټې دګرځېدلو له پاره را اوځې او دجال دننه ګرځي راګرځي. په (۲۴) څلویشت ساعتونو کې یوځل دبلاکونو منځ کې میدان ته اوځي. هلته دوه میدانګي دي یو دولیبال اوبل دفټبال دی هلته دجال نه دننه نیم ساعت (۳۰) دېرش دقیقې لوبه کوي. اودمیدان نه دباندې دبرج په خواکې دپینګپانګ یو بې کاره مېزهم شته چې دوه کسان پرې لوبه کولای شي اوپه دې وروستیو کې یې هربلاک ته دجال دننه دډوډۍ دځای سره دپینګپانګ یو یو جرمنی مېز کېښودچې قات کېږي او بندېږي هم او تېرونه هم لري. داسهولت هم پنجرو کې نشته.

۸: څلورم کمپ کې هر بندي ته یویو جانیماز هم ورکول شوی دی چې دپنجرو بندیانو سره نشته.

۹: څلورم کمپ کې دهرې کوټې لس کسان په خپله کوټه کې سره دجماعت لمونځ کوي چې پنځرو کې صف جوړول نه شي کېدای.

۱۰: دڅلورم کمپ خوراک اودپنجرو یودی.؟

هماغسې بې کاره خوراک دی خوپوره دی اوبندیان پرې مړېږي بلکه ځینې شیان زیاتېږي هم چې بندیان یې دجال نه دباندې مرغانو، سیمسارو او مږوته وراچوي.

۱۱: څلورم کمپ کې دشنبې په ماښام دخوراک سره یویو یایو نیم وړوکې خوږ کېک اویوه یوه یانیمه وړه پیاله مات شوي ګډوډ ممپلي ،بادام، غوزان، اوزنې ورکوي چې دایې ترټولو ښه اویواځینی امتیازاو توپیردی.

۱۲: ځلورم کیمپ نه بندیان تحقیق ته په یوه توره چسپکي پټه کې ورې چې فقط لاسونه او ملایې تړلې وي خو پنجرو کې بندیان تحقیق نه په غټو درنو زنځیرونو کې وړې چې له لاسونو او ملاپرته یې پښې هم تړلې وې. داکوم سهولت نه و خو اخر کې داهم بیرته واخیستل شو.

له دې پرته نور ځلورم کمپ هیڅ امتیازنه لري بلکه ځینې داسې ستونزې لري چې دهغوله امله بندیان تنګ او خپه دي. تردې چې ځینو په کلکه او ټینګار غوښتنه وکړه او بیرته پنجروته لاړل. کله به چې بندي دتحقیق له لارې پنجرو ته دبیرته تللو غوښتنه وکړه او مطالبه به یې ونه منل شوه نو خپل سامان به یې دکوټې نه دباندې راوایست، دننه وتوپه وخت کې به چې بندیان ننه وتل نو هغه به دخپل سامان سره دباندې کښېناست او دننه وتلو نه به یې انکار وکړ، عسکرو به مرکز ته خبر ورکړ بیا به موظف عسکر او ترجمان راغلل هغوی به ورسره خبرې وکړې او کوښښ به یې وکړ چې بندي پاتې شي. که بندي به ټینګار وکړ نو له سهاره ترمازیګره به دباندې ناست و او ددغه بلاک نور بندیان به په کوټو کې بند وو، ډوډۍ به یې هم دشاتنیو دروازو او جالي مثلث له لارې ورکړه آخر به دورځې په پای یاماښام کې د بندي مطالبه ومنل شوه، نارنجي جامې به یې راوړې هغه به یې واغوستې، په زنځیرونو او زولنو کې به وتړل شو اوپه واړه ګاډورګاډي کې به پنجروته بوتلل شو.

# دڅلورم کمپ ستونزې

په څلورم کمپ کې ډېرې داسې نیمګړ تیاوې وې چې بندیانو پنجروته پرې ترجیح ورکوله چې ځینې یې دادي .

۱ : پنجرو کې ګرد چاپېره جال و ، لمر او تازه هوارانه وته اوبندیانو اسمان لیده ، څلورم کمپ کې کوټه کې نه لمر لګېده نه دباندې ځای ښکارېده اونه تازه هوا وه بلکې چې پکی به نه و نو سخته ګرمي به وه .

۲ : څلورم کمپ کې د پنجرو دبلاکونونه بندیان نه خبرېدل او پنجرو کې چې ترټولو زیات بندیان په کې دي ، دډېرو بندیانوله حالاتو خبرېدل ، خبرې یې دغږ په واسطه له ډېرو سره کولای شوې اودبدلېدو له امله دمختلفو خلکو سره مخ کېدل .

۳ : څلورم کمپ کې دهر بلاک داجتماعي تشنابونو اوکوټو پاکول او دډوډۍ توزیع په بندیانو ده او پنجرو کې خدمت په عسکرو دی یواځې دخپلې پنجرې پاکول په بندي دي .

۴ : څلورم کمپ کې دکوټې دلسو کسانو داجتماعي ژوندله امله ځینې ستونزې پیداکېږي چې دپکیو ځای ته د نږدې والي او لرې والي له امله ، چې ځینې ګرم مزاجه یې نږدې غواړي ځینې یخ مزاجه یې لرې غواړي ، څوک ویده وي څوک خبرې کوي ... اګر چې بندیانو په خپلو کې خپل نظم برابر کړی وي او ښه په وروروليۍ اوسېږي خو ځینې مجبوریتونه اروموشته . چې پنجرو کې بیا هغه نشته .

۵: دڅلورم کمپ په هره کوټه کې يو تشناب دی اوددروازې دبنديدوله امله بنديان دټاکلي وخت نه پرته دباندې اجتماعي تشنابونو ته نه شي تلای نو ځينې وختونه لکه دتهجدويادسهار دلمانځه وخت کې هرڅوک له خوبه راپاڅېدلی وي ، تشناب او اودس کولو ته اړوي نودالس کسان به ټول دغه يو تشناب ته انتظار کوي . بيا ځينې بنديان مريضان وي زر زر تشناب ته ځي ، ځينې ګوډان او معلول وي چې تشناب ته ننوځي نو کښېناستل اوراپاڅېدل په آسانه نه شي کولای او ډېر وخت نيسي نو که معذور ننوتی وي او څو نورکسان انساني ضرورت ولري نو مجبوروي چې دتشناب دفارغېدواو خپل نمبر ته انتظار وکړي او ضرورت ټينګ کړي چې ددغه ضرورت دډېرو ټينګولو له امله ډېرو بنديانو ته دپښتورګو، مثانو او نور مرضونه پيداشوي دي . ځينې مريضان دې ته ضرورت لري چې ډېرې اوبه وڅښي خوددغه ستونزې له امله يې نه شي څښلای که اوبه څښي نو بيا به دتشناب دمشکل له امله نور کړاو سره مخ کېږي اوکه نه يې څښي نو مرض يې زياتېږي . او پنجرو کې داستونزه نشته ځکه چې هلته په هره پنجره کې کمود او داوبو بمبه ده چې بندي هروخت کې خپلواکه او ازاده ګټه ورڅخه پورته کوي .

ددې اونورو ستونزو په هکله بيا بيا شکايتونه شوي دي خو چاپرې غوږ نه دی ږپولی .

۶: دڅلورم کمپ بنديان د ځينو موعظو ، ترانو اورېدلو ، سلامونو ، دزياتو کسانو تسلي او ډاډ ورکولو او دمعنو ياتو دلوړولو دنورو معنوي او اجتماعي امتيازاتو نه محروم دي .

۷: دځلورم کمپ بنديان دپنجرو په څېر اجتماعي اعتصابونه او مظاهرې نه شي کولای او دپنجرو دبنديانو دټولو بلاکونو خبره يوه ده ، هغوی ډېر هم دي ، اتفاق يې هم پوره دی او سره خبرېږي هم .

۸: څلورم کمپ کې هرې کوټې او هر ځای کې دکېمرو دموجوديت له امله بنديان مصئون نه دي اوټول اعمال يې څارل کېږي . اګرچې په ټولو کمپونوکې دتجسس او اورېدلوآلات لګېدلي دي خو پنجرو کې دځلورم کمپ په څېر ښکاره کېمرې نشته چې بنديان ترې تل په اندېښنوکې وي .

۹: دځلورم کمپ په خواکې خام سړک دی نودموټرو دتګ راتګ له امله ټولې خاورې ، دوړې او لوګي دبنديانو کوټوته ددېوال دپاسني جال له لارې اودخوراک په ځای راځي اودخوراک په وخت کې په خوړو هم پرېوځي .

۱۰: په ځلورم کمپ کې بنديان خپله مطالبه ازادانه نه شي کولی اوکه احتجاج وکړي نو موجوده اسانتياوې هم ترې اخيستل کېږي او بيرته پنجرو ته وړل کېږي .

# پنځم کمپ

پنځم کمپ ترټولووروسته جوړ شو دادنورو کمپونو ختيز لورته جوړشوی دی چې ځلورم کمپ ته ترټولو نږدې دی . دځلورم کمپ او دپنځم ترمنځ غونډۍ ده خوديوې څنډې لوی لوی برېښنايي چراغونه يې ښکاري .

دپنځم کمپ حالات ښځي پټ دي او امریکایان کوښښ کوي چې څوک ترې خبر نه شي خو دتاجکستان یو بندي چې یوسف نومېده پنځم کمپ ته بوتلل شوی و او بیا یې بیرته پنجروته راوست. دهغه نه څه موده وروسته هم ځینې بندیان ورڅخه راووتل اګر چې محققینو او پوځیانو ورته ویلي وو چې تاسو دپنځم کمپ حالات بندیانو ته مه وایئ خو هغوی یې ځینې حالات بندیانو ته ښکاره کړل .

کله چې پنځم کمپ جوړشو نو دپنجرو نه یې ځینې بندیان ورنقل کړل . دروغتون پټ ګاډي چې مخکې او دواړو خواوته لوی لوی صلیبونه پرې رسم دي ، په هغوکې یې دبدیانو نقلول پیل کړل ، په دې وخت کې مونږ په څلورم کمپ کې وو نو ځکه مووليدل چې زمونږ خواکې سړک باندې له مازیګره تلل راتلل اودناوخته شپې پورې روان وو. دخوراک دراوړلو ګاډي کې دخوراک بکسونه مونږ ولیدل چې پنځم کمپ یې پرې لیکلی و اوداچې دابکس یاکارتن دڅو کسانو له پاره دی ؟ داهم پرې لیکل شوي وو. دهمدغه حساب نه مونږ معلومه کړه چې په لومړیو ورځو کې پنځم کمپ ته ترپنځه شپېتوپورې بندیان انتقال شوي وو .

دپنځم کمپ کوم بندي سره مونږمخ شوي نه یو خو دنورو بندیانو او عسکرو له خولې مو اورېدل چې پنځم کمپ ښه ځای نه دی . هلته هربندي په ځانګړې وړه سیمټي کوټه کې دی چې هیڅوک نه ګوري او هیڅا سره خبرې نه شي کولای . عسکر هم نه ګوري یواځې دخوراک ورکولو په وخت کې چې عسکر کله په دروازه کې لګېدلې وړه کړکۍ خلاصه کړي نو بندي دعسکر لاسونه وګوري . ګرځېدل

نشته ، په لسو ورځو کې یوځل دځو دقیقو له پاره دباندې جالۍ ته ایستل کېږي او هلته ګرځي . تحقیق هم دنشت سره برابر دی او ډېر لږدی پنځم کمپ یواځې دذهني فشار له پاره دی چې بندي تنګ شي او محققینوته ـ دهغوی په ګومان ـ ریښتیا او سمه خبره وکړي او ټول معلومات ورکړي . دجامو رنګ یې هم بدل دی. نورخوراک دټولو کمپونو دکیفیت په اعتبار یوډول دی یواځې په څلورم کمپ کې دکمیت په اعتبار ډېر دی . او دپنځم کمپ خوراک دکمیت په اعتبار ترټولو لږ دی .

# ایګواناکمپ

ایګواناکمپ نه مونږ دوه نیم کاله وروسته خبر شو داکمپ دنورو کمپونو نه دغرب په لور په دومره فاصله کې پروت دی چې موټر کې ورته تقریباً دلسو دقیقو لارده . دادبحر سره ښخي نښتې غاړه کې دی . هلته یولوی صالون دی چې تلویزون په کې لګېدلی دی اود"وی سي آر" دوه کېستې ورسره دي :دحیواناتو اونباتاتو دعکسونو دوه کتابونه او پنځه شپږ چوکۍ هم په کې پرتې دي او ایر کنډیشن هم لري . ګردچاپېره ترې جال او اغزن سیمان دوه کتاره راتاو دي. یوه کوټه بله هم شته چې هغه دعسکرو ده او ګومان کوم چې خوراکي شیان اونور ضروري سامان هم په کې ږدي . دصالون نه دباندې وړوکی میدان ګی دی چې دبحر لوري ته دجال تقریبا پنځلس قدمه برخه پرده نه لري او بحر ترې ښکاري .دفوټبال یوه پنډوسکه هم په

دې میدان کې پرته ده اویوې خواته دوه درې دحاجت تشنابونه هم لري . داټول کمپ یووړوکی غوندی ځای دی.

داکمپ په لومړیو کې دماشومانو له پاره ټاکل شوی و هلته هغه واړه داتونټو نه واخله تر دیارلسو کالو پورې ماشومان بندیان وو چې دلویانو سره نیول شوي وو. کله چې دماشومانو نه اوزګار شو نو دوه نیم کاله وروسته دڅلورم کمپ نه په اونۍ کې یوځل په نوبت سره څلور څلور بندیان په دوه بندو ګاډو او زولنو کې هلته نقلېدل او دادڅلورم کمپ دبندیانو دتفریح له پاره وټاکل شو چې هر بندي ته ډېر وروسته نوبت رسېده ، ماته دوه ځل نوبت راورسېده یوځل داستاذ بدر سره اوبل ځل دنورو ملګرو سره .تر هغه ځایه دتللو او راتللو په وخت کې په بندګاډي کې ډېره سخته ګرمي وه چې بندي به دتفریح نه دتکلیف سره زیات مخ کېده ، کله چې مونږ په خپل نوبت کې دایګواناکمپ ته لاړو نو هلته مو په لویه کوټه کې په وي سي آرکې یو ایرانی فلم ولیده چې دړندو ماشومانو و . مونږ هلته څلور ساعته وخت درلود بیا یې هغه ځای کې ډوډۍ راکړه چې دکمپ نه ښه وه او پیپسي او آیس کریم هم ورسره وو . دبحر لورته دبې پردې جال سره مېز ته کښېناستو ډوډۍ مو خوړله ، خبرې مو کولې او بحرته مو لیدل چې دادګوانټنامو دزندان نسبتا ترټولو ښه شېبه وه. هلته دجال نه دباندې سیمساري هم ډېرې زیاتې وې " ایګوانا " هم په انګلیسي کې سیمسارې ته وایي نوددې کمپ نوم هم دایګوانا ( دسیمسارې ) کمپ و.مونږ به خوراک وراچاوه اوسیمسارو به خوړ. یوځل دجال لاندې دسورې نه یوه سیمساره رانغه وته او زمونږ

دلاسونونه يي خوراک کاوه. مخامخ بحر کي به دګزمي وړه بېړۍ تل ګرځېده خو دادوه ځل مونږ لري لويه بيړۍ هم وليده چي ددي تاپو سره نږدي تېره شوه .

داتفريحي سهولت دډېرلږ وخت لپاره و چي چاته يو ځل او چاته دوه ځل په کي نوبت ورسېده بيا بندشو زمونږ دراخلاصېدو نه وروسته نه پوهېږو چي اوس به وي اوکه نه ؟.

# پټ کمپ

داسي ويل کېدل چي کوم پټ کمپ هم شته چي هلته دالقاعدي مهم اشخاص بنديان دي اوډېره سختي ورسره کوي . دلمانځه کولو اجازه نه لري ، توري جامي يي ور اغوستي دي اوډول ډول تعذيب ورکوي . ابو زبيده ، خالد شيخ اونور هغه مهم اشخاص چي خبري رسنيو دهغوی نيول تائيد کړي دي او امريکايانو هم ويلي دي چي نيولي يي دي . هيڅ کوم يو يي په ښکاره کمپونو او بلاکونو کي نه و. داسي ويل کېدل چي په ګوانتنامواودامريکااونوري نړۍ مختلفو ځايونو کي امريکايان پټ جېلونه لري چي دسخت تعذيب جېلونه دي داخبري دسره صليب او ځينو عسکرو او محققينو له خولوهم راوتلي وي .

# دبرزخ عالم

دګوانتهنامو دزندان ژوند دعالم برزخ ژوند ( دقبر ژوند) ته ورته دی او داځکه چې دکیوبا بندي نه مړدی او نه ژوندی ؛ مړځکه نه دی چې روح په کې شته او آخرت ته لانه دی تللی. اوژوندی ځکه نه دی چې دژوندي انسان له ټولو حقوقوڅخه محروم دی. دژوندیو انسانانو دنړۍ سره یې هیڅ اړیکي نشته اودهغوی نه هیڅ خبرنه لري .

هلته نه ورځپاڼه شته .، نه رادیو ، نه تلویزیون ، نه مجله ،نه نوی او بشپړ لیک ، نه کوم ژور نالست اودخبري رسنیو کوم زری راځي ، نه دخپلوانو ، دوستانو ، وطنوالو ، یادامریکایي پوځ او استخباراتو نه پرته دنړۍ دکوم کوټ نه دکوم انسان سره ملاقات شته ، نه څوک دبندي شکایت اوري اونه نوره نړۍ دبندیانو دحالاتو نه خبرېږي . هلته امریکایي استخبارات په خپلو عسکروهم اعتماد نه لري . عسکرو به مونږ ته ویل چې مونږ کله دبندیانو دغه کمپ ته راځو نو څو ځایه موداسې سخته تالاشي کوي چې درېشي راڅخه باسي ، خوله رابانديې وازوي ، عورت مو هم لټوي .کله چې بیرته وځونوهم همداحال مو وي. اوداله دې وېرې چې چېرته بندي ته څه خبر یا پیغام رانه شي یا دبندیانو پیغامونه اوحالات دباندې لاړنه شي .

خوددې دومره زیاتو بندیزونو سره سره به مونږ کله کله دځینو حالاتو نه خبرېدو چې دې کارته به محققین هم حیران وو . اوهغه داچې کله به نوي بندیان راغلل ، دانفرادي موده به یې پوره شوه او پنجرو ته به راغلل نو هغوی به مونږ دځینو حالاتو نه خبر کړو. بیا به

دادغږ په واسطه ديوه بلاک نه بل ته او بل نه بل ته ورسېدل او ټول کمپ به خبرشو. دبل کمپ نه به هم دبندي دبدلېدلو او روغتون کې دمريضانو دملاقاتو نو نه سره خبرېدلوو . او هغه خبر چې دامريکايانو په ګټه به و نوبيا به عسکرو او محققينو هم وايه لکه دصدام حسين نيول اوداسې نور ....کله کله به کوم ترجمان يادصليب دځينو کارکوونکيو له لارې هم خبرېدلو خو دصليب کار کوونکيو هم تروسه مونږ نه خبرولو او که وبه مو پوښتل نو دهرې پوښتنې ځواب داو چې خبرنه يوو يااجازه نشته .

اکثره به يې درواغ ويل او محققينو به دخاصو اهدافو له پاره ځينې ددرغو اوازې هم خپرولې.

# په ګوانتنامو کې دلمر عجيب دوران

دګوانتنامو زندان ټولې پنجرې دي نوله همدې امله دباندې زمکه ، اسمان ، لمر، سپوږمۍ او... ښکارې مادلمر سيورى هر وخت تعقيباوه نوداورې په موسم کې څه ورځې داسې راتلې چې سيورى به په کې درې ځل بدلېده. زمونږ دختيزپه سيمو کې لمردورځې دوه ځل بدلېږي : يو ځل چې سهار لمر راوخېژي نوسيورى دلويديز لورته مات وي ؛کله چې داستوا وخت شي لمر په سراو درېږي اوسيورى منځ کې وي ، چې زوال وشي نوسيورى دختيز لورته مات شي بيا ترآخره همدغسې دلمر لويدوپورې دختيز لورته وي نو ماسپښين نه مخکې سيورې دلويديزلورته مات وي اوماسپښين نه وروسته دختيزلورته مات شي .اودجنوبي دېوال سيوري تل دشمال لورته مات

وي .خودګوانتنامو جزيره کې داوړي په يوځانګړي موسم کې سيوری دورځې درې ځل بدلېده : سهارلمر خاته نه وروسته دجنوبي دېوال سيوري دجنوب لورته مات وي دزوال نه وروسته دشمال لورته مات شي او مازيګر کې بيرته دجنوب لورته مات شي . دکال نورموسمونه بيا داسې نه وي او په عادي توګه زمونږ دختيزو سيمو په ډول وي .

# ماشي اوګرمي

لکه مخکې موچې وويل دګوانتناموټاپو داستوا خط ته ډېرنږدې دی نوله همدې امله په کې زياته ګرمي ده . بنديان داوسپنو پنجرو کې اوسېږي نودګرمۍ براس او انعکاس ورسره نورهم زياتېږي اوبيا په پنجرو کې دپکيو هم کوم انتظام نشته دهر بلاک سرته پوځې څوکيداران وي هغوی ته پکي لګېدلي وي خو دبنديانو پنجرو کې پکي نشته .ددې ټولو سره سره دبنديانو ډومره ګرمي نه کېده لکه دعسکرو چې کېده عسکر به دګرمۍ نه ډېر تنګ وو اوپه ځان به يې ددرېشي له پاسه اوبه اچولې. دهغې لامل داو چې عسکروډېر خوراک کاوه اوپه خېټه ماړه وو نو ځکه يې ګرمي زياته کېده .او بنديان په خېټه وږي وو او ډېر لږ خوراک يې ورکاوه نوځکه يې ګرمي ډېره نه کېده .اګر چې امريکايانو داکار ديو ډول تعذيب اوفشار لبه پاره کاوه خو الله تعالی دبنديانوله پاره ښه وګرځاوه . که امريکايي

پوځيان په دې خبرواى نو هرو مرو به يې بنديان ددې له پاره هم ماړه کړي وای چې ګرمي يې وشي .

خوددې سره سره به هم دګرمۍ دشدت له امله ځينو بنديانو کميسونه ايستل . ماشي هلته په درې ډوله وو: يو ډول ډېر واړه او تک تور وو چې دانسان دمخ سره به ډېر ګڼ خو ځېدل اوپه هيڅ ډول نه تلل . تردې چې په خوړو کې هم پرېوتل اوخولې ته هم ننوتل .ډېر ځل دبنديانو تېرېدل هم . بل ډول دملاريا ماشي وو هغه هم زيات وو چې ډېر بنديان دملاريا په تبه اخته وو اوځينې د زيړي او محرقې په تبه هم اخته وو .

دريم ډول شين سترګي غونډې ماشي وو چې په کوم ځاى به کښېناستل نو بيا ترهغه نه پاځېدل چې مړه به موکړل .

بنديان به ځينو وختونو کې ډېر په عذاب شول. امريکايي پوځيانو په خپل بدن يو ډول دوامښله نوځکه يې ډېرنه په عذابول خو له دې سره سره به هم کله کله عسکرودماشو نه شکايت وکړ، بيا به دکمپ نه ګردچاپېره دواشيندونکې مشين وګرځېده اوهغه به دلوګي په ډول دواشيندله. هغې سره به بيا ماشي کم شول . خودبنديانو شکايت هيڅ اغېزه نه لرله. دامريکايي پوځ داوسېدلو او دزندان دکمپونو ترمنځ ډېره فاصله وه او څو غوټۍ يې په منځ کې وې ؛ دهغوى داوسېدلو په ځايونو کې ددوا دسم او منظم استعمال له امله ماشي نه وو او عسکرو به هم همداسې ويل چې کمپ ته مونږ راشو نو دماشو نه تنګ شو زمونږ داوسېدو په ځاى کې ماشي نشته .

# دبند یا نو پوښاک

دګوانتانامو په پنجرو کې دبندیانو دجامورنګ نارنجي و یودکشک والا پتلون او یو دلنډولستونو ترنامه پورې لنډ کمیس یوه جالي خولۍ اویو جوړ پلاستیکي دوه تسمه یي چپړې دبندیانو لباس و. جامې دبندیانو دبدن په کچ نه وې، بلکه کله به دپنډاولوړ سړي جامې لنډې تنګې وې اوکله به دوړوکي اوټیټ سړي ازادې او اوږدې وې. یوبه دلنډوالي او تنګوالي نه اودابل به دلوی والي او اوږدوالي نه په کړاو کې و.

په اونۍ کې یي یو ځل جامې رابدلولې خو ځینو بندیانودهغوی په مینځلو بسنه نه کوله بلکه په پنجره کې به یې هم کمیس اوپتلون په نوبت یو او بیا بل ومینځل.

په ځلورم کمپ کې هم همدغسې وې خو هلته دجامو رنګ سپین و او یوه زیاتي جوړه یې هم ورکوله.

دپنځم کمپ لباس راته معلوم نه و چې کوم رنګ کې وې؟ خو داسې ویل کېدل چې هغه هم دپنجرو غوندې دنارنجي رنګ جامې وې.

# د بندیا نوخوراک څښاک

ګوانتانامو کې څو میاشتې دپلاستیکي کڅوړوتیارخوراک (ایم آراي) راکول کېده چې دامریکایي پوځ سفري خوراک دی خوغوښه یې له دې امله ترې لرې کوله چې حرامه وه اوموږ نه خوړه. دګرمولو

مـاده یې لـه وېرې لرې کوله چې دوسلې په حیث یې بندیان استعمال نه کړي او ځینې نـور شیان یې لـه دې املـه ترې لـرې کـول چـې پـه بندیانو یې نه لورېدل . یو وچ ککوړی او دکتغ کځوړه چې کله په کې مکرونـي ، کله یو ډول کلکه داوړو سمو څه ډولـه شی و چې اکثرو بـندیانو نـه خوړ. دمـمپلیو یوډول حلوا او وړوکی کېک په کې وو خو هغـه ځیزونه چې تودولو تـه اړتیالري هغـه یې هم مونږ تـه یخ راکول. وروستـه بیا ګرم خـوراک پیل شو چې ډېر لږ بـه یې ورکاوه همدومره وَ، چې نـه بـندي موړشي اونـه مړشي . پـه کـاغذي ریکابي کې لږې وریجې لکه یوې چرګې ته یې چې وراچوي. هغه بـه هم پخې نه وې په ریکابي کې بـه یې داچولو پـه وخت کې داسې شرنګار کاوه لکه شګې چې پـه کـې واچـوي . زه دګولـف بـلاک پـه لومـړۍ پـنجره کـې وم زمادپـنجرې خواتـه بـه خـوراک پـه پلېټونـو کـې عسـکرو توزیـع کـاوه ماهرڅه لیدل . کله ورسره ایشېدلی الوګ ( دپوستکو سره ) کله ورسره دکـب یـوه وړه ټوټـه وه چې ډېر بدبـوی یـې کـاوه پـه اوبـو کـې بـه یـې ایشـولی و نـه مالګـه نـه مسالـه اونـه پـه کې غوړوو . څه وخت وروستـه اونـۍ کې یو ځل دچرګ دسینې یوه ټوټه هم راتله پتون یا بل غړی یې لـه دې املـه نـه ورکـاوه چـې هډوکـي یـې بـندیان دوسـلې پـه حیـث استـعمال نـه کړي .پـه اخري کال کې اونۍ کې یوځل دکوفتې یوه وړه ټوټـه هـم ورکـول کېـده . نـور اکـثره دجوارو ایشـولې دانـې کله خالص اوکلـه د مټرو ددانـو او دګـازرو دټوکړو سره ګډ وه ، کله خام ګوپي ، کلـه مکرونـي ، اوکلـه ورسـره یـو ډول کلـک غونـدې شیان وو لکـه دلوخو بېخونـه ، کلـه ورسـره ایشـولي سابه وو. پنجرو کې یې ډېر لږ

خوراک ورکاوه البته په څلورم کمپ کې نو عیت همدغه و خو مقدار یې زیات و. هلته بندیان ماړه وو همدارنګه دخوراک سره یایوه مالټه ، یامڼه یاکېله اویاناک وْ . په لومړیو وختونو کې ځوځل کله کله یوه یوه الوچه وه چې دغتې ګوتې دسر په کچ وړه وه دډبل ډوډۍ دوه پترۍ ټوټې هم ورسره وې چې ددواړونه یوه مړۍ جوړېده . وروسته بیا لړه غټه هم کله کله راتله . دسهار سبا ناري کې یوه وړه کاغذي پیاله شېدې وې چې ډېر بدخوند اوبدبوی یې کاوه اوویل کېدل چې عسکر ورسره شامپو ګډوي هغه بېخي دڅښلو نه وو اوچانه څښل. په آخري کال بیابنه شول . یوه کاغذي پیاله تورچای ، یوه ایشولې هګۍ ، اوکله کله پوډري هګۍ اوبو کې پخکړې وې .، کله کله یوه پیکوړه چې دکبابو په شکل وه او وریجې ، غنم او اوړه په کې وو . په لومړیو کلو نو کې مالګه نه وه په وروستي کال کې دمالګې یو وړوکی کاغذي پاکټ و چې یو ګرام مالګه په کې وه او ځیني به خالي وو . پنجرو کې یو یو پاکټ ورکول کېده او څلورم کمپ کې دضرورت په اندازه وه. دپنجابیانو او ځینو بندیانو په بیا بیا غوښتنه څلورم کمپ کې په آخري کال دسورمرچکي دچکنې وړې بندې پلاستیکي کڅوړګۍ په میاشت کې یوځل راتللې اوسرې سریوه ورکول کېده خوکله به وې اوکله نه . چې زماډېرې خوښې وې . په آخري کال اونۍ کې یوځل سهار کې د" کرونچ" په نامه ډبي راتلل چې سرې سر یې یو ورکاوه خو زمونږ دراخلاصېدونه لږ مخکې بندشول کله کله سهار کې دکوچو وړې ټیکۍ هم ر اتلې چې دخچې ګوتې دسر په کچ کوچ په کې وو هغه هم زر بندشول .

دبندیانو به چې څه خوښېدل هغه به زر بدلېدل یابندېدل او څه به یې چې خوښ نه وو هغه به نه بندېدل اونه بدلېدل .

په کبانو کې چینجي هم راوتلي وو مونږ سره بلاک کې یو "چادي " ؤ چې مدینې منورې کې اوسېده اویوسف المدني نومیده . دهغه په ریکابي کې چینجی راغلی و هغه مسئولینو ته هم وښو د اوبندیانو هم ولید . په څلورم کمپ کې دوکتړ په بلاک کې په کرونچ کې چینجي راوتلي وو دغه کرونچ ډېر زاړه وو اوتاریخ پرې تېر شوی و . پنجرو کې بېخي لږ خوراک ورکول کېده مایو افغاني بندي لیدلی و چې دلیما بلاک کې ماته په مخامخ پنجره کې یو ځوان هلک و اودهلمنددباغران و هغه له ولږې دمالتې پوستکي هم خوړل . یویل بندي به له ولږې داچل کاوه چې دپنجرې اوسپنیزه زمکه به یې ښه پاکه کړه او کله به چې کړکۍ کې عسکر ورته خوراک ورکړ نو زر به یې قصداً وغورځاوه او عسکرته به یې وویل چې رانه پریواته . تش قاب او کاشوغه به یې بیرته ورکړل عسکر به چې دنور خوراک دراوړلوپسې لاړ نو بندي به په زمکه پرېوتی خوراک زرزر وخوړ.

# د بندیانو علاج اودرمل

• دبندیانو درملنه دنشت سره برابره وه په لومړیو ورځو کې یې تقریبا ټولو بندیانو ته دتبر کلوز ( نري رنځ ) مکمل کورس دواورکړه چې تریوه کال یې دوام وکړ اوځینو بندیانو ته ددغو ډېرو ګولیو خوړلو له امله نورې ناروغۍ پیداشوې . ځینو عسکرو مونږ ته وویل چې دادواتاسوته له دې امله درکوي، هسې نه چې په چاکې دغه

ناروغـي وي او مونږ ته راتېره شي . بندي به چې ناروغ شو نود (سک کـال ) (دنـاروغ تلـيفون ياخبر) پـه نامـه بـه يـې عسـکر تـه وويـل خودنـاروغ پوښتـنه بـه زر نـه کېـده تـردې چې پـه نـاروغ بـه اونـۍ او مياشتې تېرې شوې او چابه يې پوښتنه نه کوله چې ډېر به بتر شو او پرې بـه واتـه بيا بـه يې کلينک ته ورساوه. همدومره درملنه وه چې نه مړشي اونـه روغ شـي .کـه چاته څه ناروغي ورپېښېده داکوښښ کېده چې مزمـنه شي اوددرملنې وړپاتې نه شي . واکسين هم بنديانو ته په زورکېـدل اوعسـکرو ـ چې په لومړيو کلونو کې داګومان نه کاوه چې دابنديان به آزادشي ـ مونږ ته ويل چې مونږ پخوا په مړو او حيواناتو ځينې واکسين ازميـيل اوس يې په تاسو ازمېيووتاسو لـه حيواناتو هم بترياست . نوي نرسان او ډاکټران راتلل اوپه مونږ يې زده کړې کولې. بـندي بـه چې روغـتون تـه وړل کېده نوپښواولاسونو کې به يې زولنې وې اوپـه روغـتون کې بـه دکټ دبازو ګانو پورې په زنځيرونو تړل شوی و. پردې بـه ترې راتاوې وې اونورو ناروغانو سره دخبرو اجازه ورتـه نه وه خوځينوبنديانوخصوصاً عربانو به ددغه بنديز هيڅ رعايت نه کاوه اوښـه پـه جـرات اولوړغږ به يې نورو ناروغانو سره خبرې کولې چې په دې ترتيـب بـه دنـورو بلاکونـو او کمپونو دحالاتو نه خبر شول خو کله کله به په همدې جرم بيرته بلاک ته بې درملنې جزايي ولېږل شو .

ډاکټر بـه چې پـه کلـينک کې کتـنه وکړه نـو يابـه يې روغـتون تـه اويابـه يې بـلاک تـه بـيرته ولېږه دوابـه يـې ورتـه ولـيکله څو ورځې وروسته بـه دوا نرسانو راوړه چې اکثره به ښځينه وې او اکثره به يې دوا نـيمه شـپه راوړلـه . بـنديان به يې ددواء په بانه له خوبه راويښول.

دوابه يې چې بندي ته ورکوله نو لومړی به بندي مکلف و چې اوبه راواخلي بيا به يې دوا ورکړه دنرس مخکې به يې وخوړله بيا به يې خوله ورباندې وازه کړه چې تېره کړې يې ده اوکه نه ؟ ددردونو ګولۍ خصوصا دډسپرين ګولۍ يې ځينو بنديانو ته په مياشتو او کلونو ورکولې اودالحاظ يې هم نه ساته چې بندي نهار دی اوکه مړ؟ ددردونو دډېرو ګوليو دخوړلو له امله ځينو بنديانو ته دمعدې زخمونه پيداشول خوناروغه بنديان ددردونو له امله دې ته اړووچې ګولۍ وخوري . يو افغاني بندي چې په امريکايي بمبارۍ کې سخت ټپي شوی و باګرام کې هم بې درملنې پروت و دپښې هډوکي يې هم مات و په همدې حالت کې ګوانتانامو ته راغی، انفرادي کې دوه مياشتې بې درملنه پروت و تردې چې دپښې پړسوب او ګزګ يې زيات شو، ټپ يې وروست شو او وينې زوې يې دکوټې نه دباندې ووتې بيا يې درملنې ته يو وړ ځو ځل يې ورته جراحي علميات ورکړل خو هر ځل ناکام وو . ځينې سخت ناروغان په دعاء اودم الله تعالې روغ کړل . ايکسرۍ او وينې يې ډېرې اخيستې خو مناسبه دوا يې نه ورکوله . زه پخپله سخت ناروغ وم ، دعرق النساء در دونه مې وو، دوينې سرۀ کرويات او وزن مې کمېده ( ۲۵) کيلو ګرامه وزن مې کم شوی و تقريباً ۲۵_ ۳۰ ځل يې ايکسرۍ را وايستلې ، پنځه ځل يې په سکيننګ مشين معاينه کړم ، څو ځل يې الټراساونډ معاينې راته وکړې او (۸۹) نهه اتيا بوتلګي وينه يې راځخه واخيستنه . خو دارو درمل نه وو. هسې تشې اووچې تجربې وې چې راباندې کولې يې. آخر يې راته وويل چې ستادرقي غدود

(دغورګنډې ) دي چې ظاهراً نه ښکاري خودننه دي هغه ستادوينې سره کورويات سوځوي او داټول تکليفونه له همدې امله دي . ته بايد جراحي عمليات وکړې .دوه اپرېشنه به درته کوو اوددواړو ترمنځ به يوه اونۍ فاصله وي. مازړه نازړه دمجبوريت له مخې ومنله. يوځل يې دعمليات له پاره دکمپ روغتون ته بوتلم . خو سباته خبر راغی چې عمليات معطل شو، غاښونه يې راته پاک او ډک کړل او بيرته يې بلاک ته ولېږلم . څو ورځې وروسته يې بيا وغوښتلم روغتون کې مې دکټ پورې تړلې شپه تېره کړه . سبا ته يې په يوولسويجوپه زنځيرونو او زولنو او تړليو سترګو امبولانس کې کښېنولم اودبحري پوځ هغه لوی روغتون ته يې بوتلم چې زه په غړولو سترګو څو ځل مخکې هلته بېول شوی وم . هلته يوه بجه ډاکټره راغله جامې يې رابدلې کړې او دعمليات خونې ته يې بوتلم . څه وخت وروسته چې کله په هوښ راغلم ډاکټرې راته وويل چې يوه غوټه مو لرې کړه او بله به يوه اونۍ وروسته لرې کړو . په دغه ورځ ماسره همدغه روغتون ته دطالبانو والي : مولانا ولي محمد هم راوستل شوی و دهغه دپوس سرطان و همدغې ښځې ورته ناکام عمليات وکړل . هغه له پردې اخواو مااو هغه سره نه ليدل خو هغه پوه شوی و چې زه هم هلته يم. ماته يې ډېرې چغې ووهلې خو افسوس چې ماهيڅ غږ نه شو کولای او ستونی مې بندو .يو ه ورځ وروسته يې بيرته دکمپ روغتون ته ولېږلم . هلته اته ورځې پروت وم بيا بلاک ته ولېږل شوم دعمليات نه وروسته هيڅ درمل نه و . اوبه مې زياتې څښلې او ځان مې دماوه . دزخم پټۍ مې هم پخپله لرې

کړې . له دې عملیات نه وروسته مې غږ ورک او ټپ شو ، خبرې مې په اشارو کولې استاذ بدر سره مې په غوږ کې خبرې کولې . یوه اونۍ وروسته یې بیا روغتون ته وغوښتلم اوراته ویې ویل چې بل عملیات درته کوو . ما انکار وکړ، ډاکټره سخته خفه شوه. کله به یې راته ویل چې کینسر دې دی اوکه عملیات ونه کړې مړبه شې .داولې نه کوې ؟... ما ورته وویل چې زه په دغه عملیات ډیر په تکلیف شوم او غږ مې هم ورک شو بل نه کوم .

په تحقیق کې ما او استاذ بدر دواړو ته محققینو وویل چې داولې عملیات نه کوې؟ ما انکار وکړ. هغوی راته وویل چې ته په مونږ بدګومانه یې . ماورته وویل چې بدګومانه نه بلکه زما پوره باور دی چې تاسو سم خلک نه یاست تاسو ماته سخت تاوان را واړاوه ... ماته هلته هم یو افغاني ډاکټر علي شاه ویلي وو چې ستا دغږ پلې یې له یوه لورنه غوڅې کړې دي. دکمپ ټول بندیان ډېر خفه وو، د عاوې یې راته کولې او ویل یې : له دې امله چې کله ناکله به یې درسونه کول نو قصداً یې ګونګ کړ . اوس چې زه دلته پېښور ته راغلم اوپه ځینو متخصصینو مې معاینې وکړې دوی هم راته وویل چې ستا دیوه لوردغږ پلې قصدا غوڅې شوې دي اوکه دابل لور هم غوڅې شوې وای نوته به بشپړ ګونګ وای . اوبله داچې کلشیم جوړوونکي غدود یې هم درڅخه ایستلي دي ، نواوس به ته ټول عمر دواخورې. اوس زه تل دواخورم؛ دپلو تښتېدل اونورځینې تکلیفونه راته پیداشوي دي . هلته ګوانتنامو کې پنځه میاشتې وروسته ورو ورو زما غږ ښه شو . خو اوس هم لوړغږ نه شم کولای .

# دګوانتنامو اخترونه

دزندان لومړی اختریه مونږ د ۱۴۲۱ﻫ ق کمکی اختر و، دغه اختر زمونږ په کور دغمونو او اندېښنو اختر و . دا اختر په مونږ دپېښور په شامي سړک دآی ایس آی ددفترونو په پټ تور زندان کې راغی . زه او استاذ بدر په جلا جلا کوټنیو کې پراته وو اود اختر هیڅ نښه نه وه. یوائې داوه چې مونږ روژه ماته کړې وه . نور نه دکور نه خبروو چې څه پرې تېرېږي اونه مو خپلو کې یوبل ولیدل . بلکې په دغه ورځ دآی ایس آی مجرمان هم په خپلو عیاشیو کې بوخت وو، مونږ دنسیان په تیارو کې دغم ، زغم او اندېښنو جامې اغوستې وې اودفکرونوپه ټال کې مو زنګل داسې یو ګونګ ، ړوند او کوڼ اخترو چې نه مو چاته مبارکي ورکړه اونه چامبارکي راکړه .

خوښه خبره داوه چې دالله تعالی سره مورابطه جوړه وه دقران کریم تلاوت ، ذکر او عبادت کې مشغول وو نو ځکه داټول راباندې اسانه تېرېدل .

دهمدې ۱۴۲۱ ﻫ ق لوی اختر مو دباګرام په امریکایي زندان کې راغی هلته هم دازغنو تارونو په منځ کې ازغن اختر و چې زمونږ په زړونو کې پټ او خاموش تېرشو .

نورشپږ اخترونه مو ټول دګوانتنامو په زندان کې تېر کړل خو هغه اخترونه دآی ایس آی دزندان او دباګرام دزندان په نسب ښه

وو اوهغه ښه والى يې داو چې دخپلونورو زنداني ورونو سره موليدل اويو بل ته مو مبارکي ورکوله .

نور هلته هم نه عيدګاه وه اونه جامې ، نه دخپلوانو اودوستانو سره تګ راتګ و اونه نارى ، نه اوجره وه اونه جومات ، نه دکمکيو اوګلاليو ماشومانو شور ماشور و اونه خوشحالي ...

لومړي کمکي اختر کې امريکايي بزدلانو قصداً او عمداً دغرمې ډوډى هم رانه کړه اودايواځې ددې له پاره چې مونږته يې روحي او رواني سزا راکوله .خو الحمد لله په مونږ ډېر ښه تېرشو، يوبل ته مو مبارکي ورکوله ، دکورونو داخترونو کيسې مو کولې او ترانې ، شعرونه ، مو عظې او ذهني مسابقې مو کولې . دلومړي کمکي اختر نه وروسته لوى اختر کې يې دعادي ورځو غوندې ډوډۍ راکړه اونورهيڅ توپير نه و خووروستيو کلونو کې يې بياداختر په ورځ يوه يوه دانه خوږه بقلاوه راکوله ، ما خونه خوږه خو خپله برخه به مې دپنجرې دجال په سوري کې دخوا ملګري ته ورکړه .

په اختر ونو کې دځينو هغوشعرونو بېلګې چې مونږ ويلي دادي :

# دګوانتنامو دزندان اختر

چاته اختر دبېغورونوشرمسار اختر دی | اختر زمونږ دی چې دوياړ او افتخار اختر دی
چې داختر دراتلو لاره خرخه کړې ده چا | نن دهغه اختر دشرم او دعار اختر دی
ښځې خونه يوو چې لاسونو کې بنګړي واچوو | زمونږ اختر دزنځيرونو دشرنګا اختر دی
دازولنې که پولادي وي نو معنايې داده | چې ارادې مو پولادي دي بې غبار اختر دی
چې دجرات او شجاعت ترجماني موکوي | دغه اختر داخترونو سکه پلار اختردی
زمونږه فکر چې هيڅوک بندي کولی نه شي | مونږه ازاديو ازادي موپه باربار اختردی
دګوانتنامو په پنجرو کې نارنجي زمريانو | ستاسو اختر دحقيقت داعتبار اختر دی
ټوله روژه مو په لمانځنې عبادت تېره کړه | ستاسو اختر دثوابونو داقرار اختر دی
دوست درته وايي مبارک موشه بيا بيا مبارک | ښې داوايي دااختر دانتصار اختر دی

۱۴۲۴/۹/۲۶ هـ ق
۲۰۰۳/۱۱/۱۶ م.

# الايا عيد

مضى شهر الصيام أتى شوالُ بلاعيد أتى وكذا يقالُ
قلوب مزقت بنصال ظلم ونار أضرمت وأتت نبال
ألايا عيد ما أحوال بيت ينادى سائلا اين الرجال
أبٌ حيٌّ وأيتام وثكلى على أكتا فهم حملت جبال
ألايا عيد فارجع حيث شئت هناهمٌّ وغمٌّ وابتذال
هنالا يعرفونك ياحبيبي فمهلاها ضيافتك المحال
وعفوا من هنالك ينكرونك هناسجن هنالك فاحتلال
هناشوك ودمع بالعيون هنالك فانفعال ياحلال

١٢٨\١٩\١٤٢٥ هـ ق

# عيد زندان

كجاعيد است اى عيد اسيران دگركون هست عيد ماغريبان
نيايي بهر ماخوشي نداري هياهو وگر مجوشي نداري
چي يابي ازغم واندوه مايان نيابي گل وگل دركوه مايان
دراينجاسنگ وخار واشک ودرداست دراينجاسوزدل ازژاله سرداست
اگر خواهي اسير باشي به زنجير بياباماشريک ظلم وتحقير
بگر برحال اهل مانظر كن گريبان چاک يتيمان راگذركن
پريشانترمكن حال جگر خون ورودت هست برماكارشبخون

١٢٨\١٩\١٤٢٥ هق

# عيدنابالسجن

عيدلــــنا فالعـــزم ثم وقـــارُ ولبعضـــهم ذل فعيـــب عـــارُ
بالــبخس بـــا عـــوا ألّذي يأتي به أنى لهـــم بالعــــيد ذاك دمــــار
ســجني كــداري لا أبـــالي إنـــه داري لجـــنات فـــنعم الـــدار
زنـــزانتي لي غـــرفة دريـــة قفـــص بـــه تـــتلأ لأ الأ نـــوار
غفـــران ربي حـــل بي في شـــهرنا أرجـــو الإ لـــــه فإنـــه غفـــار
اصـــوات تكـــبيري بهامصـــحية تصـــــحوبها الآذان والأبصـــــار
قـــل بـــارك الله فـــإني رابـــح لاشـــك ســـجني خلـــوة وقـــرار
وقـــيودنايا إخوتـــــي كمعـــالم تحلـــو بـــنا إنـــا بهـــا الأ حـــرار
زيـــن الـــرجال سلاســـل تحوي بهم زيـــن الأنـــأث برســـغهن ســـوار
مـــن لايـــرى هـــذا فعـــلمي أنـــه إنـــس ولكـــن في الصـــفات حمـــار
تقـــــبل الله وإني هانـــــــئ لصـــيامكم ذاللذنـــوب ســـتار
فلـــتفرحوافي عـــيدكم يـــاإخوتي وتضـــحّكواكي يحـــزن الكفـــار

١٤٢٤\٩\٢٩ هـ،ق

# دبنديانو نشاطات

بنديان دډېرو بنديزو نو ، څورونو او فشارونو سره سره الحمد لله ډېر ډاډه دي ؛ يوبل تـه دډاډ او تسل تلقين كوي ، ټوكې ټكالې كوي ، نړدې كسانو سره خبرې كوي ، يودبل رواجونو اودودونو او دوطن دحالاتو نـه ځان خبروي ، لغزونه او اړونـه مطرح كـوي ، شعرونه او تـرانې وايـي ، دمختلفو علومـو درسونه كـوي ، دعلماو نـه ديني

پوښتنې کوي او دقران کريم حفظ کوي . ډېرو بنديانو قرآن کريم يـادکړ. اوډېـروپه ناظـره ولوسـت . اګـر چې پـه امريکايانودرسـونه اوموعظې ښې نـه لګي خو بـنديان يې پروانه ساتي . ماخپله څو ځل پـه مخـتلفو بلاکونـو کـې دقـرآن کـريم دتفسـير ، عقـيدې ، فقهـي مسـائلو ، اصـول حديـث ،صرف او نحوې درسونه پيل کړل خو تريوه ځايـه بـه چې ورسېدو نـوددرس داخلالولـو لـه پاره به يې بل بلاک ته تبديل کړم ، څو ځل يې ماتـه پـه تحقيق کې ويلي دي چې تـه ولې درس ورکـوې ؟ اسـتاذ بـدر تـه يې هـم ويلـي وو چې سـتاورور ولـې درسونه ورکوي ؟!.

ډېر داسې بنديان وو چې دبند نه مخکې په ديني التزام کې سست وو خو پـه زنـدان کې پـه ديـن داسې ټينګ شول چې تهجدوته هره شپه راپاڅېدل ، نفلي روژې يې نيولې اودديـن زده کـړه يې کوله . ډېر پـه کې داسې وو چې دزندان نه مخکې په ځينو عقيدوي مسائلو ښه خبر نـه وو؛ هلـته پـه کښې بشپړ بدلـون راغـی . تـردې چې ځيـنو بنديانو دعلمـا و نــه دعقـيدې ځينـي واړه مـتون يـادکړل . ځيـنو دتجويـد ، صرف، نحوې، اصول حديث او اصول فقهې مختصر متون يادکړل . عربـي ژبه ډېرو زده کړه . لنډه داچې دامريکايانو دبنديزونو اودزندان او پـنجرو دکړاوونـو سره سره دالله تعالی په توفيق زندان دبنديانو لـه پاره دمدرسې حيثيـت پيداکړ . الله تعـالی سره رابطـه ټينګه شوه ، دسـهار او ماښـام اونـور مسـنون دعـاوې اواذکـار بـنديانو زده کـړل اودهغـوی دعملي ژونـد يـوه بـرخه شـوه . پـه زړونـو کې دصبر ، حلم ، تحمـل او زغـم ځواک غښتلی شو . جرأت ، متانت ، ثبات او زړورتيا

پیاوړي او ځواکمن شول . دتجربو یو پېچلي پړاو تېر شو اودژوندي ژوند دناریننتوب په هغه پوړۍ پورته شول چې هر پاړکی یې د تاریخ یو ځانکړی باب دی .

# دبندیانو جراءت او حوصلې

دګوانتهنامو پنجرو کې الله تعالې بندیانو ته لوړه حوصله اوجرات ورکړی و. ځینو عسکروبه مونږ ته ویل چې تاسو عجیب خلک یاست! که مونږ په دغه پنجرو کې چابند کړو نوپه اونۍ کې دننه دننه به لیوني شوو؛ خو تاسو خپل عبادتونه او تلاوتونه هم کوئ، خبرې او خندا هم کوئ او هېڅ اندېښنه نه لرئ !!!.

مونږورته وویل چې دازمونږ کمال نه دی دادالله تعالې پېرزوینه ده . الله تعالی دهغه دین دمنلو له امله زمونږ حوصلې لوړې کړي دي چې تاسو پرې مونږ مجرمان ګڼئ اودلته مو اچولي یوو. که تاسو داسلام دین ومنئ نو ستاسو حوصلې او معنویات به هم زمونږ په څېرلوړشي.

هلته الله تعالی زمونږ په زړونو کې داسې اطمینان اچولی و چې په کورونو کې هیڅ نشته .

دبندیانو جراءت ډېر لوړو دبندیانو دزړورتیا څو بېلګې دلته یادوو چې ځینې یې دمخکینیو بحثونو په ترڅ کې هم یادشوي دي .

دتعذیب او ځورولو سره سره ډېر داسې بندیان ووخصوصاً په عربو کې چې تحقیق کې یې هیڅ ځواب نه وایه . یو عرب بندي په تړلو لاسونو دځنګلو په ذریعه دمحقق اودهغه په منځ کې مېز په محقق

ورتېله کړ، محقق او ترجمان يې دواړه مخ په ځټ وغورځول چې له همدې امله بيا دزياتې جزا سره مخ شو .

دپنجرو درزول ، په عسکرو او پوځي افسرانو باندې داوبو ، لاړو اوميتيازو وراچول ، اعتصابونه ، دګازونو ، وهلو اوتعذيب مقابلې اوداسې نوردېر هغه کارونه دي چې دبنديانو دجرا ٔ ت تمثيل کوي . مونږ دواړو ورونو ته الله تعالى داتوفيق راکړ چې دقران کريم ددفاع په مظاهرو کې دضربې قوې په دولسو سنځا ډوله عسکرو ور او ځوو، يو يو عسکر په کې راځملوو او سخته مقابله ورسره وکړو .

يو عربي بندي په تړلو لاسونو او پښو څلور عسکر په پنجره کې ايسار کړل چې تفصيل يې ليکل شوی دی .

الحمد لله دډېرو ځورونو او سختيو سره سره مونږ ټولو بنديانو دخپلو ديني شعايرونه په کلکه دفاع کړې او دظالم پوځ په مقابل کې مو هيڅ تنازل نه دی کړی بلکه هغوی چې څومره ظلمونه او ځورونې زياتولې مونږ لازيات په خپل دين کلکېدو ، جرات او حوصلې مو لوړېدلې او عقيده مولاپخېده .

# لمونځونه او روژې

دګوانتېنامو په پنجرو کې دايوه خبره ښه وه چې داوبو نلکه په کې لګېدلې وه نوداودسونو کار مو جوړ و ، لمونځونه مو په پنجرو کې کول دصف جوړولو له پاره يې دپنجرې نه دباندې نه پرېښودو . په همدې پنجرو کې به چې کوم بندي قبلې ته نږدې و هغه به زمونږ امام

و کله به دقرائت اودعلم دکره والي له امله په منځ کې هم امام کېدای شو. هر چابه خپلې پنجرې کې دامام پسې اقتداء کوله . هر بلاک کې لوډ سپيکر لګېدلی و چې دکمپيوټر لـه لارې به په کې اذان کېده . ترڅو چې ابراهيم امريکايي او يوسف چينايي ددينې امورو مسئولين وواذان په وخت کېده خوکله چې هغوی بدل شول بيا پوځيانو صحيح وخت نـه پېژندہ کله کله به يې دلمر خاته نه وروسته هم اذان وکړ اوپه آخري ورځو کې خو پنځه وخته اذان دسهار داذان غونډې کېـــده چـې "الصـــلاة خير من النوم "يې پـه کې وايـه . خومونږ دهغوی په اذان کفايت نـه کـاوه او هر بـلاک کې بنديانو خپل آذان کاوه . دهرې پنجرې دويـده کېدو پـه اوسپنيزه تختـه پـه تور رنګ دمکې مکرمې لورتـه غشـی رسم شـوی و، دغشـي مخـې تـه پـه انګليسـي ( مکـه ) ليکلی وو او ورسره ليکلي وو چې ( **KM ۱۲۷۹۳** ).

دولـس زره اوه سوه درې نـوي کـيلو مـتره . چې دادمکـې مکرمې اودګوانتېنامو دزنـدان ترمـنځ فاصِله وه . قبله دختيز لورته وه چې لږه دشمال خواته کږه وه . په لومړيو ورځو کې ځينو بنديانو دغرب لورتـه لمونځ کـاوه پـه هغـوی کې ځينو ګومان کاوه چې دخليج په کوم هېواد کې يـوو . ځينو دناپوهـی نـه اوځينو لاداويـل چې مونږ دزمکـې پـه داسې برخه کې واقـع يـوو چې مکـه دختيـز اولويديز لـور تـه يـو ډول فاصلـه کې واقـع ده . يـو افغاني بندي چې کله نوی راغی نو دمابنام نـه وروستـه راورسېد ؛ هغـه دماسـختن لمونـځ پـه پـنجره کې دختـيز لورتـه وکړ خو ګومـان يي کړی و چې ګنې دافغانسـتان غونـډې يې لويديز لورتـه لمونـځ وکړ . کله يې چې بيا دسهار لمونځ هم په همدې

ترتيب دختيز لورته دلويديز په ګومان وکړ نو دقبلې لورته ناست و او اذکار يې لوستل . کله چې لمر راوخوت نو ګومان يې وکړ چې دلويديزله لوري لمر راوخوت . چې دادقيامت دنږدې کېدو دلويو نښونه ده . نو چغې يې کړې ، په زوره زوره يې توبې وايستې اوويل يې چې قيامت شو، دمغرب له لورى لمر راوخوت . بيا نورو بنديانو په ډېر کړاو پوه کړ چې داسې نه ده بلکې دلته قبله دختيز لورته ده . وروسته بيا مونږ هغوبنديانو سره مناقشه وکړه چې لويديز ته يې لمونځ کاوه ، دډېر بحث نه وروسته هغوى قناعت وکړ او بيا ټولو دختيز لورته لمونځ کول پيل کړل .

په دې ترتيب په هر بلاک کې لمونځ په جماعت سره کېده ترکومه چې دامام قرائت اورېدل کېده هغوى اورېده اخوا په منځ کې بيا مبلغين وو چې هغوى امام پسې تکبير وايه، وروستيو خلکوهمدغه دمبلغ غږ اورېده اولمونځ يې په دې ترتيب په جماعت کاوه .

عسکرو قصداً داکوښښ کاوه چې لمونځ مشوش او ګډوډ کړي .

دروژې مسئله داسې وه چې په لومړۍ روژه کې اولس ورځو پورې نه دپيشنمي ډوډۍ وه اونه دماښام روژه ماتی و. دماښام ډوډۍ به يې په نيمه شپه کې راکوله نو يوه نيمه شپه اوبله نيمه شپه موډوډۍ خوره ؛ په منځ کې هيڅ نه وو اودا ددې له پاره چې مونږ ته زور راکړي خو الحمدلله مونږ ته الله تعالى دصبر او زغم ځواک راکړى و .

داولس ورځو نه وروسته بيا دپېشنمي ډوډۍ هم پيل شوه اودماښام ډوډۍ هم په خپل وخت شوه . خو هماغسې لږه او بې کاره ډوډۍ وه لکه بوزه کې چې وه .

# نازله قنوت

بندیانو تل داخلاص دعاوې کولې او په لمانځه کې یې نازله قنوت لوسته ټولو کافرانو ، مشرکانو ، دعربو او عجمو طواغیتو ، جاسوسي ادارو او جاسوسانو اوهغو خلکو ته یې ښېرې کولې چې مسلمانانو سره یې خیانت وکړ او بې ګناه خلک یې امریکایانو باندې خرڅ کړل خصوصاً پرویز مشرف ، آی ایس آی اودهغوی اسلام نما او مجاهد نما ګوډاګي تنظیمونو او افرادو ته یې زیاتې ښېرې کولې چې اکثره یې ډیرې زر قبولې شوې او دنورو په قبلېدوهم زمونږ پوره باوردی چې قبولې به شي او ډېر زر به ولیدل شي .
بندیانو امریکایانو اودهغوی ګوډاګیانو او متحدینوته ښېرې کولې بش ، مشرف ، کرزي ، دپاکستان پوځ ، سیاف ، رباني او دهغوی متحدینو ، افغاني اوپاکستاني جماعـة الدعوة ، اودهغوی ځینو اشخاصو لکه دپاکستان دجماعـة الدعـوة د حافظ سعید ، ذکي الرحمن، جبران ، ابو سعد او ځینو نوروته همدارنګه دافغانستان جماعة الدعوة : سمیع الله ، روح الله ، حیات الله ، ولي الله ، حاجي عبدالقدیر ، حضرت علي او نورو ګڼو منافقانو اومرتدانو ته یې ښېرې کولې چې په ځینو یې ډېرې زر ولګېدې .

هغوی به ویل : اللهم علیک بجیش باکستان مونږ به ویل : آمین ....

اللهم اخسف بهم الارض .... آمین ....

الله تعالی هغه ښېرې قبولې کړې او دپاکستان په پوځ يې داسې سخته زلزله راوړه چې په کشمير کې لوی لوی کمپونه په زمکه ننوتل ، خسف پرې راغی اوپه زمکه ډوب شول خو دپاکستان خبري رسنی دحکومت په لاس کې دي او حقائق له شرمه پټوي .

دافغانستان جماعة الدعوة دسلونه زيات عربان او نور بې ګوناخلک په امريکا خرڅ کړي دي اودپاکستان جماعة الدعوة ، ابو زبيده ، ياسر الجزائري او نور ګڼ عربان له ځانو نو سره ساتلي وو او بيا يې په امريکايانو وپلورل.دلشکر طيبه ـ چې اوس جماعة الدعوة پاکستان ورته وايي ـ ځينو هغو افرادو ماته وويل چې مخکې هغوی سره وو او دهمدې خيانتو نو له کبله ورڅخه اوس جلا شوي دي چې دابو زبيده سره . (۱۸۰۰۰۰۰۰) يوسل او اتيا ميليونه روپۍ وې اودلشکر طيبه (جماعة الدعوة) سره يې امانت ايښې وې لشکر طيبه په هغې هم خېټه واچوله او دامريکايانو او پاکستاني استخباراتو (آی ايس آی ) نه يې هم ډېرې ډالرې اوروپۍ واخيستې اوپه دې ترتيب يې لوی خيانت وکړ .... لشکر طيبه تل دآی ايس آی دمصالحوله پاره کار کوي او اسلام يې دخپلو ناوړو اعمالو له پاره پرده کړی دی دافغانستان او پاکستان جماعة الدعوة تل دآی ايس آی له پاره اودهغوی په اشاره کار کوي او ګومان کوي چې مونږ به هم الله تعالی وغولوو ، هم به اسلامي امت ،هم به امريکا... وغولوو...ځينې عربان يې دلوی مبلغ په بدل کې ترې تم کړل او ځينې يې امريکايانوته د ډالرو مقابله کې حواله کړل ...

# دبندیانو ځینې عجیب او غریب نوادر

دګوانتنامو په پنجرو کې بندیانو ځینې عجیب او غریب کارونه کول چې ځینې بېلګې به يې دساري په توګه دلته راوړو :

## مېږي درواغ سخت بد ګڼي

يوعربي په مېږيو يوه عجيبه تجربه وکړه ديو نري تار په سر کې يې څه خوراک غوټه کړ او دپنجرې په کونج کې يې دهغه سوري سره نږدې کېښود چې مېږي ترې را اوځي دتاريو سر يې په لاس کې نيولی و چې ګوري يو مېږی راغی دتار پورې غوټه شوي خوراک نه ګردچاپېره وګرځېده اولاړ بېرته سوړي ته ننه واته. لږه شېبه وروسته چې ګوري څو نور مېږي ورسره راغلل کله چې رانږدې شول نو هغه خوراک پورته کړ، مېږي وګرځېدل ، خوراک يې ونه موندہ بېرته لاړل، خو هغه يو مېږی پاتې شو هغه بيا خوراک په زمکه ورځوړند کړ هغه راغی ويې لیده او بيا لاړ، نورمېږي يې راخبر کړل، هغه بيا خوراک لرې کړ هغوی بيا مايوسه سوړي ته ننوتل هغه دريم ځل دغه کار ورسره وکړ په دريم ځل چې مېږي راغلل هغه خوراک پورته کړ مېږيو چې وليدل چې دغه مېږي درې ځل مونږ ته دخوراک خبر راکړ او درواغ وخاته نو ټول په هغه مېږي راټول شول او ويې واژه. هغه وويل : زه پوه شوم چې مېږي درواغ سخت بدګڼي اودوی په دې ګومان دغه مېږی ددرواغو ويلو په سزا وواژه چې ګڼې درې ځل يې درواغ وويل .

همدارنگه بله نـادره داده چې کلـه بـه بنديان جزايي شول نو دهغه کمـپل ممـپل بـه عسـکرو تـرې واخيسـتل او دپـنجرې دپاسـه بـه يـې کېښـودل ځينو بـنديانو بـه دپـنجرې پـه دروازه کـې دکړکـۍ دبـاندنى زنځير ددنـنه خوانـه پـه داسـې چـل ول خـلاص کـړ چـې نـه ورتـه لاس رسېږي او نـه پـه سـترگو ښکاري . بيا بـه يې لاس تېر کړ کمپل بـه يې پـه داسـې حـال کـې راواخيسـته چـې لاس بـه يې نـه وررسېده . بيا بـه يې کړکـۍ بيرتـه بـنده او زنځير کړه . اکثره پرې عسکر نـه پوهېدل خوکله بـه چې پرې پوه شول نو ډېر تعجب بـه يې کاوه چې دانـه کېدونکې کار دغه بندي څنگه وکړ ؟.! اوبيابه يې جزايي کړ.

بلـه نـادره داده چـې کلـه کلـه بـه ددوه پنجرو منځ کې پنجره خالي وه او بـنديانو بـه دپـنجرې دجـال دوړوسوريو لـه لارې يو بل تـه څـه شـى نـه شـو ورکـولای نـو پـه ډېـره زيـرکـۍ بـه يـې دجالـي خولـۍ ، نېکـريابلـې جـامې نـه تـاروايسـتـه دهغـې سرکـې بـه يـې قلم يا دعطرو وړوکـې بوتل گـنډه کـړ او دجـال پـه سوري کـې بـه يـې پـه زوره ورواهه ، هغه بـه کلـه کلـه خطـا شـو نـو داعمل بـه يـې بيـا بيـا تکرار کړ ترڅو چـې بـه يادپنجرې مخـامخ دبـل جالـي دېـوال سـوري کـې دهغـه بـل بـندي پـنجرې تـه وروغورځېـده اويابـه دجـال خواتـه نږدې پرېواتـه هغه بـه دگوتې ياقلم پـه واسطه راواخيست. نوددغه نري تار پـه واسطه بـه دخالي پنجرې دواړو خواتـه رابطـه پيداشوه چې واړه واړه شيان بـه يې هم دهمدغه تار پـه ذريعـه ورلېږل ، تاريـه يـې غـبرگ کـړې و اودواړه سـرونـه بـه يـې سـره گـنډه کـړي وو چـې يـو طرف بـه بندي دځان لورتـه راښکود نو بل طرف بـه يې هغه بل لوري تـه ورغځېده .

بله نادره داوه چې دخوراک دلړ والي له امله به بندیان ډېر وږي وو نو ځینو به دتوزیع په وخت کې په دغه وړې پنجرې کې ـ چې هیڅ شي په کې دعسکر نه پنا کېدای نه شي ـ په ډېر کمال ریکابی پټ کړ او عسکر ته به یې وویل چې ماته دې پلېټ نه دی راکړی په دې ترتیب به یې دوه پلېټه واخیستل او ګوزاره به یې پرې وشوه یو خالي پلېټ او کاشوغه به یې بیرته ورکړل او بل پلېټ او کاشوغه به یې ټوټه ټوټه کړل ، کمود کې به یې واچول ، دکمود په سوري به یې دڅپلکې سره پښه کېښوده اوا وبه به یې پرې راخوشې کړې کله به چې جمع شوې ورخوشې به یې کړې او په دې ترتیب به دهغه مات پلېټ او کاشوغې ټوټې په کمود کې لاړې اوپنابه شوې . داکار په هغه پنجره کې ښه کېده چې کله به عسکرو په کراچۍ کې پلېټونه راوړل په کومه پنجره به چې ختم شول او عسکر به نورو پلېټونو پسې لاړل نو دغه آخري بندي به یازرزر وخوړل او پلېټ به یې کمود کې واچاوه اویابه یې دکمپل یالاسپاک شاته پټ کړنو په دې ترتیب به یې بل پلېټ واخیسته .

بله نادره داوه چې دګرځېدو په ورځ به چې کله بندیان دبلاک اخر کې دلوېې پنجرې په شکل جال کې ګرځیدو ته ایستل کېدل نو دوه دوه کسان به یې ایستل . هغه دوه به چې پنځلس دقیقونه تردېرشوپورې هلته وګرځېدل نو راوبه ایستل شول اوپه دباندې وړو غسلخانو کې به یې لمبل . نوپه دې وخت کې به نوردوه راوایستل شول ؛ ځینو بندیانو به غوښتل چې ځان یو بل بندي ته ورنږدې کړي نو دبلې خالي پنجرې نمبر به یې عسکرته وښوده چې زه هغه پنجره

کې یم هغـوی بـه همغـه پـنجرې تـه وردنـنه کړ او هغه بل بندي به دده پنجره کې پاتې شو. په دې ترتیب به څو ورځې دنورو ورونو سره نږدې شو بیا بـه یې دګرځېدلو او لمبلو پـه بلـه ورځ پـه همدې ترتیـب ځان خپلې پخوانـۍ پـنجرې تـه بـدل کړ او عسـکر بـه پرې پوه نه شول . خو کلـه کلـه بـه داخبره دتحقیق پـه ورځ ښکـاره شـوه چې عسـکربه بندي پسـې راغلـل او ورسره کـارت کـې عکـس بـه ددغـه بـندي نـه و حتـې داسـې هم شوي دي چې عسـکرو دایستلو په وخت کې دبې غوری لـه املـه کارت تـه نه دي لیدلي او بدل بندي یې دتحقیق کوټې تـه رسولی دې بیـا چې کلـه محقق راغلـی دی او دوسیه کې یې عکس تـه لیدلي دي یـایې پېژندلی دی چې بـدل دی، خوبیا هم په دې نه دی پوه شوی چې داکـار بـندي خپله کړی دی چې دخپلې پنجرې نه بدلې تـه راغلی دی ، بلکـه دایې دعسکرو سهوه بللې او بندي یې بیرته لېږلی خوکلـه کلـه ښکـاره شـوی او دجزایـي کولوسره یې بیرته لېږلی دی . کلـه کلـه داسـې هم شوي دي چې محقق عکس تـه نه دي لیدلي اودبې غوری نـه یـې دهغـه بـل بـندي پوښتـنې دغـه بـندي نـه کـړې دي . کلـه کلـه بندي دپوښتـنو پـه مـنځ کـې ښکـاره شـوی دی چې بـدل دی اوکله کله بندي ترآخره دبل بندي پرځای داسې معقول ځوابونه ورکړي دي چې نه پرې محقق پـوه شوی دی اونـه هغـه ځوابونـه دبندي پـه تـاوان وو بیرتـه بـه چې بـلاک تـه راغـی نـو ټولو بندیانو بـه خندل ، هغه بـه ټولـه کیسـه وکړه او هغه بل بندي به یې دپوښتنو او ځوابونو نـه خبر کړ.

بلـه نـادره داوه چې یـو عرب بندي تحقیق نـه دبیرتـه راتللو پـه وخت کـې پـه ولچکـو او زولـنو تړلـو لاسـونو او پښـو څلـور عسـکر پـه خپله

پنجره کې ايسار کړل او هغه داسې چې کله تحقيق نه راوستل شو نو دبلاک دوه عسکر دهغه پنجرې ته دتالاشۍ له پاره ننوتي وو اودوه عسکرو دابندي دمټونه نيولي و، کله چې دپنجرې خلاصې دروازې ته اودريدل نو بندي په ټرلو لاسونو داوړو په واسطه دادوه عسکر پنجرې تـه ورتېـل وهـل ، زر يې ورپسې دروازه بنده کړه اوداځکه چې الله تعالى دبنديانو سره مرسته کوي . امريکايي عسکر دمسلمانانو بنديانو نـه دومره مرعوب دي چې نفسياتي وېره يې په زړه کې ده اولـه همدې وېرې يې لامخکې ماتې منلې ده اوزړه کې يې داپرته ده چې مونږ ددوی مقابلـه نـه شوو کولای اوداخلـک ډېر غښتلـي ، سرتېري او جنګيالي دي . هغه بندي دبلاک منځ کې په زولنو کې ګرځېده . دروازې سره نور عسکر وتښتېدل او دروازه يې بنده کړه . بندي خندل او په ټولو پنجرو وګرځېده ؛ عسکرو چغې سورې جوړې کړې ، دباندې ډېر زيات عسکر دټينکونو او وسلو سره راغلل دخطر ارنډونه يې وهل او بلاکونه يې محاصره کړل خو هيچا داجرأت نه شو کولای چې په زنځيرونو کې ټرلي بندي باندې راننوځي ، ويې نيسي او هغه څلور بنديان عسکردپنجرې نه ازاد کړي . تردې چې ګازونه يې راوړل اوددې خطروؤ چې ټول بلاک باندې بې هوښه کوونکی ګاز وشيندي . بيا نورو بنديانو هغه بندي تـه وويـل چې څه خير دی پنجرې تـه ننوځه اوداعسکر خوشې کړه نو هغه بيا خپله داکاروکړ پنجرې تـه ننواته او عسکر يې خوشې کړل هغوی بيرته دروازه وتړله اودکړکۍ له لارې يې څه وخت وروسته دبندي لاسونه اوپښې خلاص کړل او بيا بله ورځ يې دتشدد بلاک ( روميو) ته جزايي نقل کړ .



بندي تحقيق ته روان کړای شوی

(c) kelabton.com: The Digital Library





وحشي او بزدلو عسکرو بندي تحقیق ته روان کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



بندیان په پنجرو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بلاک دواړو خواو ته پنجرې



د پنجرو بلاک دننه نه

# په بلاک کې دبندي استقبال

بندي چې کله تحقیق ته ځي نو په زنځیرونو اوزولنو کې یې پښې اولاسونه وتړي، په شرنګارشرنګار دبلاک په منځ کې روان وي اودوارو خواوته بندیانو باندې سلام اچوي. هغوی ورته دعاء کوي عربان ورته وایي : ( والله یحفظك یاأ سد) " زمریه الله دې وساته " پروامه کوه پنجرو او زنځیرونو کې زمري اوسېږي ګیدړان څوک په زنځیرونونه تړي ....

کله چې دتحقیق نه راشي نودبلاک منځ کې را روان وي یو عسکر له یوه مټ او بل له بل مټ نه نیولی وي اوپه شرنګار را روان وي . ځنګه چې دبلاک په درشل پښه کښېږدي نوعربانو کې یو ورته وایي ( حباحبا) نور ټول بلاک په یو اواز په ترنم وایي ( بلّي جاء بلّي جاء) افغانانو اونورو بندیانو هم زده کړي دي . هغوی هم خپل غړونه ورسره غبرګوي او همدغسې وایي . ذالهجه ده اصل کې داسې ده چې یووایي ( یامرحبا) ( ښه راغلاست وایو ) نور وایي : ( بالذي جاء) " هغه چاته چې راغی " دانوډېر په لوړ غږ اوپه ترنم وي اوډېر ښه خوند کوي . په لومړیو ورځو کې به عسکر له دې ډول غږونو نه وېرېدل خو وروسته چې کله ورسره اشنا شول نو بیا عسکرو هم زده کړل او ځینو به دبندیانو سره یوځای زمزمه کول .دې ډول استقبال به بندیانو ته ډېر زیات ډاډ وربښه او معنویات به یې پرې ډېر لوړېدل خودهغو خلکو داډول استقبال نه کېده چې خلکو پرې شک کاوه او یایې منافقت ښکاره وُ ....

# دامریکا یانو بداخلاقي

امریکایان داخلاقو په نامه هیڅ نه پېژني . څه يې چې خوښه شي هغـه کـوي او دشـرم او غـیرت دلغـتونو معـناوې ورسـره نشـته . دبداخلاقیو ډېرې زیاتې کیسې دي خومونږ یوائې په څو بېلګو بسنه کوو .

_۱ : باګرام کې زمونږ په مخکې ښځو اونرو جنسي ناوړه حرکتونه کول تردې چې څوکیداران به مونږ ته مخامخ کوټې ته ننوتل ، دکوټې دروازه نـه وه او مونږ تـه ښکـارېدل .هلـته به يې زناوکړه اوراوبه وتل . لواطت هم په همدې ډول وُ.

_۲ : قندهار کې زمونږ پـه مخکې یوه ډاکټره عسکر تـه پـه شاشوه پـه اوږه یـې دهغـه مخ اوخولې سره خپل مخ ومښـه او بـل عسکر یې تصویرونه واخیستل .

_۳ : ځینو بـندیانو دشپې دسرک پـه سر پـه زنـا او لـواطـت عسـکر لیدلي دي .

_۵ : یـوه جلۍ دلویـې ډلـې ډاکټرانو او عسـکرو پـه منځ کې روانه وه ، یـو پلاستیکي لنډپیپ یې په لاس کې و یو سر یې دخپـل فرج لـه پاسـه کېښـوداو بـل سریې څو ځـل ښکـته پورتـه کړ لکه چې دولاړ او منتشر ذکر تمثیل کوي چې نورو ورسره په کټ کټ وخندل .

_۶ : بندیانو ته يې سترګکونه وهل اوناوړه حرکتونه يې کول .

_ ۷ :قندهار کې یـو عسـکر دبـل عسـکر شـاتـه اودرېده لاسونه یې حلقـه کـړل اودغـاړې نـه یـې ورتـاو کـړل بـیـا یـې ښکـتـه پـورتـه کـول چې

داستمنا بالید تمثیل یې کاوه بیا اخر کې هغه بل عسکر توکانې داسې توکړې لکه دهغه سرچې دذکر سروي او انزال یې وشي .

_۸: په یوه بندي دتهول بدن دخاربښ شکایت و هغه ته ډاکټرې دنورو بندیانو مخکې وویل چې ټولې جامې اوباسه چې زه دې وګورم اویواځې دکمیس په ایستلو یاپیڅوپورته کولو یې کفات نه کاوه حال داچې دعورت په برخه کې یې دخاربښ شکایت هم نه و او ورته ویې هم ویل خو هغې ونه منل.

_۹: یوه سپین ګیري بندي یوډاکټرته دکومې ناروغۍ شکات وکړ ډاکټر ورته شاراواړوله، په خپل شاتني عورت یې خپله ګوته کېښوده او سپین ږیري ته یې وویل چې دغه ځای چاته ورکړه چې ښه شې مونږ امریکایان یې هره ورځ ورکوو .

_۱۰: باګرام ، قندهار او ګوانتهنامو کې ښځو ډاکټرانو بې موجبه دبندیانو په عورت ګوتې وهلې .

_۱۱: زه ګوانتهنامو کې دبلاک دروازې سره لنډ اوله پنجره کې وم ښځو او نرو عسکرو یویل ته ګوتې ورکول ، ښکلول ، حتې په نیمه شپه کې په ډاګه زنا ، لواطت او ... یوه عادي خبره وه .

_۱۲: یو عسکر اویوه عسکره دبندي دپنجرې مخې ته ولاړوو ځوان بندي نه عسکرې پوښتنه وکړه چې ته واده کوې ؟ هغه ورته وویل چې هو . عسکرې عسکر ته په لاس اشاره وکړه او ویې ویل چې دوی خو په خپلو کې سره اړم دي مونږ ته زیات التفات نه کوي .

_۱۳: یوې تورې عسکرې زماورور( استاذ بدر ) ته وویل چې زه کورته ځم . په لاس کې یې دتشناب د کاغذ تشه کاغذي توته وه هغه

يې د پنجرې سوري کې مخکې وروسته کړه او ويې ويل چې دلته داکار لږ دی له دې امله دلته تنګه يم .

_۱۴ : دخپتې بادپرېښودل امريکايي پوځيانو کې يوه عادي خبره وه تردې چې مونږدلمانځه په جماعت ولاړوو يو عسکر راغی ديوه بندي پنجرې ته يې شا راواړوله او ښه په درز کې يې باد پرې کړل!!!.

يوې ورځې عسکرې زمونږ په مخکې باد پرې کړل زما ورور استاذ بدر، ترې پوښتنه وکړه تاچې دا باد پرې کړل داتاسوکې شرم او عيب نه دی ؟ هغې وويل چې نه داخودبدن باد دي ياپاس وتلي اويالاندې، دې کې دشرم څه خبره ده .... امريکايي پوځيانو به تش اودس ماتي ته نمبرون ويل ، ډک ته نمبر تويو غير ملتزم پنجابي اويو امريکايي عسکر دبادوپرې کولو مسابقه کړې وه چې بې اوازه بادوته يې نمبرتري ويل اوداوازوالاته نمبرفور. نو امريکايي په نمبر تري کې ګټلې وه اوپنجابي په نمبرفورکې.

_ ۱۵ : يوې امريکايي ښځينه محققې ديوه بندي په مخکې تولې جامې ايستلې وې، ځان يې ورنږدې کړی و او ورته يې ويلي وو چې زرکوه ماسره زناوکړه هغه ترې مخ اړولای و . بله ورځ يې بيا همدا عمل تکرار کړی و هغه بيا انکار کړی و، په دريمه ورځ يې بيا همدا عمل تکرار کړی و چې په دغه ورځ دښځې حيض هم راغلی و کله يې چې حيض راغی خپلې ګوتې يې په خپل فرج کې دننه کړې ، بيا يې دحيض په وينو ککړې ګوتې دبندي په مخ او کميس پاکې کړې او

ورته ویې ویل چې ماسره دې زنا ونه کړه آخر مې حیض راغی زه به تاسره کارلرم چې په همدې ګونا یې انفرادي زندان ته ولېږه ....

_۱۶ : دتحقیق په کوټه کې دیوه بندي په مخکې یوې محققې دترجمان سره زنا وکړه .

_۱۷ : دتحقیق ددوه کوټو منځ کې ښیښه وه چې کومه کوټه کې تیاره وي هغه نه ښکاري او کومه.کې چې رڼاوي هغوی ښکاري. دښیښې شاته یو عسکر جامې وایستلې بیا شاشاته راغی او خپل شاتنی عورت یې په ښیښه کېښود چې بندي یې وګوري اونور ناوړه حرکتونه یې هم وکړل .

_۱۸ : دوه امریکایي عسکرو دتحقیق په کوټه کې دبندي په مخکې لواطت کړی دی .

_۱۹ : زما ورور استاذبدر وایي چې په قندهار کې یوپوځي زمونږ دخېرګي سره نږدې ولاړو او دکمپ په یوه ګوټ کې دلرګیو دلوړې مورچې نه بل پوځي په دوربین کې ورته رالیدل ، دغه لاندې عسکر چې کله ولیدل چې هغه ورته په دور بین کې راګوري نو پتلون یې ښکته کړ ، هغه ته یې شاورواړوله او دخپل مقعد لورته یې ګوته ونیوه چې داوګوره اودلې وخت لهپاره همدغسې بربنډولاړ و ....

_۲۰ : ماخپله داسې څوک نه دي لیدلي چې جنسي تېری ورسره شوی وي خو بندیانو کې داخبره مشهوره وه چې ځینوبندیانو باندې امریکایانو جنسي تېرې کړی دی او ځینې یې دتحقیق په وخت کې په جنسي تېري کولو تهدید کړي دي .

۲۱ـ مخکې تېر شو چې قندهار کې يو امريکايي عسکر دانسان وچه ګندګي لاس کې نيولې وه او بنديانوته به يې ويل چې داوخورئ!

۲۲ـ يو عرب په سطل دانساني حاجت دپوره کولو له پاره ناست ؤ عسکر وربـاندې بيره کولـه آخر کې چې کله بندي په کاغذ استنجا کوله نو عسکر ورته وويل چې خوله خونه ده چې خوراک پرې کوې ... خو هسې هم ګنده وي .

۲۳ـ يوې ډاکټرې بندي ته دوا ورکړه بياداسې ښکېناسته لکه قضاء حاجت ته چې کښيني لاس يې خپل عورت ته ونيوه اود خولې ډر يې ورسره وکړ.

دامـريکا يـې پـوخ د بداخلاقـۍ دومـره زيـاتې کيسـې دي چـې يوکتاب ترې جوړېږي مونږ داڅو بېلګې دساري په توګه وليکلې.

# دامريکايي پوځيانو ټولواکي

پـه باګـرام ، قـندهار او ګوانتـانامو کـې دامـريکا پوځـيان دومـره کاواکـه او ټولواکـه دي چې قـانون دهـر عسـکر اوپوځـي پـه خپل لاس کې دی ، هـرڅه يـې چې خوښـه شي کـوي يـې ،هـيڅوک نشـته چې پوښتـنه تـرې وکـړي. پـه هر بـندي يـې چې هرڅه وکړل اوهرڅه يې چې ورېسـې ولـيکل هغـه سم ګڼل کېږي او عملي کېږي ډېر ځله بنديان په نـاکړي کارمجرمان ګڼل کېږي او جزاورکول کېږي. کـه يو عسکر په کـوم بـندي هرډول دعـوه وکړي که هغـه سوچه درواغ وي او ټول بلاک پرې ګواهـي وکړي ، دبـنديانو دريښتـيا ګواهـۍ تـه هـيڅ ارزښت نـه ورکـول کېږي او دعسـکر درواغ ريښـتيا ګڼل کېږي . زه دکولف بلاک

دسر او لومړۍ پنجره کې وم دڅو کېدارو عسکرو کښېناستل پاڅېدل ، دخوراک وېش اونور ډېر کاورنه زمادپنجرې په خواکې کېدل . مادهغوی ټول کړه وړه په زیر څارل او هغه څه مې لیدل چې.لرې بندیانونه لیدل .ډېر ځله به عسکرو ځینې خوراکې توکې بشپړ په ټرش بېګ ( دډېران کڅوړه ) کې واچول اوپه بندیانو به یې ونه وېشل. کوم به یې چې وېشل نو هم پوره به یې نه وېشل اولږ لږ به یې وېشل . کله کله به چې ایشولې هګۍ یانور داسې څیزونه راغلل چې دهغوی به خوښ وو نو څه به یې وخوړل او څه به یې جېبونو ، بېګونو او ګیلاسونو کې پټ کړل او دبل وخت له پاره به یې وساتل .

# تالاشي

له پېښوره واخله ترګوانټنامو اوبیرته راتګ پورې هرځای سخته تالاشي وه. دپېښور په هوایي ډګر او باګرام کې امریکایانو عجیبه تالاشي کوله ! ګوتې به یې دبندي په بدن ایښودې او رپولې ، بیا به یې بل ځای ایښودې. لاسونه یې په بدن نه راښکودل اوداهم له دې وېرې چې څه چاودېدونکې مواد بدن پورې تړلي نه وي ! اودلاس په راښکودلو هغه وانه لوځي !. هرنوي ځای ته به چې لاړو جامې به یې رانه وایستلې اودټول بدن تالاشي به یې وکړه .ددومره سختې تالاشۍ سره سره به بلاکونو او پنجرو ته رانوتل او هرڅه به یې تالاشي کول. تردې چې په پنجره کې کمود کې به یې هم لاس ننه ایستل. که معمولي دخوراک شی به یې هم بندي سره پیداکړ نو بیا

به يې جزايي كاوه . دتحقيق بلاك ته دبوتللو په وخت كې به يې دبندي او پنجرې دواړو سخته تالاشي كوله، دبندي پرتوګ ( پتلون ) به يې ددواړو خواوو دبډې نه ونيوه اوښه به يې وڅنډه په لومړيو ورځو كې به يې په عورت هم ګوتې وهلې بيا مونږ سختې مظاهرې وكړې چې داكارزمونږ ددين او ثقافت نه بېخي خلاف دی ، داپه هيڅ ډول نه شو منلای . دډېرو مقابلو او ځورونونه وروسته بيا په عورت لاس وهل بند شو خو دپرتوګ څنډل او نوره تالاشي هماغسې ترآخره ډېره سخته جاري وه . كله كله به يې هغه سپي هم راوړل چې بارود او نورخطرناک څيزونه په بوی كشفوي . الله تعالى دامريكايانو په زړونو كې دمسلمانانو دومره رعب او ډار اچولی دی چې عقل يې ترې اخيستی دی . دا فكر نه كوي چې بنديانو سره بارودله كومه شول ؟ اودې دومره تالاشيونه دراتېرېدلو او څو ځل لغړولو نه وروسته بندي خطرناک شيان او يا وسله له كومه كړه ؟!.

# دبنديانو جزايي كول

دګوانتېنامويه زندان كې په معمولي خبره اوكله كله بې موجبه هم بنديان جزايي كېږي هلته امريكايي پوځيان هريو ټولواک دی او قانون دهريوه په خپل لاس كې دی . هرڅه يې چې هر بندي سره وكړل پوښتنه نشته . كه دټول بلاک بنديان ديوبندي په هكله يوه خبره وكړي دهغه تصديق نه كېږي اوددرواغجن عسكر خبره سمه ګڼل كېږي . هلته څو ډوله جزاګانې دي : يوه داچې دڅو ورځو له پاره ورڅخه كمپل او څادر واخلي او په وچه اوسپنه پاتې شي . زه هم څو

ورځې له دې امله پوې عسکرې ښځې جزايي کرم چې ناروغ دم نرس چې کله دواراوړه نو دبلاک عسکرې چې سرجنه ( دعسکرو مشره ) هم وه راته وويل چې اوبه راواخله او زمامخکې دوا وخوره! ماورته وويل چې دوا راکړه زه پخپله اوبه را اخلم اودوا خورم ستاپه کې کارنشته . نرس دوا راکوله خوسرجنې ورته وويل چې مه يې ورکوه ! ما سرجنې ته وويل چې ( ډرټي بيچ ) ( چټلې سپۍ ) هغه روانه شوې وه خوداخبره يې چې واورېده راوګرځېده او راته ويې ويل چې څه دې وويل ؟ ماورته وويل چې ( ډرټي بيچ ) هغه غوسه شوه لاړه دوايې هم رانه کړه اوپه کتاب کې يې راپسې ليکل کړي وو چې سباته څو ورځې جزايي شوم . مونږ ته الحمد لله داجزاګانې هيڅ نه ښکارېدې . بل ډول جزاداوه چې انفرادي ته به دڅو ورځويامياشتو له پاره لېږل کېده . همدارنګه دايکو کمپ تورو تېوتياروکوټو ته لېږل هم جزاوه چې دمحققينو له خوالېږل کېدل . اود" روميو" بلاک ته لېږل هم سخته جزاوه چې تفصيل يې مخکې تېر شو . همدارنګه درېيرو خريل ، يويوساعت وروسته پنجرې بدلول او شپه او ورځ خوب ته نه پرېښودل هم دجزا ورکولو له ډولونو څخه وو. داسې هم شوي دي چې ټول بلاک باندې يوه ورځ ډوډۍ بنده شي . دروغتون نه بې درملنې را ايستل ، ددرملوبندول او نور ډول ډول طريقې دجزاورکولو له پاره تاکل شوې وې .

دجزاورکولو يوه طريقه داهم وه چې دتحقيق نه وروسته يابې له تحقيقه به يې بندي دتحقيق په کوټه کې دڅو ساعتونو له پاره دموکې پورې تړلی پرېښود تردې چې په هماغه ځای به يې حاجت هم

رفع کړ. ماسره دوه ځل داکاروشو چې دخوساعتونو له پاره يې تړلی دتحقيق په کوټه کې پرېښودم تش حاجت سخت په تکليف کړم اونړدې وو چې مثانه مې وچوي ترپښتو رګيومې دردونه ورسېدل ، عسکروته مې ډېرې چغې ( MP ) ( MP) ووهلې خو هغوی او محققينومې په ښيښه او کمپيوټر کې سيال کاوه اونه راتلل. اخر مجبورشوم نږدې په مېز داوبو بوتل ايښی و محقق ورځخه اوبه څښلې وې اوتش پاتې و هغه مې په ډېر تکليف را واخيست او تش حاجت مې په کې وکړ. ښه مې ډک کړ سر مې .پرې ټينګ کړ اوپه مېزمې کېښود ، کله چې عسکر راغلل نو ورته ومې ويل چې داجوس نمبر ون دی . عسکرو به تش حاجت ته نمبرون او غټ ته نمبر ټو وايه نو ځکه مې ورته وول چې دانمبرون شربت دی . ( ټام ) ته مې چې کله داکيسه وکړه هغه راته وويل چې کله کله داسې کېږي ماهم يوه ورځ په موټر کې دچاتعقيب کاوه او ميتيازې راغلې نو که اودرېدم هغه راځخه پناکېده ماهم همدغسې ستاپه ډول بوتل کې وکړې .

# دقرآن کريم توهين اوسپکاوی

په باګرام اوقندهار کې دقران کريم سپکاوی دامريکايي پوځيانو معمول و او هره ورځ او بيا بيا به يې په تکرار کاوه . دتالاشۍ په نامه به رانه وتل بنديان به يې يوې خواته په زنګنو اودرول ، لاسونه به يې په سرکېښودل ،هغوی به کمپلې واړولې راواړولې، خاورو کې به يې اخوا ديخوا ګوزارې کړې، قرآنونه به يې واړول راواړول او بيا

به يې په خاورو خواره واره ګوزارکړل . په قندهار کې استاذ بدر ورته يوه ورځ ويلي وو چې تاسو داقرآنونه ولې داسې په بې عزتۍ په خاورو کې خواره واره واچول ؟! يو عسکر ورته وويل چې ښه دادی راځول به يې کړو بيايې په پليته پښه اوپليت بوټ يوبل ته ورځېل وهل اوويې ويل چې دادی راټول مې کړل . ! يوه عسکر قران کريم راواخيست بندي ته يې وښود او ورته ويې ويل چې ګوره چې زه ستاسو دمقدس کتاب بې عزتي کوم ته څه کولای شې ؟ بيا يې دانساني ضرورت درفع کولو دغټو او وړوحاجتونو نه ډک سطل کې ورواچاوه ، بندي ورته وويل چې زمالاسونه او پښې تړلي دي که نه مابه تاسوته ښودلي وو چې زه څه کولای شم ؟ يوبندي په باګرام کې امريکايي پوځي ليدلی ؤ چې په قرآن کريم يې پښې ايښې وې اوبيايې سپی پرې اودرولی ؤ !!!!. په ګوانتنامو کې به يې هم قران کريم په هره پنجره کې دتلاشۍ په وخت کې په بې عزتۍ اوبې پروايۍ واړاوه راواړاوه اوبيابه يې ګوزار کړ . يو ځل يو عربي دتحقيق نه راغی او ډېر خفه و مونږ وپوښته چې ولې خفه يې ؟ هغه وويل چې نن امريکايي محقق زماپه مخ کې قران کريم راواخيست ، خلاص يې کړ، دبوټ سره پښه يې پرې کېښوده او دقندهار دعسکر په څېر يي راته وويل .ماهم هماغسې ځواب ورکړ .

· له دې خبرې چې بنديان خبر شول نوټولو بلاکونوته يې غږونه وکړل اوټول کمپ په مظاهرو لاس پورې کړ.

# مظاهرې او د نه خوراک اعتصابونه

په نورو ګڼو مواردو کې هم مظاهرې او دنه خوړلو اعتصابونه وخت په وخت کېدل خو دقران کريم په مسئله کې ټول کمپ په اتفاق او يوه خوله مظاهرې پيل کړې او سخت زور يې واخيست .دمظاهروشکل داو چې دګرځېدلو ځاى ته به نه وتلوو، تحقيق ته به نه تلوو، اوسپنيزې پنجرې به مودربولې ، دتکبير نعرې به مو وهلې ، دبلاک منځ کې کوڅه کې به چې کوم عسکر ، ضابط او جنرال پورې ځوک تېرېدل اوبه به موپرې ورشيندلې ، لاړې به مو په مخ ورتوکولې ، تردې چې ځينو نارامانو به په کاغذي ګيلاس کې اودس ماتى وکړ اوچې کوم يو امريکايي به دپنجرې مخې ته تېرېده نوپه دې مخ به يې ښه په زور وروشيندلې، هغه به ټول ککړوکړشو ، وبه پرنجېده ، بش، ددفاع وزير او نورو مشرانو ته به يې کنځلې وکړې اووبه يې ويل چې هغوى په ارام ناست دي اومونږ يې له ستونزو سره مخ کړي يوو. عسکرو به دکمپ جنرال ته سختې کنځلې کولې اوويل به يې چې داټول کاردهغه دى. ترجمانان يې راوغوښتل مونږ ټولو ورته په يوه خوله وويل چې جنرال به معافي غواړي او وعده به کوي چې بيا به دقران کريم بې عزتي نه کېږي. نه به يې تالاشي کېږي اونه به عسکر لاس وروړي، هغوى دانه منله ښېړني عسکر يې راوغوښتل ټېنکونو اوتوپونو دکمپ چاپيره مورچې ونيوې، دولس کسيزه ضربه قوه به راغله پولادي واسکټونه ، خولۍ او دمرمۍ ضدجامې به يې اغوستې وې مخونه به يې په نه ماتېدونکيو ښيښو کې پټ وو ،

لویې لویې پلنې پلنې دفاعي ښیښې به ورسره وې ، دجنرال په لاس کې به اوښکې راوړونکی ګازوبندي نه به یې پوښتنه وکړه چې اوځې که نه ؟ هغه به وویل : نه ، ترڅو چې تاسودقرآن کریم بې حرمتي کوئ اونه منع کېږئ زه نه اوځم ، بیا به یې دګاز سپرې راباندې وکړه زمونږ مخونه به وسول سترګې به مووسوې ، اوښکې به ترې بهېدې اوسابه مو بنده شوه ، په دې وخت کې به یو عسکر دپنجرې قلف بیرته کړ ، دروازه به یې خلاصه کړه اونوربه په بندي ناڅاپي ورننوتل، دلویو ښیښوپه واسطه به یې ځملاوه ، لاسونه به یې په ډېرتشدد ورته شاته وتړل چې دځینو بندیانو لاسونه اوګوتې هم ماتې شوی دي ، پښې به یې وتړلې اوزنګه زولې به یې واخیسته، په لارې کې به بندي دتکبیر نعرې وهلې ، نوروبندیانو به ورته دعاوې کولې، معنویات به یې ورلوړول او عسکروته به یې ستغې سپورې ویلې ، بندي به یې دبلاک آخر کې دګرځېدولویې پنجرې ته ننه ایسته ، هلته به یې ګیره ، سر اووروځې وچ وروخریل ، اوبه به یې پرې واچولې اوبېرته به یې پنجرې ته وردننه کړ ، مااو زما ورور (استاذ بدر) الله تعالې په دې موفق کړو چې هریو په خپل و اردپنجرې نه کوځې ته ورووتو ، عسکر سخت ووېرېدل ، ښیښې یې له لاسوپرېوتې مونږ ورسره لنډه شېبه زوروواهه یویوعسکرموراځملاوه خویبا راډېر شول اوپه ډېر تشدد یې وتړلو، دباندې پنجرې ته یې بوتلو ، هلته یې ګیرې ، سرونه او وروځې راوخریلې په سترګو ، مخ او خوله کې یې په ډېر سخت فشار دپیپ په واسطه اوبه را واچولې . تردې چې ساموبنده شوه اودمرګ لحظات مو محسوس کړل . بېرته

يې زنګه زولۍ يوړو، په لاره کې مودتکبير ونو چغې وهلې ، دژامنې لاندې يـې دغتـې ګوتـې پـه واسـطه سـخت فشـار راوړ چـې زمونـږ دتکبيرونو نعرې بـندې کړي، عربانو هربندي ته ويل ( والله يحفظك يـا اسـد) ( اى زمـريه الله دې وسـاتـه ) ټـول کمـپ سراسـر نعـرې ، درزاراومظاهرې وې . ټول بنديان دقرآن په خوا اودرېدل . يواځې درې ځلـور کسـان چـې يوپـه کـې دآی ايـس آی ګوډاګـی حاجـي روح الله و هغـوی دقـرآن پـه خـواو نـه درېـدل ؛ ګرځېدلو او تحقيق تـه لاړل. ټولو بـنديانو ورتـه دمـنافق ، عـدوالله ، خبيث او ... چغې وهلې . هغوی دا ګومـان کـاوه چـې مونږ په دغـه مظاهروکې ګډون ونه کړو نو درغلۍ او جرمونـه بـه مويـټ شي ، امـريکايان بـه راځخه راضي شي اوخوشې بـه موکړي . خوچاچې په خپل دين غيرت ونه کړاودالله غوسه يې دانسان پـه رضـاکې ولټولـه نـو هغـه ، هم دالله دغضب او عذاب مستحق شي او هم انسانان وربانديې غوسه کړي ...

دې مظاهرو څو ورځې دوام وکړ. د ضر بې قـوې يـوه ډلـه بـه چـې ديـوه بـغدي دايستلو پسې راغله بيابه دومره ستړې شوې وه چې دوهم ځل بـه نـه راتلـه. بـيا بـه بندي پسې نوې ډله راتله . آخر پوځيان ستړي شول، مـاتې يې ومنله او وعده يې وکړه چې بيا بـه نـه دقرآن کريم بې حرمتـي کېـږي ، نـه بـه عسـکر قـرآن کريم تـه لاس وروړي اونـه بـه يـې تالاشـي کـوي . زمـا دراخلاصـېدو پـورې بياداسـې کومـه پېښـه نـه وه شـوې خـو احـتمال يـې هروخـت و .او اوس چـې زمونـږ دازادېدونـه وروستـه ځيـنې بـنديان راغلي دي نـو هغوی وويل چې پنځم کمپ کې

بیا یو عسکر بندي وهلی او قرآن کریم یې ورځه په ځمکه ګوزار کړی دی .

# الله تعالی سره دبندیانو درابطې دغوځولو هڅې

څرنګه چې دګوانتېنامو په زندان کې الله تعالی سره دبندیانو رابطه ډېره غښتلې ده ، لمونځونه ، تلاوتونه ، روژې ، دعاوې ، ذکر او اذکار هلته دهر بندي دژوندپیاوړې برخه ده، نوله همدې امله الله تعالی دبندیانو په زړونو کې یو ډول داسې اطمینان او ډاډ اچولی دی چې په کورونو کې هغه نشته . همدې خبرې دبندیانو دمقاومت ځواک غښتلی کړی دی او امریکایانو هم داخبره محسوسه کړې ده، نوهغوی هڅه کوي چې الله سره دبندیانو رابطه غوڅه کړي اودې له پاره مختلفې حربې استعمالوي . عبادت اخلالول ، دښځینه عسکرو ناوړه حرکتونه ، تحقیق کې دبربنډو او جنسي انځورونو دمجلو راوړل ، اودمحققینو داسې خبرې کول چې العیاذ بالله ستاکاردالله په واک کې نه بلکې زماپه واک کې دی ، الله نشته ، الله دې تامانه خلاص کړي ، هسې ددین په خبرو چاغولولی یې اوداسې نور ....

دقرآن کریم توهین ، دګیرو خریل اونور ګڼ هغه حربې دي چې امریکا یان یې دذهني فشار اوالله سره درابطې دغو څولو له پاره په کار راوړي .

# په بنديانو کې د بې اتفاقۍ د پيداکولو کوښښ

امريکايانو داکوښښ هم کوي چې بنديانو کې بې اتفاقي پيداکړي. دعربو او عجمو ترمنځ ، دژبني توپيرونو اونورو ګڼو اختلافونو له لیارې غواړي چې اختلاف پيداکړي .

يو ځل يې زمونږپه ليما بلاک کې افغانان ټول يوه سرته په لومړنيو پنجرو کې اوعربان بل سرته په وروستنيو پنجرو کې واچول . يو عرب چې" شاکر" نوميده دمدينې منورې و اوډېر محرک شخص و بنديان به يې اعتصابونو او مظاهرو ته هڅول دهغه انځورېې ديو کاغذ په مخ کښلی و او ورسره يې ليکلي وو چې : ( المنافقون ) داوړه پرچه يې رانغښتې وه ، دسګرټ په څير يې توته کړې وه اودهر افغان دپنجرې دباندينۍ جالۍ په لاندې اوسپنه يې دشپې له پلوه ايښې وه. مونږ چې کله قيام الليل اودسبالمانځه ته راپاڅيدو چې ګورو دسګرټ په څير يو نچه شوی کاغذ ايښی دی . کله مو چې راواخيست او ومو سپړه چې ګورو د"شاکر"دغه انځور په کې و . دعبدالهادي په هکله يې هم دغسې انځورجوړکړی و .خو دې ټولو په بنديانو هيڅ ناوړه اغيزه ونه کړه بلکې دامريکايانو کينې اوپلمې لارا څرګندې شوې. مونږ هغه انځورشاکراو نورو عربانو ته ورکړل اوټول له کيسې خبرشول .

په تحقيق کې يې ډېر بنديان دې ته هڅول چې دځينو نورو بنديانو په هکله کينه ورسره پيداشي اويو په بل ووهي .

# دسره صلیب کړنلاره

پېښور کې دآی ایس آی په پټ جېل کې خو هیڅ چاته اجازه نه وه چې مونږ سره ملاقات وکړي، یا زمونږ لیک چاته ورسوي او یا زمونږ له کوره مونږ ته لیک راوړي .

دقندهار ، باګرام او ګوانتنامو په امریکایي زندانونو کې نور هیڅ چا ته اجازه نه وه ، یواځې دسره صلیب کارکوونکي به راتلل . دهغوی هم بل هیڅ ظاهري کار نه و یواځې لیکونه به یې بندیانونه اخیستل او امریکایي پوځ ته به یې حواله کول، نورنه زمونږ بشپړلیکونه کورونو ته رسېدل اونه له کورونو څخه مونږ ته بشپړ لیکونه رارسېدل، په سلو کې تقریبا درې لیکونه زمونږ او په همدې تناسب دکورونو تلل راتلل اوراغلي لیکونه به نیم وهل شوي وو نور چې کله مونږ ګوانتنامو ته ورسول شوو نو په لومړیو ورځو کې هرېندي سره سره صلیب خبرې وکړې خوخبرې یې په داسې انداز کې وې چې دامریکایي محققینو هم ژورې او پېچلې وې . داسې پوښتنې یې کولې چې دیوې خیریه مؤسسې سره هیڅ اړیکي نه لري بلکې داسې برېښېدل لکه چې داهم دامریکایي تحقیق یوه مرحله وي .

په قندهار کې یو امریکایي پوځي نه بندیانو پوښتنه وکړه چې تاسو دبندیانو ډېرې او وروځې ولې وخرېیلې ؟ هغه وویل چې دامشوره زمونږ مشرانو ته دسره صلیب کارکوونکیو ورکړې ده .

دسره صلیب سره ملاقات هم دتحقیق غونډې و چې په زنځیرونو کې به بندي یوې تیاکلي کوټې ته وغوښتل شو اوهلته به دصلیب کارکوونکیو ورسره خبرې کولې . یو افغاني دسره صلیب مسئول سره په دغه ځانګړې کوټه کې ناست و اوخبرې یې ورسره کولې ، دسره صلیب مسئول افغاني نه پوښتنه کړې وه چې ته په کوم مذهب یې ؟ هغه ورته ویلي وو چې زه دامام ابو حنیفه رحمه الله په مذهب یم . دسره صلیب مسئول ورته لاس وراوږد کړی و او ورته ویلي یې وو چې پنجه واچوه زه هم دامام صاحب په مذهب یم او زه افغانستان ته تللی وم هلته مې په بامیانو کې امام صاحب ولېد په تایې سلام هم وایه !.

هغه بندي ورته وویل چې امام صاحب خودولس سوه کاله مخکې وفات شوی دی نوتاڅرنګه په بامیانو کې ولید ؟ هغه وارخطاشوی او خجل شوی و بیا یې ویلي وو چې داخبره پرېږده خبره یې بدله کړې وه اونورې خبرې یې پیل کړې وې .

نودصلیب مسئول هسې اورېدلي وو چې مسلمانانو کې مذهبونه دي نورېې په حقیقت نه و پوه او ګومان یې کاوه چې داګنې سیاسي حزبونه دي نو ددې له پاره چې دبندي دلچسپي زیاته کړي داخبره یې ورته کړې وه . داځو بېلګې وې نوردسره صلیب کړنلاره تېوله تګې ، برګي اودرغلي وه .

# نیمګړې خطونه

مونږ دواړه ورونه دګولف بلاک کې وو چې دکورنه لومړی لیک استاذبدر ته راورسېد ،زه یې دنورو بندیانو له لارې یوبل ته دغږ په تسلسل خبر کړم اوزیات خوښ شوم. دلیکونوداسلسله دبندي کېدونه (۱۱) یوولس میاشتې وروسته پیل شوه . څو ورځې وروسته ماته هم دکورنه لیک راورسېد . اواستاذ مې خبر کړ.

بندیانو کې به چې هرچاته له کورنه لیک راغی نوزیات به خوښ و اونوروبندیانوبه ورته مبارکي ورکوله . کله کله به هغه نوروته هم ولوست اوکله کله به یې دپنجرې دجالۍ له لارې نږدې بندیانوته دلوستلو له پاره هم ورکړ.

لومړیو وختونوکې به چې مونږ ته لیک راورسېدنو ( ۸_۹) اته نهه میاشتې به پرې تېرې شوې وې بیاوروسته په دوه ، درې یاڅلور و میاشتو کې یوځل مونږ ته دسره صلیب له لارې لیکونه راکول کېدل خو نیمګړي به وو، یوداچې ټول هغه لیکونه چې له کورونو راتلل هغه مونږ ته بشپړ نه راکول کېدل ماته زمازوی عبدالاحد په یو لیک کې لیکلي وو چې زه په اونۍ ( هفته ) کې یو لیک درلېږم اوداځکه چې پېښور کې زمونږ کوردسره صلیب دفتر ته نږدې و، نوپه میاشت کې څلور لیکونه یواځې دعبدالاحد شول دنوروزامنو ، ورونو ، خپلوانو

اودوستانو چې ورسره کړې نوډېر زيات رالېږل کېدل خو مونږ ته په دوه درې مياشتو کې ايله يو يادوه ليکونه راکول کېدل . داسې بنديان هم وو چې په کال کې يو ځل يادبند په ټوله موده کې يوليک ورکول شوی و اوداسې بنديان هم وو چې دبندپه ټوله موده کې يو ليک هم نه و ورکول شوی .

کوم يو ليک به چې مونږ ته راکول شوهم نيم يادنيم نه څه لږ ياډېر به په قلم ويجاړ شوی و اونه به لوستل کېده . کله کله به ځينو بنديانو په څه چل هنر ومښه اودلوستلو وړبه شو خو اکثره نه لوستل کېدل . وروسته بيا په کمپيوټر ورانېدل چې دلوستلو هيڅ امکان يې نه و. ځينې هغه وهل شوي عبارتونه چې مونږ ولوستی شول هيڅ ددې وړنه وو چې امريکايان يې ووهي خودسختې کينې لـه امله يې وهلي وو . لکه داحترام الفاظ به يې وهلي وو اوددې معنی داده چې تاسو محترم نه ياست . يوليک کې زما زوی مونږ ته ليکلي وو چې مونږ ځينو اخبارونو کې ولوستل چې امريکااعلان کړی دی چې : " ټول بې ګونا بنديان به ډېر زرخوشې شي " له دې عبارت نه يې د" ټول " کلمه وهلې وه معنا داچې کـه بې ګونا هم وي ټول به نه خوشې کېږي بلکه ځينې بې ګونابـه هم پـه بندکې پاتې کېږي . وروسته بيادليکونودځنډموده رابښکته شوه شپږ، پنځه ، څلوردرې اودوه مياشتو تـه راغلـه . هغه ليک چې دبندي دکور خلکو به

لیکلی و لږ ترلږه دوه میاشتې وروسته به بندي ته نیمګړی په لاس ورغی . دادوه میاشتې یازیاتې ټولې دلیکونوپه لټون او چاڼ لګېدلې چې ژباړونکیو به ژباړل بیابه امریکایي مسئولینو په کې فکر کاوه چې چېرته بندي ته نوی خبریا څه پیغام په صراحت ، کنایه ، رمزیا اشاره کې نه وي لیکل شوی. دټولو لیکونو تقریباً یوډول عبارتونه او محتوا پرېښودل کېده چې مونږ ښه یوو او ستاسوروغتیا غواړو، سلام او دعاء . کله کله به ددعاء عبارتونه هم وهل شوي وو په دې ټولو کې له یوه پلوه دامریکایانو بزدلي وه چې دلیکونو دځینو عبارتونو او پېغامونو نه وېرېدل اوله بله پلوه یې بندیان ناخبره ساتل اوذهني درد او اندېښنې یې ورته پیداکولې . دځینو هغو لیکونو بېلګې چې مونږ ته نیمګړي راکول شوي دي او امریکایانو وهلي دي :

## 5. MESSAGE

**پیغام**

*Family and/or private news only*

احوال خانواد گی که محض ماهیت شخصی داشته باشد
کورنی پیغام چه بوازی شخصی احوال بیان کری

بسم الله الرحمن الرحیم

د قدر وړ والده، ورونه، خوندې، د کور نور ټول اهل الصفاء لوی او واړه
د کورنۍ مشرانو او کشرانو، ملګرو او دوستانو، خپلوانو او عزیزانو
السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته ـ

ستاسو له خیره زه هم ښه یم. دا ځای ورورونه روغ رمټ یو او ستاسو روغتیا او
خوشبختي هم غواړم. د همیشه دپاره د الله پاک نه غواړم. هیله ده چې روغ او
نه یم. خطونه شاید د ډیر وخت لپاره تاسو ته نه وي دررسیدلي هم زما ستاسو
خطونه هم څو میاشتې کیږي نه دي راغلي. د ... خاوندان [redacted]
[redacted] فقط د عبد الماجد او فضل الله راغلی. په هر صورت
تاسو تشویش هم کوی د ما شو ... خیال ساتي. ستاسو
د خوا اطمینان هم را رسیدلی دی الله دی تاسو موافق کړي. زه هم نه یقین
دی چې تاسو تیرې دعا ګانې کوئ. زه هم ټولو دوستانو او ملګرو ته هم دعا
ته غوښتنه کوم. [redacted]
[redacted] والسلام
ستاسو د دعاو طالب ... برادر

6.

Date 204-02-03 { تاریخ / نېټه Signature ............ { امضاء / لاسلیك

CLEARED BY U.S. FORCES

The addressee is my ............ { نسبت خانواد ... / اخیستونکی سره کورنی اړیکی

GUAN2004I 01953

**5. MESSAGE**

پیغام

*Family and/or private news only*

خاندانی اطلاعات فقط ذاتی نوعیت کی

APPROVED BY US FORCES

AUG 3 0 2004

JTF/ JDOG S-2
GUANTANAMO BAY CUBA

بسم الله الرحمن الرحیم

ډېر محترم او قابل قدر والد صاحب — السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

دې لیک تر لیکلو پورې مونږ ټول لوی واړه د الله په فضل او
کرم سره ژوندي روغ یو او ستاسو صحت او خوشحالي او ازادي د
الله جل جلاله څخه همیشه لپاره غواړو.
دا ځل موده کېږي هیڅ خط خبر مو نشته چې له امله یې
مونږ په تشویش کې یو [redacted]
لیکن څېله ستاسو خط دا پنځه
میاشتې کېږي چې نه دی راغلی [redacted]
زه خو تاسو ته خطونه وخت په وخت درلیږم لیکن
الله خبر چې در رسیږي او که نه؟ نور ټول ماشومان روغ جوړ دي
خپل سبقونو وایي هیڅ قسم مشکل نشته. دعا را ته کوئ د
استقامت الله مو خوشحاله لره — د ټول خپلوانو او دوستانو
سلامونه قبول کړئ

6.

Date 04.05-2004 تاریخ ~~Signature~~ [signature] دستخط

The addressee is my ~~father~~ وصول کرنے والے سے رشتہ

## 5. MESSAGE

GUAN2004B 04243

پیغام

*Family and/or private news only*

احوال خانوادگی که محض ماهیت شخصی داشته باشد

کورنی پیغام چه یوازې شخصي احوال بیان کړي

نومیالیو او محترمو هر یو محترمې والدې [redacted]

د کور ټولو یو څو هېلوا نو دوستانو او کلیوالو ته له مینې د ډک او

پوا ځینې سلامونه ورسېږم السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

APPROVED BY US FORCES

او ورو ستاسو ته سلام ... برېږا خوشحالي ځای دادم

نور قو خاطر جمع نشته ... په هکله هیڅ تشویش مه کوئ داسیر یا ټوده

را ... [redacted] ان شاء الله ... زه به هم ان شاء الله در شم

OCT 11 2004

او بیا به سره ... ستاسو ... خوشحال شوم د

[redacted] زما خوا ... بېنځي

لهره ده تاسو هیڅ ډول تشویش مه کوئ ما سره د خوشحالی کېږد ووعده شوې ده

پوځل به بیاد خوښی په فضاکې سره کېښېنو د خپل کور او ما شو ما نو خیال ساتئ

د دې خط سره دا یو شعر هم ضمیمه کوم چې تاسو یې ولولئ او د خوښی سره

پوه خوښیږ بلهم ... په امان الله ... سیار م

۱۴۲۵/۸/۱۲ هـ ق

6.

Date 28/9/2004 تاریخ نیټه Signature عبدالرحیم } امضاء لاسلیک

The addressee is my ....... } نسبت خانوادگی با گیرنده اخستونکی سره کورنی اړیکې

GUAN2004B 05301

MESSAGE

11. REPLY TO THE MESSAGE

ځواب/جواب

Family and/or private news only

احوال خانوادگی که محض ماهیت شخصی داشته باشد

یوازی پیغام چه یوازی شخصی احوال بیان کړی

APPROVED BY US FORCES

JAN 29 2004

[redacted]

او دکور

نورو ټولو عزیزانو ته!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

د سلام نه وروسته زه الحمد لله روغ رمټ یم او تاسو د الله تعالی

چست او چالاک غواړم او د شپږ وارو اختر او اتلو نکي لوی اختر

مبارکي درته وایم. ستاسو خطونه هم ما ته را رسیدلي او زما ټکوړ

به هم درته رسیدلي وي در غلي خو بدر الزمان به درته حال احوال ویلي وي

نور کوم خاص خبره نشته زه د خپل لوری نه پوره دادمن یم

لکه څنګه چې بدر الزمان درته ووایه به هم ان شاء الله درځم.

زما سلام والدې او نورو دوستانو ته وایاست په الله تعالی مو

سپارم. ستاسو د خوښۍ او خیر په هیله

لاره سخته پرا اوږده شپه ورپسې ده

د ژوندون کاروان د هیلو سره درومي

۱۴۲۵/۱/۱۹ هـ ق

12.

Date ۲۰۰۴/۰۳/۰۲ م { تاریخ نیټه

Signature عبدالرحیم مسلم دوست { امضاء لاسلیک

The addressee is my ........ { نسبت خانوادگی با گیرنده اخیستونکی سره کورنی اړیکی

561

**11. REPLY TO THE MESSAGE** APPROVED BY US FORCES GUAN2004D-0251

جواب/ځواب

*Family and/or private news only*

احوال خانوادگی که محض ماهیت شخصی داشته باشد

کورنی پیغام چه یوازې شخصي احوال بیان کړي

NOV 19 2004

[redacted] نه منم چې تور شم د بلا په تور

[redacted] دوست خپلو وګړو ته عزت کښې

ښاغلي عبدالکریم، معاذ، جابر، فیصل، عبدالسلام، عبدالباسط، شعیب،

یوسف، ثاقب، سلیمان، طارق، زبیر، ادریس، عبدالبصیر، عبدالمعز،

زهراء، عبدالله، عبدالوهاب، عبدالأحد، مجاهد، فضل قادر، لطیفې،

مریم، فاتحې، استاذ بدرالزمان، حاجي مسیح الزمان، ښاغلي سید محمد،

[redacted] محترمې والدې او نورو ټولو لیرو او نږدو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

د سلام نه وروسته زه د خپلې روغتیا او خوښۍ درته احوال درکوم او ستاسو د ټولو

روغتیا، خوښۍ او بریا د الله تعالی نه غواړم د راتلونکي واړه اختر او

وروسته د لوی اختر مبارکي درکوم، خو ډېره خبره نشته د سره صلیب مسئولین

وايي چې د مونږ د امریکایانو سره ترون کړی دی چې ستاسو لیکونه به تحواله

شان نه وړاندې او زر به رسیږي [redacted] سه‌شنبه

31/7/1383 هـ ش

12.

Date 28/9/2004 تاریخ / نېټه    Signature عبدالرحیم امضاء / لاسلیک

The addressee is my ورور، پلار، زوی، لور    نسبت خانوادگی با گیرنده / اخستونکي سره کورنۍ اړیکي

نو له همدې امله له څه مودې وروسته ما دګوانتنامو په زندان کې دنیمګړیو لیکونو په هکله داشعرویلی و :

## نیم خبر

راوړ غلیمانو راته نیم خبر زوړ و او نیمګړی و قدیم خبر
ستړی و شاکي ؤ ظالمانونه دهرېې راته وژړل سقیم خبر
سترګه یې یوه او ژبه نیمه وه ګرم و پیاوړی و حمیم خبر
وویل مظلوم په نیمګی راته لاره کې داکوان وهي سلیم خبر
ناست یمه په تمه انتظار کوم رابه وړي سپوږمۍ اوڅه نسیم خبر
درې واړه به یوځای کړم پوره به شي جوړ به شي عظیم خبر عمیم خبر
دوست غواړي وسیم خبر صمیم خبر نه غواړي دمیم خبر وخیم خبر

# دخارنې اوتجسس آلات

دګوانتنامودزندان په ټولو کمپونو ، بلاکونو ، پنجرو کوټواودګرځېدو ځای کې دتجسس آلات ځای په ځای شوي دي . په پنجرو کې دلاسونو د مینځلو په ځای کې داوبودجالۍ لاندې داوربدلو آلات پټ لګېدلي وو . کله به چې څه خرابي په کې راغله نوبندي به یې دپنجرې نه وایست ، پردې به یې ځوړندې کړې اوانجنیر به راغی جوړبه یې کړل چې ځینو بندیانو دپردې دوت نه دجوړولو په وخت کې لیدلي وو او زما په پنجره کې یوځل دانجنیرنه دجالۍ دپېچ تاوول او کلکول هېر شوي وو، زه چې کله ورته راغلم نو

هغه جالۍ مې پورته کړه او ومې ليدل چې دجالۍ لاندې يوې خواته يوه څلورکونجه وړه آله لګېدلې ده اوتارونه ورته راتېر دي .

دڅلورم کمپ دډوډۍ خوړلو ځاى کې ګرد چاپېره دسيمټو په ډډوبلاکونو دپاسه دکښېناستلو له پاره دلرګي تختې لګېدلې وې ځينو عريانو په څه چل هغه تختې راوسپړلې چې ګوري دبلاکونو په ډډون اوتشو منځونو کې آلات لګېدلي دي اوتارونه ورڅخه په زمکه کې ښکته شوي دي چې هغه عريانو وشکول خو امريکايانو به په ناګارۍ سره دبلاک دترميم په بانه ټول بلاک خالي کړ اوآلات به يې ټول سم او جوړ کړل .

ډېرو عسکرو ، ترجمانانو اودسره صليب ځينو موظفينو به هم کله کله دځينو بنديانو دپوښتنو په وخت کې لاندې باندې دوروځواوسترګواشارې وکړې اوبندي به يې پوه کړ چې پټ آلات لګېدلي دي او څه نه شم ويلاى .

# ترټولو مشراوترټولو کشربندي

دګوانتېنامو په زندان کې ترټولو مشر بندي د( ۱۲۵ ) کالو و اوترټولو کشر دلسو مياشتو تي خوری ماشوم وُ. ترټولو مشر دارزګان دولايت دديراوت دولسوالۍ يو بوډاو چې له ډېر بوډاوالي يې وروځې اوبانه هم سپين و ، په خبره هم ښه نه پوهېده اوپه غوږونو هم کوڼ و. د( ۱۰۵ ) اودسلو په شاوخواکې دوه نور بوډاګان اوڅه ځوانان هم ورسره وو .

پرتوګ او كميس سره ګنډلې درېشي يې چې وراغوستې وه نو دانساني ضرورت درفع كولو په وخت كې ټول كميس ددرېشي لور ته ښكته ايستل كېده ، هغه بوډاپه دې نه پوهيده چې څه ډول يې وباسي ؟ دضرورت په وخت كې دسطل خواته لاړ چې ويې ليدل كميس اوپرتوګ سره ګنډلي دي نونه پوهېده چې څه وكړي؟ دواړه لاسونه به يې وخنډل او امريكايانوته به يې په كنځلو او ښېرو پيل وكړ. بيا زمونږ دڅېرګي نه دنورالله په نامه ديرواتي له ورايه په اشاره پوه كړ چې داسې وكړه . دهغوى څېرګى زمونږ مخامخ چپ لورته و . كله چې لومړي ځل تحقيق ته عسكرو روان كړ نو نه پوهېده چې چېرته مې بيايي ؟ ګومان يې وكړ چې وژلو ته مې بيايي نودلارې منځ كې رنډ شو او عسكر وته يې وويل چې كافرانوتاسو خو ماشهيدوئ خو صبر وكړئ چې دوه ركعته لمونځ وكړم بيا مې شهيد كړئ . عسكر نه پوهېدل چې څه وايي؟ په زوريي ديكه كاوه خو هغه رنډشو او ورسره نه ته ، بيا دنږدې څېرګي يو بندي ورورانديې شو او ويې پوښته چې ولې ورسره نه ځې ؟ هغه ورته وويل چې داكافران مې وژلوته بيايي زه ورته وايم صبر وكړئ چې زه دوه ركعته لمونځ وكړم بيامې بوزئ . هغه بندي ورته وويل چې پوښتنو ته دې بيايي وژني دې نه ورسره لاړشه يو څو پوښتنې به درځخه وكړي بېرته به راځي . بابا قناعت نه كاوه اوپه خپل دريځ ټينګ ولاړو بيا نور بنديان هم جالى ته ورنږدې شول اوپه ډېر تكليف يې پوه كړ ، بيا ورسره روان شو. دغه بابا شيخ فاني و نه يې څه اورېدل اونه په خبره ښه پوهېده

خوهغـه هـم ګوانتـنامو تـه نقل شو اوبیا څه وخت وروستـه لـه هغـه ځایه خوشې شو .

اوتړلو کوچنی بندي هغه تي خوری دلسو میاشتو کمکی ماشوم و چې په کويټه کې يو افغـان خـپلوانو کره تللی و، بیايې خپل دغه ماشوم نـږدې روغـتون تـه دواکسين لـه پاره بیولی و ، په لاره کې دآی ايـس آی تـورې شـبکې نـیولی و اوپـه امـريکايانو يـې دماشـوم سـره پلورلـی و. امـريکايانوپه پټهوسـترګودغه پـلار اودهغـه دلسـو میاشـتو ترهګـرېچی ګوانتـناموتـه راورسول. پلار يې په پنجره کې اوماشوم يې پـه کلیـنک اوبـيايوې امريکايـي کورنـۍ تـه سـپارلی و. دوه کالـه وروسـتـه يـې پـه داسـې حـال کـې خوشـې کـړل چـې ماشـوم په انګلیسي خبرې کولې او دخپل پلار سره بېخي نابلدو! نړيوال دې اوس پرېکړه وکړي چې دلسـو میاشـتو ماشـوم بـندي کـول ، پلورل اوترګوانتـنامو رسـول ترهګـري ده اوکـه نـه ؟ دآی ايـس آی توروترهګـرو داسـې پـه سوونو کسـان په امريکا وپلورل چې په عمر کې به پوره سړي وو خوپه بې وزلـۍ اوبې ګوناهـۍ کـې دهمدغـه ماشوم په څېر وو .

نورداتو ، نهو ، لسو اوترپنځلسو کلونو هلکانو نه واخله تر(۱۲۵) يوسـل اوپـنځه ويشـت کلـو پـورې دهرعمر بنديان دکيوبا دګوانتـنامو په زندان کې وو .

# ښځينه بنديانې

ښکاره خومونږ خپله کومه ښځينه بندۍ نه ده ليدلې خودنورو بنديانونه مومونق معلومات ترلاسه کړي دي چې دپاکستان دآی ایس آی په جېلونو کې دعربانوځينې ښځې ليدل شوې دي . په باګرام کې امريکايانوسره يوه پنجابۍ ښځه وه اوډېرو بنديانو ليدلې وه چې ژړل به يې. آخريې دماغي توازن هم له لاسه ورکړی و هغه به هم دنارينه بنديانو غوندې په زنځيرونو اوزولنو کې تحقيق نه بېول کېده اونورټول تعامل ورسره دنارينه بنديانو په څېر ډېر ناوړه و . ددوسيې نمبر يې ( ۶۵۰) و .

دقندهار دامريکايي زندان کيسه يوه عرب کوله چې د پاکستان آی ایس آی دعربانو يوه ښځه او خاوند دواړه امريکايانو باندې پلورلي وو امريکايانو دواړه سره جلا کړي وو بيا په قندهار کې دتحقيق په خېمه کې عرب ناست و چې دهغه ښځه يې بربنډه راوستې وه ، سرېې هم ورته خرېلی و، دخاوند په مخکې يې اودروله چې سخت سخت يې ژړل اوسلګۍ يې وهلې .

په ګوانتنامو کې يوه عرب دامريکايي نه په ميز پاتې يوه پاڼه ليدلې وه چې په تېر کې پاتې شوې و ه دهغې پاڼې په جدول کې دالاندې پوښتنې ليکلې وې : کوم ځای کې ونيول شوې ؟ کله نيول شوې يې ؟ تاسره مېړه هم نيول شوی دی ؟ حامله خونه يې ؟ دځواب په خانو کې ليکل شوي وو چې دپاکستان په لاهور کې نيول شوې يم ، په فلاني تاريخ ، مېړه مې هم راسره نيول شوی دی ، حامله يم .

او ځینو عسکرو هم ځینو بندیانو ته پټ ویلي وو چې ښځینه بندیانې هم شته .

# بندیانو کې دامریکایانو جاسوسان

بندیانو کې دامریکایانو ځینې جاسوسان هم وو چې دامریکایانو په خېر احمقان وو او ډېرزر رابښکاره شول .خوځو دګوتو په شمېر وو په دوی کې په قندهار کې یو بحر ینې عرب و عیسی نومېده . کله به یې په یوه خېمه کې اوکله په بله خېمه کې اچاوه او خلکو ګومان کاوه چې جاسوس دی . لږه لږه انګلېسي یې هم زده وه امریکاته یې سفر هم کړی و، دامریکایانو نه یې "بایبل" هم اخیستی و او مطالعه کاوه یې . په خېمو کې یې دبندیانو ترجماني اودعسکرو سره ډېرې خبرې هم کولې . ډېر بدعمله اولوفرمعلومېده . څوورځې مونږ سره خېمه کې و دعسکري تیارخوراک دوجبووېش کې به یې هم ټګي کوله اودکریم بورډ لوبه اوشطرنج به یې هم کاوه. شپه اوروځ یې معلومه نه وه اوهروخت به لګیاو! ماورته یوه ورځ وویل چې دغه لوبې ته یو وخت وټاکه او هروخت یې مه کوه خلک ویده وي اوته لګیایې له خوبه یې باسې ! هغه زما خبره ونه منله مادلوبو هغه تخته دپلاستیکي چیتروګانوسره دخېمې نه دباندې وغورځوله. عیسی بحریني سمدستي امریکایي پوځیانو ته شکایت وکړ اوزما په هکله یې ورته وویل چې دالوی ترهګردی ، دالقاعدې ، طالبانو اونورو ترهګروډلو سره اړیکي لري ، مادشطرنج اوکریم بورډ لوبې ته نه پرېږدي اوتخته یې هم راځخه واخیسته اودباندې یې وغورځوله ...

يوپوځي ضابط راغی او زه يې دباندې خاورو کې لمرته په زنګنونو جزايي اودرولم او عيسی ته يې وويل چې دا کار موستادخوښې له پاره وکړ مونږ هرهغه کار کوو چې ته پرې خوښيږې ...

وروسته يو بل پوځي افسر راغی ، ډېرې بدې ردې يې وويلې اومونږ ته يې وويل چې تاسو ترهګر ياست دلته هم ترهګري کوئ .

تاسو به هيڅکله آزاد نه شئ اوتاسو به دخپل عمل سخته سزاوګورئ ...

عيسی خلکو ډېر ملامت کړ راغی ماته مخامخ دپښو په سرکښېناست او بخښنه يې وغوښته اوراته ويې ويل چې " سامحني " ماپه سينه کې ټېل واهه هغه په کوناټو کښېناست اوشاته وغورځيده .بياګوانتنامو کې په مايک بلاک کې دلږ وخت له پاره ماهغه عيسی بحريني وليد اوراته ويې ويل چې ما اوس توبه ايستې ده ، ماغوښتل چې امريکايان وغولوم اوخپل ځان په دې چل ازادکړم ...

دامريکايانو جاسوسان ټول دغه ډول وو چې غوښتل يې دنورو دضرر په قيمت خپل ځان آزادکړي اوامريکايان وغولوي .

دامريکايانو له پاره چې يې جاسوسي کوله يوه بله ډله هم وه چې ټول شيعه ګان وو څلور شيعه ګان چې : علي ، ارکان ، حسن اوحيدرنوميدل ډېرلوی خبيثان وو اوپنځم يې يمني شيعه و چې ( باسرده ) نوميده هغه هم ددوی په ډله کې و، شپږم يې عبدالمجيد نوميده چې ايرانی اولوی احمق و. ښکاره به يې ويل چې زه امريکايانو له پاره جاسوسي کوم او ماته په تحقيق کې سګرټ او ....

مهياكوي بل افغاني شيعه و چې ډاكټر علي شاه نومېده اوپه ايران كې يې زده كړه كړې وه هغه هم ددغو كسانو په ډله كې و اوهغوى سره يې ټينګ اړيكي لرل.

خلكو پرې همداتور لګاوه چې دايران له پاره كار او جاسوسي كوي دايران نه يې سخته دفاع كوله. او زندان كې يې هم ددغه عراقيانو ملګري كوله.

دغه ډلې ګيرې هم خريلې ، ښځو سره يې خبرې هم كولې ، په ثلورم كمپ كې په نېكرونو كې برينډ هم ګرځېدل او امريكايان احمقان به يې استعمالول . دمذهبي تعصب له مخې به يې صحابه و ته كنځل هم كول اوپه ثلورم كمپ كې ورځخه بنديان ډېر په تكليف كې وو . پنجرو كې خو دغه فاسده ډله ډېره تكليف كې وه ځكه چې هرچابه دسل اورټل ....

خوپه ثلورم كمپ كې په بيله كوټه كې سره راټول شوي وو امريكايانو احمقانو ته به يې كله ويل چې كمپ كې خلكو چاقوان جوړكړي دي اوپه تاسو حمله كوي ، هغوى به دټولو بلاكونو سخته تالاشي وكړه اوهيڅ به لاس ته ورنه غلل . كله به يې ورته ويل چې خلكو يو بل ته سره ليكونه لېږلي دي بيا به سخته تالاشي وشوه خوپه هرځل به امريكايانو هيڅ نه موندل ځكه چې ددغه ډول كارونو هيڅ امكان نه و. خو بيابه يې هم هغوى ته نورې اونورې خبرې كولې اودټولو درواغو سره سره به هغوى ريښتيني ګڼل . اركان به دامريكايي ښځينه عسكرو سره دشپې داوسپنيز جال ترمنځ شطرنج

اونورې لوبې هم کولې اودې ټولو به ښځو ته ناوړه جنسي اشارې او حرکتونه هم کول ...

ارکان دطالبانو په حکومت کې بندي شوی هم و چې په آخرو ورځو کې دقندهار دزندان نه تښتېدلی و اوداسې ویل کېدل چې دې ټولو صدام او دافغانستان ځینوګوانډیوهېوادونوته جاسوسي کوله ...

امریکایانو ددغې ډلې ډېر رعایت کاوه اوهغوی ددغه رعایت نه ډېره ناوړه ګټه اخیسته . په ډېرو کسانو یې ددرواغو ګواهي کړې وه چې داخلک په القاعده کې وو ډېر کسان ددوی دشیطانۍ له امله پنځم کمپ ته ولېږل شول ...

زمونږ په هکله یې څلورم کمپ کې هم محققینو او پوځیانو ته ویلي وو چې مسلم دوست خلکو ته فتوې ورکوي ، ټول بندیان خصوصاعربان یې زیات احترام کوي ، شطرنج ته حرام وایي ، ستاسو راوړې غوښې حرامې ګڼي اوداسې نور ... تردې چې محققینو دهر بلاک نه یو اودوه کسان تحقیق ته وغوښتل اوزما په هکله یې ترې په سختۍ پوښتنې وکړې او حتی نارنجي جامې یې ځینو ته راوړې او بیرته پنجروته په لېږلو یې تهدید کړل . لکه چې په افغانانو کې یې دکونړ دمرورې " اختر" نه دغه ډول پوښتنې کړې وې هغوی ټولو ورته ویلي وو چې مونږ خبر نه یوو . داستاذ بدر نه یې هم په تحقیق کې پوښتنې کړې وې .

اودایې هم ورته ویلي وو چې څرنګه خلک ستادورور : مسلم دوست احترام کوي ؟! هغه ورته ویلي وو چې داخوکومه بده خبره نه ده تاسو ته ترې څه تکلیف دی ؟!...

ماته هم محققينو وويل چې ته فتوې ورکوې ماورته وويل چې دلته يواځې دلمانځه ، اوداسه ، روژې او داسې نورې پوښتنې کيږي چې تاسو پورې هيڅ اړه نه لري ماته چې کوم معلومات وي نودازمونږ دين دی اوزه هرو مرو ځواب ورکوم په دې ځوابونو زه مفتي نه شم جوړېدای .

بيا ماورڅخه پوښتنه وکړه چې آيا دحيواناتو پچې خوراک لپاره دي بايد وخوړل شي اوکه نه ؟ هغه وويل چې نه . ماورته وويل : ته هم مفتي شوې ځکه چې دپچې دنه خوړلو فتوی دې راکړه .

لنډه داچې ددغو شيعه ګانو څخه مونږ ټول بنديان زيات په تکليف کې وو ، خلکو ورته په نازله قنوت او نورو دعاګانو کې ښېرې هم کولې . آخر" ارکان " او"باسرده " سره سخت جنګ وکړ چې په باسرده يې پوزه هم وينې کړه ددوی خپلو منځو کې سخت اختلافات پيداشول اوالله تعالی ټول سره تيت اوپرک کړل .

علي يې پنځم کمپ ته ولېږه اونورپنجرو ته بېرته لاړل .

ماهيڅکله دانه وو ويلي چې ګنې دګوانتنامو بنديانو ته چې په ورروستيووختوکې کومه غوښه راځي هغه حرامه ده ځکه ډېرداسې دليلونه وو چې دهغې غوښې په حلال والي يې دلالت کاوه . مانوروته هم ويل چې خورئ يې اوماخپله هم خوړله . دعلي او استاذ بدر محقق يو وئ ، يوه ورځ بلاک ته راغی او استاذ ورته وويل چې مونږ کله ويلي دي چې داغوښه حرامه ده ؟ هغه دسخت خجالت سره مخ شو ، ځان يې درواغجن ثابت کړ او ويې ويل چې تاسو نه دي ويلي ....

عراقي شيعه ګانو کې دابو فاطمه په نوم هم يووخودهغه ظاهري سلوک ښه و او شيطاني اوجاسوسي يې هم نه کوله .

ايراني شيعه عبدالمجيد خوپه غاړه کې صليب هم ځوړند کړی و اودډېرې غوړه مالۍ له پاره به يې امريکايانو ته ورونه هم ويل ...

علي او ارکان به‌په څلورم کمپ کې دعسکرو په مشوره دډوډۍ دلوښو دراوړلو په وخت کې ووتل غوښه يابل هغه څه چې دهغوی به خوښ وو پټ به يې کړل او کله کله به چې دهغوی دکوټې دوتلو نمبر مخکې و نو وبه وتل او دهغوی دلوښو نه به يې خوراک وکړ نورو کې به يې شکې واچولې چې څوک يې ونه خوري ! کله کله به يې دکوټو ترمنځ دعمومي تشنابونو سره اضافي کتغ وشينده او بيا به يې عسکروته دنوروبنديانو کوټه ورپه ګوته کړه چې داکار هغوی کړی دی . عسکرو به هغوی دګرځېدلوڅخه څو ورځې محروم کړل اوپه دې ترتيب به په ناحقه جزايي شول . ددريمې کوټې او دعمومي تشنابونو ترمنځ دېوال کې چاودشوی و دغوشيعه ګانو څو ځل په هغه چاود کې دتشناب پيپ ايښی او کوټې ته يې اوبه ورخوشې کړې دي ...

لنډه داچې ډېر پليت شيطانان وو . په کندهار کې دارکان سره عبدالحکيم بخاري، صديق ترکستانی او ......... هم بنديان وو . صديق ترکستاني ښه سړی ؤ او عبدالحکيم بخاري دسعودي استخباراتوافغانستان ته دجاسوسۍ له پاره لېږلی ؤ اوهلته نيول شوی و.

دامريکا يانو نور جاسوسان په افغانانو او پاکستانيانو کې ځينې لوفران او بدعمله هم وو چې هغوی اصلا داسلام په نوم نه وو بنديان

شوي بلکه دغلا ، جاسوسۍ ، درغلۍ، پاټکونو او نورو جنايتونو له املـه بـنديان شوي وو . لکـه حاجي روح الله .... خودايوه خبره جوته ده چې جاسوسانوکې تراوسه يوهم نـه دی راخوشې شوې اوداځکه چې هغوی نه تراخره هلته کار اخلي .

# بنديانو سره دامريکايانو روحي او رواني جنګ

دګوانتانامو بـنديانو سره دامـريکاپوځ او محققيـن پـه رواني جنګ کـې بوخـت دي بنديانو باندې پـه بدني تعذيب سربېره روحي فشارډېر زيات دی دنفسياتي څورونو څو بېلګې په لاندې توګه وړاندی کوو :

۱ : پـه پنجرو کـې ستونزمن ژوند چې تفصيل يې مخکې تېر شو .

۲ : پـه ډېـره يخـه ياډېـره ګـرمـه کوټـه کـې دبـنـدي کښېنول چې داهم بدني اوهم روحي تعذيب دی .

۳:دتحقـيق پـه کوټه کې بندي دڅوساعتونو يادپوره ورځ اوشپې لـه پـاره يواځې تړلـی پرېښودل، تـردې چې انساني ضرورت يې هم همغه ځـای کـې رفـع کـړي دی داهـم دبـــدنـي اوروحي تـعـذيــب او فـشـار يو ډول و .

۴: پـه داسې کوټـه کـې دبـنـدي پـرېښودل چې هلته لغړ او جنسـي تصويرونه وي .

۵: دتحقـيق په کوټه کې يو ډول دوه چراغونه په دېوال کې بندي تـه مخامـخ لګېدلي دي ، بندي هلته تړلی پرېږدي او هغه دواړه چراغونه

روښانه کړي هغه زر زر بلېږي اومړه کېږي اویو ډول خطرناکې شعاع خوشې کوي چې دبندي په سترګوډېره سخته بده اغېزه کوي اوسر پرې ګرځوي داهم بدني او هم روحي تعذیب دی.

۶: بندي ته سپکې سپورې او سختې خبرې کوي او ورته وایي چې ته به هیڅکله لـه دې بنده ونه وځې ، ترمرګه به دلته یې او خپلوان او دوستان به بیا هیڅکله ونه ګورې ...

۷: دګرځېدو پنجره اودتحقیق کوټه کې یې دبندیانو دوطن دخوراکونو اونور انځورونه لګولي وي چې بندي ته وطن ، کلی کور او ..... وریاد کړي او وځورېږي .

۸: دتحقیق په کوټو ، روغتون ، اودګرځېدلو ځای کې یې دبوډا پلاریا بوډۍ مور انځورونه لګولي وي اوپه مختلفو ژبو ورسره لیکلي وي چې زویه ! ماته بې له تاژوندډېر سخت دی ته به ترکومه نه یې ؟ یایې دماشو مانو انځورونه لګولي وي یادښځې ، هغوی ژاړي او وایي چې مونږ ستاله پالنې پرته لوېږو اودستونزو نه ډک ژوند تېروو ...

۹: په یوه پوستر یې دلاندې لوري نه دیوه وړوکي ماشوم انځورلګولی وي او ورسره یې لیکلي وي چې ستازوی یاستالور ستادبندي کېدو په وخت کې ، بیالږ پاس ترې دلږ غټ ماشوم انځوروي او ورته لیکلي وي چې ستاله بندي کېدو څخه درې کاله وروسته ، په همدې ترتیب لږ لږ لوړېږي په آخر کې دلوی زلمي یاپېغلې انځوروي اوورسره لیکلي وي چې ستاله بندي کېدو څخه (۲۵ ) پنځه ویشت کاله وروسته . په دې ترتیب بندي ته انتباه

ورکوي او ځوروي يې چې دلته به ته ترډېره عمره يې ستابچي به دغسې ستاپه غياب کې لويږي .

۱۰ : ځينو پوستړو باندې يې په همدې ډول دمور ، پلار ، بچو اوښځې انځورونه کښلي وي او ورسره يې ليکلي وي چې دمحققينو سره مرسته وکړه ريښتيا ورته ووايه اوزر خپل کورته راشه .

۱۱ : دعربانو دکېږديو ، اوښانو ، دخورمادباغونو او نورزړه راښکونکي انځورونه په پوستړ کښلي وي اودافغانانو دافغاني تنور دډول ډول ډوډيو ، سيخ کباب ، اونور ځوروونکي او زړه راښکونکي انځورونه يې کښلي وي چې البته دامريکايانو غوندې دنياپرستو ته سخت تماميږي اوالحمد لله په مونږ يې هيڅ ناوړه اغېزه نه وه .

۱۲ : دبنديانو دبې خوبه کولو ، له خوبه راويښولو ، ځورولو او غوسه کولو له پاره په بلاک کې موظف عسکر په نيمه شپه دبلاک يو لور اوبل لورته پېړ پېړ داوبو ربړي پيپونه چې په سر کې يې اوسپنه لګېدلې وې راواخلي او دبلاک دمنځنۍ لارې دمينځلو په بانه يې دبلاک په اوسپنيزه زمکه راښکاږي چې ګړګړکوي او دخوبولي انسان په دماغو ډېره بده اغيزه کوي.

۱۳ : کله کله يو بلاک نه بل بلاک ته تيږې او کاڼي ولي چې داوسپنيزو بلاکونو دپاسه لګېږي او سخت ګړز ګړوز کوي . بنديان راويښوي ، ځوروي او بې خوبه کوي .

۱۴ : په درندو بوټانو دبلاک منځ کې په نيمه شپه کې په درزدرز ځي ، چغې وهي ، لوبې کوي اوښځې نريو په بل سپړېږي ....

۱۵: په نیمه شپه، دپېشنمي، سهار دوخته اونورو نازکو او نامناسبه وختونو کې بندي تحقیق ته بوزي او هلته ورسره سختي اوتشدد کوي.

۱۶: دقران کریم بې حرمتي اوددیني شعائرو سپکاوی هم امریکایانوددې له پاره کاوه چې په بندیانو روحي او رواني فشار راوړي.

۱۷: دګیرو او وروځو خرېیل هم روحي فشار و.

۱۸: مشین ته ورکول اوډارول چې دامشین ستادروغ او ریښتیا معلوموي: داهم روحي فشار و.

۱۹: کله چې بندي دغسل په وخت کې په ځان صابون و مږي نو عسکر ور باندې اوبه بندې کړي او صابون په ځان يې دغسل خانې نه راوباسي داهم روحي فشار دی.

۲۰: دګرځېدو په وخت کې دخپل استحقاق چې شل دقیقې یانیم ساعت دی نه بشپړول اودنیمایي یاڅلورمې برخې دوخت په پوره کېدو دګرځېدو دځای نه را ایستل.

# دامریکایانو حماقتونه

مونږ مخکې داګومان کاوه چې امریکایان به دومره احمقان نه وي لکه چې ومولیدل. نورخو مونه دي لیدلي خو پوځیان اوداستخباراتو والا (CIA) (FBI) اکثره سخت احمقان دي. دپوځیانو په هکله خودامشهوره ده چې دهرځای پوځیان ډېر احمقان

وي . اودا ځکه چې عقل اوپوهه دعاقلانو سره دناستې پاستې ، ښوونې اوروزنې ، دژوند دهراړخ دتودو سړو او ګڼو تجربونه زده کېږي اوپوځيان له دې ټولو محروم وي . پوځي يواځې تيارسې ، کيڼ ګرس ښي ګرس ، درېش ، وضعيت اساس اونورو عسکري تمرينونو ، اصطلاحاتو او دجنګ نه پرته نورڅه نه زده کوي . نو ځکه بې تميزه اوبې توپيره دقوماندان په قومانده خپل سر ورکوي. نورنه پوښتنه کوي اونه دپوښتنې حق لري چې ولې ؟!.

خبره نه اوږ دوو اونه يې هېروومونږ.داويل چې امريکايي محققين او پوځيان ډېر احمقان دي. پوځيان خو همداسې وي خو محققين اوداستخباراتو خلک خوددولت چاڼ شوي ، ذهين ، زيرکه او نخبه کسان وي نو چې نخبه يې داسې کم عقل وي نو عوام به يې لاڅه وي ؟!.

ځينې حماقتونه خوداسې دي چې مونږ يې ليکل مناسب نه ګڼو ځکه چې هغه اوس هم جريان لري اودامريکايانو هغه حماقتونه دبنديانو په ګټه دي نوکه مونږ يې وليکو هسې نه چې ورته متوجه شي پرېږده چې دهغوی دجريان نه بند يانو ته ګټه ورسېږي

خودځينونوروحماقتونو څو بېلګې به يې وليکو :

يو محقق چې دبندي دوسيه هروخت لولي اولوستې يې ده اود بندي په هکله پوره معلومات په کې ليکل شوي دي په دې ټولو سربېره بندي ته ويلي وو چې مونږ ستاپلار هم نيولی دی اوډېر زر به يې دلته په ګوانتنامو کې وګورې ، هغه ورته وويل چې داخوډېره دخوښۍ خبره ده . هغه وويل : څرنګه ؟ ده ورته وويل چې زما پلار

خوشل کاله مخکې مړشوی دی اوماتاسوته ویلي هم دي اودوسیه کې داخبره لیکلې هم ده نوکه اوس تاسو نیولی وي نو حتمابه راژوندی شوی وي اوچې هغه راژوندی شوی وي اوتاسو نیولی وي نو هیڅ پروانشته ځوورځې به دلته وي بیا به خلاص شي .

محقق ډېر سخت خجالت سره مخ شو نور یې هیڅ ونه ویل او خبره یې بل خواواړوله .

ځینو محققینو به پوښتنې کولې چې په مونږ کله حمله کېږي ؟!.

ایا دې زندان ته څوک اور ورته کوي ؟!.

ته مشر یې که ستازوی ؟!.

ډېر داسې کارونه چې دعسکرو په گټه به وو اوبندیانو به ورته مشوره ورکړه چې داسې وکړئ خو هغوی ته به چې څرنگه ویل شوي وو نو بې له دې چې ظروفو او شرائطوته وگوري هماغسې به یې کول اودبندیانو ښه مشوره به یې هم نه منله !.

قندهارنه دکیوبا په لېږدرولو په وخت کې یې په داسې حال کې چې دبندیانو لاسونه ترملا اوپښې دزمکې سره تړلې وي وویل چې که دچاضرورت و نو لاس یاپښه به پورته کوي! خودې ته یې فکر نه کاوه چې تړلي لاسونه اوتړلې پښې به څرنگه پورته کړي ؟! کله چې مونږ ورته وویل چې داخونه شي کیدای نوویې خندل اوسخت خجل شول .

لکه مخکې مو چې وویل دگوانتنامو په بندیانو کې یودایران ،او څوکسان دعراق شیعه گان وو هغوی دسنیانو سره سخت تعصب کاوه امریکایانوته به یې جاسوسي کوله اوهغوی به یې په پټو سترگو

بې له تحقیقه خبره منله . لکه چې ورته به یې ویل چې بندیانو چاقو ګان جوړ کړي دي او په تاسو حمله کوي . هغوی به یو دم زیات عسکر را وغوښتل ، ټول بلاکونه به یې ویلټل ، دهرشي تالاشي به یې واخیسته اوهیڅ شی به لاس ته ورنه غی ، خونه یې دافکر کاوه چې بندیانو له څه شي څرنګه چاقوان جوړل کړل ؟! اونه یې هغوی ته ویل چې ستاسو خبره خودرواغ وخته. بلکه لابه یې شاباسی ورکړ. بله ورځ به یې بله شیطاني په همدې ډول وکړه او هغه به هم درواغ شوه خو داکار په دوام او تکرار روان و هغوی دامریکایانودحماقت نه بده ګټه اخیسته اولوبې یې پرې کولې خودوی نه پوهېدل هغوی به یې نازول ، امتیازات به یې ورکول او ریښتینې به یې ګڼل .

په دې ټولو سربېره دامریکالوی لوی سیاست پوهان ، جنرالان او مسئولین څکه ډېر لوی احمقان دي چې دپاکستان دآی ایس آی جنرالان یې مسلسل غولوي . بې ګونا خلک یې پرې وپلورل ، په خپلو دښمنانو یې دهغوی له اوړو ډزې وکړې او کوي یې ، دترهګرۍ په خلاف دمبارزې په نامه اونورو مختلفو پلمو ، دسیسو، ډرامو او درواغو باندې دامریکانو نه ډالر، وسلې او وسائل اخلي اودکارغه غونډې هم ګندګي خوري اوهم ټونګه څنډي : خو امریکایان یې په پټو سترګو تصدیق کوي چې ځینې بېلګې یې مخکې بحثونو کې تېرې شوې او ځینې به په راتلو نکیو کې راشي،نو اوس دې لوستونکي قضاوت وکړي چې آیا امریکایان احمقان دي اوکه نه ؟.

امریکایان خپل ځانونه دټولې نړۍ باداران اودهرچانه هوښیار ګڼي اونوروته په سپکه سترګه ګوري ، چې داترټولو لوی حماقت

دی؛ نور ټول حماقتونه یې دهمدغه حماقت نه سرچینه اخلي اوډټولو ستونزو لامل یې همدغه غرور او همدغه حماقت دی . امریکایي محققینو به مونږ ته ډېر زیات درواغ ویل . دامریکایانو په څېر دروا‌غجن ماپه خپل عمر کې نه دي لیدلي ، خودډېر حماقت خبره په کې دا ده چې داګومان یې کاوه چې مونږ دهغوی په درواغو نه پوهېږو!!!.

هغوی زمونږ دژوند او عاداتونه ناخبره وو او زمونږ ژوند یې هم دخپل ژوند په تله تلهٔ هغوی به چې کله مونږ نه دخپل سفرپه هکله پوښتنه کوله نو دعادي کلیوال بس سفرکې به یې هم دکمپیوټر دانټري پوښتنه کوله .

# دامریکایي پوځ بې خرته لګښتونه

دامریکاپوځ خوله ځایه هم ډېر نازولی دی خوپه افغانستان یرغل ورته ډېر درووند او قیمته تمامېږي . دامریکایانو په پرتله دروسانو لګښتونه ډېر لږ وو ، ځکه چې په هغه وخت کې شوروي اتحادلانه و رنګ شوی اودشورویانو او افغانستان ترمنځ یوځای داموسیندو نودزمکې له لیارې یې ډېر په اسانۍ دخپل پوځ اکمالات کول . اوبله داچې دافغانستان دننه وسائل یې هم استعمالول اونسبت امریکایانو ته ډېر زره ور وو هرکار یې پخپله کاوه .... اودفکري ملګروشمېر او زړورتیایي هم زیاته وه . دامریکایانو ټول اکمالات افغانستان ته له بهره کېږي چې اکثره یې له امریکاڅخه راځي دبېلګې په توګه : امریکایي پوځ دخپلې بزدلۍ اوډار له امله افغانستان کې په خپلو

ګوډاګیانو هم باور نه لري دعسکرو خوراک هم دامریکانه راځي ، دڅښاک اوبه ورته دکویت ، بحرین ، اودخلیج دنورو هېوادونو نه راځي دجاسوسۍ نه واخله نورټول کارونه په نورو کوي چې داهم لګښتونه ایجابوي . تردې چې افغانستان څخه لرګي نورو هېوادونو ته صادرېږي خومونږ په قندهار کې ولیدل چې حتی لرګي هم ډک ډک کانتېنرونه دامریکانه راتلل اوداله دې وېرې : هسې نه چې څوک راته په کې کوم چاودېدونکي مواد ...کښېږدي !. پوځیان هرسی نارامه اوبې ځایه استعمالوي که دخوراک بندډبي یایوه منه ورڅخه په زمکه وغورځېږي نو هغه بیا نه را اخلي بلکه بل ډبی اوبله منه را اخلي . دهر وخت مېوې ورته په وخت اوبې وخته هرځای ته رسول کېږي ، امریکایان هرکار په وسائلو او مشینونو کوي اوپه لاس یو موټی هم په زمکه کې نه ټک وهي. وسایل په تېلو چلېږي نو ځکه یې دتېلو لګښت ډېر دی اودهمدې لګښتونوله پاره جنګېږي.
قندهار کې دخېمو ګرد چاپېره داغزنو سیمانو ددېوالونو نه خېمې ته دروازه هم لومړی دهمدغو اغزنوسیمانو وه خوبیا یې کلکې داوسپنې دډنډو دروازې راوړې. ددغو دروازو له پاره یې په مشینې برمې لوی او ژور سوري وکنل بیایې په کې ددروازو اوسپنیز چوکاټو نه لک کړل بیا به یې په کې لومړی دوچو سیمټو بوری تشه کړه اودپاسه به یې پرې وچې شګې واچولې په دې ترتیب یې دهرې دروازې دچوکاټ یوې پښې ته اته بوری اوبلې ته هم اته بوری سمیټ واچول چې یوه وړه دروازه یې په شپاړسو بوریو اودروله بیایې دغو وچوسیمټو اووچو شګو دپاسه اوبه واړولې ! ...

دمعمولي کار لـه پاره هم ربړي ديوځل استعمال والا لاسکشې اچوي او بيا يې غورځوي اوپه لاسونو يوډول مکروب وژونکي کريم مږي . دهر عسکر سره يوه پلاستيکي اوږده مشکوله شاته تړلې اويو اوږد پيپ ورڅخه مخې ته راتيردی دورځې څو وخته تياره ميده واوره راځي هر عسکر خپله دغه پلاستيکي مشکوله له واورې اوشربت نه ډکوي او بيا يي دماشومانو دچوشني غوندې دغه پيپ په خوله کې نيولې وي اوروي يې ....يا ورسره بکسې نه څه خوري دامريکايي عسکر خوله تل په خوراک خوځېږي او شخوند وهي !.

دهرعسکر سره يوه لويه سفري بکسه وي چې شاته يې اچوي . دغه بکسه يوپوره سينګار بکس او دسامان بوجۍ وي . په دغه بکسه کې ډول ډول خوراکونه ، خوږې دانې ، پاپړ ، ژاولې ، بسکټ ، مميلي ، ډول ډول دچپسو ډبي ، پوکڼۍ ، دمخ کريم ،دنسوارو ډبي،سګرټ ، وړوکی کمپيوټر ، ټيپ، راډيو ، دوښتانو لرې کولو ماشين ، جنګيانو سره سرخي پوډر ، لپسيرين ،ږمنځې اونور دسينګار سامان او ....... وي دبکسې پاسنيو جېبونو کې يې ترماس ، کېمره چريکي بستره ، چاقو او کاشوغه اوپنجه يو ځای سره نښتې اونور زيات ګڼ سامان وي .

نورې ډبلې تنخاګانې اواضافي لګښتونو خويې پوښتنه مه کوه . نور يې هرکار دټيکې په ډول سرته رسېږي اوعسکرو به ويل چې په دې ټيکو کې زمونږ جنرالان اولوړرتبه افسران شريک دي يوځای به نن جوړکړي سبا يې بيرته ورانوي .... يو جنرال يوکار په يوه نقشه وکړي بل چې راشي بيا يې په بله نقشه کوي ... امريکايان ډېرداسې

شیان هم یوځل استعمالوي چې هغه په غریبو هېوادونوکې په کلو نو استعمالېږي ... نور له مونږ پناګښتونه به یې لاڅومره وي؟ دامریکااقتصادبه ددغوبې خرته لګښتوتو له امله اړومرو راپرېوځي .

# دامریکایانو ډار او بزدلي

دډېرو هغو حقیقتونونه چې مونږ ته جوت شول یو دادی چې مونږ مخکې فکر کاوه چې امریکایان به دومره بې زړه او ډارن نه وي لکه چې وموليدل . امریکایان ډېر بزدل ، ډارن او بې غیرته خلک دي دیو کس نه شل کسه راچاپېرشي خو بیا هم هغوی ډارېږي زمونږ لاسونه اوپښې به یې په پولادي زنځیرونو او زولنوکې کلک تړلي وو اودداړو متهونه به عسکرو نیولي وو خوبیا به یې هم مونږ ته ویل چې په مونږ حمله ونه کړې، مونږ له تاوېرېږو ، مونږ ته مه راګوره ، لاندې ګوره ....

مونږ به حیران شوو چې دداسې پولادي زنځیرونوسره سره چې پیلان یې هم نه شي ماتولی مونږ څرنګه په تاسو حمله کولای شو ؟! خودا هغه رعب اوډارو چې الله تعالی دهغوی په زړونو کې اچولی و . په شپږو میاشتو کې به عسکر بدلېدل . کله به چې نوي عسکر راغلل نو ډېر په ډار به دبلاک منځ کې تلل راتلل چې دډار نښې به یې په مخونو کې ښېخي جوتې وې . زړوعسکروبه ورته لارښوونې کولې چې داسې به کوئ او هغسې به کوئ ....

په لومړیو ورځو کې به یې ډېر په ډار بندیانو سره دضرورت په وخت کې خبرې کولې او ډېر په تعجب به یې مونږ ته راکتل ، خوځو

ورځې بـه چـې تېـرې شـوې اولـړ لـړ بـه روږدي شـول نو مونږ بـه ورځـه پوښـتـنې کولـې چې تاسـو ولـې دومـره ډارېـږئ ؟! هغـوی بـه ویـل چـې مونږ پـه خپله خوښه دې جزیرې ته نه راغو ، مونږ په زور رالېږل کېږو . مونږ چې کله دلته راغو نو لـه ډېره غمه اوډاره ژاړو ، مونږ پـه پوځـي الوتکو کـې یـو نامعلوم ځای ته بوتلل شو ، هلتـه درې اونۍ پـه تدریب کـې تېـرې کـړو اودا راوښـئ چـې بـنديان بـه څـرنګه تـړو ، پرانـیزو او څرنګه تعـامل بـه ورسره کـوو ؟ بـیایو نصـراني مـلا راشـي اومونـږ تـه قـرآن راواخلـي اوراتـه وایـي چې پام کوئ چې داکتاب ونـه ګـورئ ، داپـه زړه اغېـزه کـوي ، دې کـې جـادودی ..... دبـندیانو خـبروتـه غـوږ مـه ږدئ، دیني خبرې ورسره مه کوئ ....

بـیا یـو جنرال راشي او راتـه وایي چې : تاسو دډېرو خطرناکو خلکو سره مـخ کېـږئ ، مونـږ دمسـلمانانو ډېـر سـخت دریـځـه او خطـرنـاک خلـک راټول کړي دي اودګوانتېنامو پـه ټاپو کـې مو پـه اوسپنیزو پنجرو کـې اچولـي دي . دادهغوخلکـو ملګـري دي چـې پــه نـیویارک او واشـنګټن یــې ځانمـرګې بـریدونه وکـړل او الوتکـې یــې دهســکو برجونواوپنټاګون سره وجنګولې . داخلـک نـه پـه خپـل مرګ دي اونـه دنـورو . دوی مـرګ تـه خوشحالېږي اولـه مرګه هیڅ نـه وېرېږي . ددوی یـو کـس دزروکسـانو سـره مقابلـه کـولای شـي .... پـام کـوئ ځانونـه ورځخه ساتئ ...

نودادامـریکاهغه بزدل پوځـیان اوهغـه ډارن جنرالان دي چې هغوی پرې ویاړي !!!.

امریکایي محققین دبندیانو نه دومره ډارېدل چې بندي به زنځیرونواو زولنو کې دتحقیق کوټې کې په زمکه کې دښخې کونډې پورې تړل کېده اوبیابه ترې محقق پوښتنې ګرو ېرنې کولې. مریض به ټپي ، بې هوښه ، ګوډ او شوټی په روغتون کې دکټ پورې داسې تړلی و چې له اړخه به نه شو اووښتی !!!.

همدارنګه په خوړو کې یې ټولو بندیانو ته دغوښې په ورځ تل دسینې ټوټه یادکوفتې ټوټه ورکوله چې کوم وړوکی هډوکی به هم په کې نه و دهډوکي والاغوښه یې له دی امله نه ورکوله چې بندي دهډوکي نه دوسلې کار وانه خلي او کوم عسکر پرې ونه وهي !!!.

دامریکایانو بله بزدلي او ډار داو چې ډېر نرم او پاسته قلمونه به یې ورکول اوداهم له دې وېرې چې په کلک قلم چېرته عسکر ونه وهي .

دغابنونو برش هم دلاس دخچې نیمې ګوټې په کچ و. دلوی برش ورکولونه هم وېرېدل .

دډوډۍ خوړلو کاشوغې به یې په شمارورکولې او هرچا نه به یې بیرته غوښته او داهم له دې امله چې بندي چېرته دکاشوغې نه دوسلې کاروانه خلي . که کله به کوم بندي ته کاشوغه نه وه ورغلې اودورکولو په وخت کې به ورسره نه وه نو ټول بلاک به یې ډېرسخت تالاشي کاوه .

دادامریکایي پوځ دډار ځو ببلګې وې که نه دهغوی هرقدم پړاوپه پړاو دډار نه ډک و .

(c) ketabton.com: The Digital Library



بزدل امریکایان د پروت بندي نه د تیښتې په حالت کې

(c) ketabton.com: The Digital Library






د بندیانو په سر کڅوړې دي او دپاسه پرې سترګې او غوږونه لا نور هم ټړل شوي دي

# د روسانو او امریکایانو پرتله

مونږ مخکې دنورو ډېرو خلکو غوندې فکر کاوه چې امریکایان دروسیانو نه په هرڅه کې مخکې او غښتلي دي خو کله مو چې له نږدې ولیدل نو رامعلومه شوه چې امریکایانو هسې په درواغو او تبلیغاتو ځان پړسولای دی او منځ یې تش توکړ دی. ماځینو محققینو ته هم په ډاګه وویل او حقیقت هم همدا دی چې دروسیانو

جرأت ، متانت او ثبات مونږ ته هله څرګندشو چې دبزدلو اوبې غیرتو امریکایانو سره مخ شوو. روسیان د افغانانو او مسلمانانو په مقابل کې بې زړه او بې ننګه دي او ماتې یې وخوړه خودامریکایانو اوروسیانو پرتله او موازنه چې وکړو نوزه په پوره باور ویلای شم چې که دروسیانو او امریکایانو ترمنځ جنګ ونښلي نو امریکایان به هرو مرو ماتې خوري . روسیان نسبت امریکایانو ته ډېر زړور دي. هغوی چې کله په افغانستان یرغل کړی و نو هغوی سره مونږ وجنګېدو او وموليدل چې خپله په غرونو راختل یوبه مو چې په کې وویشت بل به راوخوت . هرځای کې یې دهرچاله لاسه هرڅه خوړل اوخپله یې خلک نیول .دهغوی جېبونه تش وو خوپه زړونو غښتلي وو ....

مونږ امریکایي محققینو ته ښه په صراحت اوپه ډاګه ویل چې تاسو نهٔ دیو نوک په کچ ځای فتح کولای شئ اونه یو کس نیولای شئ . دګوانتنامو په دې ټول زندان کې یو سړی مونږته راوښیئ چې تاسو نیولی وي. تاسو نه یو کس نیولی دی اونه مو عراق یا افغانستان نیولی دی بندیان هم زمونږ خپلومنافقانو اومرتدانوپه پلمو نیولي

اوپه تاسو يې پلورلي دي او خاورې ته هم زمونږ دخپلو منافقانواو مرتدانو په اوږوسپاره شوئ او ورننوتئ. ستاسو جېبونه ډک دي اوزړونه موتش دي . کروز ميزايل بمبار اونوروسائل او ټکنالوجي ځای ړنګولای شي خوفتح کولای يې نه شي ، فتح کول دمټو په زړو اودزړونو په جرات کېږي اودا دواړه تاسونه لرئ په پلمو ، دسيسو اوډالرو په بدرګه يوځای ته ننوتل دهغه ځای فتح کول نه دي . تاسو به ډېر زر ماتې وخورئ اوتاسو ته به داجنګ دروسيانو نه ډېر دروند تمام شي. ستاسو پوځيان نازولي دي توريالي نه دي . تاسو زمونږ لاسونه اوپښې په پولادي زنځيرونو تړلي دي او بياهم راته وايئ چې مونږ باندې حمله ونه کړئ ، مونږ ته مه راګورئ ، مونږ له تاسو وېرېږو . تاسو دحيوان غوندې مونږ دتحقيق په کوټه کې دپولادي کونډې پورې وتړئ اوبياراسره تحقيق کوئ ... چې داستاسو په بې زړه توب او ډاردلالت کوي .

دروسيانو او امريکايانو بله مقايسه داده چې روسيانو دنړۍ په مطبوعاتو فشارنه راوړ اونه يې په خبري رسنيو بنديز لګاوه چې دهغوی په خلاف خپرونې دې نه کوي يادې حقائق نه وايي او امريکايانو په مطوبوعاتو او خبري رسنيو سخت بنديزونه لګولي دي او څوک چې لږ حقائق ووايي يادامريکاخلاف وکړي هغه تهديد ېږي ، نيول کېږي او تعذيبېږي ...

همدارنګه امريکايان تر روسيانو زيات دروغ وايي ، امريکايان هم خپلو خلکو اوخپل ولس ته دروغ وايي اوپه تيارو کې يې ساتلي

دي ، خپل تلفات یانه ښيئ او یایې لږ ښيئ اودنورې نړۍ په سترګو کې هم خاورې اچوي او ډول ډول دروغ ورته وايي .

بله داچې روسیانو زمونږ کورونه ړنګ کړل ، وګړي یې ووژل ، معلول یې کړل ، ښځې یې کونډې کړې ، ماشو مان یې یتیمان کړل ....... خو دایې نه دي کړي چې هرڅوک ونیسي ، ګېډې او وروڅې پرې وخریي اوپه لرې ټاپوکې یې دحیواناتو په څېر پنجرو کې واچوي اوله حیوانه بتر سلوک ورسره وکړي ....

# دترجمانۍ ستونزې

امریکایانو دمختلفو ژبوګڼ ترجمانان ساتلي دي اوداټول هغه خلک دي چې امریکاته تللي دي اوهلته یې امریکایي جنسیت اخیستی دی . هغوی خپلو هېوادونو ته ځانونه نه منسوبوي بلکه هریو په ویاړسره وايي چې زه امریکي یم، خو امریکایان یې امریکي نه ګڼي، ډېر سپک یې ګڼي ، لږ معاش ورکوي اودغلامانو سلوک ورسره کوي . په عربانو کې مصري ترجمانان ډېردي په افغانانو کې تقریبا ټول پارسیوانان دي یواځې درې کسان ماپښتانه ولیدل چې یودکوزې پښتو نخوا ددیرو بل دکونړ اودریم دقندهار و البته دازه دخپلو معلوماتو مطابق وایم کېدای شي چې نورهم وي اومانه وي لیدلي . هلته ټول ترجمانان دامریکایانو غلامان وو. نورټول فارسیوانان و چې پښتو یې هم داکثرو زده وه خودچاچې پښتو ښه زده وه هغوی بندي ته ځان پښتون معرفي کاوه ، ډېرو بندیانو نه پېژندل او پښتانه یې ګڼل خومونږ او ځینو نورو وپېژندل چې کله کله

به ترې دژبې غلطي راووته اکثره به مذکر او موءنث کې تېر وتل . فارسيوانو ترجمانانو پښتنو سره تعصب کاوه ځينې يې پرچميان ځينې ستميان او شغليان وو چې ټول په شمالي اتحاد کې سره راټول شوي وو. ډېرو پښتنو بنديانو ته دغه ترجمانانو قصداًاو عمداً په غلطه ترجمانۍ ستونزې پيداکړې وې چې ډېروروسته امريکايي محققينو هم محسوس کړه . او ځينو دناپوهۍ له امله له ځانه غلطه ترجماني کوله کله به چې په کومه جمله ياکلمه پوه نه شو نو امريکايي محقق ته يې دانه ويل چې پوه نه شوم بلکه له ځانه به يې په کې خبره ورټومبله او غلطه ترجماني به يې وکړه .کله به چې محقق اوترجمان بدل شول او هماغه پوښتنه به له بندي بياوشوه اودبندي ځواب به بدل و نو څرګنده به شوه چې مخکنی ترجمان غلطه ترجماني کړې ده .

دايو تريخ حقيقت دی زه يې له تعصبه نه وايم په هرقوم کې ښه اوبد دواړه شته دافغانستان ټول قومونه افغانان دي او مسلمانان ټول سره ورونه دي ، خودګوانتنامو پارسي ژبو ترجمانانو کې له يوه پرته ټولو پښتنو سره تعصب کاوه يو په کې مسئوليت شناس اوښه بريښېده، ښه پښتويې زده وه او ځان يې قندهاری پښتون معرفي کاوه چې بنديانو يې هم تصديق کاوه خو ماويېژنده ماورته وويل چې ډېره ښه پښتودې زده کړې ده نه پښتون يې اونه دقندهار، ماته کابلی بريښې، ويې خندل اودهو سريې راته وخوځاوه. داسې معلومېده چې يواځې ترجماني نه بلکه په امريکايي استخباراتو کې يې ډېر کارکړی وي پوخ سړی و، هغه ډېره ښه ترجماني کوله .

دترجمانانو دتېروتنو اوقصداً غلطیو ځینې بېلګې دادي چې: یو ځاځی بندي و دهوالورته په ډزکولو بندي شوی و، هواکې یې په یوه باز دټوپک ډز کړی و امریکایانو ګومان کړی و چې په امریکایې الوتکه یې ډزکړی دی. هغه نه باګرام کې امریکایي پوښتنه کړې وه چې ولې دې ډز وکړ؟ څرنګه چې هغه ځاځی و اوځاځي او ځینې نور پښتانه قبایل دپښتو دکلمې دمنځ الف په واو بدلوي نو هغه وویل: "بوزبوندې مې ډزوکړ" فارسیوان ترجمان "بوز" ونه پیژنده، دفارسي "بُز" (اوزه) یې ترې واخیسته او امریکایي محقق ته یې وویل چې دی وایي چې ما په اوزه ډز وکړ. هغه ورته وویل چې اوزه خوپه هواکې نه وي تاخو دهوا لورته ډز کړی دی. هغه وویل چې نه ماپه بوزډز وکړ، او هغه هواته الوتی و. پارسیوان بیا داوزې ترجمه وکړه امریکایي په غوسه شو او ویې ویل چې اوزه خوهواته نه الوزي بیایې بل پښتون ترجمان راوغوښته هغه ورته وویل چې دی وایي: ماپه باز ډز وکړ ددوی لهجه داسې ده چې دباز نه دفارسي بز جوړېږي خو هغه ترجمان خپله غلطي نه منله او ټینګار یې کاوه چې نه ده اوزه وښوده بیا امریکایي محقق ډېر تصویرونه راوړل چې دباز او اوزې تصویرونه هم په کې وو ځاځي نه یې پوښتنه وکړه چې وښیه دې کې دې په کوم شي ډز کړی دی؟ هغه په باز ګوته کېښوده اوخبره حل شوه.

یوبل پښتون بندي کیسه کوله چې مانه محقق پوښتنه وکړه چې فلانې ځای ته کله تللی یې؟ ماورته وویل چې نه هلته زما کوم کارنه دی پیداشوی نه یم تللی. فارسیوان نرجمان قصداً غلطه ترجماني

وکړه او ورتـه ویـې ویـل چـې دی وایـي : هـو زه هلـتـه تللی یم اودجهاد ټرینـنـګ مـې کـاوه . داهلـه معلومـه شـوه چـې کلـه بـل ځـل محقـق اوتـرجمان بـدل شـول او همداپوښتـنـه یـې بیاتکرار کړه او مادنه ځواب ورکړنـو هغـه وویـل چـې تـاخو تېـر ځل مخکښې محقق ته ویلي دي چې هـو زه دجهـاد ټریننـګ لـه پـاره هلـتـه تللی وم . زه حیران شـوم او ورتـه ومـې ویـل چـې دادتـرجمان غلطي ده هغـه زمـا غلطه ترجماني کړې ده ماخودجهـاد اودټریننـګ نـوم هـم نـه دی اخیسـتـی بلکـه ماورتـه وویـل چې زه هلته نه یم تللی .

داسـې غلطـیانې اوتېروتـنـې ډېـرې زیـاتـې کېـدې چـې ځیـنـې پـه ناپوهۍ او ځینې قصداً وې .

دکویټـې دچـمـن مولـوي امیـن الله تـه پـه آخري ورځـو کې داستونزه راولاړه شوه چې محقق ورتـه وویـل چې تـه درواغ وایـې تـه دکویټـې نـه یې بلکه تـه دیمن یې ماسـتـادوسیه ولیده تامخکې یوه محقق ته ویلي دي چـې زه دیمـن یـم. هغـه ورتـه وویـل چـې داسـمه نـه ده ماورتـه"چمـن"ویلـی دی هغـه "یمـن " لـیکلی دی نونـه پوهېـږ م چـې دادترجمان غلطي ده اوکه دمحقق ؟.

یویـل بـنـدي کیسـه کولـه چـې زمـا انګلیسـي زده ده خـو تـرجمان ګومـان کـاوه چـې زمانـه ده زده نـو محقـق راځخـه پوښتـنې کولـې او ترجمان بـه دهغـه پوښتـنې او زمـا ځوابونه ژباړل یو وخت داسې راغې چې ماپـه ځواب کې یوه خبره وکړه او هغه قصداً او عمداً ژباړه بېخي بـل ډول وکړه چې پـه هغـې کـې ماتـه ډېـر زیـات تـاوان و اوزه یـې لوی مجرم ثابتولم ماسمدستي پـه انګلیسـي خبرې پیل کړې او محقق ته

مې وویل چې ماداسې ځواب درکړ اوترجمان خوتا ولید چې بدله خبره یې درته وکړه ؛ ددې سره دترجمان رنګ والوت ، لاړې یې ونښتې اوپه رېږدېدوېې پیل وکړ. په رېږدلي اواز یې عذر او زاري پیل کړه؛ ما او محقق دواړو ته یې وویل چې مابد وکړل ما معاف کړئ بیابه داسې نه کوم. ما هم ستغې ، سپکې اوسپورې ورته وویلې او ومې کنځه او محقق هم ښه ورته بیامې هغه ونه لیده چې څه شو ؟.

داخوځینې هغه بېلګې دي چې راښکاره شوې دي . دهغو بندیانوبه څه حال وي چې بې سواده او بې ګونادي خو ددښمنانو دڅرواغو دشیطانۍ ، دترجمانانو دتعصب او دامریکایانود حماقت اوظلم ښکار شوي دي ؟!.

دلته تاسو دهغه پښتو ژباړې تصویروګورئ چې فارسیوان ترجمان ژباړلې ده اوپه ډاګه برېښي چې ژباړونکی فارسیوان دی. داددې دلیل او تصدیق دی چې امریکایانو سره ټول یااکثره افغاني ترجمانان فارسیوانان وو او پښتو یې زده کړې وه دژباړې دې تصویر ته وګورئ :

PASHTO PGI
۲۸۲

د جنګي اسيرانو محکمه

دبنديانو دپاره خبرتيا

تاسو د امريکې دنظامي قواوو د جګړې دډګر دشمه دي په مستقيما ډول ساتنه. د جګړې د ډګر دښمنان هغه خلک دي چې د طالبانو او يا د القاعدې د ډلو ملاتړ او يا د غړو دلګرو سره چې په جګړه کې دوي سره د امريکې او يا دهغه د ملګرو هيوادو په خلاف شامل وو. دا هغه چا ته راجع کيږي چې ئاس په حربي عمل وشل دي او يا مستقيماً همکاري لکه يو دښمن درلود

د امريکې متحده ايالاتو په چا ته د جنګي اسير په صفت موقع ورکوي چې دخپل خان د پاره دعوا برابر کړي. د تاسو دوسيه د يو جنګي اسيرانو محکمې چې د نظامي تشکيلاتو نه جوړ شوي دي وړاندي کيږي. دا دمبرمانو يو محکمه ده او د جنګي اسيرانو محکمه هيڅکله تاسو نه څه نه ورکوي بلکه د معلومولو چې ايا د تاسو ايسار په صحيح توګه شوي ده وي. نظامي محکمه په لاندې ډول تاسو ته اجراً کيږي.

۱ ـ تاسو هر يو د يو نظامي صاحب منصب سره د دوسيه په مخ او دعوا په کولو کې په نظامي محکمه مرسته وکړي. دا عسکري صاحب منصب د تاسو شخصي وکيل دعوا ګڼل کيږي. دتاسو وکيل دتاسو په دوسيه کې دهغه موضعاتو په سر چې د تاسو د ايسارولو په حالت ارتباط لري غور او مرسته کوي. دتاسو شخصي وکيل حق لري چې تاسو سر د تاسو د موضوعاتو په سر خبري وکړي، بيغير د مخفي معلوماتونو.

۲ ـ مخکې د هغه نه چې محکمه شروع شي تاسو ته هغه حقايقو چې دتاسو دحالت سره سم د جګړې د ډګر د دښمن په صفت مخفي نه وي په ليکلو کې ورکول کيږي.

۳ ـ هغه جرياناتو نه چه په هغې کې اعضا د محکمه غور يا فيصله کوي. او هلته چه اقرار او يا نور کارونه وي چه که ته منته ولاړ شي د امريکا ملي حفاضت په خطر کې وي. ته باندې زور ندې چه ولاړ شي. مګر که ته ونه غواړې چه ولاړ شي. نظامي محکمه بدون د تاسو نه شروع شي. د تاسو

PASHTO PG2

شخصي وکيل په هر صورت هلته به وي

۴ـ که لازم وي تاسو ته يو ترجمان به درکړل شي.

۵ـ تاسو کولاي شئ چه خپل شواهد نضامي محکمه ته حاضر کړئ. چه دعيني شاهدان شهادت هم دئ. که هغه شاهدان په يو معقول دليل هاضر نشي. د هغوي ليکل شوئ سند ته به وکتل شي. او تاسو کولاي شئ چه ليکل شواي خط او يا سند هاضر کړئ او تاسو کولاي شي چه د نضامي محکمه په مخ کي اقرار وکړئ اما ځواب ورکول او اقرار کول حتمي ندئ.

پرته د نضامي محکمي نه د امريکا قضا صلاحيت لري چه غور وکړي هغه قانوني اسنادو باندي چه بنديانو وړاندي کوي په دا ځاي کي چه ثابط وکړي چه د بنديانو بندي کيدل قانوني دئ که نه. په دا نژدي وقتو کي به تاسو ته ووايل شي، چه څه شيانو حاضر دئ چه تاسو کولاي شئ چه د امريکا په محکمه کي خپل دوسيه باندي دعوا وکړئ. که وغواړي او که نه غواړي.

نضامي محکمه تاسو په حيث د يو جنگي اسير پيژني.

که چيري کوم سوال د دغه خبرتيا په هکله لري د تاسو شخصي وکيل کولای شي چي تاسوته ځواب درکړي.

# تحقيق ياپوښتنې ګروېږنې

دنيولوله ورځې واخله ترراخلاصېدو پورې ټوله موده دبندي په تحقيق کې تېرېږي . امريکايان غوږونه لري خوماغزه نه لري ، دهر شيطان خبره اوري، دهرچاپه هکله چې هرڅه ورته ويل شوي دي هغه ريښتيني ګڼي.ډېر خلک دخپلو شخصي دښمنانو په غلطه شيطانۍ ګوانتهنامو ته رسېدلي دي ، امريکايان کوښښ کوي چې دبنديانو نه معلومات واخلي اوڅه نوې خبره ترې رااوباسي ډېر مستنطقين او محققين دي اويو محقق دډېرو بنديانو سره تحقيق کوي . دوی خپله هم پوښتنې کوي خو اکثره پوښتنې دواشنګټن نه ورته راځي ، دوی د بندي ځوابونه واشنګټن ته لېږي ، هلته په هرځواب کې نورې پوښتنې راپيداکوي اوبيا يې رالېږي . دهربندي دخپل وطن اوداوسېدوله ځايه هم ددرواغو اوريښتيا معلومات ورته راځي اودهغو په رڼاکې ورته ووايم اوکه په تيارو کې ، هم پوښتنې کوي. بندي ته کله نرمه او کله ګرمه وايي . يو محقق ورسره سختي وکړي بل نرمي . محققين وخت په وخت بدلېږي يو چې ستړی يامايوس اوناکام شي بل راشي . د (CIA)، (FBI ) اونورو مختلفو ادارو مختلف کسان کله سره شريک او کله بيل بيل تحقيق کوي ، بلکه کله کله دناټو دنورو غړو هېوادونو استخبارات هم تحقيق کوي چې داخبره مونږ ته دپوښتنو دنوعيت ، دمحقق دشکل ، صورت او قيافې اونورو نښونه څرګنده شوې ده . مونږ ځينو محققينو ته ويلي هم دي چې تاسو دامريکادمختلفو ادارو اودناټودهېوادونو استخبارات مونږ سره مخ کوئ اوپه دې ترتيب دبندي دتحقيق دوره

دنامعلوم وخت لپاره اوږدوئ ؛ داظلم دی داستاسو حق نه دی. هغوی بـه وخندل او ځینو بـه یو بـل تـه سره ولـیدل او سترګو کې بـه یې سره وویل چې دابندي خوبه دې راز هم پوهېږي بلکه یوه ورځ مایوه محقق تـه همداخبره وکړه دهغـه شاتـه یو بل غلی ناست و هغه ماتـه دسترګو پـه اشـاره وویـل چـې همداسـې ده ، اوداځکـه چـې هغـه زمادوسـیه مطالعـه کړې وه ، ماسره زمادتحقیق په دوران کې څو ځل ناست و او داورتـه جوتـه شوې وه چې زه بې ګونایم . دسترګو او وېښتانو درنګ ، شـکل او صورت اونورو ټولو نښونه معلومېده چې امریکایي نه دی . تحقیق له پاره دکمپ دننه جلابلاکونه جوړ شوي دي چې دنږدې بلاکونو نـه ورتـه پلي اودلرې لرې بلاکونوبندیان ورتـه پـه بربنډو ورو ګاډوکې بوتلل کېږي چې ګاټور ورته وایي په شاتنۍ لپکۍ کې بندي کښېنوي چې ځینو کې چوکۍ وي اوځینې بې چوکۍ وي . دوړې او ګردونه پرې پراته وي ، څرنګه چې دبندي پښې اولاسونه تړلي وي نو ګاټورتـه نـه شي ورختلی ، اکثره بـندي لومړی دګـاټور دلـپکۍ پـه وروستنۍ برخې کښېني اوبیادواړه پښې راپورته کړي اوکله کله یې عسکرورپورته کوي .

دتحقـیق بلاکونـه پـه دې ترتیـب جـوړ شـوي دي چـې اوږده دمسـتطیل پـه شـکل ابـادي وي منځ کې یې کوڅه وي اویـو لـور بـل لورتـه کوټې وي ، دهرې کوټې نمبر اونـوم معلوم وي دتحقـیق دهر بـلاک نـوم هـم معلـوم وي. دتحقـیق پـنځه بلاکونـه دي اونومونـه یـې دادي :

۱ : ـ زیړ .( یلو).

۲: اسماني. (بلو).

۳: نارنجي. (اورنج).

۴: طلايي. (ګولډ).

۵: نسواري .(براون) .

هر بلاک دځانګړيو اهدافو له پاره استعمالېږي او ټول بنديان يو بلاک ته نه بوتلل کېږي. بنديانو په خپل ګومان او دځينو نښو له مخې دهر بلاک دهدف اټکل کاوه خود امريکايانو اهداف ډاګيزنه وو .

دتحقيق په دوران کې دبندي لاسونه اوپښې په فولادي زولنو او زنځيرو نو تړلي وواودپښو زولنې په زمکه کې دفولادي کړۍ سره په قلف داسې تړلې وي لکه حيوان چې موګي پورې تړل کېږي . محققين دبنديانو نه سخت وېرېږي . دتحقيق په دوران کې دکيمرې له لارې په بله کوټه کې نور محققين تحقيق څاري او اوري اوددوه کوټو منځ کې دلګېدلې ښيښې له لارې هم بندي څارل کېږي . کله کله محقق دتحقيق په دوران کې دځو پوښتنو نه وروسته پاڅېږي او دباندې اوځي داسې برېښي چې بله کوټه کې کمپيوټر ته ناستو محققينو سره مشوره کوي . بيا راځي اوپوښتنو ته دوام ورکوي. پوښتنې کله لږ او کله زيات وخت نيسي . داسې وخت هم راځي چې څو ورځې سر په سربندي سره تحقيق کېږي تردې چې کله په يوه ورځ اوشپه کې دوه درې ځل بندي دتحقيق له پاره غوښتل کېږي او پوښتنې ګرو هېرنې ترې کېږي . کله يوه ورځ وروسته کله اونۍ کې يو يادوه ځل ، کله لسو ورځو کې، کله مياشت او ځينو بنديانو سره په

میاشتو میاشتو یاتریوه کال پورې تحقیق نه کېږي . هر محقق چې راشي بندي ته وايي چې ستاکار زما لاس کې دی ، ماسره همکاري وکړه ریښتیاراته ووایه چې کاردې خلاص کړم اوکورته دې ولېږم . یو چې بندي سره په درواغو وعدو اودرواغو ویلو سترې شي هغه بدل شي بیا بل راشي . هریو وايي چې هغه مخکني محقق درته درواغ ویلي دي زه درته ریښتیا وایم، هغوی بې غوري کړې ده زه ستاپه دوسیه غورکوم ....

دپوښتنو په دوران کې کله دمهمو پوښتنو منځ کې بابیزه پوښتنه وکړي او کله دبابیزه پوښتنو منځ کې مهمه پوښتنه تېره کړي .

کله کله له ځوابه یوه مهمه پوښتنه راولاړېږي خو دمحقق ورته یافکر نه شي اویا داده چې له پاسه چې ورته کومې پوښتنې راغلې وې هغو کې نه وي نو ځکه یې نه کوي . اویاداچې له حماقته ورته متوجه نه شي .

کله دبندي دریښتیا خبرې تصدیق نه کوي اودرواغ یې ګڼي . دیوعربي نه یې پوښتنه کړې وه چې ته افغانستان ته دځه شي له پاره تللی وې ؟ هغه ورته وویل : ددې له پاره چې تاسو سره جهاد وکړم تاسو زمونږ دښمنان یاست او ستاسو په مقابل کې په مونږ جهاد فرض دی ... داسې برېښي چې امریکایي محققینو ته دتعلیم په دوران کې ویل شوي دي چې بندي لومړی درواغ وایي اودلومړي ځواب تصدیق یې مه کوئ نو ځکه بې تمیزه محقق هغه عربي ته ددغه ریښتیني ځواب په مقابل کې وویل چې : نه داسې نه ده ته درواغ وایې سمه خبره وکړه . هغه ورته وویل چې مادرته سپینه

اوريښتيا خبره وکړه له دې زيات ريښتيا کوم کېدای شي ؟ محقق په تکرار ، اصرار او ټينګار بيا بيا ورته ويل چې نه داخبره سمه نه ده ريښتيا ووايه . دمحقق دټينګار له امله عربي بندي ورته درواغ وويل چې زه افغانستان ته دتجارت لـه پاره تللی وم . محقق يې تصديق وکړ او ورته ويې ويل چې اوس دې سمه او ريښتيا خبره وکړه !.

مونږ سره چې ددرې نيمو کلونو په دوران کې کوم تحقيق شوی دی داخپله يوه پلنه موضوع ده چې تفصيل يې يو ځانګړی کتاب ايجابوي . خوزه يې کوچ اوغټې غټې بېلګې وړاندې کوم او ځينې يې بل مناسب وخت ته پرېږدم .

اګر چې دپوښتنو په نوعيت کې کوم ځانګړی توپير نه و دپېښور ، باګرام ، قندهار او ګوانتانامو دزندانونو دامريکايي محققينو دتحقيق پوښتنې ګروپونې تقريبا يوشی وې او اکثره همغه پوښتنې تکرارېدې چې مخکې مادپېښور ، باګرام او قندهار په کيسه کې يادې کړې دي . امريکايان نه پوهېدل چې څه ووايي ؟ مخکې مو چې يادې کړې دي دهغو تکرار ته ضرورت نشته. په ګوانتانامو کې دلومړي تحقيق نه وروسته يو سورمخی ، دسرو وېښتانو او شنو سترګو خاوند اويو ورسره پوځي محقق دترجمان سره راغلل ماته يې وويل چې ته به ټول عمر دلته يې ، بيا به خپل کورته لاړنه شې ، خپل بچي او خپلوان به دې بيا ونه ګوري ......

ـ هيڅ پروانه کوي هرڅه مو چې راسره وکړل تاريخ به يې وليکي .

ـ ته چې دلته په دې ګرمه جزيره کې وسوځې بيا پروانشته ، تاريخ چې هرڅه ليکي ودې ليکي .

ـ داستادمسئوليت داحساس پورې اړه لري ؛ داچې تاته دتاريخ ليکل بابيزه ښکاري ماته ستاوزن او قدر راښيي. دتاريخ ليکل يواځې دکاغذ دپاڼو پورې نه محدودېږي بلکه داليکل دانتقام ولولې راپاروي ، انقلابونه پلي کوي اوداسې اعمالو لامل ګرځي لکه چې درسره وشول .....

نور يې موضوع بدله کړه او مخکنۍ تکرار پوښتنې يې وکړې .

دغه محقق څو ځل ماسره تحقيق وکړ او بيا بدل شو . بل ځل بيادوه دشخصي جامو خاوندان ـ چې داستخباراتو کسان وي او يو په عسکري جامه کې راغلل ، ترټولو دمخه يې داراته وويل چې :

ـ ته ماپېژنې چې زه څوک يم ؟.

ـ نه .

ـ زه دصدربوش پسې دوهم سړی يم او خاص ستادموضوع پسې واشنګټن نه راغلی يم .

ـ ماوخندل .

ـ ښه ته لاخاندې هم دکرسۍ نه پاڅېد په کوټه کې له ډېرې غوسې ګرد وچورلېده ، سپکې ، سپورې او ستغې يې وويلې بيا کښېناست او ويې ويل :

ـ سمه خبره او ريښتيا ووايه چې کاردې خلاص کړم او زرکورته لاړشې .

ـ ماريښتيا ويلي دي او ريښتياوايم زه نه په (CIA ) کې کاركوم نه په ( FBI) کې اونه په ( ISI) کې چې دروا‌غ ووايم .

څو زرې پوښتنې يې وکړې او لاړ .

دلږ څنډ نه وروسته عسکر راغلل دکوټې قلف يې خلاص کړ او دزنځيرونو دشرنګارسره يې بيرته خپلې پنجرې ته بوتلم .

لنډه داچې دغه محققينو هم خپل و خت پوره کړ او څه موده يې راسره تحقيق وکړ ګڼ محققين بدلېدل او اکثرو يې تکرار پوښتنې کولې. داسامه بن لادن ، حکمتيار ، ملا عمر ، ظواهري ، القاعدې ، طالبانو ، دنړۍ داسلامي حرکتونو ، اسلامي موئسسو او داسې نورو په هکله معلومات دپوښتنو محوري موضوع ګانې وې .

کله کله به يې ډېر عکسونه راوښودل چې په دې کې څوک پېژنې ؟.

دشخصي ژوند دمختلفو اړخونو په هکله يې پوښنې کولې .دمدرسو، جوماتونو ، خطيبانو او امامانو په هکله چې دامدرسې څرنګه جوړېږي ؟څرنګه تمويلېږي ؟ څوک پيسې ورکوي ، زکاتونه ، خيراتونه ، سرسايې ، اوداد قربانيوڅرمنې ولې خلک مدرسوته ورکوي او په څه ترتيب يې ورکوي ؟

دجهاد خبرې څوک کوي ؟ کوم ملايان دامريکايانو خلاف کوي ؟ ابن تيميه ، محمدبن عبدالوهاب ، حسن البناء ، سيد قطب ، اخوانيان ، او وهابيان پېژنې که نه ؟ دهغوی کتابونه دې مطالعه کړي دي که نه ؟

دهغوی په هکله څه نظر لرې ؟ دعربي هېوادونو نه دمدرسو ، احزابو ، موئسسو او جهادلـه پاره اموال لـه کومې لارې راځي ؟ دحوالې طريقه څرنګه ده او څوک يې کوي ؟

جهاد دې کړې دی که نه ؟.... داټولې هغه پوښتنې دي چې دهر بندي نه بيا بيا او په تکرار کېږي .

ماته دعرق النساء تکليف و اويو ځل ډېر سخت مريض وم چې کښېناستی نه شوم ، دتحقيق عسکر راغلل، پنجرې ته اودرېدل، زه پروت وم اوسخت دردونه مې وو، نورو بنديانو هم ورته وويل چې داسخت مريض دی علاج يې نه کوئ او تحقيق ته يې بوزئ ؟

عسکرو په مخابره کې خبرې وکړې لاړل او څه شيبه وروسته ديوې ډاکټرې سره راغلل. عسکر راننه وتل ، زه يې په زولنو او زنځيرونو کې په داسې حال کې وتړلم چې هيڅ حرکت مې نه شو کولای ، ملا او پښې مې سخت درد کاوه . ډاکټرې ددرديوه ګولۍ راکړه نوره لاړه عسکرو تذکره راوړه اوپه زور يې په کې واچولم ، دتحقيق بلاک ته يې بوتلم اودتحقيق کوټې ته يې ننه ايستم . څرنګه چې زه نه شوم کښېناستی نوپه زمکه څملاستم يوپېر محقق چې کولغ سر يې و، ګيره او برېت يې دواړه خريلي وو او ډېر چاغوالي نه يې غوړونه په سر کې ننوتي ووراغی ترجمان ورسره و دواړه ماته مخامخ په چوکيو کښېناستل او پوښتنې يې پيل کړې. ماته يې دنيو يارک دبرجونو هغه عکسونه وښودل چې دحملې په وخت کې داور د لګېدلوپه وخت کې اخيستل شوي دي.

راته ويې ويل چې دادې ليدلي دي ؟ ماورته وويل چې داماپورې څه اړه لري ؟ تاسو شرمېږئ نه چې زه مريض يم ، علاج مې نه کوئ ، زه په زمکه پروت يم ، حرکت نه شم کولای اوتاسو په دې حال کې هم ماسره تحقيق کوئ ؟ تاسو ډېر بزدل خلک ياست. تاسو ډېر ظالمان

يې. نورې ستغې سپورې مې ورته وويلې ؛ هغه راته وويل چې مونږ به يوو که روسيان ؟ ماورته وويل چې مامخکې ګومان کاوه چې تاسوبه په هغوی ښه ياست خواوس راته معلومه شوه چې هغوی له تاسو ښه وو . په تکرارې وويل چې آياروسيان ترمونږ ښه وو ؟ ماپه تکرار وويل چې هو . غوښتل يې چې نورې پوښتنې وکړې . ما وخت ورنه کړ ډېر غوسه شو خو مادهيڅ پوښتنې ځواب نه ورکاوه بلکه دځواب په ځای مې ستغې سپورې ورته وويلې . اخر مايوس اوپه غوسه پاڅېد او روان شو. له همدې ځل نه وروسته بدل شو او بيا رانه غی. يو ځل بل محقق هم په داسې حال کې راسره تحقيق کاوه چې ماحرکت نه شوکولای او دپنجرونه يې په تذکره کې بوتلم، دتحقيق کوټې ته يې هم دتذکرې سره دننه کړم هلته مې هم سم ځوابونه ورنه کړل اوزياتې خبرې مې ورته وکړې .

يو ځل يو مستنطق يامحقق راغی او ترجمان ورسره نه وُ ډېره ښه وضعه يې وه او کوښښ يې وکړ چې ماپه انګلېسي پوه کړي او څه پوښتنې راڅخه وکړي. اګر چې زه په انګلېسي نه پوهېدم خودومره پوه شوم چې ځينې پوښتنې يې وکړې او دهرې پوښتنې سره به يې راته وويل : زه پوهېږم چې ستا ځواب به داسې وي. ځواب به يې هم پخپله ووايه . دايې هم راته وويل چې مونږ ستاسو په هکله دپاکستان دآی ايس آی نه پوښتنه وکړه چې داخلک مو ولې نيولي دي او کوم جرم لري ؟ مکتوبونه يې هم راوښودل چې مونږ دامکتوب ورلېږلی و او هغوی اوس درېښتيا په ميدان کې دخپلو لومړنيوخبرو

او راپوروونونه منکر دي او وايي چې په دې خلکو کې مونږ هيڅ جرم ونه مونده .

مابه اکثره دتحقيق په وخت کې په محققينو طنز هم کاوه يو ځل راته يوه محقق وويل چې څرنګه يې ؟ شپه او ورځ څرنګه تېرېږي ؟ ماورته وويل : الحمد لله ښه تېرېږي دورځې دنورو بنديانو سره خبرې کوم او دشپې دوه کسان زما پنجرې ته دننه راځي کله کله يو هم راځي زماهغوی سره ډېر ښه وخت تېرېږي اوښه شپه ورسره مشغولېږم . محقق سخت وارخطا ، ترور او حيران شو راته ويې ويل چې :

ـ هره شپه راځي ؟

ـ هو هره شپه راځي .

ـ دروازه ورته څوک خلاصوي ؟.

ـ دادرته نه وايم .

ـ ښه داراته ووايه چې دا دوه کسه چې ستاپنجرې ته هره شپه راځي څوک دي ؟.

ـ داهم درته نه وايم .

ډېر زيات اصرار او عذر او زاري يې وکړه اوراته ويې ويل چې مونږ سره همکاري وکړه داکسان راته وښيه تابه خلاص کړو ...

ماورته وويل چې داکارنه کوم ، داراز درته نه وايم ، تاسو مونږ ته دروغ وايئ زه هم درته له دې راز پرده نه پورته کوم . دباندې وواته او يوبل کس هم ورسره راغی، دواړو زيات ټينګار وکړ چې دغه کسان

راته وښيه ، ښه مې وځورول په آخره کې مې ورته وويل چې زماپنجرې ته هره شپه دوه موږ کان رادننه کېږي، زه پاس په تخته پروت يم او هغه لاندې ګرځي راګرځي ، ټوپونه وهي ... زه ورته ګورم او مشغولېږم . په خنداشول او راته ويې ويل چې ته هروخت ټوکې کوې اوپه مونږ پيتموزې کوې . ماورته وويل چې ستاسو داروانه ډرامه ټولې پيتموزې دي که يوه يوه رنګې رنګې مونږ وکړو څه پروا لري ؟!.

داسلسله روانه وه کله يو کله دوه ، درې او ترپنځو پورې محققين راتلل او پوښتنې ګروېږنې يې کولې . يوځل يو محقق راغی چې چينايانو او جاپانيانو ته ورته و دسياف ، رباني ، دوستم ، خاتمي اوځونور عکسونه يې راوښودل چې داپېژنې ؟ ماوويل هو: يو يو مې وروښود .

يوه شپه په خواره خوب ويده وم دنيمې شپې نه هم اخوا عسکر راغلل ، دزنځيرونو په شرنګار او چغو يې راويښ کړم ، راته يې وويل چې تحقيق دې دی. ټول بنديان ويده وو ماسره نږدې ځينې بنديان هم راويښ شول زولنې يې راواچولې اوپه شرنګارېې دتحقيق کوټوته بوتلم. هلته چې کله يوې کوټې ته ننوتم او موکې پورې يې وتړلم ، چې ګورم هغه توربخن پېر شونډی محقق راغی چې قندهار کې يې ماسره دتحقيق په دوران کې سختي کړې وه . چې څرنګه کښيناست يو لوی سګرټ يې هم لګولی و؛ په ډېر تکبر او غوسه يې راته وويل : ته پوهېږې چې ولې مې ته په دغه وخت کې راوغوښتې چې ټول بنديان ويده دي اوته مې له خوبه راپاڅولې ؟

ـ نه .

ـ په تمسخرېې شونډې ببرې کړې اوراته وېې ویل :داځکه چې ته ډېر خطرناک سړی یې، زه خاص ستاددوسیې له پاره دواشنګټن نه راغلی یم . ماوخندل او ورته ومې ویل : زه دې پېژنم ، ماسره دې قندهار کې هم تحقیق او تشدد کړی و. او په دې هم پوهېږم چې یوازې زمادقضیې له پاره نه یې راغلی بلکه ته دامریکاپه پوځي استخباراتو کې کار کوې او همدادې وظیفه ده ؛ چېرته به دې په کوم کلب کې ویښه شپه تېره کړې وي اوس غواړې چې له یوې خواسیاته ویده شې اوله بلې خوا ماوځوروې . نورهم په غوسه شو په چوکۍ کې تاوراتاو شو او راته وېې ویل : ته خو زما خبرې بابیزه ګڼې خو معلومات به درته وشي .

ـماته معلومات شوی دی خوتاته به معلومات وشي .

ـڅرنګه ؟.

ـ داسې چې زه بې ګونایم او تاسو ظالمان ؛ زه باورلرم چې ستاسو خوښه وي اوکه نه ، زه به ان شاء الله یوه ورځ خپل کورته روان یم .

ـ سمه خبره وکړه اوریښتیا ووایه په ځان باندې ظلم مه کوه .

ـ کوم ریښتیا اودڅه شي خبره ؟.

ـ هغه سره ځواب نه و څه شېبه غلی و او فکر یې کاوه چې څه ووایي ؟!.

ـ ته تل محققینو سره استدلال کوې او ددې په ځای چې سم ځواب ورکړې ته هغوی نه پوښتنې کوې او پوښتنې کې پوښتنې

راباسې ، ديوه کب نوم يې واخيست چې تـه فلانـی کـب يې هيڅ په لاس نه راځي.

ـ داځکه چې زه بې ګوناه يم .

ـ ته دپوښتنې هيڅ حق نه لرې يواځې زمونږ پوښتنو ته بايد ځواب ووايې .

ـ ولې ؟.

بيا غلې شو اودلږ ځنډ نه وروسته يې وويل :

ـ داخبرې پرېږده نورې خبرې يې منځ ته راواچولې او دلمر خاته نه مخکې يې بېرته بـلاک تـه ولېږلم . همدغـه محقق منځ کې ورک شو نـورو محققيـنو راسره تحقيق کاوه بيا څه موده وروسته يې بيا يو ځل راسره تحقـيق وکړ خوپه دې ځل يې وضعيت هم ښه و اواردو کې يې راسره خبرې وکړې .

دتحقـيق پـه دوران کـې يـې دعربـي ، پښـتو ، فارسي او اردو ژبـو تـرجمانانو پـه واسطه پـه مختلفو وختونو کې ماسره خبرې کولې او ضـمن کـې يـې داهـم معلوملـه چې پــه کــومــو ژبــو تـرکومه حده پوهېږي ؟.

کلـه کلـه بـه يې نقشې هم راوړې اودايې معلوملـه چې زه په نقشه پوهېږم اوکه نه ؟.

دتحقـيق داسلسله روانـه وه چې دقران کريم دهتـک حرمت ستونزه راولاړه شـوه زمونـږ ګـيرې ، سـرونـه او وروځـې يــې چـې رواخـريـېلې اودقـران کـريم بـې حرمتـي يـې وکـړه زمونږ غوسه نـوره هم راوپارېده. ددې پېښـې نـه وروسـتـه يې زه کيلو بلاک ته بدل کړم اواستاذ بدر يې

مـایک بـلاک تـه . کـیلو بـلاک کې دمنځ کوڅه کې روان وم چې ګورم حاجي روح الله دپنجرې دروازې سره ولاړدی . ماچې ولیده ورته ومې ویـل چې دآی ایس آی ګوډاګیه تـه دلـتـه یې ؟ هغـه هیڅ ونـه ویـل او پـنجره کې پـه شـالاړهلته کښېناست . زه دهغـه نه دوه پنجرې وړاندې پـه (۲۷) اوه ویشـتمه پنجره کې دننه شوم . کله یې چې دروازه راپسې وتړلـه اودکړکۍ لـه لارې یې زولـنې راخځـه خلاصې کړې نو پـه روح الله مـې خولـه راخلاصـه کـړه ښـه سـتغې سـپورې مـې ورتـه وویلـې او خلکوتـه مـې وویل چې دا دآی ایس آی جاسوس دی ، داوطن فروش ، دین فروش ، ناموس فروش .....

نـورو خلکـو هـم ورتـه ، هلتـه حاجي صاحب نعیم کوچی ، عبدالحق صـاحب ، عبدالسلام ضعیف ، حاجي صاحب خان زمـان ، نصر الله صـاحب ، دقـندهار حاجي صـاحب شهزاده ، جمعـه دیـن نورستـانی ، اختر اونور ګڼ کسان وو هغوی راته وویل چې اوس یې پرېږده که شرم لـري همدایې بـس دي بیا بـه ورسره ګورو ..... لږې ورځې وروسته زه پـه همدې بلاک کې دبل کتاربلې پنجرې ته تبدیل شوم . لـه هغـه ځایه بېـرتـه پـه مـایک بـلاک کـې زه او اسـتـاذ بـدر سـره یـو ځـای شـوو. دمظاهرو دپېښې نـه وروسـتـه لومړي ځل لپاره زه تحقیق تـه وغوښتل شوم چې ګورم زمامخکنی سور مخی اوشین سترګی محقق دی . پـه لومړیـو ورځـو کـې محققـینـو دتحقیق کوټـه کـې بـندیانـو تـه سترې مـه شـي هـم نـه کولـه ، خووروسـتـه یـې بیـا پیـل کـړه. السلام علیکم یې هم زده کـړي وو او سلام بـه یې اچاوه . مـا تـه پـه تړلو لاسونو محقق لاس را اوږدکړ او غوښتل یې چې لاس راکړي اوسترې مه شي راسره وکړي .

ماترې ګوتې موټی کړې او مخ مې بله خوا واړاوه . هغه په چوکۍ کښېناست ، ترجمان هم ورسره و ؛ ماته يې وويل:

ـ ولې په غوسه يې ؟

ـ ماهغه ته نه ليدل او ځواب مې ورکړ چې : ته لا پوښتنه هم کوې ؟ ته خبرنه يې چې تاسو مونږ سره څه وکړل ؟

ـ زمالاسونه خوستاسو په وينو ککړ نـه دي ماخوتاسو سـره کـوم بدنه دي کړي .

ـ ستا لاسونه ککړ دي خو ستادزړه او احساس سترګې ړندې دي ځکه درته نه ښکاري .

ـ ماته ولې نه راګورې ؟.

ـ ستا مخ را باندې بدلګېږي .

ـ پـه سياسي مظاهرو کې دې ولې برخه اخيستـه ؟ زه هيڅکله دامريکاپه سياسي مظاهروکې برخه نه اخلم .


ـ تـه زمـا مقتدا او قدوه نـه يې. مظاهرې کول زمونږ حق دی تاسو لـه يـوه پلوه زمونږ دين او قران ته سپک ګورئ اوله بله پلوه دمظاهرې حق هم نـه راکوئ ! ستاسود ديـموکراسـۍ درواغجن شعارونه څه شول ؟

ـ داخبرې پرېږده يو څو پوښتنې لرم غواړم چې ځوابونه راکړې .

ـ زه نه غواړم چې ځواب درکړم .


ډېر کوښښ يې وکړ ، مايوس او ناکام ووت .

(c) ketabton.com: The Digital Library




د تحقیق کوټه کې بندي ته عسکر تمانچه په سر ایښې او محقق ترې پوښتنې کوي





بندي سره وحشي محقق تحقيق كوي




د دروغو مشين ته بندي ناست دی



د تحقيق کوټه کې بندي سره تشدد کيږي



وحشي محقق د تحقيق دوران کې سګرټ څښي



بندي سره وحشي محقق تحقيق کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library






د بلاک نه بندي تحقيق ته وړل کيږي



کندهار کې د بندیانو په مخ پکولونه راښکته شوي دي



شبرغان کې امریکایي پوځي په تړل شوي بندي چغې وهي

دامحقق بدل شو بیارانه غی . آخري ځل نه مخکې ورسره یو پنځه سړی اویوبل راغلي وو چې پنځهوروسته زما محقق شو .

اګر چې محققینو به مونږ ته خپل نومونه ښوول خو مونږ پوهېدو چې دروغ وايي او بیا مونږ ته ثابته هم شوه چې یوه بندي ته محقق یونوم ښوولی و او بل ته یې بل نوم .

څو ورځې یې پرېښودم چې غوسه مې سړه شي ؛ وروسته بیا تحقیق ته وغوښتل شوم .کله چې موټې پورې وتړل شوم یو محقق راغی چې لنډه ګیره اوبرېتان ، سره وېښتان او زیړې سترګې یې وې اوپه ونه ټیټ وُ .زه په چوکۍ ناست وم هغه درانه وتو سره سم زمامخکې لږ وړاندې په زمکه په ګونډه شو سلام یې واچاوه ،دحال پوښتنه یې وکړه اوسخته وېره ورسره وه چې خبرې به راسره وکړي او که دمخکني محقق غوندې به مې نا امیده او مایوس رخصت کړي ؟ ماته یې وویل چې زمانوم" تام" دی . ماورته چوکۍ ته اشاره وکړه او ورته ومې ویل چې کښېنه . ددې خبرې سره ډېر زیات خوښ شو نږدې و چې له ډېرې خوښۍ والوځي .

وېې خندل اوپاڅېد په چوکۍ کښېناست . ماته یې وویل چې تاسو سره څه وشول بد وشول مونږ افسوس کوو ...

ماورسره خبرې پیل کړې او ورته ومې ویل :

ـ تاسو مونږ دخپلو ځانونو سره مه پرتله کوئ . مونږ په تشدد نه شئ ماتولای.

تاسو ته په کاردي چې زمونږ خویونه او عادات زده کړئ مونږ ته په نرمه ماتې راکولای شئ مونږ په زور او تشدد هیڅکله چاته نه تسلیمېږو ، مونږ مرګ قبلوو خو په زور تسلیمي نه منوو .

ـ زه دافغانسان دچارو ماهریم او دپښتنو عادات او دودونه راته معلوم دي . جرګه ، ناغه ، ننواتې ،اوداسې نور دپښتنو دعاداتو او دودونو نومونه یې په پښتو واخیستل . تردې چې ما ګومان وکړ چې په پښتو ږغېږي .دځینو منطقو او اشخاصو نومونه یې هم زده وو . زه حیران شوم ورته ومې ویل :

ـ آیاستاپښتو زده ده ؟

ـ نه پښتومې نه ده زده خودافغانانو او په ځانګړي توګه دپښتنو ځینې عادات ، محاورې او اصطلاحات پېژنم . زه دافغانستان دچارو ماهر او متخصص یم .

تهام ماته وویل چې زه ستامحقق نه یم خو غواړم چې تاڅخه ځینې پوښتنې وکړم اوخبرې دې واورم . څه وخت وروسته دتهام سره هغه پنډ محقق راغی هغه ماته وویل : زه ستانوی محقق یم او نوم مې تهي جي " دی ډېر چاغ او دلویې خېټې څښتن و ، سره وېښتان یې وو او ظاهري وضعه یې ښه وه ، چې وبه یې خندل نو سترګې به په کې ورکې شوې ، خبره یې اوږده أو سختي یې نه کوله . تراخره زمامحقق پاتې شو . کله کله به داستاذ بدر محقق هم ورسره راته چې " جورج " نومېده تک سور او پنډسړی و، شنې سترګې او توربخن وېښتان یې وو. دسروېښتان یې ډېر اوږده ساتل ، دواړو به په شریکه پوښتنې کولې ، ما اکثره مناقشې ورسره کولې ، جورج به چې کله

زمادخبرو ځواب راکول غوښتل نو ته چې ته به يې په ورانه يوښس ورکړچې زه ځواب وايم، دجورج.ښځه هم محققه وه .

دوی هم زړې پوښتنې کولې اودابه يې هم ويل چې ته خلاص شې څه به کوې ؟ او زمونږ په هکله به څه وايې ؟ ماورته وويل چې زه به حقيقت وايم ، له هغه مخکې هم څو محققينو په آخره کې دادوه پوښتنې په تکرار سره کولې چې خلاص شوې نو خبري رسنيو او خلکوته به څه وايې ؟ ماويل چې حقيقت به وايم . سربه يې وخوځاوه اوخوند به يې ورنه کړ. ځينو به په صراحت سره وويل چې که دحقيقت وينا زمونږ په تاوان وي نو بيا ؟ ماورته وويل چې داخوستاسو په لاس کې ده ظلم مه کوئ چې دحقيقتويناستاسو په ګټه شي . که تاسو اوس هم ظلم بند کړئ او سلوک انساني کړئ نوزه به تاسو سره انصاف وکړم او ستاسو انساني سلوک به هم وليکم. ددې مثال داسې دی چې که تاسو پچې خورئ نو زه به ارو مرو ليکم چې امريکايان پچې خوري خو که تاسو دپچو خوړل بند کړل نو زه به بيا وليکم چې امريکايانو پخواپچې خوړې خو اوس يې نه خوري . خوله يې مونجه کړه اوسريې وښوراوه .

ماداهم ورته وويل چې ستاسو خوښه ده زه هيڅ پروانه کوم په ماچې دلته يوه ورځ هم زياته تېرېږي زمامعلومات زياتېږي نو اوس وګورئ چې ستاسو په هکله زمونږ دمعلوماتو اوليکنو حجم زياتوئ اوکه کموئ يې .

بل ماورته ويلي وو چې زه به ان شاء الله کتاب ليکم او مونږ چې څه وليدل ، څه مو واورېدل ، څه رابانديې تېرشو اوپه څه پوه شو

داټول به په کې لیکم بیا بیا به هریو محقق ویل چې آیاته به خامخا کتاب لیکې ؟ ماورته ویل چې خامخا به یې ان شاء الله لیکم .

په هغوی داخبره ښه نه لګېده او ځینو به په کې ټوکې پیل کړې . دټې جي نه مخکې محقق چې ماورته لاس نه و ورکړی او خبرې مې ورسره بندې کړې وې دخبرو بندولو نه مخکې یې ماته ویلي وو چې زماپه هکله ولیکه چې ډېر ښکلی او ښایسته و . هغه په غوږونو کې غوږ والۍ غوندې کړې هم اچولې وې . دادی زه اوس لیکم چې هغه ښکلی نه بلکې ډېر بدرنګ ، بې نمکه او بداخلاقه سړی و .

تام یو ځل راڅخه پوښتنه وکړه چې :کرنل امام پېژنې ؟

_ نوم مې یې اورېدلی دی دافغانستان لوی دښمن دی اودآی ایس آی یو فعال غړی دی .

_څه نومېږي ؟.

_ امام .

_ دا استخباراتي نوم دی اصلي نوم یې څه شې دی ؟

_ اصلي نوم یې رامعلوم نه دی خویو بل فرعي نوم هم لري .

_څه ؟ .

_" بګ باسټرډ " " لوی حرامي " هغه ډېر وخندل ویې ویل : دا ورسره ښه مناسب نوم دی خو اصلي نوم یې ( سلطان امیر تارړ ) دی .

تام څو ځل مسلسل راغی او ماسره یې په مختلفو وختونو کې په مختلفوموضوعاتو خبرې وکړې او بیا ورک شو .

له هغه وروسته " تې جي " راسره تحقیق کاوه او کله کله به " جورج " هم ورسره و . دتې جي سره یوځل دوه جنګی هم راغلې چې دیوې شنې سترګې اوسره وېښتان ، او دبلې تورې سترګې او توروېښتان وو . هغوی ماته وویل چې مونږ دلږ وخت له پاره راغلې یوو اوبیرته ځوو. دمخکنیو ځینو ځوابونو په هکله یې راسره خبرې وکړې او ګومان کوم چې په بله کوټه کې نورو کسانو زماځوابونه او روحیات مطالعه کړل .

بل ځل تې جي یواځې راغی ماورسره ډېره مناقشه وکړه چې تاسو ولې مونږ سره ظلم کوئ؟ داستاسو څرنګه نظام دی چې په میاشتو او کلونو یو څوک ددې له پاره ساتئ چې معلومات ترې واخلئ او دهغه په هکله دامعلومات نه شئ کولای چې ایا مجرم دی او که نه؟ او جرم یې څه دی ؟ هر کله به چې مادا اودې ته ورته استدلال اومناقشه کوله نو ټولو محققینو به ویل چې ددې ځواب مونږ سره نشته اودازمونږ دپورته خلکو کاردی مونږ دهغوی مامورین یوڅه چې راته ووایي هماغسې یې کوو . تې جي هم همداسې وویل .

ماورته وویل چې: خو هغه خلک دې زمونږ مخې ته راشي چې دداسې پوښتنو ځوابونه ورسره وي . داچې تاسو سره ځواب نشته او هغوی نه راځي او مونږ په زنځیرونو او پنجرو کې دحیواناتو نه بتر ژوند تېروو ددې مسئولیت دچاپه غاړه دی؟ تاسو ولې زمونږ خبره ځای ته نه رسوئ ؟.

ـ ټولو حکومتونو کې اداري فساد وي او کله کله داسې کېږي . بیا یې خبره بدله کړه اوراته ویې ویل چې :

ـ څرنګه يې ؟ څه حال دې دی ؟.

ـ حال مې تاته معلوم دی هرڅه چې کېږي تاسو يې کوئ .

ـ نه زه دهرڅه نه نه خبرېږم .

ـ که ريښتيا هم ځان له حاله پوره خبروې نو دبنديانو دانارنجي جامې واغونده اوپه زنځيرونو او زولنو کې راشه هلته زمونږ په خواکې يوه پنجره خالي شوې ده هلته يوه اونۍ زمونږ مېلمه شه چې په حال نه بلکه په حالاتو خبرشې..

ـهغه خپلې راوتلې خېټې او پړسېدلو کوناټو باندې لاسونه کېښودل او ويې ويل زه خو ډېر پنډ يم دپنجرې په دروازې به څرنګه ننوځم ؟.

ـخير دی په دوه پېرو کې به دې وردننه کړو .

ـهغه سخت وخندل اوراته ويې ويل ته ډيرې ټوکې کوې مابه له خندامړ کړې.

مابه په اکثرو تحقيقونو کې په محققينو اودامريکاپه نظام طنز کاوه .

يوه ورځ مې ورته وويل چې تاسو داسې کار کوئ لکه دعراق دصدام بعثي حکومت چې کړی و .

ـ څرنګه ؟.

ـدعراق ، روس او امريکايابل کوم هېواد استخباراتي ماهرين سره يوځای شوي وو او خپلو کې يې ويلي وو چې راځئ دا معلومه کړو چې بحث او پلټنې کې څوک تکړه دی اودچا استخباراتي پلټنه

ځواکمنه ده ؟ درې واړو درې هوسۍ پيداکړې او نښې يې په کې وکړې ، يوه دعراق شوه يوه دروس اويوه دامريکا. درې واړه هوسۍ يې په يوه لرې دښته کې خوشې کړې او يوه ورځ وروسته يې سره وويل چې: ځئ درې واړه استخبارات دې لاړشي او هرڅوک دې خپله هوسۍ پيداکړي . روسيانو او امريکايانو په درې ور کې خپله خپله هوسۍ راپيداکړه خودعراق استخبارات وځنډېدل . لس دولس ورځې وروسته روسيان او امريکايان لاړل چې عراقي استخبارات راپيداکړي. چې ګوري ددښتې په يوه شپله کې يې بل حيوان را ايسار کړی دی ، پښې يې ورتړلې دي . او ورته وايي چې: زرکوه اعتراف وکړه او ووايه چې زه هوسۍ يم . نو تاسو هم اوس بې ګوناخلک په پنجرو کې اچولي دي او په زوره ترې دا اعتراف غواړئ چې ووايه چې زه ترهګريم ، زه القاعدې کې يم .... په دې يې هم وخندل. يو بل عسکري افسرته مې داکيسه وکړه هغه راته وويل چې:ملنډې هم راباندې وهې؟ ماورته وويل :

ـ نه زه درباندې ملنډې نه وهم هغه چادرباندې ملنډې وهلې دي چې زه يې په لاس کې درکړی يم .

دتحقيق داسلسله روانه وه څو ځل په ګڼو کسانو مشتملې ډلې راغلې او تحقيق يې راسره وکړ. يوه ورځ دتحقيق کوټه کې کونډې پورې تړلی وم چې ترجمان او محقق داوړه راغلل ، راته ويې ويل چې نن څه مشران راځي او تاګوري . هغوی ووتل زه په تمه وم چې ريښتيا به راځي محققينو سره به چې کله زمادپوښتنې ځواب نه و نو هغوی به ويل چې ددې پوښتنې ځواب مونږ سره نشته . مابه ورته

ویل : زه پوهېږم چې ځوابونه نورو سره دي او تاسو له واشنګټن نه په ریموټ کنټرولېږئ خو هغه خلک ولې نه راځي چې ستاسو مشران دي اودهرې خبرې ځواب ورکولای شي ؟! ماګومان وکړ چې همغه مشران به راغلي وي او ماسره به خبرې کوي خو محقق او ترجمان بیرته راغلل او په تحقیق یې پیل وکړ ، نورڅوک رانه غلل . زه پوه شوم چې دوی زه پوهولم چې هغه خبرې باید وکړم چې مشرانو ته یې کول غواړم اوپه دې هم پوه شوم چې مشران یې راغلي دي اوپه بله کوټه کې دښیښې اود کمپیوټري کیمرې له لارې ماسره دتحقیق ننداره کوي . محقق یوځل وواته او بیا راغی داسې برېښېده چې هغوی سره یې مشوره وکړه او بیا راغی .

# دڅلورم کمپ آوازې

په دې ورځو کې دڅلورم کمپ دجوړېدلو اوازې وې . محققینو به بندیانو ته ویل چې ریښتیا وواېه نوي کمپ ته به لاړشې . هلته پنجرې نشته ، اسانتیاوې دي او کورته دتللو دروازه ده .....

کمپ لاجوړشوی نه و چې دا اوازې خپرې شوې .

# دبندیانو درجه بندي

په دې وخت کې دبندیانو درجه بندي هم پیل شوه څه خاص توپیر یې نه و خو څرنګه چې دامریکایانو په بندي هیڅ نه لورېدل نو ډېر معمولي شی به یې هم ډېر لوی ګاڼه . دلومړۍ درجې بندي ته دا اسانتیاورکول شوه چې دڅښلو په پلاستیکي تش بوتل ـ چې دوه

میاشتو کې بدلېده ـ باندې یې سر ورسره ورکاوه نورو بندیانو ته دورځې یو ځل دومره دتشناب کاغذ ورکول کېده چې دتش حاجت داستنجاله پاره هم بس نه و اولومړۍ درجې ته یې دکاغذیو بنډل او کاغذ او قلم هم ورکاوه . دوه کمپلې ، دوه ځانپاکونه او یو څادر یې هم ورکول . دوهمې درجې ته څادرنه و اودریمې ته یو ځانپاک اویوه کمپل وه .دڅلورمې والاهیڅ نه درلودل او درومیو بلاک یواځې یو نېکر درلود ، جامې یې هم نه درلودې .

استاذ بدر مانه مخکې لومړۍ درجه شو او زه څه موده وروسته . کله چې استاذ لومړۍ درجه شو ، نوروبندیانوګومان وکړ چې ګنې خلاص به شي. عبدالسلام ضعیف صاحب ماته مبارکي هم راکړه چې ورورډې کورته روان دی. زه خوښ شوم چې که ریښتیاهغه کورته لاړشي نوداښه خبره ده خوداسې نه وه . ضعیف صاحب او نورګڼ عرب او عجم بندیان هم لومړۍ درجه شول . زه ډېر وخت وروسته لومړۍ درجه شوم . نورڅه په کې نه وو خو قلم او کاغذ ته زیات خوشحاله شوم . دورځې او شپې دعسکرو درې ډلې بدلېدې او هرې ډلې یوه پاڼه کاغذ راکاوه خو ماته به دپنجرو دجالیو له لارې نورو بندیانو هم خپله برخه کاغذ راکاوه چې ډېر څه مې ولیکل او راڅخه وایې خیستل .

# ځلورم کمپ ته دځينو بنديانو بدلول

دځلورم کمپ په هکله مخکې مونږ معلومات ولیکل . کله چې ځلورم کمپ تيار شو نو دبنديانو نه يې دوه کسان په زنځيرونو کې بوتلل چې ويې ګوري او نورو بنديانو ته يې کيسه وکړي ، زمونږ دبلاک نه شيخ فائز کويتي لاړ او خبر يې راوړ .

وروسته دبنديانو ورتلل پيل شول . بندي به چې ځلورم کمپ ته وړل کېده نو تحقيق ته به وغوښتل شو هلته به ورته سپينې جامې ورکول شوې ؛ هغه به يې واغوستې اويو پلاستيکي بکس به هم ورکول شو چې دوه ځانپاکونه يو لاسپاک ، يو جانيماز ، يوه جوړه تسپې ، يود غاښونو کريم او برش ، او يو ډبی قطعې يادلوبو بل څيز لکه شطرنج به په کې وو. بندي به يې دتحقيق نه بيرته په سپينو جاموکې بلاک ته راوست هغه به هرې پنجرې ته اودرېد او دخپل بلاک ټولو بنديانوسره به يې مخه ښه وکړه يو شور اوزوږ به جوړشو ، ټول بلاکونه به خبرشول ، هرچابه سلام ، مخه ښه او مبارکي راليږله او ګومان به يې کاوه چې کورته ځي خوداسې نه وه ځينو بنديانو په ځلورم کمپ کې هم کلونه تېر کړل .

بندي به خپل قرآن کريم په ترلو لاسونو را واخيست اونور سامان به ورسره عسکر واخيست. په شرنګار به له بلاکه ووتـه . نو ربنديان به هم خوشحال شول او هم به ځورېدل . کله کله به دې منظر پسې مخکې وروسته کېمره هم روانه وه اوددې منظرفلم به يې واخيست .

مونږ ته هم وعدې راکول کېدې چې ځلورم کمپ ته به لاړشئ اوله

هغه ځایه به کورته لاړشئ خو معلومه نه ده چې کله ؟ اخر دوه کاله وروسته یوه ورځ استاذ بدر تحقیق ته وغوښتل شو اوله هغه پلوه په سپینو جامو کې راغی . زه دګرځېدلو پنجره کې وم چې عسکرو راوست ډېر زیات خوشحال شوم اوپه کړکۍ کې مو لاسونه سره ورکړل ، مخه ښه او دڅلورم کمپ بندیانو اودوطن ، کلي کور او خپلوانو او دوستانو ته مې سلامونه هم ورکړل . هغه څلورم کمپ ته لاړ او مونږ ګومان کاوه چې کورته به لاړشي . زه په پنجرو کې پاتې شوم . تحقیق روان وڅه وخت وروسته یو ځل په تحقیق کې راسره استاذ یوځای شو اولږې خبرې مو سره وکړې. څه وخت وروسته وضعیت بدل شو او په تحقیق کې تړل بندشول . هلته به یې زنځیرونه راخخه خلاص کړل زه حیران شوم . دې کار په همدې ترتیب دوام وکړ. څو میاشتې وروسته زه ددوهم کمپ دمایک دبلاک نه دلومړي کمپ چارلي بلاک ته تبدیل کړای شوم هلته ( ۱۸ ) نوي راوستل شوي بندیان وو. هغوی سره مې څلور ورځې تېرې کړې. یوه ورځ عسکر راغلل او تحقیق ته یې بوتلم ، هلته یې راته وویل چې یوه اونۍ وروسته به دې څلورم کمپ ته ولېږواوبېرته بلاک ته راغلم . خوپه همدې ورځ ماسپښین کې یو عسکر راغی اوزما په خواکې بندي نه یې پوښتنه وکړه چې دېښو نمبر دې څو دی ؟ زه پوه شوم چې عسکر خطاشو دابندي خونوی دی نوي بندي نه یواځې داپوښتنه نه کوي . زما ګومان سم وخاته لږ وروسته عسکر بیا راغی او مانه یې دپښو دمېچ پوښتنه وکړه ، لږه شېبه وروسته عسکر دزنځیرونو سره راغلل او زما دپنجرې دروازې ته ودرېدل. ماپوښتنه وکړه چې تحقیق

دی ؟ هغوی وویل : هو . ویې ترلم او په شرنګار یې دتحقیق بلاک ته بوتلم . دبلاک مخکې زما محقق تې جې ولاړ و کوټې ته ننه ایستل شوم اوټې جي راغی راته ویې ویل چې زه نن تاله پاره زېری لرم ته ووایه چې هغه به څه وي ؟ ماورته وویل : څلورم کمپ ته دتبدیلېدلو. هغه وویل : هو . یو پلاستیکي بکس پروت و راته ویې ویل چې دې کې جامې دي دابدلې کړه هغه وواته ما سپینې جامې واغوستې او نارنجي مې هلته پرېښودې . ټې جې راننه واته مبارکي یې راکړه ، دڅلورم کمپ ځینې قوانین یې راوښودل او تاکیدیې وکړ چې هلته کوم اندېښمن حرکت ونه کړم . بېرته بلاک ته بوتلل شوم ، هلته مې دبندیانو سره مخه ښه وکړه قران کریم مې راواخیست او دبلاک نه راووتلم . دواړهٔ ګاټور په شاتنۍ لېکۍ کې دزنځیرونو سره کښېنول شوم . دمعمول مطابق عسکر راسره کښېناست ، لاس یې زماپه ورنونو واړاوه او دګاډي اوسپنه یې کلکه ونیوه . څلورم کمپ ته لاړم اوهلته دیونیفارم بلاک په دوهمه کوټه کې واچول شوم. هلته څه افغانان ، څه عربان او څه تاجکان وو . استاذ بدر دویسکي بلاک کې و. ټول کمپ خبر شو اوښه راغلاست او ستړي مه شي یې راته وویله . ټولو ګومان کاوه چې خلاصېږم او داځکه چې مخکې یې هرڅوک خلاصاوه نوپه همدغه کوټه کې به یې اچاوه. استاذ اونورو ملګرو راته دکور او یارانو دوستانو له پاره سلامونه راکول خو خبر نه وو چې استاذ به مانه مخکې ازادېږي . څو ورځې وروسته استاذ بدر اودلوګر عبدالظاهر صاحبان دواړه دویسکي نه دیو نیفارم لومړۍ کوټې ته راتبدیل شول چې مونږ سره خواکې شول ، سره لیدل راالیدل

مو ، خبرې موسره کولې اوپه خپل نمبر دبلاک مخې ته دجال دننه دړودې او ګرځېدلو له پاره سره وتلو .

څو ورځې وروسته زه لومړۍ کوټې ته ورتبدیل ، او هغوی سره یو ځای شوم هلته مونږ سره په دغه خونه کې ، دسروبي حاجي نصرت او میرویس ، دازري چمن ، دکونړ اختر دلوګر عبدالظاهر او دننګرهار کاکو وو . څه وخت وروسته دیو نیفارم دغه لومړۍ کوټه اوزګاره شوه، مونږ دریمې کوټې ته نقل شوو او دالومړۍ کوټه دمعاینې له پاره تشه پرېښودل شوه. کله به چې کوم امریکني حکومتي پلاوی راغی نو دغه کوټه کې یې ځینې نمایشي څیزونه ایښي وو چې پلاوی یې وګوري . دیو نیفارم بلاک ددریمې کوټې په خواکې څلورمه کوټه وه او هلته دعراق درې شیعه ګان : علي ارکان اوشاکر وو، یو ایراني شیعه : عبدالمجید هم هغوی سره و. لکه مخکې موچې وویل داخلور واړه افغانستان ته دجاسوسۍ له پاره تللي وو او بیا نیول شوي وو. ډېر بدعمله او بداخلاقه خلک وو هلته یې امریکایانو له پاره جاسوسي کوله چې اکثره به یې ورته دسنیانو په هکله ددرواغو راپورونه ورکول . کله چې دمحرم لسم ( دعاشورا ورځ ) رانږدې شوه نو دعلي او ارکان په تحریک عبدالمجیداحمق معاویه رضی الله عنه اونورو خلفاو او صحابه وته کنځلې اوبدې ردې ویل پیل کړل. په لوړ غږ به یې ویل او مونږ ته یې را اورول . مونږ عبدالظاهر صاحب ددواړو کوټو ترمنځ جالۍ ته ورولېږه چې پوه یې کړي اونور له دغه کاره منع شي ، خو ونه شول . عبدالمجید خبرې ته غوږ نه ایښوده زه جالۍ ته ورنږدې شوم اوپه لوړ غږ مې

راوغوښت ، خو ځواب يې رانه کړ ستغې سپورې مې ورته وويلې او استاذ نورو بنديانوته هم غږ کړ ، دروازې مووډرزولې اوشور مو جوړ کړ. عبدالمجيد غلی و " تشناب کې پټ شو " اوپه مونږ درې واړو شيعه ګانو : علي ، ارکان او عبدالمجيد شکايت وکړ. ارکان په دغه وخت کې دجاسوسۍ له پاره زمونږ کوټه کې و خومشوره او همدردي يې هغوی سره وه. څو ورځې وروسته مونږ ديو نيفارم نه تبديل شوو . زه، استاذبدر ، عبدالظاهر ، کاکو او اختر د"وکټر" بلاک ته او حاجي نصرت او چمن ينکي ته لاړل او ارکان خپلو شيعه ګانو سره يو ځای شو. دوکټر بلاک کې اکثره دشرقي ترکستان بنديان وو چې دچين داشغال لاندې دي. هغوی ډېر ښه خلک وو مونږ څلورمې کوټې کې واچول شو . مونږ سره ابو رعد راشدا لسعودي الجوفي ، ابوايمن الفلسطيني ، حماد ترکستاني ، ارکين ترکستاني ، جمال يو ګنډي او ابراهيم مالديپي وو. هلته مو ځينې فقهي او لغوي درسونه پيل کړل . عبدالصبور ترکستاني او ځينو نورو ترکستانيانو۔ چې په لومړۍ اودوهمه کوټه کې وو ۔ مونږ سره ډېره مينه کوله او دصرف او نحوې ليکلي درسونه يې اخيستل . جمال يو ګنډي د يو ګنډا و او په لندن کې اوسېده نوی مسلمان شوی و او ډېر نيک او دښو اخلاقو څښتن و دګوانتانامو په پنجرو کې يې قران کريم يادکړ او مونږ ته به يې پنجرواو دڅلورم کمپ په دغه کوټه کې امامت هم راکاوه. دپاکستان دآی ايس آی استخباراتو په پاکستان کې نيولی و اوپه امريکايانو يې پلورلی و . ابراهيم مالديپي دمالديپ و په کراچۍ کې يې په يوه ديني مدرسه ( جامعة ابي بکر ) کې زده کړه

کوله نه یې طالبان پېژندل او نه القاعده . ای ایس آی نیولی و بیا یې ورته ویلي وو چې مونږ ته اوه لکه روپۍ راکړه خوشې به دې کړو. هغه ورته ویلي وو چې ماسره نشته . بیایې ورته ویلي وو چې څه خیر دی پنځه لکه راکړه تیلفون به درکړو مالدیپ ته تیلفون وکړه اوکورنه پیسې را وغواړه . هغه ورته ویلي وو چې زه متعلم سړی یم او پیسې راسره نشته . بیا آی ایس آی په امریکایانو پلورلی و او ګوانتنامو کې پروت و. هغه ډېر غمجن و او ویل یې چې ماسره زما ځوانه حامله ښځه هم وه زه اوس خبر نه یم چې دهغې برخلیک به څه وي ؟!...

دوه میاشتې وروسته مونږ څلور واړه افغانان دینکي بلاک ته تبدیل شوو هلته اکثره افغانان او پاکستانیان وو. مونږ په دریمه کوټه کې واچول شوو. مونږ سره په دغه کوټه کې حاجي نصرت ، حاجي نعیم کوچی او معلم صاحب عبدالواحد وو .

دینکي بلاک کې اکثره هغه پنجابیان وو چې په افغانستان کې نیول شوي وو ځیني متقاعد پوځیان هم وو لکه : چاچا الیاس چې دبنګله دېش دجلاکېدو په وخت کې یې په هندوستان کې هم څه دپاسه دوه کاله بندتېر کړی و . دپاکستان دپوځي استخباراتوفعال غړی و او افغانستان کې نیول شوی و.ځیني نور داسې کسان وو چې دنښونه یې داخرګندېده چې په آی ایس آی کې کار کوي . کمپ ته به په دوه میاشتو کې یو ځل دجنرال استاذی راغی او دهر بلاک بندیانونه به یې پوښتنې کولې چې څه شکایت لرئ ؟ اګر چې دشکایت دلرې کولو کومه هڅه نه وه بلکه هسې نمایشي پوښتنې

وې . يوه ورځ دجنرال نمايده راغی او پوښتنې يې کولې پنجابيانو به اکثره دمالګې ، مرچکي اونورو خوراکي شيانو غوښتنه او شکايت کاوه. استاذ بدر ورته وويل چې مونږ مالګې مرچکي نه غواړو بلکه مونږ داپوښتنه کوو چې له درې کلونو راهيسې ولې دلته بې ګونا ساتل شوي يوو ؟ دلته ډېر بې ګوناخلک دي او هيڅ برخليک يې معلوم نه دی . زه او زما ورور په تاسو دپاکستان استخباراتو پلورلي يوو ، اوس تاسوراسره ظلم کوئ او دناڅرګندې ګونا په تور مودلته ساتلي يوو ، داولې ؟!....

په پنجابيانو داخبره ښه ونه لګيده او يوه په کې امريکايي ته وويل چې مونږ هم افغانستان په تاسو پلورلي يوو.... استاذ ورته وويل چې بالکل همداسې ده خو مونږ او تاسو کې زيات توپير دی تاسو افغانسان ته دجنګ له پاره تللي وئ او هغو خلکو سره مو جنګ کاوه چې امريکايانو ته يې حواله کړئ خو مونږ پاکستان ته دجنګ له پاره نه ووتللي بلکه هجرت موکړی و هلته مودامن ژوند کاوه او دهيڅ جرم ارتکاب مونه دی کړی ....

پنجابی چپ شو . له دې وروسته پنجابيانو باندې مونږ ښه نه لګېدو. ځينو لمونځ هم راپسې پرېښود ، يو ډاکټرسرفراز احمد خان ښه سړی و چې اصل کې دغزني و نيکونه يې پخواپنجاب ته تللي وو اوس لاهور کې اوسېږي . هغه ښه سلوک کاوه، دکوزې پښتونخوا شاه بابا او رفيق هم ډېر ښه دنېکو اخلاقو څښتنان وو، دډېره اسماعيل خان نعمان هم نېک انسان و او عبدالستار هم ښه سړی و چې دډېره اسماعيل خان ضلع بکروئ. ځينو پنجابيانو پنجرو کې هغو

عريانو پسې هم لمونځ نه کاوه چې نازله قنوت کې يې پروېز مشرف ، دپاکستان استخباراتو ، پوليسو ، پوځ او دځينو په نوم اسلامي تنظيمونوځينو اشخاصو ته ښېرې کولې .

لنډه داچې دغو ځينو بداخلاقو پنجابيانو سره زمونږ اختلاف زيات شو هغوی امريکايانوته زمونږ په خلاف شکايتونه وکړل او مونږ بيادېونيفارم بلاک دريمې او بيادوهمې کوټې ته تبديل شوو .

هلته راسره دهلمند دباغران خوشکيار ، حاجي الف خان چې په خوږ ماما مشهور و ، بسم الله اکا ، امان الله ،محمد نسيم ، دبرمل ډاکټر نقب او دهغه ورور محمد رسول او دهلمند قوماناندان رحمت الله سنګر يارو چې په معلم صاحب مشهور و . خوږ ماما سپين ګيری سړی و او دژوندي زړه څښتن و کله کله به يې اتڼ هم کاوه اوبدلې اونعتونه به يې هم ويل ...

دتحقيق سلسله جاري وه يو ځل دټولو بنديانو تصويرونه ، دېښو مېچونه او دګوتواولاسونو بصمات ( منجيلې ) هم واخيستل شول او دا اوازه شوه چې بنديان خوشې کېږي .

په دې وخت کې ټې جي لانه وُ بدل شوی چې يو بل محقق هم ماله پاره وټاکل شو چې ماته يې ( هاسوس ) نوم وښود او نوروته يې (فيلپي) نوم ښودلی و ، هغه امريکنی نه معلومېده لـه خويه تېز ښکارېده. يو بل ملګری هم ورسره و چې توروپښتان او تورې سترګې يې وې، هغه هم امريکايي نه معلومېده هاسوس غنم رنګه او هغه بل ملګری يې سپين و ، پوښتنې به هاسوس کولې او هغه بل به هسې چپ ناست و غوږ به يې نيولی و. هاسوس هم زړې پوښتنې تکرار

کړې دهغه په وخت کې شیعه ګانو : ارکان او علي عراقیانو او عبدالمجید ایراني په ما شکایت وکړ او امریکایانو ته یې شیطاني وکړه چې مسلم دوست فتوې ورکوي ، عربان اونور بندیان یې احترام کوي ، شطرنج او غوښې ته حرام وایي ، بمونه یې جوړ کړي دي ، په عکسرو دحملې تیاری یې نیولی دی ، ستاسو په خلاف دجهاد فتوې ورکوي .... داخبرې په هاسوس او نورو محققینو بدې او سختې ولګېدې دهریلاک نه یې یویو بندي وغوښت او ورته ویې ویل چې آیا ریښتیا مسلم دوست دغه ډول فتوې ورکړې دي ؟...

مانه دشطرنج په هکله بندیانوپوښتنه کړې وه ماورته ویلي وو چې دامام ابو حنیفه ، امام مالک او احمد بن حنبل په نزد حرام دی ، اوپه لومړي کال دفوجي تیارخوراک په لفافو کې غوښه راتله هغه مونږ نه خوړه او خپله امریکایانو هم ویل چې داستاسوپه دین (اسلام ) کې حرامه ده دامونږ خپلو عسکرو ته تیاره کړې ده، دخنزیر هم په کې شته اودچرګانو او غویانو هم په اسلامي طریقه نه ده حلاله شوې.په باګرام اوقندهار کې دغه غوښه راتله اوپه ګوانتهنامو کې بیابنده شوه. څه موده وروسته بیا دچرګ غوښه او کوفته کله کله راتله چې پاکتهې نه وه او خلاص خوراک سره وه. بیادیوې اسلامي مؤسسې مکتوب امریکایانو راوړ هغه مونږ پخپله ولیده هغې کې اسلامي مؤسسې لیکلي وو چې دامونږ پخپله په اسلامي طریقه په لاس حلالوو. نورو ترجمانانو هم وویل نورو ګڼو قرائنو په دې دلالت کاوه چې هغه حلاله وه هغه بیا مونږخوړله خوشیعه ګانو دا او نور دروا غ هم ماپسې تړلي وو. کله چې هاسوس ته څرګنده شوه چې

شیعه ګانو درواغ ویلي دي نو کمپ ته راغی زه یې دکوټې نه دباندې راوغوښتم جال ترمنځ راسره اودرید جال کې مو ګوتې سره ورکړې زماپه لاسونو راښکته شو ترجمان هم ورسره و مانه یې معافي وغوښته اوراته ویې ویل چې ته ډېر محترم یې . له دې وروسته مونږ هم ستاداسې احترام کوو لکه داستاورونه بندیان یې چې کوي . مونږ اشتباه کړې وه بیا به داسې نه کوو . له دې څه موده مخکې تې جي اوجورج یوه ورځ کمپ ته راغلل ، مونږ دواړه ورونه یې له کوټې دباندې وغوښتلو ، هلته یې راته زېری راکړ چې تاسو دواړه به یوه میاشت وروسته کورته لاړشئ او آزاد به شئ . له دې مخکې یې څو ځل استاذ بدر ته ویلي وو چې ستاسو ددواړو ورونو کاردنورو ځایونونه خلاص شوی دی خوستادورور مسلم دوست کاردنظامیانو نه نه دی خلاص شوی نظامیان له هغه وېرېږي چې خلاص شي مونږ ته به مشکلات پیداکړي .... خودې ځل یې وویل چې مونږ نظامیانوته هم قناعت ورکړ او اوس به تاسو دواړه سره یو ځای ازادشئ .

خودشیعه ګانو دشیطانی له امله فیصله بیا بدله شوه استاذ یوه میاشت وروسته ازاد شو او زه شپږ میاشتې له هغه نه وروسته شوم .

په دې منځ کې تحقیق روان و دشیعه ګانو شیطاني راښکاره شوه او علي دجورج په مخکې اعتراف وکړ چې په مسلم دوست داتورونه دروغ دي . عجیبه خبره خوداوه چې امریکایانو دافکر نه کاوه چې بمونه له څه شي او څرنګه جوړ شول ؟!..کله چې میاشت پوره شوه یوه ورځ دروغتون هغه ګاډی راغی چې دصلیب نښې لري اودبندیانو

انتقال لپاره استعمالېږي. استاذ بدر ته غږ وشو او ورته ويې ويل چې سامان دې راواخله . استاذ ګومان کاوه چې دا يکو کمپ ته مې جزايي لېږي خوماته داسې وبرېښېده چې استاذ کورته ځي ماورسره دکور مخه ښه وکړه او کور، کورنۍ ، خپلوانو او دوستانو ته مې سلامونه ورکړل ، خودهغه باورنه راته هغه په ګاډي کې تړل شوى کنېښناست ، دروازې ورپسې وتړل شوې او لاړ . نورو بنديانو له ورايه ګاډی تعقيب کړی و چې دپنځم کمپ خواته تللی و؛ هغوی ګومان کاوه چې پنځم کمپ ته ولېږل شو ماته يې نه ويل خو ټول خفه ووخصوصاً بسم الله اکاخو ورپسې ژړل. مابه ورته ويل . چې هغه کورته لاړ خو هغوی ماته څه نه ويل څو ورځې وروسته بسم الله اکا ، حاجي نعيم کو چی ، دين محمد فرهاداو امان الله هم ورپسې لاړل دهغوی په هکله هم داګومان کېده چې پنځم کمپ ته ولېږل شول . دين محمد فرهادافغاني و ډېر نيک انسان و، دآی ايس آی پنجابيانولاهور کې نيولی و اوډېرتعذيب نه وروسته يې په امرکايانو پلورلی و. کله چې خلاص شو مونږ ډېر خوښ شوو .په همدې ورځو کې له درې کسانو پرته نورټول پاکستانيان هم خوشې شول خو هغوی ته وويل شول چې تاسو آزادېږئ ؛ دشپې له پلوه بس راغی ، ټول په کې سپاره شول اولاړل . وروسته بياخبر شوو چې داستاذ بدردوی ډله هم تللې ده اوآزاد شوي دي. له دې وروسته دبنديانو هغه ښېرې الله قبولې کړې چې شيعه ګانو:( علي ، ارکان ، عبدالمجيد او باسرده ) ته يې په قنوت نازله کې کولې. هغوی الله تعالې دومره سپک او ذليل کړي وو چې دبلاک مخکې دجال

ددروازې دباندې به چې کوم امریکایي پوځي پيره داران ناست وو نو هغوی به ډېر زيات نسوار اچول؛ غټې غټې کوټالی به يې دسور بخنو نسوارو نه ډکې کړې وې اوپه درې ګوتو ډکه ټونګه نسوار به يې اچول. هغوی به چې کوم نسوار په زمکه توکړي وو نو کله به چې عسکر برج ته لاړل او دوزرش له پاره به يې دروازه خلاصه کړه نو علي، ارکان ، عبدالمجيد ، او باسرده به هغه دامريکايانو دخولې توکړي نسوار په خاورو او شګو کې لټول چې کوم به يې پيدا کړل نو کاغذي پياله کې به يې راټول کړل او بيا به يې ددوهم ځل لپاره په خوله کې اچول . په دې نسوارو يوه ورځ داشيعه ګان خپلو کې سره ونښتل ؛ ارکان راپاڅېد او باسرده يې وواهه، پوزه يې پرې ماته کړه اووينې پرې راماتې شوې . ددې جنګ او نورو درواغو له امله محققينو شيعه ګان دځلورم کمپ نه وايستل او خواره واره يې کړل .

مونږ د" يونيفارم " نه " ينکي " بلاک ته ولېږل شوو، زه هلته په لومړۍ کوټه کې واچول شوم ماسره ديونيفارم ټول ملګري په دغه کوټه کې وو اوبلاک کې ضعيف صاحب ، ملا عبدالرزاق ، حاجي نصرت ، اختر ، مصطفی کابلي او نور ګڼ افغانان دينکي بلاک په مختلفو کوټوکې اوسېدل .

دکندوز حاجي امان الله ، دزابل قوماندان نصيب الله ، معلم عبدالواحد ، دګر دېز تورن امان الله ، حاجي محمد ګل ، حاجي ولي محمد هم هلته وو وروسته ملا خير الله خير خواه هم زمونږ کوټې ته راغی ، دکويت سعد العازمي هم زمونږ کوټې ته داول کمپ نه راغی چې ډېر نېک او ډېښو اخلاقو څښتن و . دخوست عبيدالله هم راغی

هغه هم يو نيک ځوان و داندخوي حافظ نورالله هم دوکتړنه ينکي بلاک ته راغی چې زمونږ کوټه کې نه و. هغه هم بې جوړې اود ښواخلاقو څښتن وُ زما اودهغه ترمنځ يوه ځانګړې مينه وه اوقندهارله زندانه موسره پېژندلي وو. ديندار ، پرهېزګار او خنده رويه انسان و ددواودعليه السلام روژې ( يوه ورځ روژه يوه بوزه .) يې نيولې ، تهجد يې نه قضاکول ، دوستميانو بې ګونا نيولی او خرڅ کړی و .... دفلسطين محمد عبدالله هم دپنجرو نه زمونږ کوټې ته راغی چې ډېر نيک اوپرهېزګار انسان وُ اويوبل بداخلاقه عربي هم زمونږ کوټې ته راوستل شو.

زه ډېرې ورځې تحقيق ته ونه غوښتل شوم . هغوی ګومان کاوه چې زه به په غوسه يم پرېږده چې غوسه يې سړه شي . بيا مې تحقيق پيل شو هاسوس يوځل وغوښتم او يوځل کمپ ته راغی . تې جي او جورج هم دوه درې ځل کمپ ته راغلل او څو ځل يې تحقيق ته وغوښتلم. تې جي څه ډېر وخت ورک و بيا کمپ ته راغی دکوټې نه دباندې يې وغوښتلم او راته ويې ويل چې زه ناروغ وم او دمقعداپرېشن مې کړی و ځکه نه راتلم .ماورڅخه داستاذ بدر پوښتنه وکړه چې هغه کورته رسېدلی دی اوکه نه ؟ .

_کورته نه دی رسېدلی او جلال اباد کې دی .

_ آيا زمونږ کورله پېښوره جلال اباد ته نقل شوی دی ؟.

_ نه .

_ نو زما ورور په جلال اباد کې بندي دی ؟.

_ نه .

ــ نو ولې کورته نه دی رسېدلی ؟.

ــ زه نه پوهېږم .

په دې موده کې ماباندې دکور لیکونه هم بند وو اونه راکول کېدل خو دبندیز سره سره الله تعالی ماته دکور خطونه لاس ته راوړل. هغه داسې چې کله نظامیانو ته خط حواله شي نو هغوی پرې دبندي نمبر لیکي . زما او دحاجي ولي محمد نمبر ونه سره نږدې وو زما نمبر (۵۶۱) اودحاجي ولي محمد ( ۵۶۰) و نو په غلطۍ کې نظامیانو زماپه خط دحاجي ولي محمد نمبر لیکلی و. زما خط هغه ته ورکول شو اوله نېکه مرغه هغه ماسره یو بلاک کې و. نو هغه چې لوستی و پوه شوی و چې دازمادی. ماته یې زېری راکړ او خط یې را وسپاره. خط داستاذبدر و هغه لیکلي وو چې زه الحمد لله کورته رسېدلی یم. په همدې ترتیب زمادزوی عبدالاحد لیک هم راورسېد. هغه هم لیکلي وو چې استاذ کورته رارسېدلی دی . نو زما اندېښنه ورکه شوه او خوښ شوم . تې جي ته مې ونه ویل چې ماته خط لاس ته راغلی دی. هغه بیا بیاراته ویل چې بدر کورته نه دی رسېدلی ګومان کوم چې په دې درواغو هغه ماسره اندېښنه پیداکوله ..... دایواځې دالله تعالی مرسته وه چې امریکایانو ماته خطونه راکول بندکړل خو الله تعالی دهمغوی په لاس له بلې لارې ماته راورسول .

داستاذ بدردډلې نه وروسته ډېرې اوازې وې چې لنډ وخت کې نور بندیان ازادېږي . دصلیب له لوري دا'خبره'هم راغله چې امریکاغواړي : په نورو هېوادونو کې دولس (۱۲) زندانونه جوړ کړي، دادګوانتنامو ځینې بندیان هم ورانتقال شي اونور هغه

مسلمانان هم په کې واچوي چې امریکا ته ددښمن په سترګه ګوري !......

په دې موده کې یوځل دشپې تحقیق ته وغوښتل شوم نوی ځای و چې مخکې زه ورته کله نه وم غوښتل شوی. له دې مخکې له څه وخت راهیسې لومړی دلاسونو تړل بندشول تحقیق کې پښې موګې پورې تړل کېدې خودلاسونونه زنځیرونه خلاصېدل . بیاوروسته څو تحقیقونه داسې هم وشول چې دتحقیق په کوټه کې به یې پښې او لاسونه دواړه خلاصول خوپه آخر کې بیاتړل پیل شوي وو اودمخکې نه څه سختي هم په کې راغلې وه خودغه ځل چې زه دشپې نوي ځای ته وغوښتل شوم نو پښې اولاسونه یې راته خلاص کړل او عسکر ووتل. یو دپوخ عمر والا امریکایي راغی چې دسرلومړنی برخه یې کولغه وه سورسپین و او زیړې سترګې یې وې شخصي درېشي یې وه او عجیبه داوه چې ترجمان هم ورسره نه و ، په عربي ډېر ښه پوهېده سلام یې واچاوه او ماسره یې په عربي خبرې پیل کړې .

ـ زه خبر یم چې ته په عربي ډېر ښه پوهېږې اوپه ترجمانانو هم ډېر بدګومان یې نو ځکه زه یواځې راغلم او ترجمان مې رانه وست .

ـ ښه شو زه هم غواړم چې تاغوندې سړي سره خبرې وکړم ؟.

ـ زه ستامحقق نه یم ستامحقق له دې هم خبر نه دی چې زه تاسره خبرې کوم هغه ته حال مه وایه .

ـ سمه ده .

ـ زه تاسره تحقیق نه کوم هسې مجلس به سره وکړو اویوبل به سره وپېژنو .

ـ سمه ده .

ـ ستا په هکله ماډېر څه اورېدلي او لوستي دي خو غوښتل مې چې له نږدې دې وګورم او ښه دې وپېژنم .

ـ ښه ده .

ـ ايا ته څه ويل غواړې ؟.

ـ که زه وغواړم او که نه زما ويل کومه ګټه نه لري .

ـ ولې ؟.

ـ ته ښه پوهېږې چې تاسو مونږ سره ظلم کوئ او زمونږ خبره نه اورئ .

ـ زه دانه شم ويلای چې داسې به نه وي شوي خو زه ستا خبره اورم او همدې له پار راغلی يم چې ستا خبرې واورم .

ـ تاسو ټول زمونږ خبرې اورئ خو دخپل مقصد ترحده .

ـ نه ته په مونږ سخت بدګومان يې خو داسې نه ده زه نور څه نه شم ويلای خو دومره به درته ووايم چې ستا قضيه خلاصه ده او ته کورته روان يې .

ـ کله .

ـ دانه شم ويلای .

ـ ستاسو ددروغو وعدو سره مونږ اوس روږدي شوي يو هر محقق همداسې وايي، په دې درې نيمو کلونو کې مونږ ستاسو دمحققينو نه ډېر درواغ واورېدل اوس ستاسو په خبرو باور نه کوم خو په دې باوري يم چې زه به ان شاء الله اخر هم آزادېږم او داځکه چې زه مجرم

نه یم مجرمان تاسو یاست چې بې ګناخلک مو په یوه لرې ټاپوکې پنجرو کې اچولي دي اوله حیواناتو بتر سلوک ورسره کوئ ....

ـ ته ماسره داسې خبرې کوې لکه محقق سره یې چې کوي.

ـزه دامنم چې ته دلته دمحققینو.له لاسه ډېر ځورېدلی یې اوډېر دروا غ به درته هم ویل شوي وي خونه زه محقق یم اونه دمحققینو خبرې ټولې درواغ دي ، په تاډېر تورونه لګېدلي وو نو مونږ مجبور وو چې دتحقیق مراحل به مو طی کول . تاولیدل چې په امریکا سخت ګوزار وشو اواوس هم مونږ سخت وېرېږو هره شبېه دااحتمال شته چې اسامه په مونږ نور سخت او خطرناک بریدونه وکړي . مونږ دامسئولیت لرو چې دخپلو خلکو امنیت وساتو .

ـ تاسو دخپلو خلکو دامنیت دساتلو مسئولیت لرئ خودبې ګونا خلکو دژوند په بیه نه .

ـ داسمه ده خودګوناهګار او بې ګونا بیلول څه اسان کارنه دی داخامخا وخت نیسي .

ـ ترکومه .

ـ ددې ځواب ماسره نشته .

لاس یې تېر کړ خواکې ورسره په واړه مېزیو پنځه کتاب و چې دنورو کتابونو اودوسیېو خواته ایښی و . کتاب په کاغذونو پوښل شوی و منځ یې راواړاوه منځ کې یې یوه سپینه پاڼه داسې ایښې وه چې ددواړو مخونو لیکل یې پناه کړي وو دیوه تصویر ځای یې قیچې کړی و هغه یې راوښود اوراته ویې ویل چې داپېژنې ؟ ماورته وویل : هو دازما تصویر دی .

کتاب یې بند کړ اوراته ویې ویل چې په دې کتاب کې ستا په هکله ډېر څه لیکل شوي دي .

له دې مخکې ماته دخوست عبیدالله ویلي وو چې پنجروته (ستوري دادب په اسمان کې ) کتاب راغلی و په هغه کې ستا په هکله لیکل وو .

زه پوه شوم چې داهماغه کتاب دی ماورته وویل : هو داکتاب محمد داود (وفا) لیکلی دی او په پښتو دی ....

هغه لږ چپ او حیران شو بیا مسکی شو او ویې ویل چې ډېر تېز یې.

ـ دې کې دتېزۍ هیڅ خبره نشته .

ـ دامې یواځې ددې له پاره وویل چې ته په دې پوه شې چې زه تاپېژنم .

ـ کیدای شي چې مابه پېژنې خو بشپړ نه .

ـ هو ځکه خو تاته لنډ راغلم چې بشپړ دې وپېژنم اوستادقضیې ژوروته ورښکته شم .

بیا یې راته زما په هکله زما دکور ، کورنۍ ، کلي او ولس ، زمکې ، کارو بار او افکارو په هکله تفصیلي خبرې وکړې چې زه یې حیران کړم . تردې چې دکوټ دصاحبانو کلي او فقیر آباد په هکله یې هم معلومات لرل ، داستاذ بدر په هکله یې هم معلومات لرل بیا یې وویل: تاسو دواړه ورونه داسې جوړه یاست چې ښه هم جوړېدای شئ او خطرناک هم ، زمونږ ایجنسیاني وایي چې که دا دواړه ورونه په

شریکه زمونږ په خلاف څه کول وغواړي نو دا به ډېر خطرناک وي له همدې امله ستاسو کار وروسته شو اوله همدې امله ته له هغه جلاشوې .

ــ دبې دلیله ګومان او اندېښنې خوعلاج نشته نور نو دفرهنګي کارنه پرته ستاسو په خلاف مونږ څه کړي دي ؟.

ــ مونږ ښه پوهېږو چې امریکایان ستاسو خوښ نه دي اودښمنۍ په سترګه ورته ګورئ او همداستاسو په څېر فرهنګي فعالیتونه خلک راپاروي ، قناعت ورکوي او ...... خوله دې امله چې مونږ په تاسو ظاهرکې کوم جرم نه شو ثابتولای نو ځکه مو آزادوو ، په هیڅ قانون مونږ تاسو نه شو ساتلی او تاسو غوندې نور ډېر بندیان به هم خوشې شي . په مونږ زیات فشار دی اودبندیانو ساتلو مونږ ته هیڅ کټه ونه کړه .

زه غواړم چې تاته داسې څه دروښیم چې هرچاته یې نه ښیو اګر چې زه پوهېږم چې ته په دې کارونو پوهېږې خوبیا هم درته وایم چې تاسو دواړه ورونه تعلیم یافته یاست په هرڅه پوهېږئ، راتلونکې ته مو فکر وکړئ زمونږ جال په ټوله نړۍ خپوردی هرڅه چې کوئ مونږ پرې خبرېږو.

نورموخوښه چې خطرناک کارونه کوئ اوکه بې خطره ، لاس یې تېر کړ یوه وړه آله یې راواخیسته چې ماکله نه وه لیدلې کمپیوټر ته یې وردننه کړه ګومان کوم چې خاص قسم استخباراتي سي ډي یاحافظه وه عادي سي ډي نه وه .ماوس یې خوځاوه راخوځاوه فلم پیل شو چې ګورم زمونږ دپېښور دحیات آباد دکور په کتابخانه کې زه دمېلمنو سره ناست یم او خبرې کوم . بیا یې تېر کړ چې ګورم

استاذ بدر دډبل سټه پيکپ اشترنګ ته ناست دی خواکې ورسره يو بوډاسړی ناست دی ښه نه ښکارېده يازمونږ مرحوم والد صاحب اوياحاجي کوچی و، سپينه پګړۍ او سپينه ګيره يې وه خودښښې نه دننه واضح نه ښکارېده . استاذ دګرکۍ نه سر رابهر کړ او مخامخ يې چاته وويل چې راځه دننه سېټ کې کښېنه او عبدالعزيز به وروسته کښېني . داسې برېښېده چې چاته مخاطب دی همدغه دکيمرې څښتن دی . بيا يې برتهکال کې زمونږ دکاروبار ګودام وښود او زريې بندکړ . بيايې بله آله وردننه کړه بل فلم کې ګورم چې ملا سميع الله (نجيبي) حاجي روح الله ، حاجي حيات الله ، حاجي ولي الله او ځينې نور کسان زمونږ په هکله خبرې کوي اوپه دې ګواهي کوي چې زمونږ طالبانو او اسامه سره اړيکې دي ،دامريکا سخت مخالفين يو، دګردې نړۍ اسلامي احزابو سره مرستې کوو ، دامريکاخلاف جهاد ته بلنه ورکوو ، خپرونې کوو .......

زر زر يې تېر کړ او تفصيل ته يې پرې نه ښود خو دهريوه دخبرو يوه برخه يې راواخيسته ، محققينو به دې ځلورو مفسدانو ته (فـور وُلاّز) ويل . فورولاګانو ښه په اخلاص زمونږ خلاف ګواهي ورکړه بيايې دروح الله دتحقيق څو اقتباسونه را واخيستل .

بيا يې کمپيوټر بند کړ يوه اوږده تبصره يې وکړه او دايې هم وويل چې مونږ په تادغه ثبوت هم لرو اومحکمې کې په تا دګواهۍ له پاره دافلم هم ښودلی شوو خو پوهېږو چې داخلک ستاسو دښمنان دي ، او دروغ يې ويلي دي . مونږ ته يې له دې پرته نور ډېر دروغ هم ويلي دي او خيانت يې هم راسره کړی دی دې خلکو دخپل وطن ، دين او

مونږ ټولو سره خیانت کړی دی دوی دخپلوخپټوله پاره کارکوي اودآی ایس آی په اشارو ګډېږي که دې خلکومونږ ته دروغ نه وای ویلي او خیانت یې راسره نه وای کړی نو دافلم هېڅکله مونږ تاته نه ښوده بلکه ستاسو ددواړو ورونو برخلیک به اوس بل وئ ....... بیا یې دیني معلومات اوپوښتني پیل کړې داسې معلومېده چې کوم پوخ مستشرق وئ، زیات معلومات یې لرل اوپه ګڼو مسائلو پوهېده ، اسلام ته دمنسوبو مختلفو مذاهبو ، احزابو ، مؤسساتو ، اشخاصو، کتابونو او افکارو په هکله یې معلومات لرل .

بیایې وویل : مونږ پوهېږو چې تاسو دیو اسلامي امت او خلافت خبرې کوئ او غواړئ چې زمونږ خلاف وکړئ خوستاسو په ډول خلک زیات دي مونږ ټول نه شو نیولای ستاسو افکارو ترخطرناک حد، په مسلمانانو کې سرایت کړی دی . تاسو غواړئ چې وهابي او اخواني خلافت جوړ کړئ . مونږ داسلام خلاف نه یوو خو وهابي اخواني حکومت په هیڅ ځای کې نه شوزغملی ...

ـــ دوهابي اخواني او اسلام ترمنځ څه توپیر دی ؟ .

ـ وهابیان او اخوانیان سخت دریځي او بنسټپال دي مونږ داسلام دډېرو علماو سره ښې اړیکي لرو په افغانستان او عراق کې مونږ سره ډېر ملایان کار کوي هغوی ددیمو کراسۍ خلاف نه دي مونږ داسامه ، ظواهري ، حکمتیار او ملاعمر غوندې اسلام نه غواړو امریکاکې هم مسلمانان شته ...

ـ داسلامي خلافت په قیام کې تاسو ته څه تاوان دی ؟.

ـ دااوسني حکومتونه ټول اسلامي دي اسلامي خلافت ته څه ضرورت دی ؟.

که بنسټپالو ته حکومت لاس ته ورشي نو له دې بترکارونه به راسره وکړي چې په نیویارک او واشنګټن کې یې وکړل .

ـ که تاسو دمسلمانانو په امورو کې مداخله ونه کړئ ، دمسلمانانو په هکله دوه مخې سیاست ونه لرئ ، دمسلمانانو دښمنان تقویه نه کړئ او دامن معاهده ورسره ولرئ زه ګومان نه کوم چې اسلامي خلافت کې دې ستاسو تاوان وي ، بلکه په اسلام کې ستاسو ګټه ده، ستاسو اودمسلمانانو دمسائلو حل ماته یواځې اسلامي خلافت او اسلام کې ښکاري .

ـ هغه څرنګه ؟.

ـ هغه داچې تاسو ته په اسلام کې څلور لارې دي چې درې دامن او یوه دجنګ ده. که تاسو درې دامن لارو کې هره یوه ومنئ نو دامن او سوکالۍ ژوند به وکړئ او که پخپله دجنګ لاره غوره کوئ نو داخوبیا داسلام او مسلمانانو ګونانه ده .

ـ هغه څلور لارې کومې دي ؟.

ـ دامن درې لارې دادي :

۱ـ اسلام قبول کړئ تاسو به زمونږ ورونه شئ اودټولو نه واخله په ټولو منافعوکې به مونږ سره شریک شئ .

۲ـ که اسلام نه قبلوئ جزیه ومنئ جزیه ستاسو داوسنیو پوځي مصارفو دلسمې برخې نه هم لږه راځي بیا به ددغه جزیې په بدله کې ستاسو دامن ساتل دمسلمانانو مسئولیت وي هغوی به تاسو نه دفاع

کـوي بـیامو نـه پـوځ تـه اړتیاشـتـه ، نـه جنګـي الوتکـو ، توپـونـو ، ټینکونو، میزایلو اونـه بارودوتـه داپیسـې دخپـل ژونـد دسوکالۍ لـه پاره ولګوئ .

۳_ کـه نـه اسـلام منئ اونـه جزیه ورکوئ اوداسلامي خلافت سره دامـن معـاهده ولـرئ ، دمسـلمانانو اموروکې مداخلـه نـه کـوئ ، دښمنان يې نـه نقويـه کوئ . دسیسې اوپلمې ورتـه نـه جوړوئ ...... نو هم مسلمانان په تاسو هيڅ تعرض نه کوي .

۴_ کـه دا درې واړه نـه منـئ نـو بـیا پـخـپله څلورمـه دجـنګ لاره نیسئ.

ـ مونږ په دې پوهېږو ته چې دلته مونږ ته داسې خبرې کوې نو بهر به څه وايې ؟!.

ـ زه دلـتـه اوبهـر حقیقـت وایـم زمونږ په خبرو کې به دلتـه اودباندې هیڅ توپیرونه مومې .

ـ سـتاپـه فـایلونو ( دوسیو ) کې مـاتـه درې خبرې ډېرې په زړه پورې دي نـو ځکـه مـې تاسره پـه خبرو کې دلچسـپي واخیسـتـه ، یوداچې ستافایلونو کې هر محقق لیکلي دي چې داسړی ریښتیا اوبې ګرده خبرې کوي . بله داچې استدلال او مناقشه کوي او دریمه داچې ټوکې او طنزونه کوي . بیرته مخکنۍ خبرې ته راګرځم بنسټپالان مونږ په هیڅ حال کې نه پرېږدي نو ځکه يې مونږ خلاف کوو اونه يې پرېږدو .

ـ بیانو دهغوی غبرګون ته هم غاړه کیدئ .

ـ زمونږ اود بنسټپالوترمنځ جنګ دی هغوی وايي چې مونږ به يې ګټو او مونږ وايو چې مونږ به يې ګټو. ګورو چې څه کیږي . مونږ سره

دخپل ژوند ، ګټو اوکلتور اندېښنې دي او هغوی سره خپل موازين او معيار ونه دي ،يوبل ته غاړه نه ږدو کېدای شي چې داجنګ ډېر پلن او اوږدشي .

دکمپ ،بنديانو ، افغانستان او پاکستان په هکله اونورې ګڼې ديني ، سياسي ، فرهنګي اوحياتي پوښتنې او تبصرې يې وکړې ، اوږدې خبرې ، تبصرې او پوښتنې يې وکړې بيايې راته وويل : که دافغاستان حکومت سره کار کوې له ولايته واخله تروزارته پورې هرکار مونږ تا او ستاورورته درکوو. که بل کار کوې مونږ مرستې ته تيار يو ، زمونږ مخالفت پرېږدې ژوندبه مو ښه شي دځانونو اودخپلو بچو دراتلونکي فکر وکړې ....

ـ دافغانستان په حکومت کې ټاکنې تاسو کوئ ؟!.

ـ ښه شېبه غلی اوپه فکر کې شويوځل يې ټنډه غونجه کړه اودکوټې چت ته يې وکتل بيا يې ماته مخ کړ مسکی شو او ويې ويل: زما مطلب دادی چې کرزي ته مو سپارښت وکړو ، بيا يې ددوارو لاسونو ګوتې سره تېروبېر ورکړې او ويې ويل :مونږ اودافغانستان حکومت خو اوس سره داسې يوو .

ماورته وويل : مونږ حکومت کې کارنه کوو ، زه چې کله آزاد شوم وبه ګورم ، که حکومت دافغانستان او دافغانانو دغوښتنو سره سم وُ زمونږ ددين اونواميسو ساتونکی وُ اودهيچا لاسپوڅی او ګوډاګی نه وُ نو بيا په کې مونږ هرخدمت ته تياريوواوداخپل مسئوليت او فريضه ګڼو اوکه نه وُ نو بيا يواځې دانه چې کار په کې نه کوو بلکه مخالفت يې کوو :

ـ څه ډول مخالفت ؟ .

ـ ترټولو دمخه په قلم .

ـ تاپه لومړيو ورځو کې هم دمحقق همدې ډول غوښتنو ته همداسې ځوابونه ورکړي دي تراوسه نه يې بدل شوی ډېر سخت دريځی يې .

خبره يې بدله کړه زمادليکنو په هکله يې لنډه تبصره وکړه .

او دسهار داذان نه مخکې يې رخصت کړم . درخصتېدو په وخت کې يې راته وويل چې زما تاسره همدايو ځل کتنه وه بيادې نه ګورم زه به امريکاته لاړشم او ته افغانستان ته . لاس يې راکړ وواته ،لږه شيبه وروسته عسکر راغلل ، ويې تړلم اود زولنو اوزنځيرونو په شرنګار يې بيرته بلاک ته بوتلم .

# د دروغو معلومولو دروغجن مشين

مونږ ته د پېښور د آی ایس آی په جېل ، باګرام ، قندهار او ګوانتنامو کې څوڅو ځل امریکایي محققینو داویل چې تاسو به مونږ داسې مشین ته ورکړو چې دروغ او ریښتیا به مو معلوم کړي . مونږ به ورته ویل چې سمه ده. دګوانتنامو دجېل اکثره بندیان یې دوه ډوله مشین ته ورکړل ، څه تارونه به یې دبندي مختلفو غړوسره وصل کړل بیا به یې بندي ته ویل چې خوځېږې به نه دهواونه ځواب به راکوې . دادزړه دای سي جي غوندې مشین و چې دپوښتنې په وخت کې یې دزړه دحرکت کرښې معلومولې نورهیڅ حیثیت یې نه و.

ماته یو ځل ګوانتنامو کې محقق وویل چې مشین ته دې ورکوو تیارېې ؟ ماورته وویل چې هوستاسو مشین زه پېژنم . دا دزړه دای سي جي نه پورته هیڅ حیثیت نه لري مشین راوړه خولومړی به مشین په تا کښېږدو که مشین وویل چې دامحقق دروغجن دی نو مشین ریښتیا وایي بیا زه هم ورته چمتویم اوکه مشین وویل چې دا محقق ریښتیا وایي نودامشین دروغجن دی ځکه چې ستادروغ خو ماته معلوم دي که غواړې چې اوس یې درته وشمېرم نو تیارشه . هغه وویل : اوس زما دروغ مه شمېره ویې خندل او پا ځېد .له دې وروسته بیانه کوم محقق راته دمشین وویل اونه یې مشین ته ورکړم.

داهم هسې ډرامه اوروحي فشار و چې ځینې ساده ګان بندیان یې پرې غولول .

# دانداو ذوق ازموینه

ددې لـه پاره چې دبندیانو ذوق او فکر معلوم کړي اویا په بله اصطلاح قدامت پسندي اوروڼ اندي یې څرګنده کړي، بندي به دتحقیق کوټې ته وغوښتل شو هلته یو عسکري محقق او یو ترجمان وو، بندي ته به یې په یولوی کاغذ انځورونه اورنګونه وروښودل او پوښتنې به یې ترې وکړې چې رنګونو کې دې ګوم رنګ خوښ دی اوانځورونو کې دې کوم کوم خوښ دي؟ داپوښتنې یې لـه ټولو بندیانو وکړې. زه یې چې کله وغوښتلم نودرنګونو په هکله مې ورته وویل چې رنګونه ټول ښکلي دي خو خبره په تناسب کې ده یو رنګ دیوه شي سره ښکلی ښکاري خو هماغه رنګ دبل شي سره ښه نه برېښي بلکې بدرنګي ګڼل کېږي بیامې ورته دخپل هغه شعر یو بیت ووایه چې همغلته دجېل په پنجرو کې مې لیکلی و . هغه بیت دادی:

په ښایست کې درنګونو دخل نشته
دښکلانمک چې ولـري جمال شي

انځورونوکې دیوې زړې پخې کلا ، دختو دکلاګانو ، یوې محجوبې ښځې، د ښکلو سترګو والا تنبوزک وهلې کوچۍ جلۍ ، دغربي لباس ، دمر مرو پوخ برج ، دریشي کړې جلۍ دښکلو چرګي سخوندرانو دسرونو ، دمیووددوکان ، دیوه عصري څلور لاري ، دکښت ، ګلانو او چمن انځورونه وو . مادپخې کلا ، دختو دکلاګانو ، محجوبې ښځې ، ښکلو سترګو، ښکلو سخوندرانو ، کښت ، ګلانو او چمن انځورونه انتخاب کړل؟ ماورته وویل چې پخه

کلا دعقیدې ، عزم او ارادې دپخوالي ، دختهو کلازمونږ دګران هېواد افغانستان دختهو دکلاګانو ، محجوبه ښځه زمونږ ددین ، پت او عفت ، او ښکلې سترګې ، چرګې سرونه ، کښت ، ګلان او چمن دښکلا ترجماني کوي او مونږ ته خپل وطن رایادوي .له دې امله مادهمدغو انځورونو انتخاب وکړ .

هغه وویل چې دانوردې ولې منتخب نه کړل ؟ ماورته وویل : نه زماغربي لباس خوښ دی اونه دغه نورشیان زمونږ هېواد کې شته . کله چې زمونږ هېواد ودان شي او دغسې برجونه او عصري څلور لاري په کې جوړشي بیابه یې زه هم خوښوم او س دپردیو پرمختګ ماته هیڅ ګټه نه لري نو انتخاب یې هم نه کوم .

په دې سربېره یې مخکې پنجرو کې زمادګوتو بصمات ( خاپونه ) او انځورونه بیا واخیستل .

دلته په څلورم کمپ کې یې هم په دغه ورځو کې دلاسونو دټولو ګوتو اودټول لاس او ورغوي خاپونه او انځورونه واخیستل؛ بندیانو ګومان کاوه چې دادازادېدو یوه پیلامه ده .

# دبندیانو ازادېدل

دبندیانو ازادېدل هغه وخت پیل شوي وو چې مونږ پنجرو کې وو. زمونږ تر راتګ تقریبا نیم بندیان ازادشوي وو مونږ په منځ او نیمایي کې راخوشې شو. مونږ نه مخکې ځینې اروپایان ، عرب ، افغانان اودرې کسونه پرته نور ټول پاکستانیان ازادشوي وو . هرځل به چې دبندیانو کومه ډله ازاده شوه نو نورنوي بندیان به له باګرام څخه

راوړل شول. زمونږ تر راخوشي کېدو داسې هيڅ ډله نه ده خوشې شوې چې دهغې بدل کې بله پېره نوي بنديان نه وي راغلي .

اوس ددوه زره شپږم کال دفروري په نهمه نېټه چې په کابل کې کوم اوه کسيزه ډله دګوانتېنامو دزندان نه را ازاده شوه نو دپينتاګون درسمي اعلان مطابق په ګوانتېنامو کې څلورسوه او نوي ( ۴۹۰) بنديان پاتې شول او ددوهم اعلان مطابق ( ۵۸۵) يا ( ۵۵۸) خوداخبره واضحه ده چې له دغه عادي بنديانو پرته دقاعدې مشران اونورپټ بنديان په مختلفو مخفي ځايونو کې ددغه شمېر نه بهر دي .

# محاكمه

داستاذ بدر دازادېدو پورې چې څومره ډلې بنديان له زندانه وتلي وو داستاذ دوی دډلې په شمول ټول بې له محاکمې ووتل او داستاذ دوی دتګ نه وروسته مونږ پاتې ټولو بنديانو باندې دمحاکمې اطلاعيې ووېشل شوې چې انځور يې مخکې د ترجمانۍ دستونزوعنوان لاندې تېرشوی دی.

ددې اطلاعيودوېشلونه څو مياشتې وروسته يوه نمايشي نظامي محکمه پيل شوه. اکثرو بنديانوته يې داپرېکړه واوروله چې امريکاحق لري چې تانورهم دجنګي دښمن په حيث دنامعلومې مودې پورې وساتي .( ۱۸ ) اتلسو بنديانو ته يې دبرائت اعلان وکړ او دڅلورم کمپ ديو نيفارم بلاک کې يې واچول . په دې بري کسانو کې زه هم وم .

زما محکمه داسې وشوه چې یوځل یې وغوښتلم، په عسکري لباس کې یو کس راته وویل چې زه ستاوکیل یم او څو ورځې وروسته ستامحاکمه ده .

_ته خومانه یې تاکلی نو څرنګه زماوکیل یې ؟ .

_ زه دامریکاپوځ تاله پاره وکیل تاکلی یم

_ عجیبه خبره ده ! ته خو زما دښمن یې نو څرنګه زماوکیل کېدای شې ؟.

_ نه زه ستا دښمن نه یم .

_څو ورځې مخکې تاسو مونږ ته اطلاعیې راکړې اوپه هغوکې مو لیکلي دي چې تاسو دامریکا جنګي دښمنان یاست .... ته هم یوامریکایي اودامرکایي پوځ عسکر یې. دامریکاهیڅ فرد زما وکیل نه شي کیدای . عجیبه محاکمه ده چې امریکاهم مدعي دی ، هم قاضي ، هم وکیل ، هم ګواه ....؟!.

_ ویې خندل ، بیرته یې تندره غونجه کړه اوویې ویل چې ستاخوښه وي اوکه نه دامحاکمه به ضرور کېږي . توررونه یې راوښودل او راته ویې ویل چې ګواهان لرې که نه ؟ ماورته وویل : ګواهان خوبه تاسو راوړاندې کوئ چې په مامو دعوه کړې ده اوتوررونه موراباندې لګولي دي . مانه څرنګه ګواهان غواړئ ؟ هغه وویل : مونږ یې نه لروته یې راوښیه دډېرې مناقشې نه وروسته ماوروښودل او ولاړ. څوورځې وروسته یې بیا وغوښتلم اوراته ویې ویل چې مونږ ستا ګواهان پیدانه شوکړای . دلته زندان کې راته ګواهان وښیه ماورته وویل چې دې بندیانو سره خوزه دلته اشناشوم

خودا يوه خبره چې ماپه هرات کې دفتر درلود ، لوی دروغ دي ددې پوښتنه تاسو دلته په هراتْ کې دطالبانو والي : ملا خير الله خير خواه نه وکړئ که هغه وويل چې زه يې پېژنم ياهلته داسې کوم دفتر وُ نو زه به مجرم يم . که نه تاسو بايد ګواهان راوړاندې کړئ اصلاً ګواهان مدعي له پاره وي مدعی عليه باندې ګواهان نه وي تاسو په مادعوه کړې ده تاسو بايد ګواهان ولرئ اوکه نه يې لرئ نو همدا خبره ددې دليل دی چې زه بې ګونا يم . زه بيرته بلاک ته ولېږل شوم . څو ورځې وروسته محاکمې ته په زنځيرونواو زولنو کې وغوښتل شوم دمحاکمې له پاره يې يو لوی صالون جوړ کړی وُ. زه ديوه دېوال خواته په چوکۍ کښېنول شوم اوپه زمکه کې دښخې کونډې پورې دحيوان په څېر وتړل شوم. لږه شېبه وروسته زما وکيل اوترجمان راغلل . وکيل مې ښي لور او ترجمان کيڼ لورته په چوکيو کښېناستل . لږه شېبه وروسته دوه ښځې راغلې چې يوه سپين پوستې وه هغه مونږ نه لږ وړاندې ديوه مېز شاته کښېناسته اوبله تور پوستې دهغې خواکې دبل مېز شاته کښېناسته . تورپوستې دامريکادحکومت وکيله وه اودسپين پوستې مخکې مشين ايښی وُ. دمحاکمې جريان يې ټيپ کې ثبتاوه . ورپسې درې قاضيان راغلل چې دريشې ګانې يې هم دموقتو ځانګړيو نمائشي قاضيانوګواهي ورکوله . يو لوړ ، پنډ او پېړ دزيړو سترګو څښتن و ، بل دشنو سترګو څښتن و چې مخکې زمامحقق پاتې شوی و. ما وپېژنده خو هغه ګومان کاوه چې زه يې نه پيژنم . بل وچ نری دزيړوسترګو او کولغ سرڅښتن و . درانسوتو سره ټول داحترام له پاره ورته ودرېدل

اوزه ناست وم . هغه لوړ پنډ مونږ ته دمخامخ اوږدلوړ مېز شاته منځ کې کښېناست . وچ نرى يې ښي لور او شين سترګى يې کيڼ لورته کښېناستل . ترجمان ټول راوپېژندل . او منځني قاضي خبرې پيل کړې . لومړى هغوى درې واړو لوړه وکړه او بيا يې ماته لوړه راکړه چې ريښتيا به وايوو او عدل به کوو .بيا يې راته وويل : مسلم دوست ! تـه دامريکادجنګي دښمـن په حيث نـن محاکمه کېږې په تادامريکا دحکومت درې تورونه دي چې دادي :

_۱: ته په ۲۰۰۱ م کال کې افغانستان ته تللى يې .

_۲: ته داسلامي تنظيمونو سره اړيکې لرې چې ترهګردي .

_۳: تاپه هرات کې دفتر درلود چې هغه دالقاعدې دفتر و او دالقاعدې هيڅ کاغذ ستا دلاسليک نه پرته نه تېرېده ....

ماورته وويل :

_۱: داچې په ۲۰۰۱ م کال کې زه افغانستان ته تللى وم دابېخي سمه ده افغانستان زما وطن دى هلته زه هروخت ځم راځم داکوم جرم نه دى ....

_۲: زمادکومو تنظميونو سره څه ډول اړيکې وو ؟ زما چې چاسره اړيکې وو اوچاسره نه وو يامې پرې کړي وو هغه ټول ماتاسوته پخپله درپه ګوته کړي دي . داکوم جرم نه دى .

_۳: داچې هرات کې زما دفتر و دابېخي غټ دروغ دي . که زمادفتروئ نو په کومه ناحيه او کوم سړک وئ ؟ دکور نمبر څه وئ ؟ او زمونږ ګاونډيان څوک وو؟ .... بلـه داده چې تاسو سره دلته دهرات والي ملا خير الله خيرخواه بندي دى لـه هغه پوښتنه وکړئ دهرات

ښار ستاسو دښارونو په څېر لوی ښارنه دی . که هلته دومره مهم دفتر و نو ملا خیر الله به ارومرو خبر وي که هغه داوويل چې زه هسې هم هرات ته تللی یم نوداد عوه به سمه وي . زه په خپل ټول عمر کې تراوسه هرات ته هیڅ تللی نه یم . بله داچې ستاسو د تورونولومړی اودریم تور خپلو کې سره تناقض لري . دلومړي تورنه خوداڅرګندېږي چې زه له افغانستان څخه دباندې اوسېږم اويواځې ۲۰۰۱ م کال کې افغانستان ته تللی یم اوددریم تورنه داسې ښکاري چې افغانستان کې زما دفتر ؤ اوزه هملته اوسېدم !!!. که ریښتیا هم هلته زما دفتر وای نوماانکارنه کاوه اوښۀ په جرأت به مې اقراراو اعتراف کړی ؤ خوداسمه نه ده .

قاضي دحکومت دوکیلې نه پوښتنه وکړه چې آیا تاسره کوم دلیل یا ګواه شته ؟.

هغې وویل چې نه . ماهم وخندل او قاضي هم . وکیلې بیا وویل چې ځینې خبرې شته چې دامنیتي دلائلو له امله پټې دي اوزه یې اوس نه شم ویلای بیا به زه تاسو سره په خصوصي مجلس کې کښېنم.

ماورته وویل چې محکمې دمدعی علیه نه خبرې نه پټوي او س یې ووایه چې زه یې ځواب ووایم .

پټې خبرې دروغ وي او مجرمان یې کوي . زه پوه شوم چې ددې خبرې مقصددادی چې دخپلو ګوډاګیانواو جاسوسانونوم نه شم اخیستی

په دې کې یې ملاخیر الله خیر خوا راوست . زما کین لورته دترجمان نه اخوا کښېنول شو هغه نه یې پوښتنه وکړه چې : ته په دې خبروې چې هرات کې دالقاعدې دفتر و او مسلم دوست په کې کار کاوه ؟ هغه وویل : نه هلته نۀ دفتر و او نۀ ما مسلم دوست پېژنده .

هغه بیرته وایستل شو . دقاضي خواته شین سترګي قاضي دمحاکمې دقضیې نه دباندې ځینې پوښتنې وکړې چې تا په ورځپاڼو کې مضامین لیکلي دي ؟ ماورته وویل: هو . دهغومجلو په هکله یې پوښتنې وکړې چې ماخپرولې دخپرېدو او دبندیدو دتاریخونو په هکله یې هم پوښتنې وکړې ماورته ټول وویل . زما وکیل ورته وویل چې داسلامي او میلادي تاریخ توپیر ته باید پاملرنه وکړئ . ماورته وویل چې ماتاسو ته ستاسو دپوهولو له پاره میلادي تاریخونه یادکړي دي . وکیل په ټوله محاکمه کې یواځې همدغه خبره وکړه نور غلی ناست و . قاضي وویل چې ته خوداسې خبرې کوې چې وکیل ته ضرورت نه لرې . مونږ به پرېکړه واشنګټن ته ولېږو انتظار وکړه. بیا یې وویل چې مونږ به تاسره عدل وکړو. هغوی لاړل او زه هم بلاک ته ولېږل شوم . په ۱۳۸۴ \ ۱۱ \ ۲۸ هـ ش . ۱۸ \ ۱۳ \ ۱۴۲۶ هـ ق ، ۲۰۰۵ \ ۱۴ \ ۱۷ م دیکشنبې په ورځ بیا وغوښتل شوم یو ترجمان اویو بل کس چې پوځي جامې یې اغوستې وې راغلل او راته ویې ویل چې ستاپه هکله قاضیانو پرېکړه کړې ده چې په تاکوم جرم ثاب نه شو . آیاددې په معنا پوهېږې ؟ ماوویل : هو ددې معناداده چې زه بري یم . هغه وویل : هو ته بري یې اوس به له نورو بندیانو جلاشې او ډېر زر به کورته لاړشې . بیرته بلاک ته

ولېږل شوم . هلته مې نور ملګري خبر کړل ټول خوشحاله شول او دمعمول مطابق مې خپل سامان راواخیست دوه ملګرو راسره سامان واخیست او دینکي بلاک نه ورسره نږدې یو نیفارم بلاک ته ولېږل شوم ، هلته یو نیفارم بلاک ته مانه مخکې هم بري شوي بندیان لېږل شوي وو او مانه وروسته هم راغلل . ټول شل کسان هلته راټول شو دوه سعودیان ، یوترکي اوولس (۱۷) مونږ افغانان وو. څو ورځې وروسته دسره صلیب کسان راغلل ، یویو یې له کوټې دباندې وغوښتوو او راته ویې ویل چې تاسو خپلو کورنوته ځئ اوپه دې ترتیب به لاړشئ ...

دبري کېدو له ورځې نه یوه میاشت وروسته یو عسکر راته وویل چې تاسو بېګاته کورونوته لېږل کېږئ ټول خوشحال شوو او دنورو بندیانو سره مولـه ورایـه مخه ښه وکړه خو داخبره سمه نه وه بیګاته لاړنه شوو سباته دکمپ مسئول راغی او ټولوته یې وویل چې بیګاته تاسو الوتکه کې باګرام ته لېږل کېږئ . بیا مو له ورایه بندیانو سره مخه ښه وکړه بېګاته ددوشنبې په شپه ۱۳۸۴\۲\۲۹ هـ ش ، ۴\۱۸ \۱۴۲۶ هـ ق ، ۲۰۰۵\۴\۱۷ م دشپې په یو ولسو بجو عسکر راغلل او راته ویې ویل چې تللو ته تیاری ونیسئ . یویو یې را ایستوو یو توربکس یې راکړ چې پتلون ، کورتی ، بنین ، ټوکري بوټان ، جرابې، یوه کمپل ، شامپو ، صابون ، دغاښونو کریم ، برش او دوا په کې وه . جامې مو بدلې کړې او دشپې په یوه بجه یویو را ایستل کېدو ، زنځیرونواو زولنو کې تړل کېدو اودباندې ولاړو بسونوته خېژول کیدو. هماغه بې چوکیو بسونو کې په زمکه زولنو او

زنځيرونوکې ترلي کښېنول شوو . دځه ځنډ نه وروسته بسونه روان شوو . او يو ستونزمن سفر پيل شو . ټولې ښيښې پلستر شوې وې او هيڅ ترې نه ښکارېدل خو زه داسې ځاى کې ناست وم چې دڅرېور ښيښه لږه غونډې ښکارېده او دباندې مخامخ ځاى ترې ښکارېدۀ. بسونه دبحر غاړې ته ورسېدل په بېړۍ کې ورپورته شول او بېړۍ دساحل په لور روانه شوه. تقريبا څلوېښت پنځوس دقيقې وروسته بېړۍ ساحل ته ورسېده، بسونه ترې ښکته شوو او هوايي ډګرته ورننوتل . يوه لويه پوځي الوتکه چالان ولاړه وه . دلکۍ له پلوه خلاصه وه اومونږ يويودداړو متهو نه نيول شوي وردننه کړاى شوو . په کلکو پلاستيکي چوکيو کښېنول شوو او دپښې زنځير يې دپخوا په شان دالوتکې دفرش کونډې سره وتړه . عجيبه خبره خوداوه چې مونږ دامريکې محکمې بري کړي وو خوبياهم په زنځيرونواو زولنو کې دجهاز دکونډې پورې ترلي روان کړاى شوو ! مونږ فکر کاوه چې مونږ خوبې ګونا يودامريکا محکمې زمونږ په بې ګوناهۍ اعتراف وکړ او بري يې کړو . مونږ سره به اوس انساني سلوک کېږي اوپه پستو چوکيو کې به خلاص لاسونه اوخلاصې پښې کورونو ته ځوو. خو خبر نه وو چې دامريکابزدل پوځيان مو اوس هم نه معافوي او هماغسې دځناورو سلوک راسره کوي !!!.

سترګې يې راونه ترلې او غوږونه يې راوترل چې وروسته مو خلاص کړل . يوه عجيبه الوتکه وه ماخودسپرليو بوينګ الوتکو کې دحج اونور سفر ونه کړي وو، هغه خو سمې الوتکې وې ، دا باروړونکې الوتکه وه . ددې الوتکې چت اودواړه خوا ديوالونوته

ددننه پلوه کوم پوخ نه و او ټولې کولمې يې ښکاريدې مشين ، سلنسرونه ، تارونه ، پيپونه ، اونور هرڅه يې ښکاريدل دلکۍ دخوا تختې به يې هملته په نږدې بټنو ښکته پورته کيدې ، په الوتکه کې دغټ حاجت اجازه نه وه او وړوکی حاجت هم په ولاړه و او عسکر به هم شاته راته ولاړ وو په دې هکله بنديانو باندې زيات تکليف تېر شو ډېر بې کاره خوراک يې څو ځل راوړ چې يواځې دوه پترۍ ډبل ډوډۍ وه او منځ کې په خواږه شربت نښلول شوې وې . هيڅا ونه خوړل يواځې تروې مڼې مو يوځل ښه په مينه وخوړې نورمو تقريباً ( ۳۰) دېرش ساعته سفر ډېر ستونزمن وکړ . په برې کسانو کې دوه سعوديان پاتې شول او مونږ اولس (۱۷ )افغانان او يوتر کی راغلوو . ترکی په ترکيې کې ښکته شو او مونږ دسې شنبې په ورځ ۳۰ \ ۱۱ \ ۱۳۸۴ هـ ش ، ۹ \ ۱۲ \ ۱۴۲۶ هـ ق ، ۱۸ \ ۱۱ \ ۲۰۰۵م تقريبا دورځې په لسو بجو دباګرام په هوايي ډګر ښکته شوو ؛ کله چې باګرام ته ورسيدو بيا يې سترګې راوترلې او دباګرام په هوايي ډګر کې دامريکايانو دکمپ يوې لويې خېمې ته ننه ايستل شوو . هلته يې سترګې راپرانيستې او نور ترلي وو . يو يو ورتلوو او دسترګو کمپيوټري عکسونه ، اودلاسونو دګوتو کمپيوټري بصمات يې راځخه واخيستل . دې کار ډېر زيات وخت ونيوه هلته مو لمونځونه هم وکړل او پاکټي ډوډۍ مو هم وخوړه بيا يې بکسونه راکړل .

# زمونږ ليکنې امريکايانو ستنې کړې

دګوانتنامو په زندان کې تردېرې مودې پورې مونږ ته قلم او کاغذ نـه راکـول کېدل بيا چې کلـه دبنديانو درجه بندي وشوه نو دلومړۍ درجې والا بـنديانو تـه يـې قلـم او کـاغذ ورکـول پيـل کـړل . يـو نـرم غونـدې قلم او په شـواروزکې درې ډلو کې هرې يوې ډلې يويو کاغذ راکـاوه. ځينو ډلوکې به کله کله کوم عسکر دوه درې پاڼې هم راکړې. زه او اسـتاذ بـدر دواړه پـه لومـړۍ درجـه کـې وو نـو ځکـه يـې قلـم او کـاغذ راکـول کلـه کلـه بـه اسـتاذ نـه هـم کاغذ زيات شو نو ماته به يې راکړ او زمونږ په کتار کې به نورو بنديانو هم دعسکرو نه پټ دپنجرو دسـوريو نـه توتـه کـړي کاغذونـه رالېږل . مونږ قلم او کـاغذ تـه ډېـر خوشـحال شـوو. مالـيکل پيـل کـړل اوډېـر زيات ليکل به مې کول چې نور بنديان به هم راته حيران وو. مادبند په دغه موده کې دومره ليکل وکړل چې دازادۍ پـه ټول عمر کې مـې نـه دي کـړي . اسـتاذ بـدر هم ليکل وکړل خو لږ .

ماتـه الله تعـالی توفيق راکړ دقرآن کريم دوه ډولـه ، ټکي په ټکي او روانـه ژبـاړه او مختصر تفسير مې بشړ ولـيکه ، په عقيده کې مې يو کتـاب ولـيکه ، پـه اصـول حديثوکې مـې يوه رسـاله پـه عربي ولـيکله چې هلتـه هـم ځينو عـربو بنديانو ورځخه ګټـه واخيستـه . منظومه فقه مې ولـيکله چې دايمـان طهـارت ، لمانځـه ، زکـات ، روژې ، حج او نکـاح دبحـثونوټول ډولونـه پـه کـې بشپړشوي وو او اوس بـيوعو کـې روانـه وه . ځـه دپاسـه " ۲۵۰۰۰ " پـنځه ويشـت زره بيـتـه شـعري

مجموعه مې ولیکله چې مختلف موضوعات په کې رانغښتي وو ، نور ادبي ، فرهنګي ، علمي او معلوماتي بحثونه مې ولیکل او داټول دذهن دڅپو محصول و چې تر دولسو کتابونو رسېدل . هلته نه مراجع وو اونه ماخذونه ، ډېره خواري مې کړې وه دتالاشئ په وخت کې به عسکروراڅخه واخیستل. دپوخ رنګ والا زېړولفافو کې به یې بندکړل، زمادپنجرې اودوسیې نمبر به یې پرې ولیکه اویو به یې وړل ؛ مابه داخیستلو په وخت کې هم پرې تاکید وکړ چې ضایع یې نه کړي ، په تحقیق کې به مې هم وخت په وخت مطالبه کوله او محققینو ته به مې ویل چې زما لیکل زما پانګه ده دابه زه کورته وړم دابايد ماته راکول شي دازما حق دی. تاسو چې ماته قلم او کاغذ راکول نو اوس به زما لیکل نه ستنوئ . محققینو به وخت په وخت وعدې کولې اخر دراتلو په ورځ دکمپ مسئول راغی راته وېې ویل چې تادخپلو لیکنو مطالبه کړې وه ستالیکنې نه دي ضائع شوي هغه مونږ ټولې ساتلې دي او تاسره به په یوه الوتکه کې ځي، باګرام کې به تاته درکول شي خو کله چې زه باګرام ته راغلم مامطالبه وکړه امریکایانو راته انکار وکړ اووېې ویل چې ستا کاغذونه نه دي راغلي ؛ زما کاغذونه امریکایانو ستانه کړل او ماسره یې ډېرلوی ظلم وکړ . یواځې وروستني لږ غوندې کاغذونه یې راسره راپرېښودل او نور ټول یې ستانه کړل زما کاغذونه داسلامي مکتبې او دپښتو ژبې لویه پانګه وه هغه اوس هم دامریکاپوځ سره دي که وېې غواړې نوراکولای یې شي . استاذ بدر هم ډېر ښه ښه شیان لیکلي وو هغه یې هم ترې ستانه کړي دي .

# د کابل په لور

باګرام کې چې کله د امریکایانو کار خلاص شو نو بیا یې سترګې راوتړلې او موټرو کې یې کښېنولو د کمپ نه د باندې افغاني چارواکي زمونږ منتظر وو هلته یې سترګې راخلاصې کړې او د لاسونو او پښو زنځيرونه او زولنې یې هم خلاصې کړې . مونږ یې افغاني حکومتي چارواکو ته تسلیم کړو او تور لاسي بکسونه یې راکړل . افغاني چارواکو راسره روغبړ هم ونه کړ په فلاینګ کوچ کې یې کښېنولو او راته ویې ویل چې مونږ تاسو ته سترې محکمې کې سرشته نیولې ده هلته ژورنالستان هم راټول شوي دي هلته به ځو . مونږ وویل : سمه ده . په ضمن کې یې ددې تلقین هم راکړ چې تاسو به خبرې نه کوئ د سترې محکمې رئیس به خبرې کوي .

د افغاني چارواکو د اپلاوی چې کوم ځای کې ولاړو دا د کمپ نه د باندې او د آخرې خط نه دننه و کله چې له باګرامه په وتو کې شوو چې ګورو په سرکونو د سیمټو لوی لوی بندیزونه پراته دي چې موټر د بندیز ونو ترمنځ ښي او چپ لورته ګوږ وږ ځي او سم نه شي تللی . شاوخوا ګرد چاپېره هر ځای کې د اوسپنیزو جالونو د دننه د شګو د بوجیو لویې لویې غونډۍ جوړې دي ، ځای په ځای امریکایي اغزن تارونه غځېدلي دي او سخته تالاشي او پلټنه روانه ده چې دا ټول د امریکایانو د ډار او په افغانستان کې د امنیت د نشتوالي ترجماني کوي . مونږ ګومان کاوه چې افغانستان کې به تور سرکونه وي ، ودانې به وي او کابل به ښېخي ګلبڼ وي . خو خبره ښېخي سرچپه وه . هرځای خاورې او دوړې وې ، سرکونه وران ویجاړوو او هیڅ مثبت

بدلون نه ښکارېده بلکه داسې برېښېده چې ګه پردي او خارجي ځواکونه په افغانستان کې درې ځلور کاله نورهم پاتې شي نودکابل سرکونه به دعامو خلکو په مخ وتړل شي او هرځای به دشګو ډېرې، بندیزونه او اغزن تارونه شي او که خارجیان واوځي نو دکابل نه به دجزیرة العرب هغه ربع خالي جوړه شي چې دوچو شګو سیلابونه په کې بهېږي .

کله چې دامریکایانو دآخري خط نه وتوو نو امریکایي پوځیانو دافغاني چارواکونه دامریکایي پوځ هغه کارتونه وغوښتل چې دننوتو په وخت کې یې ورکړي وو. افغاني بې وزلو چار واکو چې کله کار تونه وروښودل نو یو کارت په کې کم و . امریکایي پوځي په ډېر تکبر او بادارنه لهجه ورته وویل چې یو کارت کم دی ترڅوچې مو کارت نه وي راکړی نه شئ تلای . دکورنیو چارو دوزارت مسئول قوماندان ـ چې دشمالي اتحاد څوکیداران هم ورسره وو ـــ په ډېره بې وزلۍ او غلامانه لهجه عذر او زاري ورته کوله چې لار ورکړي او خوشې یې کړي . ټولو ترور ترور اخوادېخوا کارت لټاوه خونه ښکارېده . ما یو افغاني انضباط ته وویل چې خیردی یو کارت کم دی قوماندان صاحب دې امریکایانو سره پاتې شي او مونږ به لاړشوو ..داخبره په انضباط ښه ونه لګېده .

اخر چې یو عسکر دفلاینګ کوچ لاندې ولیدل کارت هلته پروت و ډېر خوشحال شو راوایې خیست ، قوماندان صاحب ته یې ورکړاوهغه په دواړو لاسونو په ډېر احترام امریکایي عسکر ته ورکړ ؛ دې جریان یو ساعت ونیوه، یو ساعت وروسته داستونزه حل شوه

اودکابل په لور روان شوو .بنه شېبه وروسته دکابل په ښار ورننوتو اودسترې محکمې دودانۍ مخ کې اودرېدو ؛ ژورنالستان دسترې محکمې مخ کې ډلې ډلې ولاړوو او زمونږ په لیدو ټول را روان شوو دسترې محکمې رئیس مولوي فضل هادي شینواری راووت سپینه پګړی اوتوره چپن یې په غاړه وه دمطبوعاتي کانفراس لوی صالون ته وردننه شوو ؛ هلته ښکته پورته مېزونه پراته وو ، دچایو پیالې پرې ایښې وې او ګرد چاپېره ترې چوکۍ ایښودل شوې وې کینږ لاس ته دمېزونو آخرته دټولو مخې ته ستېج وُ. مونږ په چوکیو کښېناسو ، فضل هادي او حکومتي چارواکي ستېج سره کښېناستل او ژورنالستان ډېر زیات وو نو ټولو ته چوکۍ ونه رسېدې ځینې ګردچاپېره اودرېدل . مونږ نه ځینو پټې پټې پوښتنې پیل کړې خو وخت یې ونه موندہ . فضل هادي نه الله تعالی ددې توفیق هم ورنه کړ چې ددرې نیمو کالونه وروسته دامریکادبند نه راخلاص شوو بندیانو ته لږ ترلږه لاس ورکړي اوروغبړ ورسره وکړي . اوداځکه : هسې نه چې دامریکاډالرې بندې شي اوباداران خفه شي !!!.

دستېج نه یې خبرې پیل کړې اوداسې برېښېده چې مخکې ترمخکې امریکایانو ملاکړې وُ. ځکه چې ټولې خبرې یې دامریکایانو په پلوۍ اودهغوی دخوشحالو لو له پاره وې ؛ سترګې یې ټیټې وې اوسپینې پګړې یې له ورایه چغې وهلې چې زما سپینوالي ته مه ګورئ زه ډالرو داسې توره کړې یم لکه دشینواري صاحب په ګوګل کې تور زړه اوپه اوږو توره چپن ...

فضل هادي صاحب لنډې خبرې وکړې او ويې ويل چې تاسو باندې به دګوانتنامو په زندان کې اوله هغې مخکې ډېر تکليفونه تېرشوي وي : هغه چاته مه وايئ او دهغه ځاى حالات چاته مه بيانوئ .

بيا يې وويل چې والله ماخودامريکاسفير سره ملاقات وکړ هغه ماته قناعت راکړ چې امريکاکوم بنديان ګوانتنامو کې بنديان کړي دي نودايې ښه کړي دي والله چې زما خودهغه په خبرو قناعت راغى .

بيا يې وويل چې کيوبا کې درې ډوله بنديان دي : يو ډول يې ددښمنانو ددښمنۍ ښکار شوي دي او يو ډول داغيارو په لمسون تللي دي او يو ډول خوداسې دي چې همغلته وي نو ښه دي ....

يو ژورنالست دفضل هادي نه پوښتنه وکړه چې دابنديان خو بري شوي دي ددوى ددې درې نيموکلونو تاوان به څوک ورکوي ؟ شينواري هغه دغه وکړل . مادحکومتي چارواکو بنديز ته ونه کتل بې نمبره په خپل ځاى کې پورته شوم او خبرې مې پيل کړې ؛ زما په پاڅېدو کې ژورنالستانو زياته دلچسپي واخيسته ټولو چغې کړې چې ستيج ته لاړشه ستيج سره ټولې چوکۍ ډکې وې او خالي ځاى نه و؛ دژورنالستانو په زيات ټينګار دفضل هادي دښي لوري نه يو چارواکي چوکۍ خالي کړه زه هلته لاړم او خبرې مې پيل کړې .

ماوويل چې : مونږ خودعالم برزخ نه راغلي يوو ،اوداځکه چې مونږ داسې ځاى کې وو چې نه دنياوه اونه آخرت.

دنياځکه نه وه چې دنيا سره زمونږ هيڅ اړيکي نه وو . هلته نه راديو وه ، نه تلوېزون ، نه ورځپاڼه وه او نه مجله . مونږ له دې دنيا

هیڅ خبر نه یوو. مونږ له دې هم خبر نه یوو چې مونږ په افغانستان کې حکومت لرو او که نه ؟! خو که فرضا لرو یې نودحکومت دنده دانه ده لکه فضل هادي صاحب چې وویل : بلکه دحکومت مسئولیت اودنده داده چې دپردیو سره بندیان به خپل هېواد ته رانقلوي . فرضاکه هغوی مجرمان وي اوتاسو ځان ته حکومت وایئ نو دلته یې ولې نه را غواړئ اوپخپله یې ولې نه محاکمه کوئ ؟! زه خو یې چې ترڅو پېژنم اوومې لیدل دګوانتنامو بندیان بې ګناه دي خو فرضا که مجرمان وي نو تاسو یې پخپله ولې نه محاکمه کوئ ؟که فرضایو ځوک داعدام وړګنئ هم راویې غواړئ اودلته یې اعدام کړئ؛ دمسلمانانو فریضه داده چې بندیان به دکافرو دبند نه ازادوي رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي چې :

( فکوا العاني ) ( تاسو بندي ازادکړئ ) بیا مې دمعتصم بالله خلیفه کیسه وکړه چې په روم کې یوې مسلمانې بندۍ ښځې دبندي کېدو په وخت کې غږ کړی و چې : ( وامعتصماه ) ای معتصمه چېرته یې او څه شوې ؟ هغه لوی پوځ تیار کړ، ورویې لېږه او دمسلمانانو ټول بندیان یې راخوشې کړل .....

زمادخبرو منځ کې فضل هادي دمجلس نه پاڅېداو غلی ښویه شو. زما شاته کوم حکومتي چارواکی ولاړ و زما جامې یې راښکودې اوراته ویل یې چې بس دی بس دی ....

ماداهم وویل چې پاکستانیان افغانستان ته دجنګ له پاره راغلي وو. افغانستا ن کې نه حج و اونه عمره وه چې هغوی یې دکولو له پاره راغلي وو، خودپاکستان د حکومت دچالاکۍ له امله هغوی ازاد

شول خو افسوس چې دافغانستان دستري محکمې ملاصاحب وايي چې افغاني بنديان همغلته ګوانتنامو کې ښه دي !!!!....

نورو خبروته چاروا کو پرې نه ښودم رالنډې مې کړې ، ژورنالستانو غوښتل چې مونږ سره خبرې وکړي خو سره جلايې کړو. دوه نورو بنديانو هم لنډې خبرې وکړې ، ازد حام جوړشو ، په مېز اېښودل شويو پيالو کې چاى اچولو ته هم وخت ونه موندل شو ، په زور روان کړاى شوو ، په ګاډو کې کښېنول شوو او په دې نامه چې دازمونږ مېلمانه دي ، دژورنالستانو نه پټ کړاى شوو . کارته پروان کې دداخله چارو دوزارت په يو مېلمستون نماتعمير کې دننه کړاى شوو . هلته ددوهم پوړ کوټو کې وويشل شوو يويو تور واسکټ ، پګړۍ او يو جوړ افغاني جامې راکول شوې. هغه مو واغوستې او مادامريکايانو دريشي ، بنين او جامپر ددفتر يو انضباط ته ورکړل . دشپې همغلته پاتې شوو. مادټيليفون هڅه وکړه ددفترنه دټيلفون اجازه ونه شوه . انضباط سره موبايل و ماورته پيسې ورکړې چې کارت ورته واخلي بيا ما دپېښور اکاډمي ټاون هغه کورته ټيليفون وکړ چې مونږ دنېول کېدو په وخت کې په کې اوسېدو . دابه وه چې مانه په دې درې نيمو کلونو کې دټيلفون نمبر نه و هېر شوى. کله مې چې ټيلفون وکړ زمونږ ديو دوست زوى را واخيست ويې پېژندم او راته ويې ويل چې ستاسو کور له دې ځاى نه بلې کوڅې ته نقل شوى دى. زه به دغوى ته خبر ور کړم . ما دانضباط دټيلفون نمبر ورکړ هغه زما زوى عبدالاحد ته نمبر ورکړى و څه شيبه وروسته عبدالاحد ټيلفون راوکړ خبرې موسره وکړې .

ورپسې استاذبدر هم ټیلفون راوکړ ، حکیم صاحبان عطاء الرحمن ، عبدالمالک اونوروسره مې خبرې وشوې استاذ بدر جلال اباکې و او ویل یې چې مونږ همدا اوس در روانیږو. ماورته ډېر وویل چې تاسو مه راځئ اوزه درځم خو هغوی په ټینګار وویل چې مونږ ان شاءالله درځوو .

همغه وو چې هغوی دشپې درې بجې دجلال اباد نه دکابل په لور را روان شوي وو سباته نهه بجې وې چې کارته پروان ته راورسېدل. افغاني چارواکو هرچاته خپله دوسیه اودلارې کرایې له پاره لس زره افغانۍ ورکړې تقریباً دټولو بندیانو خپلوان اودوستان راورسېدل. زمونږ نور خپلوان او دوستان جلال آباد کې ایسارشوي وو او استاذ بدر ، مولوي صاحب محمد یونس حسنیار او حکیم صاحب عبدالمالک کابل ته راغلل اګر چې کابل کې دټولو دوستانو داهیله وه چې څه وخت ورسره تېر کړو خو مونږسره وخت نه و دمامورصاحب عبدالرزاق په ډېر ټینګار مو هغه سره دچهار شنبې دورځې ۱۳۱ ۱۱ ۱۳۸۴ هـ ش دغرمې ډوډۍ وخوړه .

استاذبدر ماته له کوره زما پخوانۍ ددروزو خولۍ، پګړۍ او نوې جامې کابل ته راوړې وې هغه مې واغوستې ، لمونځونه مو وکړل او مامور صاحب نه مورخصت واخیست .

# دجلال اباد په لور حرکت

جلا ل اباد او پېښور کې ډېر خپلوان او دوستان منتظر وو دچهار شنبې په ورځ ۳۱ \ ۱۱ \ ۱۳۸۴ هـ ش دوه بجې دکابل نه دجلال اباد په لور روان شوو مادهیپر لاره په سړک باندې دکارله امله بنده وه او اکثره ګادي "دلته بند" په لاره تلل خوځینې واړه موټر دماهیپر په لاره هم تلل. موټر هم دماهیپر په لاره روان شو : په لار کې مودنویو زړوپوښتنې وکړې اوپه خبرو خبرو مو دکابل او جلال اباد لاره لنډه کړه .

# له احساساتو او ولولو ډک استقبال

دټولو خپلوانو اودوستانو داهیله وه چې کابل ته راشي خو ماپه ټیلفون ورته ویلي وو چې مه راځئ هغوی له خوښیو ، احساساتو او عواطفو سره ددرونتې دتونل نه ښه وړاندې راتېر شوي وو او استقبال ته ولاړ وو. کله چې زموټر موټر هلته ورسېد نو زما پرې نظر شوو موټرمو غاړې ته کړ او راښکته شوو، ټولو رامنډې کړې او ځینو ځوانانو له ډېرې خوښۍ په سرک باندې الله تعالی ته دشکر سجدې کېښودې. دانو داحساساتو او خوښیو نه ډکه شېبه وه چې په ژوند کې ډېره نادره وي ، چاله خوښۍ ژړل او چاشکرونه ایستل. هریو راغاړې واته ، روغبړ یې کاوه او داحساساتو هیجان یې له لاسه واته .دسړک په غاړه نږدې هوټل والا چې داهیجاني او احساساتي شېبې ولیدلې نو پوښتنه یې کړې وه چې داځه کیسه ده ؟ چاورته ویلي وو چې دغسې یو کس درې نیم کاله په ګوانتنامو کې دامریکاپه زندان

کې تېر کړي دي هغه اوس راخلاص شو او مونږ يې دلته استقبال ته راغلي يوو ، هغه هم رامنده کړه اوراغاړې واته .

دغه احساساتي استقبال اوهرکلي مانه دبندټول غمونه سپک کړل .

دګرم روغبړ نه وروسته ټول دجلال اباد په لور وروخوځېدو هلته نورسره ووېشل شوو او مونږ دحکيم صاحب عبدالمالک کره شپه وکړه چې هلته زمونږ مهربانه مور هم په ناروغه او ضعيف ځان له پېښوره زمونږ استقبال ته راغلې وه چې داهغې له پاره په ژوند کې يوه لويه خوښي وه . او زما زلمی زوی عبدالوهاب هم راغلی وٌ. څوک دراديو ګانو له لارې او څوک دټليفونونو له لارې خبر شوي وو . اګر چې مونږ داخوښوله چې کوټ ته لاړشوو .

خپل کلي ( صاحبانو کلي ) کې څه وخت تېر کړو او ټول دوستان او وطنوال وګورو خو څرنګه چې زمونږ کور دهجرت په ټاټوبي : پېښور کې و نو هلته هم زموږ کور ، کورنۍ او ډېرخپلوان او دوستان په تمه وو اوپه تليفون کې ټولو ټينګار کاوه چې هلته لاړشوو. مونږ چې تر څودپېښور په لور حرکت کاوه نودکوټ نه ځينو مخلصو دوستانو جلال اباد ته تشريف راوړ.دوه درې پېرې راغلې هغوی ته مووويل چې مونږ ان شاء الله بيرته راګرځوو او کوټوالوته ووايئ چې دلته دراتلو تکليف مه کوئ خو سره له هغې هم ډېرخلک جلال اباد او پېښور ته راغلل ټولوته دالله تعالې نه موفقيت او نېکمرغې غواړو.

جلال اباد کې ځينو ژورنالستانو ټليفون وکړ چې ورسره وګورو او مطبوعاتي کانفراس ورکړو خو وخت ډېر تنګ و او ومونه شوکولای.

دپېښور په لور وروخوځېدو ډېر خپلوان او دوستان راسره تورخم پورې لاړل چې ځينې دتورخم نه راوګرځېدل او ځينې پېښور ته راسره لاړل .

يو امريکايي ژورنالست دکابل نه را روان شو او تليفون يې وکړ چې جلا ل اباد کې لږ تم شئ چې مونږ مرکه درسره کوو. مونږ ورته وويل چې وخت نه لرو بيا چې کله تور خم ته ورسيدو تليفون يې راوکړ چې تورخم کې لږ تم شئ مونږ در روان يوو. مونږ ورته بيا وويل چې نه شو ايسارېدی هغه وو چې پېښور ته زمونږ کورته راورسېدل اوامونږ دواړو ورونو سره يې مرکه وکړه .

مونږ ګومان کاوه چې دتورخم جلال اباد سرک به پوخ شوی وي خو ډېر ګډ وډ شوی او ځای په ځای يو خوا او بل خوا اووختی را اووښتی و. ټول ګردونه او دوړې وې. ماپوښتنه وکړه چې داولې ؟ چاوويل چې داپاکستان دجوړولو په بانه ورځ په ورځ ړنګوي او په دې هيله يې زرنه جوړوي چې دافغانستان حالات به بدل شي او سرک به پاتې شي !!! ....

# پېښور کې کورته رسېدل

لنډه داچې په تورخم واووختوو په لاره کې وخت په وخت استاذ بدر اونورو خپلوانو او دوستانو کورسره تيلفوني رابطه ساتله او خبرول يې چې دغه او هغه ځای ته راورسېدو اخر دپېښور داکيډمي تهاون په سيمه کې خپل کورته راورسېدو. کورکې زيات خپلوان او دوستان راټول شوي وو ، شپږ اوه مياشتې مخکې چې کله استاذ

بدر کورته رارسېدلي و نوډگرم استقبال نه وروسته یې نور د کورتهول غړي لوی واړه پېژندلي وو خو خپل وړوکی زوی جابر یې نه وپېژندلی نوله همدې امله هغوی په لاره مشوره وکړه چې ماته ماشومان معرفي نه کړي خو الحمد لله ماټول وپېژندل . ټولوراته په او جره کې ګرم استقبال اوسترې مه شي وکړل ؛ داحساساتو نه یوه ډکه او هیجاني شېبه وه چې ثبت شوې هم ده بیا دلړې شېبې له پاره کورته ننوتم چې هلته هم داحساساتو نه ډک او ګرم استقبال وشو چې ترټولو مخکې زمونږ محترمه خور مخې ته دامېل سره راغله او بیانورو ټولو سره سترې مه شي وشوه کور کې زه کې نه ناستم اوجره کې دډېرې ګڼې ګونې له امله بیرته ووتم او راغلو مېلمنو سره کښېناستم .

# له عواطفو او احساساتوډک مېلمانه

له لومړۍ ورځې نه دولولو، عواطفو او احساساتو نه ډکه سترې مه شي پیل شوه . ډلې ډلې خپلوان او دوستان راتلل چې ډېرو په کې له زیاتې خوښۍ اوولولونه ژړل : ترډې چې ځینې داسې خلک هم راتلل اولاتراوسه راځي چې ماسره یې په خپل عمر کې هم نه وو لیدلي خو راتلل ، ژړل یې ، خوښېدل او ټولو په ډېره مینه او اخلاص غوږ ایښوده او هرچاسره داتلو سه وه چې دزندانونو او پنجرو جریانات واوري. اکثرو دوستانو پسونه ، دغوړیو ټیمان ، دوریجو او بورې بوجۍ او نورې ډالۍ له ځانه سره راوړې الله تعالي ته دټولوله پاره جزیل اجر غواړو. په مونږ یې دومره احسانونه بارکړي دي چې

مننه يې نه شو په ځای کولی. ټول مسلمانان دګوانتنامو بنديان ديو کور، کورنۍ اوولس بنديان نه ګڼي بلکه دټول اسلامي امت بنديان يې ګڼي او داخلاص دعاوې ورته کوي. بلکه دګوانتنامو بنديان يواځيني هغه خلک دي چې دټولې اسلامي نړۍ په جوماتونو اوکورونوکې ورته دعاوې کېږي . مونږ ته هم ډېرو خلکو په اخلاص دعاوې کړي دي . تردې چې په کورونو کې ښځو روژې نيولې، لمونځونه يې کړي دي او مونږ ته يې دعاوې کړې دي ، الله تعالی دې ټولو هغو دوستانو ته دنيوي او اخروي سعادت په برخه کړي چې مونږ اونورو مسلمانانو ته يې دعاوې کړې دي ، په بندي کيدو موخفه شوي دي اوپه راخلاصېدومو خوشحاله شوي دي .

سره له دې چې زمونږ مرۍ خرابې وې خودسهارلمانځه نه واخله دتېرماسختن پورې به په ډېره مينه مېلمنو سره ناست وو، خبرې مو ورسره کولې او دزندان له جرياناتو مو خبرول . څو مياشتې خوږرله پسې ګڼ مېلمانه راتلل خو اوس چې ۱۳۸۴\۱۱\۱۷ هـ ش دی تراوسه هم نوي نوي دوستان له لرې لرې ځايونو راځي او دحالاتو پوښتنې کوي.

# دژورنالستانو بهير

زمونږ دراتګ سره سم دداخلي او خارجي ژورنالستانو بهير رامات شو څرنګه چې زمونږ ددوارو ورونو دصحافت سره اړيکي دي او هغه څه چې مونږ ووېل اوله هغو حقائقو چې مونږ پرده پورته کړه نورو راخوشې شويو بنديانونه وه کړې نو ځکه دژورنالستانو

دلچسپي زياته وه . يو لورته دمېلمنو ګڼه او ازدحام وُ او بل لورته دژورنالستانو. مونږ ددوا ړو ورونو نمبر په نمبر دوا ړو ته ځوابونه ويل اودا سلسله تراوسه روانه ده .

# دازادو شويو بنديانو ملاقاتونه

دډېرو هغو بنديانو خپلوان زمونږ کورته راغلل چې هغوی اوس هم په ګوانتهنامو کې بنديان دي. مونږ هغوی ته دهغه ځای دحالاتو په هکله مختصر معلومات ورکړل اودبنديانو په هکله مو چې څه ليدلي وو ورته وموويل . او ځينې هغه بنديان هم راغلل چې مونږ نه مخکې اووروسته را آزاد شوي دي چې دهغوی نومونه داي .

ـ۱ : دين محمد " فرهاد" افغاني .

ـ۲: چاچا الياس . کراچي .

ـ۳: ابو مهند. سوري .

ـ۴:عبدالستار . ډېره اسماعيل خان .

ـ۵: حبيب رسول بنو.

ـ۶: مولوي امين الله . کوېټه .

ـ۷: ډاکټر سرفراز احمد خان . لاهور .

# زمونږ په غياب کې اوازې

زمونږ په غياب کې زمونږ اودنورو بنديانو په هکله ډول ډول ددرواغو اوازې خپرې شوې وې چې اکثره زمونږ دښمنانو او ځينو غرضيانو خپرې کړې وې . له هغو څخه يوه داوه چې داخلک

امریکایانو وژلي دي . بلـه دا چې امـریکایانو دمسلم دوست نـه سترګې ایستلې دي ، لیوني شوي دي ....

دې تولو اوازو اودرواغوتریوه وخته زمونږ دګور غړیو ، خپلوانو او دوستانو تـه سختې اندېښنې پیداکړې وې چې دحقائقو دڅرګندېدونه وروسته دښمنان دخجالت ، شرم او غم سره مخ شول او دوستان مو خوښ او سرلوړي شول .

# زمونږ نوی ژوند

مونږ نـوی ژونـد پـیل کـړی دی او تراوسـه خـپل ځـای تـه نـه یـوو راغلي. دصحت ستونزې راتـه پیداشوې دي ، کـارو بـار او تجارت مـود آی ایس آی لـه لاسه رنګ شوی دی. دصابون کاروبار مو چې کـاوه هغـه ختم شـوی دی ، پـه کـور کـې مـو نقدې پیسـې ، زیورات ، قیمتـي کاڼي او نورسامان ؤ هغه ټول دآی ایس آی ډاکوانو لوټ کړي دي او تراوسه یـې لانـه دي راکړي چې پـه هغوکـې دځینو دوسـتانو امانتونه هـم وو . پـه دې سربېره یوځـل دآی ایـس آی دوه چارواکـي زمونږ کورته راغلل چې یوېې پنجابی اوبل یې کوهاټي ؤ او مونږ دآی ایس آی پـه پټ زندان کـې لیدلی ؤ، مونږ ته یې دطارق په نامه ځان معرفي کړی و .دواړو ویـل چې تاسو ژورنالستانو او صحافیانو سره مـرکې مـه کـوئ او زمونـږ پـه هکلـه حقـائق خلکـو تـه مـه وايـئ .کـه دامریکایانو پسې څه وايئ نو خیردی خوآی ایس آی پسې یې مـه وایئ .... مونږ ورتـه وویـل چې حقائق به خامخا وایوو تاسو شرمېږئ نه چې مونږ سره مو خیانت وکړ افغانستان ، بې ګونا مسلمانانو،

الله، دهغه پېغمبر ..... سره مو خيانت وکړ. مونږ موپه امريکايانو وپلورلو لا اوس داخبرې هم کوئ چې حقائق مه وايئ ؟! لاس مو خلاص څه چې کولای شئ ويې کړئ که زولنې درسره وي همدا اوس يې را واچوئ مونږ مرګ درد ، زندان او هرڅه ته تيار يوو خو حقائق نه شو پټولای .

تاسو زمونږ کورلوټ کړ ، زمونږ ژوند مو تباه کړ ، زمونږ بچي ، خپلوان اودوستان مو غمګين کړل او په دې ټولو سربېره لاداخبرې هم کوئ ؟! .... ددې خبرو سره يې غوږونه سوړشول اولاړل . له دې څه موده وروسته دآی بي يو کس راغی هغه ته موهم همدا خبرې وکړې بيا بله ورځ راغی مونږ دواړه ورونه يې دفتر ته بوتلو هغه شيان چې زمونږ کورنه دآی ايس آی ډاکوانو لوټ کړي وو هغه مو هم ورته وويل ويې ليکل اوتراوسه يې هيڅ معلومات ونه شو.

په دې سربېره زمونږ ژوند دآی ايس آی اودهغوی افغاني او پنجابي ګوډاګيانو نه په خطر کې دی . په ځانګړې توګه دافغانستان اوپنجاب دوه جاسوسي ډلګۍ چې دواړه دجماعة الدعوه په نامه يادېږي اودواړه دآی ايس آی مخلص جاسوسان او غلامان دي اودواړو بې ګونا افغانان ، عربان ، ازبکان ، ترکستانيان او نور ددرې پنځوس هېوادونو بې ګناه مسلمانان په امريکايانو دډالرو په بدل پلورلي دي اواوس چې مونږ نړۍ ته حقائق رابرسېره کړل او ددوی دبدو اعمالو نه مو پرده پورته کړه او خلکو کې منفور شول نو اوس مونږ ته په غوسه دي خو ان شاء الله چې دوی به داکينه او غوسه

لـه خپلو ځانونو سره قبرونو تـه يوسي اوداسې يوه ورځ به راشي چې دوی سره به مناسبه محاسبه وکړو .

وماذلک على الله بعزيز .

# دآي ايس آي دتورې شبکې تورې پلمې

آی ایس آی دپاکسـتـان دپنجابـي پـوځ داسـتـخباراتو اداره ده چې دانسـانيت ضـد پلمـو او دسيسـو لـه پـاره جوړه شوې ده دا اداره په هر ښـار کې پټ دفـترونه او جېلونـه لـري، دهر قـانون نـه مسـتثنی ده او دهـيڅ قـانون لانـدې نـه ده . ددولـت او حکومـت اصـلي واکـداران دهمـدې ادارې مشران دي اوداخلـي او خارجي پاليسـيو او تګلارو جوړول او پلي کـول دهمدغـو مشرانو په لاس کې دي. دپردې شاته او دزمکـې لانـدې نـه بدلېدونکـی حکومـت دی . دظاهـري حکومـتونو بدلـون او انـتخابات دهمـدوی پـه لاس کـې دي . دخـپلو وګـړو دډېروزيـرکو او ذهيـنو افـرادو او دپـرديو داحمقـانو نـه کـار اخلـي . اودادې له پـاره چې خپـل ذهيـن او هوښيار يې کره پلمې جوړې کړي او پردي احمقـان دخپلو ګټـو له پاره استعمال کړي . څوک چې ددوی دتوروپاليسـيو خلاف کوي هغوی نيسي، په تورو تنګو کوټو کې يې اچـوي ، وهـي يـې، بربښنايـي ډنـډې پـرې اسـتعمالوي ، ډول ډول تعذيـبونه ورکـوي ، پـه مياشتـو او کلونو ورسره بنديان وي ، هيڅوک پـرې خبر نـه وي او دتعذيـب لانـدې يـې وژنـي . اکـثره هغـه وګـړي چې پاکسـتان کې ورکـېږي هغـه دهمدغه تورې ادارې له خوانيول کېږي او وژل کېږي. اکثره لاوارثـه مـړي چې په کوڅو او نهرونو کې پيداکېږي

، هغه آی ایس آی وژلي وي .... په کورونو ، لارو کوڅو ، بازارونو اونورو ګڼو ځایونو کې په مختلفو ډولونو داجرتي قاتلانو او خپلو ګوډاګیانو په ذریعه په ملک کې دننه او بهر سیاسي قتلونه کوي .

په اسلامي اوسیکولر سیاسي تنظیمونو کې یې خپل تربیه شوي خلک ننه ایستي دي اودهغوی دټولو حرکتونه په خپل محور څرخوي . ددوی افراد او مشران کومه ځانګړې جامه نه لري په عامو خلکو کې دهغوی په جامه کې ګرځي ، ظاهري شغل او کار یې عادي وي ظاهرکې ، ملا ، ډاکټر ، انجنیر، دوکاندار ، صراف ، مزدور ، سوالګر ، لیوني ، ملنګ ، تبلیغي ، مجاهد، مستري ، پایلټ ...... وي اودننه ، میجر ، کرنیل او جنرال وي خودننه رتبې سمې اودباندې اویا پردیو لپاره هسې هوا او غولول وي . دپیسو حساب کتاب ورسره نه کیږي او هرډول وسائل لري .دګوانډیو هیوادونو او برطانیې ، امریکا ، چین ، هند ، عربي ممالکو او نورو ګڼو هیوادونویه استخباراتو کې ننوتي دي او دهرهیواداستخباراتو ته وایي چې مونږ ستاسو یوو او تاسو له پاره کارکوو. دټولونه بې خرته مالونه وهي . دآی ایس آی داداري مشران هغه پاخه خلک دي چې حکومتونه بدلېږي خو دوی نه بدلېږي بلکه دوی حکومتونه بدلوي. ددولت او حکومت ټولې پالیسۍ همدوی جوړوي او حکومتونوته یې ورکوي . که پالیسي یې ناکامه شي نو بیا خلک ګومان کوي چې ددغه ظاهري حکومت پالیسي وه او ناکامه وه. بیا دآی ایس آی محرکین مظاهرې تنظیموي او دحکومت بدلولوله پاره باني لټوي. دپارلمان غړي اوان تروزارتونو پورې حکومتي مسئولیتونوته یې

خپل ګوډاګيان رسولي وي دهوايي ډګرونو ځانګړي مامورين ددوی وي . داکترو خارجي هېوادونوسفيران او بهر تـه دتلونکيو پلاويو غړي دآی ايس آی دادارې نـه تـاکل کېږي . بلکـه دسفارتونو ټول تشکيل دهمدې ادارې غړي وي . دهند ، چين ، امريکا ، افغانستان او ځينو نورو هيوادونودپارلمان غړي په پيسو اخلي ، ډېر لوی لوی رشوتونه او ډالرې ددې لـه پاره ورکوي چې پـه خپلو پارلمانونو او مهمو غونډو کې د آی ايس آی دمصالحو له پاره کار وکړي .

اوس چې مونږ لـه ګوانتانامو ځخـه راغلي يـو اوس هم آورو او خبرېږو چې دآی ايس آی مجرمان ځينو افغانانو ته وايي چې وسلې اوپيسې واخلئ او په افغانستان کې داداتخريبي اعمال ترسره کړئ . کـه نـه نو امريکايانوته مـو دالقاعدې پـه نامه پـه لاس کې ورکوو چې ګوانتانامو تـه مـو ولېږي او بيا به خپل کور په سترګو ونه ګورئ ، په دغه طريقه يې استحصال کوي . اوس دې نولوستونکي ووايي : هغه کسان چې پـه افغانستان کې يې عادي او ارام ژوند ته امريکايان او دهغوی ګوډاګيان نـه پرېږدي او پاکستان کې ورتـه آی ايس آی داسې خبرې کوي اوداسې غوښتنې ورځخه کوي ، هغوی څه وکړي ؟؟؟ .

ای ايس آی دوسلو ، مخدره موادو ، جعلي پيسو ، انسانانو ، دټکنالوجي دحساسـو پـرزواو ... قاچـاق او کـارو بـار کـوي دهند ،امريکااو افغانستان پيسې ډالرې او .... جوړوي او دخپلو استخباراتي ګوډاګيانو له لارې يې خپروي . ترټولوزياته ګټه داسلام ، تبليغ اودجهاد دنومونو نـه پورته کوي اوپه دې ډول ساده او ناخبره مسلمانان دخپلو ګټو لـه پاره استعمالوي. دمدرسې ، تبليغي مرکز

او جهادي معسکر په نوم ځايونو کې خلک تربيه کوي او بيا يې دخپلو اهدافو دلاسته راوړلوله پاره دننه او دباندنيو هيوادونوته لېږي او کارترې اخلي . دېرساده ګان له ځانه هم خبر نه وي چې زه ګني دآى ايس آى له پاره کار کوم، هغه ګومان کوي چې زه ديوه جهادي مشر ، يو مولوي صاحب اوداسلامي تنظيم دمسئول په مشوره او امر دثواب کارکوم خوپه حقيقت کې هغه دآى ايس آى دمجرمانودکرنيل اوجنرال په امر دهغوى دمصالحو له پاره دګوناو عذاب کار کې بوخت وي. هغه چې کله په کوم بهرني هېواد کې ونيول شي نو دانه وايي چې زه آى ايس آى تربيه کړى او رالېږلى يم. بلکه داسلامي تنظيم او مدرسې نوم اخلي ځکه چې خبرنه وي . ټول کار دپنجاب په نامه کېږي . پښتانه ، بلوچ ، سنديان اودهغوى وسائل ټول دپنجاب دګټوله پاره استعمالېږي او آى ايس آى خالص دپنجابي نشنلېزم له پاره کارکوي . دافغانستان دهجرت او جهاد نه مخکې دپاکستان اقتصاددېر پرېوتى و. وګړي يې دېر وږي او حکومت او رعيت يې دژوند دډېروسائلو نه محروم و . نري نري سړکونه يې وو چې دوه ګاډي به پرې سره مخامخ شول نو يوځاى پرې په اسانۍ نه شول تېرېداى يوبه اودريد او بل به تېر شو يابه دواړه نيم خامې ته ښکته شول . دحکومت له پلوه پاکستان ته دنوي ګاډي په راواردولو بنديز و. دحکومت وزيران او نور معتبرين او اکابر مجرميهاهم په زړو ګاډو کې ګرځېدل پاکستان ته کباړي ، مستعمل او زاړه ګاډي راتلل اودهغو رانيول هم هرچاله وسه پوره نه وو ......

خو کله چې روسانو په افغانستان يرغل وکړ ، هجرت او جهاد پيل شو ، ټوله نړۍ راويښه شوه او هرچاسره انديښنه پيداشوه نوپه دې وخت کې دپاکستان غوالنګه شوه اولاړې يې تېرې شوې .

وايي چې يو پاړسيوان په سخت ژمي کې ناروغه شوی و ، اوبه ډېرې يخې وې او هغه ته ښې نه وې چې اودس پرې وکړي .دکلي ملا صاحب ورته ويلي وو چې خير دی ته تيمم وهه او اودس مه کوه ته معذور يې تيمم درته روا دی . هغه چې کله په تيمم وهلو پيل وکړ اودژمي په يخو اوبوله اوداسه خلاص شو نو ډېر خوند يې ورکړ تردې چې روغ شو نو هم تيمم يې واهه ، اودس يې نه کاوه او ويل يې چې (( تيمم نه بود ګنج خدابودکه اموختـه شدم اسوده شدم )) " تيمم نه و دالله خزانه وه چې پرې روږدی شوم نو ايله په مزو کې شوم ". دافغانستان جهاد او هجرت دپاکستان له پاره ( ګنج خدا) شو کله چې دآی ايس آی خوله ددغه لنګي غوا په شېدو ولګېده نو اوس يې نه پرېږدي تردې چې ددې غوا بشپړې خوړلوته يې هم خولې اوبه راپرېښې دي . لکه مخکې مو چې ددې کتاب په سريزه کې وويل چې دافغانستان دجهاداو هجرت نه پاکستان کومې کومې مادي او معنوي ګټې پورته کړي(۱) . نوروسان چې کله له افغانستان څخه ووتل دآی ايس آی مشران سخت خپه شول .

خوتوبه يې هله قبوله شوه، کله چې امريکا دخپلې ټلوالې ، ډالرو ، وسلو او وسائلو سره دترهګرو دله منځه وړلو دډرامې ترسره کولو له پاره سيمې ته راغله . پاکستان ورته دډالرو دپنډ مبلغ په بدل کې

---

(۱) ــ ( ۱۱ ) مخ وګورئ

هوايي اډې ورکړې ،پنجابي پايلټان به په امريکايي الوتکو کې کښېناستل او د افغانستان په مظلوم ولس به يې بې دريغه بمباري کوله ....(۷۵۰) اوه سوه پنځوس بې ګونا افغانان ، عربان اونور د (۵۳) هېوادونو مسلمانان يې په امريکا د ترهګرو په نامه وپلورل د آی ايس آی جنرالانو او کرنيلانو داهم وکړل چې ويې ليدل چې ځوک زياتې پيسې ورکوي، دعربو دلويو لويو سوداګرو او اميرانو زامن او خپلوان به يې چې ونيول نو دجېب پيسې خو هغوی دمور شېدې ګڼلې اوبې پوښتنې يې اخيستې خوبندي ته به يې دټيلفون اسانتياوې برابرې کړې او ورته وبه يې ويل چې له کوره دومره زرونه ، لکونه يا ميليونونه ډالر را وغواړه نو خوشې به دې کړو کله به چې هغه دغه مبلغ ته غاړه کېښوده او له کوره به يې راوغوښته نو دهوايي ډګر دځانګړيو پټو دروازو له لارې به يې په الوتکه کې کښېنول او کورونو ته به يې ولېږل. مونږ ته په ګوانټنامو کې يو عربي وويل چې زه کله آی ايس آی ونيولم نوراته ويې ويل چې ته يو عادي بې ګوناسړی يې او مونږ ته امريکايان په عادي سړي ( ۵۰۰۰) پنځه زره ډالرراکوي خوته زمونږ مسلمان ورور يې نو خير دی ځلور زره ډالر راکړه خوشې به دې کړو . ماونه شو کولای چې دغه مبلغ ورته پيداکړم نو امريکايانو ته يې حواله کړم !.

دمالديپ يو متعلم چې ابراهيم نومېده مونږ ته يې په ګوانټنامو کې کيسه وکړه چې زه دمالديپ يم مانه افغانستان ليدلی او نه طالبان پېژنم. کراچۍ کې مې د جامعة ابي بکر په نامه يوه مدرسه کې زده کړه کوله ، نوی واده مې کړی و او خپله ځوانه ښځه هم راسره وه

یو وړوکی کرایي کورمې نیولی و او خپل درس مې وایه . پاسپورټ ، وېزه او ټول قانونـي کاغذونـه هم راسره وو دآی ایس آی مجرمینو ونیولم راتـه ویـې ویـل چې لـه کوره اوه لکه روپۍ را وغواړه نو پرې به دې رډدو ماورتـه وویـل چـې ماسـره دومـره پیسـې نشـته هغـوی امـریکایانو تـه پـه لاس کې ورکړم او اوس پـه ګوانتنامو کې پروت یم زمـا ځوانـه ښځـه حاملـه هـم وه زه خـبر نـه یـم چې دهغې برخه لیک به څه وي ؟ ! .

. اوس خـبره دې حدتـه رسېدلې چـې امـریکایان پـه عـادي سړي آی ایـس آی تـه ډالـرې نـه ورکـوي نـو ځینـې عـربان یـې دخپلو ګوډاګیانو سره ساتلي دي او هغوی ته یې ویلي دي چې مونږ دفلاني اسلامي او جهـادي تنظیم غړي یـوو مونږ تادحکومت نه پټ ساتو او پنادرکوو ، خویـل لورتـه امریکایانو تـه وایي چې مونږ تـه اطلاع رسېدلې ده چې پـه یـوه لـرې قبائلي سیمـه کې یوعرب دی اوداسامه پسې دریم سړی دی او ډېر مهم دی خو پـه نیولو یې ډېر مصرف راځي وسلو ، ترانسپورت او ډالـرو تـه ضرورت دی بلـه دادہ چې هلتـه سړک نـه دی تللی دسړک غځـول هم مصـارف ایجابوي ، ځینـو قـبائلي مشرانو تـه بـه هم رشـوت ورکـول وي او دې قـربانۍ تـه چې خـپـل کـوم پوځیـان او ملېشـې لېږو هغـوی تـه بـه هـم څـه ورکـول وي ... امریکایـي احمقـان ورتـه وایي چې سمـه ده پـه همـدې ترتیـب زیـاتې ډالـرې ورڅخـه واخلـې، دوه درې ځل ووایـي چې لـږ څـه کې بـچ شـو او زمونږ دومـره فوځیـان ټپیـان او مـړه شـول اوس نـورو ډالـروتـه ضـرورت دی پـه همـدې ترتیـب یـې څـو ځـل وغولـوي اخر کې یې ورتـه دپنځه مبلغ پـه بدل کې وسپاري . تقریبا درې

سوه عريان يې داسامه پسې ددريم نمبر په نامه ورکړل او دريم نمبر ځلورم نه شو .....

دترهګرۍ دمخنيوي په نامه دامريکايانو نه د( ۸۰۰۰۰ ) اتيازره پوځيانو دمعاشونو ، لباس ، خوراک ، وسلو ، ترانسپورت ، علاج او نورو بانو ډالرې اخلي چې دغه پوځيان مونږ دډيورنډ دکرښې په اوږدو کې ځای په ځای کړي دي چې دترهګرو مخه ونيسو . په دې کې هره ورځ ( ۷۹۵۰۰) نه اويازره پنځه سوه مريضان بولي اودهغوی دعلاج معالجې مصارف امريکايان ورکوي اودپوځيانو دغه شمېر هيڅ حقيقت نه لري ماته خپله يو پنجابي متقاعد سپين ګيرې پوځي ويلي دي چې په کويټه کې دپولې سره دپوځيانو کتنې له پاره امريکايي پلاوی را روان و نودآی ايس آی مسئولينو دکويټې په ښارکې ورځ مزدوران راټول کړل اوورته ويې ويل چې نن مونږ سره لاړشئ ديوې ورځې مزدوري اوډوډۍ به درکړو خوچې څه مونږ درته ويل همغسې به کوئ . هغوی ومنله په پوځي ګاډو کې يې سپاره کړل . دډيورنډ کرښې سره نږدې يې ښکته کړل ، پوځي دريشي يې وراغوسته ، ټوپکونه يې په لاسونو کې ورکړل او دسلامي چل يې وروښود : کله چې امريکايي پلاوی راغی نوورو يې ښودل چې زمونږ پوځ دادی اوددې په ډول په څو چنده زيات دډيورنډ دکرښې په اوږدو کې په غرونو کې پروت دی . نيم ساعت وروسته چې کله پلاوی لاړ مزدورانو ته يې ډوډۍ اوديوې ورځ مزدوري ورکړه دريشي اووسله يې ترې بيرته واخيستله او دکويټې ښارته يې بيرته ولېږل ....

په دې ترتيب يې امريکايي احمق پلاوی وغولاوه .

دلنډي کوتل يودوست راته کيسه وکړه چې لنډي کوتل ته نږدې دغرونو په يوه ګوښه ځای کې پاکستاني پوځ يوډرامه يي فلم جوړ کړ. ځينې ګيره ورو پوځيانوته يې شخصي افغاني لباس اغوستی او پګړۍ يې ورته په سر کړې وې او کټ مټ يې دطالبانو غونډې جوړ کړي وو. وسلې ورسره وې او دپاکستان پوځ ورسره جعلي جنګ پيل کړ. ښه درونډ جنګ وشو جعلي زخميان او مړي په کې وشول صحنه فلمبندشوه اوپه دې ترتيب يې داسې وښوده چې دپاکستا پوځ دطالبانو سره سخت جنګ وکړ هغه وايي چې ماته زمايودوست پوځي افسر پټ وويل چې دافلم مونږ امريکايانوته ورکوو او په دې ترتيب يې غولوو او ډالرې ترې وهو. امريکايان ډېر لوی احمقان دي زمونږ مشران ورسره تل دغسې لوبې کوي .....

دآی ايس آی دجرمونو ، درغليو او پلمو کيسې ډېرې زياتې دي آی ايس آی نه غواړي چې دترهګرۍ په نامه دغه ډرامه پای ته ورسېږي ، دغه لټګه غواوچه شي او امريکايې ځواکونه له سيمې نه واوځي ترڅو چې امريکاپاکستان ته ډالرې اووسائل ورکوي نو دالوبه به روانه وي اوهيڅکله به پای ته ونه رسېږي . دکشمير مسأله هم آی ايس آی نه حلوي ځکه چې که دکشمير مسأله حل شي نوبيابه د دولت اوپوځ دبوديجې نه کرنيلان او جرنيلان په کومه بانه بې خرته پيسې وهي؟ . او اسلام نما جهادي تنظيمونه به د سادګانو نه په کومه بانه چندې او مالونه راټولوي ؟.

# دلسومیاشتو ماشوم ترهګر

دآی ایس آی دظالمانه اوبېزدلانه پلمونه داهم ده چې امریکایانوباندې یې دترهګرو په ترخ کې دلسومیاشتو تې خوری ماشوم پلورلی و اوهغه دګوانتنامو جېل ته رسېدلی و . کیسه داسې وه چې دکویټې په چمن کې یو افغان مهاجر دکور سره لنډ روغتون ته دلسو میاشتو تې خوری ماشوم دواکسین وهلو لـه پاره دکورنه ایستی دی ، کله چې لـه کوره وتلی روغتون تـه درسېدو نه مخکې دآی ایس آی مجرمانو نیولی دی او په امریکایانو یې دترهګر په نامه پلورلی ، امریکایانو هم بې لـه تحقیق او پلټنې ګوانتنامو تـه ورساوه هلته یې پلار پنجرو اوماشوم یې روغتون تـه ورکړی و. دوه کالـه وروسته یې په داسې حال کې لـه بنده خوشې کړل چې ماشوم په انګلیسي خبرې کولې ، مورنۍ ژبه ( پښتو) یې نه وه زده اوپلار یې نه پېژنده .

اوس داکتوبر (۸) اتم ۲۰۰۵ م چې کشمیر اودکوزې پښتونخوا په ختیز شمال کې سخته زلزله وشوه او زیات پوځیان او عام خلک په کې مړه شول . دلته هم آی ایس آی ددغه دردناکې پېښې نه ناوړه ګټه واخیسته . دپوځیانو اودعوامو ځینې مړي یې واخیستل اودوزیرستان په یوه ګوښه سیمه کې یې واچول :امریکایانوته یې وویل چې مونږ دالقاعدې او دطالبانوترهګرو سره سخته مقابله او جنګ وکړاولـه دواړو خواونـه زیات مړي وشول بیایې دغـه مړي

وروښودل او فلمونه يې هم واخيستل چې په دې ترتيب يې يوځل بيا د امريکايانو جېبونه قيچي کړل.

# امريکا کافر ډالر مسلمان

د آی ايس آی دغرائبو او دخيانتونو له بېلګونه يوه عجيبه داده چې يوه عرب ماته دخپلو نيولو کيسه داسې وکړه:

کله چې زه آی ايس آی ونيولم نوما ورته وويل چې تاسو ولې مونږ امريکايانوته تسليموئ هغوی کافران دي او مونږ مسلمانان يو او تاسو هم د اسلام دعوه کوئ (؟!) هغوی قسمونه وخوړل چې دا کار نه کوو تاسو هيڅکله امريکاته نه سپارو تاسو زمونږ مسلمانان ورونه يئ کافرانو ته به مو ولې سپارو؟ تاسو خپلو کورونوته لېږو. خو کله چې د تسليمولو ورځ راغله او مونږ يې هوايي ميدان ته بوتلو او مونږ پوه شو چې اوس مو امريکايانو ته سپاري، ورته مو وويل چې تاسو خو مونږ سره وعده کړې وه چې کافرانو ته مو نه سپارو اوس ولې په خپلو ژمنو وفا نه کوئ ؟! هغوی راته په خندا وويل: امريکا کافر ډالر مسلمان. معنا دا چې په ډالرو مو وپلورلئ !!!.

يو عرب کيسه کوله چې د آی ايس آی په پټ جېل کې يو پنجابی راغی، خواکې مې کښېناست، يو لاس يې ستر ګو ته نيولی و او د مکر ژړا يې کوله او بل لاس يې زما په جيب کې دننه کړ او پيسې يې راڅخه و ايستې !!!.

همدا رنګه مونږ ته په ګوانتنامو کې ځينو بنديانو وويل چې آی ايس آی ځينې عربان د خپلو ښځو او بچو سره نيولي دي،

ځينې ښځې يې بې عفته کړې دي او ځينې ښځې يې امريکايانو ته لاس کې ورکړې دي . حقيقت دا دی چې آی ايس آی د ټولې نړۍ لاخه چې د پاکستان سره هم لويه دښمني کوي.

لنډه دا چې آی ايس آی فکر کوي چې دوی به الله تعالی، اسلامي امت ، افغانستان ، د پاکستان عوام ، امريکا او ټوله نړۍ وغولوي خو داسې نه ده . وايي چې د دروغو مزل لنډ وي . دا ګنګې اودرغلي به تر آخره ونه چلېږي ؛ منګی هره ورځ نه ماتېږي دا د منافقت ، دوه مخی ، شيطانت او درغلی نه ډک منګی به هرو مرو يوه ورځ ماتېږي او داسې ښکاري چې ان شاءالله د ماتېدو وخت يې ډير زر را روان دی .

د ګوانتنامو په جېل کې ما د آی ايس آی او د پاکستانی چارواکو د درغلۍ دوه مخی او منافقت په هکله ډېر شعرونه ويلي وو چې د بېلګې په توګه دا دوه ورانديې کوو :

# څه راکوي ؟

غلیم دسرومچوګبین راکوي　　په رنګ دشاتوکې مالګین راکوي
چې خپل وطن ورباندې ونړوو　　دورانولو ښه تمرین راکوي
دپردي لاندې راته کندې کني　　دملګرې راته یقین راکوي
زمونږ له سوبه چې ژوندي پاتې دي　　مونږ ته دژوند پوره تضمین راکوي
هم مو کورونه رنګوي وژني مو　　هم تسلي ډاډاو تسکین راکوي
چې سیپاره یې لاویلې نه ده　　مونږته درسونه اوس ددین راکوي
دامریکا وسلې چې ودرېدلې　　راته بمونه اوس دچین راکوي
دشیطانۍ اوبدمرغۍ له پاره　　چې ورونه وژنوآفرین راکوي
دخپلو ګټودحصول په خاطر　　مونږ ته بدتخم داپین راکوي
له خپله حقه مو محروم غواړي تل　　دسبابرخه ماسپښین راکوي
دوسته زمونږ دسپکېدوپه هیله　　راته داغونه په جبین راکوي

۱۴۲۵\۳\۲۹ هـ ق
۱۳۸۳\۲\۳۰ هـ ش

# تورغلیمان

تورغلیمان راته تک تور راکوي　　په نوم دګوړې راته سکور راکوي
دخواخوږۍ او همدردۍ په نامه　　پټ په ایروکې راته اور راکوي
که بم بارود ورڅخه وغواړونو　　په ځای دیو بیادرې څلور راکوي
ښه په اخلاص یې راکوي راته تل　　کله چې ختم شي بیانور راکوي
دخپل وطن دورانولو وسلې　　څه راته مفتې څه په پور راکوي
چې پت ناموس ویاړونه وربېوېرې　　راته دلوله پاره لور راکوي
هم موزخمونه جوړوي په زړه کې　　هم بیا دزهرو بدتکور راکوي

دشپې مومال اوهال په غلاولوټې | سباخيرات بيادخپل کور راکوي
مونږته چې راشي هغه ځان ته وهي | مونږ ته وراسته نيم اونيمګورراکوي
بې ننګ غليم چې کله وږی شي ډېر | په لس روپۍ بياموراوخورراکوي
چې ورونه وژنو آفرين وايي خو | چې سوله وکړو بيا پېغور راکوي
دوسته چې تل مورقيبان لمسوي | ماته همداخبره زور راکوي.

۱۴۲۵\۱۷\۲۳ هـ ق

دګوانتنامو زندان

# دشمالي اتحاد تور تاريخ

دافغانستان دشمالي اتحاد پخوانی ددرغلۍ ، منافقت او داسلام دښمنۍ او افغانستان دښمنۍ اوروسانو سره داتو کلو نو اوږند اودوستۍ اوکمونستانو سره داتحاد تاريخ هرچاته څرګند دی او هغه جلا بحث دی دلته هغه نه څېړو . دلته يوازې داخبره څېړو چې څرنګه امريکايانو سره ودرېدل اوامريکايان دشمالي اتحاد دزمامدارانو : رباني ، سياف ، فهيم ، محقق ، عبدالله ، قانوني ، دوستم او ...... نورو په اوږو سپاره شول . کابل او افغانستان ته ننوتل او دغومجرمانو کوم ډول فجائعو اودرغليوباندې دتاريخ پاڼې تورې کړې دي ؟!.

دايو څرګند حقيقت دی او ټولې نړۍ وليدل چې امريکايان افغانستان ته پاکستان او شمالي اتحاد دننه کړل . ددې حقيقت نه که څوک انکار کوي نو هغه به لمر په ګوتوپټوي . لکه مخکې مو چې په تفصيل سره ووېل پاکستاني استخبارات خوتل دافغانستان ستر

دښمنان پاتې شوي دي . اوس هم دي اوتل دافغانستان په ړنګولو او بربادۍ کې خپلې ګټې ګوري . داموضوع مخکې څېړل شوې ده باید هلته ولیدل شي .

اوس دشمالي اتحاد کړنلارې ته راځوو . کله چې امریکااودهغه متحدینو په افغانستان یرغل کاوه نو په نیویارک اوواشنګټن دحملې پسې متصل بش وویل چې مونږ به دترهګرو سره اوږدجنګ کوو اودابه مقدس صلیبي جنګ وي . اودایې هم ښه په صراحت وویل چې دوه لارې دې :

یابه هېوادونه مونږسره اودرېږي اویابه دترهګرو سره . نو دټولې نړۍ بزدلو کافرانو ، اوداسلامي نړۍ طواغیتو او مرتدانو ورته په یوه خوله وویل چې مونږ تاسره یوو په دې کې ځینوله ډار، ځینو دخپلو منافعو او ځینو ددې له پاره د امریکاسره ملګري اعلان کړه چې دامریکا پښه په ختوکې ونښلوي اودماتې سره مخ شي.... او په همدې ترتیب په افغانستان یرغل پیل شو دزرګونوکیلو ګرامه درندو بمونو بمبارۍ ، دکروز میزائلو حملې او دهغو ډول ډول درنو. مهلکو ، اتومي اولېزري وسلو استعمال پیل شو چې له دې مخکې نه وې استعمال شوې . خو دومره دروند یرغل هم دشمالي اتحاد زړه یخ نه کړ اوریاني خبري رسنیو ته په ډاګه وویل چې دابمباري سپکه اولږه ده باید نوره هم درنده او ګڼه شي ! . سیاف په افغانستان کې دمیشتو مېلمنو په هکله وویل چې دانا بللي مېلمانه دي اوداهغه مېلمانه وو چې یووخت کې یې سیاف ته عمر ثالث وایه . په میلیو نونو ریالونه او دینارونه یې ورکول او سیاف چې سیاف شو نو

دادهمغو اموالو له سوبه وو . خو سياف اورباني دوارو هريو د( اضله الله على علم ) مصداق وګرځېدل . قرآن ، اسلام ، اسلامي امت او افغانستان يې وپلورل اود يو موټي ډالرو او دناورکړې چوکۍ په تمه يې دغه امريکايي جنګ کې په قرآن پښې کېښودې، دامريکاسره اودرېدل او ګومان يې وکړ چې مونږ به الله ، مسلمانان ، امريکا ، افغانان اوټولـه نړۍ وغولوو دشمالي اتحاد دغوناا هلو اوبې پتو واکدارانوبش ته وويل چې : باداره راځه ، مسلمانان ونيسه ګيرې پرې وخريه ، جامې ترې اوباسه او دګوانتنامو پنجرو کې يې واچوه ، زمونږ ښځې او ميندې خويندې دلارو په سرڼا ورځ تالاشي کوه، په تيونو او عور تونو ورته ګوتې وهه اوخښتګونه يې ګوره، دپېغلوپت او عفت مو لوټوه اوايډز په کې خپروه، بچي مودفحاشۍ اوبې غيرتۍ کندوته غورځوه ، کورونه اوجوماتونه مونړنګوه ، دقرآن بې عزتي او توهين کوه ، ماشومان ، تورسرې ، سپين سرې ، ځوانان او بوډاګان مو وژنه او دتورو بارودو په لمبويې سېزه ..... لنډه داچې څه ډول فجائع دي له وسه پوره وي کوه يې خويادارا په دوه خبرو کې مو يادلره چې هغه ډالر اوچوکۍ ده . مونږ هرڅه ته تياريوو کله چې ستاسو په ملاقات دمشرف کېدوله پاره په خپل وطن کې ستاسو دروازې ته اودرېږونودتالاشۍ په وخت کې په ..... کې راته ګوتې وهه ، په سپيو موګيرې لټوه خوفقط جيب راڼکوه ....

مونږ به ستاسو دخوښۍ له پاره دقرآن په آياتونو کې تحريف وکړو و اسلامي نصوص به پښولاندې کړو خوستاسو دمبارکې خولې پاتې

شونې ککړې کاسې دمهربانی له مخې زمونږ لورته راتېل وهئ چې دتبرک له پاره يې ښتو ....

دشمالي اتحاد دتورتاريخ تورفصلونه اوبابونه ددې کتاب په مختصر بحث کې نه ځايږي دهغې له پاره جلاکتاب ليکل په کاردي خودلته به يې دساري په توګه ځينې بېلګې ولېکوو:

شمالي اتحاد دسياسي اختلاف ، ژبني او قومي تعصب ، دچوکۍ اوډالرو په تمه بې ګناه مسلمانان په ډېره بې رحمۍ ووژل ، تعذيب يې کړل، په سرونو يې ورته مېخونه ووهل ،دښځو عفتونه يې لوټ کړل ، غلا ، نهب ، غصب او ډول ډول درغلۍ يې وکړې ، زنا ، لواطت او نور فواحش خو حدث ولاحرج ، دجنګيو تښتول . په زور او جبر وړې بې وزله ځان ته واده کول خوپه شمال کې يوه عادي خبره شوه . په دې ټولو سربېره يې بې ګناه مسلمانان ونيول اوډول ډول زورونو اوتعذيبونونه وروسته يې په امريکايانو وپلورل . دافغانستان خاوره او خپل عفتونه ، پتونه او عصمتونه خويې په ښه اخلاص امريکايانواو خارجي ځواکونو ته ډالۍ او لېلام کړل . مونږ ته په ګوانتېنامو کې ځينو هغو بنديانو دشمالي اتحاد ، شيعه ګانو او ددوستم دجنبشيانو دظلمو نوداسې وحشتناکې کيسې وکړې چې غونې ورته زيږېږي . دشمالي اتحاد امريکايي ملېشې يو فلسطينی په کوهي کې زوړند کړی و ،په ورځو ورځو يې وږی تږی پرې ايښی و، وهلی ټکولی يې و اوپه دې ټولو سربېره يې ورسره لواطت کړی و !!! ....



دوستمیان بندیان کانټینرونو ته ورپورته کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اغزن کمپ او امریکایي سپي

يوبل كرغزستاني هم دبندكيسه كې دشمالي امريكي اتحاد دملېشو داسې كيسې وكړې لكه چې مخكې مو يې يادونه كړې ده . هغه وويل چې دشمالي اتحادپه زندان كې يو ځوكيداردا كوښښ وكړ چې لواطت راسره وكړي خوزور يې ونه رسيده او ماله ځانه كلكه دفاع وكړه هسې خودوه ويشت كلن ځوان وخو كرغېزيان كوسه ګان وي دګيرې دنه لرلواودپوستكي دسپينوالي له امله يې هغه سره دبدفعلۍ كولو هڅه كړې وه .

ژوندي ښخول ، جيپانو پورې دټپيانو تړل اورابښكودل، كانټېنرونو كې اچول اوداسې نورهغه وحشتناك كارونه دي چې دشمالي اتحاد مجرمين يې مرتكب شوي دي .

دوستم دطالبانو او هغوی سره دخارجي مېلمنو سره تړون وكړ چې هغوی ته تسليم شي، درندې وسلې هغوی ته پرېږدي او سپكې ځانونو سره واخلي اوترقندهاره يې په امن ورسوي.

خوكله چې تسليم شول ( ۱۲۰۰ ) دولس سوه ګاډي ، درندې اوسپكې وسلې يې ترې واخيستې اوبيا يې يو يو په خپلو پګړيو او څادرونو لاسونه ترشاوتړل ، واسكټونه او قيمتي جامې ، بوټان او پيسې يې ورڅخه واخيستې ، څه يې په همدغه وخت كې ووژل ، څه يې په كانټېنرونو كې واچول او كانټېنرونو لاندې يې ترهغه اوربل كړ چې انسانان په كې دننه دنيېنوغوندې وريته شول ، وترسكېدل او وسوزيدل . نورو باندې يې په كانټېنرونو دپاسه ددهشكو ډزې وروكړې اودننه

يې په کې ووژل . څه يې لاس ترلي په کندو کې واچول او په بلدوزرو يې پرې خاورې ورواړولې او ژوندي يې دخاورو لاندې کړل او پاتې يې قلعه جنګي ته يو ړل ، هلته چې کله جنګ پيل شو په هاوانو، ميزائلو او توپونو يې وويشتل، امريکايي الوتکو پرې بمبار وکړ ؛ بنديانو هم ددوستم دملېشې نه ډېر ووژل او بنديانو کې هم زيات شهيدان او ټپيان شول. بياچې کله هغوی دزمکې لاندې کوټوته ننوتل نوورکوزو شويو پوړيو کې يې ورته دميزائلو باره کېښوده اوشارټ يې ورکړ . په ورننوتي پيپ او کړکيو کې يې تېل ورواچول او اور يې ورته کړ ، بيا يې اوبه ورخوشې کړې او مونږ ته دقلعه جنګي بنديانو خپله کيسې وکړې چې کله يې دزمکې لاندې کوټوته اوبه ورخوشې کړې نوزمونږ مخکې زخميان په کې ډوبېدل. څوک چې لږ جوړو هغه به ټپي په اوږه کړ او اوبونه به يې پورته ونيوه خو ټپيان ډېر زيات وو او زمونږ دا وس نه و چې ټول پورته کړو نو هغوی ټول په اوبو کې ډوب اوشهيدان شول .....

دجنګي کلا فجائع خودومره زيات دي چې دجلاکتاب دليکلو وړ دي اخضر ابراهيمي لاوايي چې دجنګي کلا موضوع ډېره نازکه او حساسه موضوع ده اواوس بايد ونه څېړل شي.!!!...

عجيبه خوداده چې که مسلمانان په فلسطين کې ديهودي ټينکونو اوتوپونوپه مقابله کې دربړونو په ليندو ياپه لاس کاڼي ولي نوهغه بې قانونه دي ، هغه ترهګري ده

خودفلسطيني مور په غېږ کې چې کمکی بچی دیهودي په ګولۍ ايشتل کېږي او دفلسطيني بوډۍ په سرچې اسرائيل ټينک ورخېژوي نو هغه قانوني دی اوپه جنګي کلا کې چې کوم ظلمونه شوي دي هغه بايد ونه څېړل شي ؟!! ....
داموضوع ډېره پلنه اوسره وره ده خو مونږ دساري په توګه يواځې څو بېلګې ولیکلې.

۱۳۸۴\۱۰\۱۸ه ش

| ګڼه | سرليک | مخ |
| --- | --- | --- |
| ۱ | سريزه........................................ | ۱ |
| ۲ | د داود کودتا.................................. | ۲ |
| ۳ | د افغاني اسلامي ګوندونو مسير.................. | ۹ |
| ۴ | له کوره تر ګوانتنامو........................... | ۲۳ |
| ۵ | د آی ایس آی په زندان کې نوربنديان ............ | ۴۱ |
| ۶ | دپېښور هوايي ډګر کې دامريکايانو په لاس کې..... | ۸۰ |
| ۷ | د باګرام په هوايي ډګر ........................ | ۸۱ |
| ۸ | يوه خندوونکې ډرامه ........................... | ۸۹ |
| ۹ | په باګرام کې دبنديانو نظافت .................. | ۸۹ |
| ۱۰ | دباګرام خوراک ................................ | ۹۱ |
| ۱۱ | باګرام کې افغاني بيرغ نه ؤ .................... | ۹۱ |
| ۱۲ | باګرام کې دامريکايي پوځيانو بدسلوک............ | ۹۲ |
| ۱۳ | باګرام د امريکايي تعذيب مرکز دی .............. | ۹۲ |
| ۱۴ | باګرام کې د امريکايي تعذيب لاندې .............. | ۹۳ |
| ۱۵ | په جلال اباد کې تعذيب ......................... | ۹۵ |
| ۱۶ | دقندهار په لور ................................ | ۱۲۰ |
| ۱۷ | له درې نيمومياشتو وروسته لمر .................. | ۱۲۵ |
| ۱۸ | دقندهار په څپرګې کې زما ملګري ................ | ۱۳۵ |
| ۱۹ | دقندهار وضعيت ................................ | ۱۳۶ |
| ۲۰ | دقندهار زندان کې دبنديانو خوراک ............... | ۱۴۱ |
| ۲۱ | په سطلونو کې د انساني ضرورت رفع کول .... | ۱۴۲ |
| ۲۲ | قندهار کې دپاکوالي کچ ......................... | ۱۴۳ |

| ګڼه | سرليک | مخ |
|---|---|---|
| ۲۳ | قندهار کې دارو درمل او د ډاکټرانو سلوک..... | ۱۴۴ |
| ۲۴ | په قندهار کې دبنديانو لباس ......................... | ۱۴۵ |
| ۲۵ | دقندهار زندان کې دامريکايانو خپل ګوډاګيان... | ۱۴۶ |
| ۲۶ | دقندهار زندان ته دنورو بنديانو راتلل ............. | ۱۴۸ |
| ۲۷ | قندهار کې انفرادي زندان ............................ | ۱۴۹ |
| ۲۸ | د قندهار د زندان آخري ورځې ....................... | ۱۴۹ |
| ۲۹ | دګوانتنامو زندان ته دلېږلو نښې......................... | ۱۵۰ |
| ۳۰ | له قندهاره تر ګوانتنامو.................................... | ۱۸۵ |
| ۳۱ | دګوانتنامو تپوکې ........................................ | ۱۸۹ |
| ۳۲ | اوسپنيزې پنجرې ......................................... | ۱۹۶ |
| ۳۳ | دپنجرو ژوند ............................................. | ۱۹۷ |
| ۳۴ | د خوبونو په شکل کې بشارتونه .......................... | ۲۱۸ |
| ۳۵ | دګوانتنامو تپو............................................. | ۲۲۷ |
| ۳۶ | کمپونه اوبلاکونه ........................................ | ۲۲۸ |
| ۳۷ | ايکسرې کمپ ............................................ | ۲۳۰ |
| ۳۸ | دايکسرې کمپ کې لومړۍ مظاهره ...................... | ۲۳۱ |
| ۳۹ | د ډيلتا کمپلکس ......................................... | ۲۳۲ |
| ۴۰ | دلومړي پنډغالي بلاکونه ................................. | ۲۳۳ |
| ۴۱ | د دوهم پنډغالي بلاکونه ................................. | ۲۳۳ |
| ۴۲ | د دريم پنډغالي بلاکونه.................................. | ۲۳۳ |
| ۴۳ | دڅلورم پنډغالي بلاکونه ................................. | ۲۳۳ |
| ۴۴ | دګولف بلاک کې ماسره نږدې ملګري ......... | ۲۳۴ |

| ګڼه | سرليک | مخ |
|---|---|---|
| ۴۵ | انفرادي بلاکونه ........ | ۲۴۳ |
| ۴۶ | درومیو بلاک ........ | ۲۴۴ |
| ۴۷ | د ډیلتا بلاک اولیوني بندیان ........ | ۲۴۶ |
| ۴۸ | ایکو کمپ ........ | ۲۴۷ |
| ۴۹ | څلورم کمپ ........ | ۲۴۷ |
| ۵۰ | دڅلورم کمپ اسانتیاوې او توپیرونه ........ | ۲۵۱ |
| ۵۱ | دڅلورم کمپ ستونزې ........ | ۲۵۵ |
| ۵۲ | پنځم کمپ ........ | ۲۵۷ |
| ۵۳ | ایګوانا کمپ ........ | ۲۵۹ |
| ۵۴ | پټ کمپ ........ | ۲۶۱ |
| ۵۵ | دبرزخ عالم ........ | ۲۶۲ |
| ۵۶ | په ګوانتنامو کې د لمر عجیب دوران ........ | ۲۶۳ |
| ۵۷ | ماشي او ګرمي ........ | ۲۶۴ |
| ۵۸ | دبندیانو پوښاک ........ | ۲۶۶ |
| ۵۹ | دبندیانو خوراک څښاک ........ | ۲۶۶ |
| ۶۰ | دبندیانو علاج او درمل ........ | ۲۶۹ |
| ۶۱ | دګوانتنامو اخترونه ........ | ۲۷۴ |
| ۶۲ | دبندیانو نشاطات ........ | ۲۷۸ |
| ۶۳ | دبندیانو جرأت او حوصلې ........ | ۲۸۰ |
| ۶۴ | لمونځونه او روژې ........ | ۲۸۱ |
| ۶۵ | نازله قنوت ........ | ۲۸۴ |
| ۶۶ | دبندیانو ځینې عجیب اوغریب نوادر ........ | ۲۸۶ |

| ګڼه | سرليک | مخ |
|---|---|---|
| ۶۷ | ميرې درواغ سخت بدګڼي ........ | ۲۸۶ |
| ۶۸ | په بلاک کې دبندي استقبال ........ | ۲۹۱ |
| ۶۹ | دامريکايانو بد اخلاقي ........ | ۲۹۲ |
| ۷۰ | دامريکايي پوځيانو تلواکي........ | ۲۹۶ |
| ۷۱ | تالاشي ........ | ۲۹۷ |
| ۷۲ | دبنديانو جزايي کول ........ | ۲۹۸ |
| ۷۳ | دقرآنکريم توهين او سپکاوی ........ | ۳۰۰ |
| ۷۴ | مظاهرې او دنه خوراک اعتصابونه ........ | ۳۰۲ |
| ۷۵ | الله تعالی سره د رابطې دغوځولو هڅې ........ | ۳۰۵ |
| ۷۶ | په بنديانو کې دبې اتفاقۍ دپيداکولو کوښښ.... | ۳۰۶ |
| ۷۷ | دسره صليب کړنلاره ........ | ۳۰۷ |
| ۷۸ | نيمګړې خطونه ........ | ۳۰۹ |
| ۷۹ | دڅارنې او تجسس آلات........ | ۳۱۷ |
| ۸۰ | ترټولو مشرا و تر ټولو کشر بندي ........ | ۳۱۸ |
| ۸۱ | ښځينه بنديانې ........ | ۳۲۱ |
| ۸۲ | بنديانو کې دامريکايانو جاسوسان ........ | ۳۲۲ |
| ۸۳ | بنديانو سره دامريکايانو روحي او رواني جنګ... | ۳۲۸ |
| ۸۴ | دامريکايانو حماقتونه........ | ۳۳۱ |
| ۸۵ | دامريکايي پوځ بې خرته لګښتونه ........ | ۳۳۵ |
| ۸۶ | دامريکايانو ډار او بزدلي ........ | ۳۳۸ |
| ۸۷ | دروسانو او امريکايانو پرتله ........ | ۳۴۱ |
| ۸۸ | دترجمانۍ ستونزې ........ | ۳۴۳ |

| گڼه | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۸۹ | تحقیق یا پوښتنې گروېږنې | ۳۵۰ |
| ۹۰ | دځلورم کمپ آوازې | ۳۷۲ |
| ۹۱ | دبندیانو درجه بندي | ۳۷۲ |
| ۹۲ | څلورم کمپ ته د ځینو بندیانو بدلول | ۳۷۴ |
| ۹۳ | د دروغو معلومولو دروغجن مشین | ۳۹۹ |
| ۹۴ | د اند او ذوق ازموینه | ۴۰۰ |
| ۹۵ | دبندیانو ازادېدل | ۴۰۱ |
| ۹۶ | محاکمه | ۴۰۲ |
| ۹۷ | زمونږ لیکنې امریکایانو ستنې کړې | ۴۱۱ |
| ۹۸ | دکابل په لور | ۴۱۳ |
| ۹۹ | دجلال آباد په لور حرکت | ۴۲۰ |
| ۱۰۰ | له احساساتو او ولولو ډک استقبال | ۴۲۰ |
| ۱۰۱ | پېښور کې کور ته رسېدل | ۴۲۲ |
| ۱۰۲ | له عواطفو او احساساتو ډک مېلمانه | ۴۲۳ |
| ۱۰۳ | دژورنالستانو بهیر | ۴۲۴ |
| ۱۰۴ | د آزادو شوو بندیانو ملاقاتونه | ۴۲۵ |
| ۱۰۵ | زمونږ په غیاب کې آوازې | ۴۲۵ |
| ۱۰۶ | زمونږ نوی ژوند | ۴۲۶ |
| ۱۰۷ | د آی ایس آی دتورې شبکې تورې پلمې | ۴۲۸ |
| ۱۰۸ | دلسو میاشتو ماشوم ترهگر | ۴۳۷ |
| ۱۰۹ | امریکا کافر ډالر مسلمان | ۴۳۸ |
| ۱۱۰ | څه راکوې | ۴۴۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| ګڼه | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۱۱۱ | تور غلیمان ........................ | ۴۴۰ |
| ۱۲۲ | دشمالي اتحاد تور تاریخ ........................ | ۴۴۱ |
| ۱۲۳ | لړلیک ........................ | ۴۴۸ |

# AGREEMENT

**WHEREAS,** as a result of certain terrorist attacks, the United States and its coalition partners are engaged in armed conflict with al Qaida, an international terrorist organization, and its Taliban supporters; and

**WHEREAS,** Badrul-Zaman Badr was detained as an enemy combatant during such armed conflict;

Badr-ul-Zaman Badr undertakes as conditions for no longer being detained the following:

- **THAT** he will not in any way affiliate himself with al Qaida or its Taliban supporters;
- **THAT** he will not engage in, assist, or conspire to commit any combatant activities, or act in preparation thereof against the United States or its citizens, or against allies of the United States or citizens of such allies;
- **THAT** he will not engage in, assist, or conspire to commit any acts of terrorism or knowingly harbor anyone who does;

**FURTHERMORE,** Badr-ul-Zaman Badr agrees that if he does not fulfill any of the above stated conditions, he may be detained immediately consistent with the law of armed conflict;

**IN CONSIDERATION** of these conditions, it is agreed that Badr-ul-Zaman Badr will not be further detained by the United States, but should he not fulfill any of these conditions he may again be detained consistent with the law of armed conflict.

The agreement has been read to me and I understand the contents.

Signed this 16 day of Sep, 2004

Sig[redacted]etai[redacted]to be rel[redacted]

[redacted]

App[redacted].S. Official

559 Badr, Badr uzzan
ISN# and Printed Detainee Name

2/25/2004

elease Agreement.doc

استاذ بدر الزمان بدر ته د راخلاصولو په وخت کې ورکول شوی
سند او د امریکایانو وهل شوي لاسلیکونه.

**DEPARTMENT OF DEFENSE**
**COMBINED/JOINT TASK FORCE (CJTF)-76**
**BAGRAM AIRFIELD, AFGHANISTAN**
**APO AE 09354**

CJTF-76-PMO

19 April 2005

MEMORANDUM FOR RECORD

SUBJECT: Certificate for Release of Abdul Rahim MANNAN.

1. This memorandum is to certify that the following individual was detained by the United States Armed Forces from 13 December 2001 to 19 April 2005:

| Official ISN | Temporary # | Last Name | First Name | MI | Country | DOB | Father |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| US9AF-[illegible]1DP | | MANNAN | ABDUL RAHIM | | AFGHANISTAN | 1960-00-00 | |

2. This individual has been determined to pose no threat to the United States Armed Forces or its interests in Afghanistan. There are no charges from the United States pending this individual at this time. This individual has been released into in the vicinity of his capture location. The United States government intends that this person be fully rejoined with his family. This certificate has no bearing on future misconduct.


SFC, MP
CJTF76 Detainee Ops NCOIC

مسلم دوست ته د نظامي تريبونل د برائت
نه وروسته په باګرام کې ورکول شوی سند.

(c) ketabton.com: The Digital Library

PROPERTY OF
ACKU
14225

(c) ketabton.com: The Digital Library




استاد بدرالزمان بدر د ګوانتنامو د زندان په نارنجي جامو کې

# دليکوالانولنډه پېژندنه

## استاذعبدالرحيم مسلم دوست

دمرحوم حاجي عبدالمنان زوی دحاجي عبدالحنان لمسی اود غازي صوفي محمدعالم _ چې په صوفي عالم ګل مشهورو _ کړوسی دی . په ۱۳۳۸ه لمريز کال دننګرهار دکوټ دصاحبانو په کلي کې زېږېدلی دی. لومړنی زده کړه يې دکوټ لاغرجوی په لومړي ښوونځي کې کړې ده. ثانوي اوعالي زده کړې يې دمزار اسديې ، دننګرهار نجم المدارس، دپېښور حديقة العلوم، المرکز الاسلامي او الجامعة الاثرية کې کړې دي. په ۱۳۵٦ه.ل کال يې پېښور ته هجرت کړی دی . ځينو اسلامي تنظيمونو سره يې فرهنګي، جهادي ، سياسي او اداري کارونه کړي دي. د(۳۷)آثارو ليکوال دی. په عربي ،پښتو،فارسي اواردوژبو خبرې کوي. په عربي اوپښتو کې يې شعراونثردواړه ليکلي دي،اوپه فارسي کې يې شعر ليکلی دی.

## استاذبدر الزمان بدر

دمسلم دوست صاحب کشر ورور چې په ۱۳۳۲ ه لمريز کال دننګرهار دکوټ دصاحبانوپه کلي کې زېږېدلی دی لومړنی،او ثانوي زده کړې يې په کوټ، جلال آباد او پېښور کې کړې دي. لسانس يې دپېښور يونيورسټۍ (پوهنتون) څخه آخستی،اوماجستري يې هم په انګليسي ادبياتوکې دپېښور پوهنتون نه لاس ته راوړې ده په ۱۳۵٦ ه.ل کال يې پېښور ته هجرت کړی دی. دجهاد په ګرمو سنګرونوکې يې برخه اخيستې ده .

د پېښور په ځينوکالجونو کې استاذ پاتې شوی دی فرهنګي فعاليتونه يې کړي دي، په پښتو او انګليسي ژبوکې شعر اونثر هم ليکي. په عربي ،پښتو ، فارسي اردو او انګليسي ژبو خبرې کوي، اوپه پښتو،اردو او انګليسي کې ليکنې هم کوي.

دمسلم دوست صاحب ورور،باجه،اود ګوانتنامو دزندان ملګری دی، داکتاب دواړوپه ګډه ليکلی دی، نوله همدې امله دېر په زړه پورې او زړه راښکونکی دی.

(محمد عبيد)

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**